
د ذرونو اوږه

عبدالجليل وجدي

د زړونو او دماغونو

مینونه



لیکوال

عبدالجلیل وجدي

۲۰۰۰/۱۳۷۹

Download From: Aghalibrary.com

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د زړونو او دماغونو ماینونه

لیکوال : عبدالجلیل وجدي

خپروونکی : د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه-جرمني

د خپرونو لړ : (۱۰)

کمپوز : ذبیح الله شفق، دانش خپرندویه ټولنه ۲۵۶۴۵۱۳

د چاپ چارې : د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره، ۸۴۱۷۴۹

د چاپ کال : ۲۰۰۰/۱۳۷۹

د چاپ ځای : ملت پریس، لاهور

بیه : ( )

يادګرنه

دا اثر په جرمني کښې د پښتنې فرهنګ

د ودې او پراختيا ټولنې د مشر

ښاغلي محمد آصف وردګ

په ځاني مالي پانګه خپور شوی

چې

ليکوال مننه ترې کوي او کورودانی ورته وايي.

Download From: Aghalibrary.com


فهرست

سرليک	مخ
تعصب څه شی دی؟	۱
تعصبات د ټولنپوهنې په رڼا کښې	۱۲
نژادي تعصبات	۱۳
سيالي او نابرابري د تعصب ستر عوامل	۱۵
غلامي او تعصبات	۱۸
د کاټوليکانو او پروټستانو ترمنځ شخړې	۱۹
اقتصادي جګړې او تعصبات	۲۱
شړونتيا	۲۵
د کاسټ سيستم	۲۶
د لال اقليتونه	۲۷
د نوم ايستلو سيالي	۲۸
ډېرې بوګنوونکې مخامخ کېدنې	۳۰

سرليک	مخ
ژبړ خطر په کانادا کښې	۳۵
د قومي او نژادي اقليتونو د پرمختګ عوامل	۳۷
جغرافيايي تمرکز	۳۸
د خپل منځي اقتصاد وده	۴۰
په پرمختيا کې د منځنۍ طبقې رول	۴۱
د تور پوستو ژوند يا د پرابلمونو عصاره	۴۲
د غلامۍ وراثت	۴۴
طبقاتي تضادونه او تعصبات	۴۸
ملکيت	۵۰
حيثيت	۵۱
قدرت	۵۱
د دريځ بې ثباتي	۵۳
د دريځ بې ثباتي او روحي فشار	۵۵
افغاني ټولنه او تعصبات	۷۱
اوږد تاريخ:	۹۰
د زمانې نوي بادونه او د تاريخ څرخ	۹۵
د لرغونتوب سترې دعواګانې	۹۸
د خراسان کډه پر شا پښتانه	۱۰۱
کله چې تاجيکان هم پښتانه وو	۱۰۲
د تاريخ او افسانو مشترک اتلان	۱۰۶
پر احتمالاتو ولاړ تاريخ	۱۰۸
يو دولت او دوه حکومتونه	۱۰۹
پښتنو تاريخ ليکونکو ته پېغور	۱۱۲
خپل ملت ته د نورو د فکر په هنداره کښې کتل	۱۱۳

سرليک	مخ
د اوږده تاريخ بدبختي	۱۱۹
په يو ملت کښې ببل-ببل مليتونه	۱۲۴
د رژيم له بندو صندو قونو راوتلي حقايق	۱۲۶
د ملي مسألې ساينټفيک حل	۱۲۸
د دوستۍ مېوه: پښتون دښمني	۱۲۹
د مخرجونو له پاره د صورتونو پيدا کولو هڅې	۱۳۰
د ملي وحدت د ماتولو هڅې	۱۳۲
روزل شوي جنايتکاران	۱۳۳
د اضدادو تشديدولو له پاره	۱۳۶
انقلابونه خپلې سرې او شنې جامې	۱۳۷
د پښتنو فاشيستانو په لاس...	۱۴۳
کله چې پخې دوستۍ په...	۱۴۹
مليت او ملت	۱۵۵
اتلسمه پېړۍ د ملي دولتونو جوړښت	۱۵۸
د امپراتوريو زوال	۱۶۴
د افغانانو نالېکل شوی اساسي قانون	۱۶۶
افغانستان او محروسه اسلامي دولتونه	۱۶۸
ژبنۍ تنوع	۱۷۳
پښتو او د افغانستان د تجزيې توره دوره	۱۷۶
له هرات سره تماس	۱۷۷
ملي استحکام	۱۷۸
د کار وېش	۱۷۸
دفترونو ته د پښتو لاره	۱۷۹
د پښتو ژبې او برتانوي استعمار ترمنځ...	۱۸۱

سرليک	مخ
له پښتو سره د ټولو افغانانو مينه	۱۸۲
د پښتو د تدريس نيمګړتياوې	۱۸۹
د پښتو د پرمختګ په مقابل کښې منفي مقاومت	۱۹۱
له پښتو ژبې سره ناروا سلوک	۱۹۳
له دوو عاموژبو څخه د يوې ژبې...	۱۹۸
يو دوه ژبی ملت	۲۰۳
ملي ستم که کلتوري ستم	۲۰۷
ژبنی تعصبات او خارجي لاسوهنې	۲۱۱
د ژبې د مسالې علمي حل	۲۱۴
د ژبې د مسالې ديموکراتيک حل	۲۱۷
اسلامي انقلاب او ژبنی تعصبات	۲۲۴
مذهبي اختلافات	۲۲۶
ماخذونه	۲۳۷



د نـاشر خبرې

د يـوه هـېواد او ملـت د ترقـي او پرمختـګ راز د ملـي مفکـورې پـــه پالنـه، واکمنولـو او د ژونـد پـه ټولـو چـارو کـښې د ملـي ګټو د خونـــدي کولو او پلي کولو پـــه کـار کـښې دی.

لکه څومـــره چـې زمـوږ تـاريخ لرغونـی دی، همدومـره ملـي مفکـوره زمـوږ په هـېواد کـښې ژورې، تـاريخي او عنعنـوي ريـښې لـري.

پخوانيو آريايـانو بـه پـه ويـدی سـرودونو، ګاڅونـو او اوسـتا کـښې د خپلو اولادونـــو پټځپدنـه لـه خدايـه غوښتـه او د نارينـه اولاد سـوالونه بـه يې کول چې همدا هيلـــه لا تـر اوسـه هـم زمـوږ پـه ادب او خلکـو کـښې راپاتې ده، د بيـــټ نيکـه د:

دا وګړي دېر کړې خدايه

لـويه خدايه! لويه خدايه

مناجـات د همـهغو زړو دعـاګانو او غوښتنـو ادامـه ده.

دوی د مـېړو او سـړو دېرښت د دې لـه پـاره غـوښت چـې لـــه يـــوې خوا د آريانـا زرخـيزه او حـاصلخيزه ځمکـه پـرې آبـاده کـړي او لـه بلـې خـوا پـر هـېواد لـه هـرې خـوا راختليـو يرغلـګرو مقابلـه او مقاتلـه پـــرې وکـړي.

افغانان د دې ویاړ لـري چې تـر هـر چـا وړانـدې يـې د نـړۍ لـوی-
لوی يرغلګر چې له يونـان او لـيرې ملکونـو څخـه زمـوږ تـر کـوره بريـالي
راغلـي وو ځپلـي، مـات کـړي او تښتېدلـو تـه اړ کـړي دي. دوی يـوازې
د تورې پر ډګر بريـالي نـه وو بلکـه د سياسـت او جـهانداری په ډګر هـم
مخکـښ، نوښتـګر او بريـالي وو، مـيرويس نيکـه پـه هـېواد کـښې داسـې
وخت د ملـي حکومـت خښتـه کـښېښوده چـې ګرده نـړۍ د ملـي دولـت
او حکومـت لـه مفـهوم نـه بـې خـبره وه او د ده د ملـي واکمنـۍ تـر
عملـي کـېدو ۸۲ کالـه وروسـته د فرانسـې لـوی انقـلاب نـړۍ تـه ملـي
حکومـت او د اولـس حـاکميت ور معرفـي کـړ. احمـد شـاه بابـا داسـې
وخـت ديـوه شـورايي حکومـت بنسـټ کـښېښود چـې امريکـا څو لسـيزې
وروسته ورتـه ورسـېده.

د هـېواد اوږده تـاريخ او اوږدو بنيـادونو پـه هـېواد کـښې لـه ډېرو
لرغونـو زمـانو څخـه د افغانسـتان د ټولـو قومونـو ترمنـځ د ملـي وحـدت
ريـښې ټينـګې کـړې او پيـاوړې کـړې او د دې وحـدت عملـي بـڼه هغـه
وخـت ډېره ښه ليـدل کـېدای شـوای چـې پـر هـېواد بـه بـيروني يرغـل
وشو او د هـېواد ټولـو اوسـېدونکو بـه پـه خپـل خپـل وار او خپـل- خپـل
ځای کښې مقابله پيـل کـړه.

پـه دوو وروسـتيو پېړيـو کـښې د نـړۍ د لويـو ښکېلاکـګرو (برتـانيې او
روسـيې) د شـرمېدلو مـاتو پيـل هـم لـه همـدې هـېواد نـه او د همـدې
ملت په لاسونو وشو، برتانيـه د انګلسـتان لـه جزيـرو نـه زمـوږ د هـېواد تـر
پولـو پـورې پـه نـه مـاتېدونکي ډول رارسـېدلې او د هنـد طلايـي مرغـۍ
يې ترلاسـه کـړې وه. لومـړی ځل يـې د مـاتې تريـخ خونـد پـه همـدې
خـاوره کـښې وځاکـه او د ۱۸۴۱ کـال پـه نومـبر کـښې د دې خونـړي
ښکـېلاک پـه وړانـدې د افغانـانو پـاځون وُ او تـر دوهـم او دريـم پـاځون
وروسـته يـې د انګريزانـو داسـې مـاتـه پيـل شـوه چـې ټولـو مسـتعمرو د
مقـابلې کـاني پـرې راپورتـه کـړل او د ښکـېلاک دا خونـړی ښامـار چـې

لـه کومـو جزیـرو نـه راپـاځېدلی وٗ همـهغو جزیـرو تـــه پـــه ځپلـــی دول ورټول شـــو.

همدا راز روسي بنکېلاک چـــې زمـوږ تـر پولـو پـورې پـه بریـالیتوب او نـه مـاتېدونکي دول رارسـېدلی وٗ او غوښتـل یـې چـې خپلـــه دا دبـــري لاره د هند تر تـــودو اوبـــو پـورې ووهـي او د ټولـې نـړۍ د خوړلـو خـوب ته عملي تعبـــیر ورکـړي خـو کلـه چـې پـر دې هـېواد راواوښت نـو بیـا د هند د ســمندر پـر ځای د وینـو پـه سـمندر کـښې ډوب شـو او د بنکـېلاک دا سور بنامـار هـم لکـه د بنکـېلاک د تـور بنامـار پـه څېر زخمـي- زخمـي او ټـپ- ټپ ببرته د سایبریا یخـــو بیدیـاوو تـه ورسـتون شـو.

دښمنـانو چـې پـه افغانسـتان کـښې د وسـلې پـه وسـیله د بـــري لارې پر خپل مخ بندې ولـــېدې نـو د یـوې نړیوالـې دسیسـې لـه مخـې چـې د نـړۍ لـوی ځواکونـه، زمـوږ ګاونډیـان او زمـوږ نـه لـرې زمـوږ پـه هـېواد کـښې غـرض لرونکـي هېوادونـه ټول پکـښې شـــامل دي، یـــوې داسـې حربـې تـه لاس واچـاوه چـې زمـوږ پـه ګران او تـاریخي هـېواد او زمـــوږ پـه یـو مـوټي ملـت کـې د راز- راز ژبنیـــو، ســمتي، مذهبـــي او قومـــي تعصبونو ناروغي خوره کـړي، هـر چـا د هـېواد(او) بـېلا بېلـې وسـله والـې ډلـې اسـتخدام کـړې او د تعصـب پـه زهـرو یـې ولړلـې او دی ډلـــو پـــه کـابل او نـورو ولایـاتو کـښې خونړۍ قومـي، ژبنـۍ او مذهبـــي جـــګړې پیـل کـړې او داسـې وحشـیانه اعمـال یـــې وکـړل چـــې تـــاریخ تـــرې شرمېږي او تـــاریخ پـرې شـرمېږي خـو بیـا هـم لـه نېکـه مرغـه دا جـــګړې برسـېرنې او قشـري پـاتې شـوې او د ملـت متـن او منـځ تـه یـې نفوذونـه کـړای شـو نـو ځکـه لـه اوږدې بـــې حکومتـــۍ ســـره- ســـره د هـــېواد اوسـېدونکي د پخـوا غونـدې خپـل ژونـد کـوي او جـــګړې د وسـله والـــو ډلو له ساحې نـــه د اولسـونو پراخـو پرګنـو تـه ژور نفـوذ نـه لـرې خـو بیـا هـم کـه دا نړیـوال شـیطانان ترمنـــځ وې نـــو وېره شـــته چـــې ورو- ورو خدایـه مـه کـړې دا تعصبونـه او کرکـې د ملـت متـن او بطـن تـه نفـــوذ

وکړي نو په داسي حالت کښې د دې تعصبونو د عواملو، امثالو او چارې په باب خبرې کول، آثار خپرول يوه ملي مقدسه او سپېڅلې دنده ده چې ملي ليکوال او هغه کسان چې د پردو په لاړو نه دي لړل شوي او خپلې ملي ستونځې او ملي مسايل له ملي زاويې نه ګوري بايد ليکنې پرې وکړي او دې زيات پرې وغږېږي ځکه په تېرو دريو لسيزو کښې کمونستانو او بيا اخوانيانو د ملي مفکورې پر ضد ژور تبليغات کړي او د دوی تر ولکه لاندې يو بشپړ نسل يې تخدير کړی او له ملي مفکورې نه بېګانه کړی دی.

بناغلی عبدالجليل وجدي چې يو سترګور ژورنالېست او ملي ليکوال او څېړونکی دی او د ملي مفکورې په لاره کښې يې ګټور آثار ليکلي دا دی په دې اثر کښې هم له تاسو سره مخامخ دی او په خاص دقت او بصيرت په هېواد کښې د راپېدا شويو مصنوعي تعصبونو او جګړو ريښې څېړي او د احساساتي کېدو يا طرف کېدو پر ځای په سړه سينه د " زړونو او دماغونو مينونه" راسپړي او خنثی کوي يې.

په جرمني کښې د پښتنې فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه چې د خپل ځپل شوي او زيانمن شوي کلتور له پاره خدمت کوي په دې خاص او حساس وخت کښې د دې ګټور اثر چاپول د ملي دردونو د درملنې په لاره کښې يو ګټور ګام ګڼي او خپلو درنو هېوادوالو ته يې وړاندې کوي.

په مينه

د پښتنې فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه

جرمني

۱۳۷۹/۱ ۲۶ - ۲۰۰۰/۳/۱۷

سریزه

زمورِ هغـو دښمنـانو چـې لـه مـورِ سـره يـې د مخـامخ جـګړې همـت نه دی لـرلی، زمـورِ د تباهـی لـه پـاره ډېرې ځانـګړې خطرنـاکې وسـلې او وسیلې په کـار واچولـې چـې په سـترګو نـه لیدلـې کېدلـې خـو تخریبـي قـدرت يـې ډېر زیـات وُ. لـه دې پـټو وسـلو څخـه چـې نړیوالـو يـې هـم حسـاب نیـولی دی هغـه تـر ځمکـه لانـدې بنـخ کـړل شـوي ماینونـه دي چې ډېر افغانان يې په شـهادت رسـولي يـا يـې معیـوب کـړي دي.

د ملـګرو ملتـو مـاهرین او چـارواکي وایـي چـې پـه افغانسـتان کـښې تـر لسـو ملیونـو زیـات ماینونـه تـر مځکـه لانـدې بنـخ کـړل شـوي دي. اوس نو کـه مـورِ د افغانسـتان ټول نفـوس پـه تخمینـي تـوګه (۲۰) ملیونـه

کسان وکړو بیا نو تقریباً د هرو دوو افغانانو د مرګ او ژوبلې له پاره یو ماین بنخ کړل شوی دی. په دې توګه د افغانستان د دښمنانو او د دوی د ګودامګیانو نقشه دا وه چې د دې لرغونې هېواد ټول قومونه تباه شي یا دومره کمزوري کړل شي چې بیا د یرغلګرو قواوو په مقابل کښې هغه مقاومتونه ونه ښیي چې څو ځله یې ټوله دنیا ګوته په غاښ حیرانه درولې ده.

البته اړوندو بین المللي مؤسسو د هغو فزیکي ماینونو حساب نیولی دی چې تر ځمکه لاندې بنخ کړل شوي دي. مګر هغه ماینونه چې د کینو او تعصباتو په بڼه په زړونو او دماغونو کښې د تبلیغاتو په ذریعه ځای په ځای شوي دي، د ددوی له نظره لوېدلي غوندې دي ځکه دوی فکر کوي چې دا په خپله د افغانانو کار دی چې د تخریب عواملو ته په خپلو زړونو کښې ځای ورنکړي. بله خبره داده چې د زړونو او دماغونو دا ماینونه د فزیکي وسایلو په مرسته نشي خنثی کېدلی بلکه د افغانانو خپل غوره اخلاق، سپېڅلي دیانت او د ورورولۍ علایق کولای شي چې هغه له مینځه یوسي.

تعصبات هغه ماینونه دي چې تخریبي ساحې یې له هرډول فزیکي ماینونو څخه ډېرې پراخه او ژورې دي. د فزیکي ماینونو خصوصیت دا دی چې هغه بس کړس کوي او چوي او په خو شیبو کښې خپله د تباهۍ عملیه سر ته رسوي. خو د زړونو او دماغونو د زجر او تکلیف ساعتونه، شپې ورځې او کلونه ډېر اوږدېږي، په سرونو کښې د مېخونو وهل، د مېړونو، ورونو او پلرونو په مخکښې د پاک لمنو نجونو او مېرمنو بې عزته کول، د غرونو په سیاه چالونو کښې د مخالفو ډلو یا سیالو قومونو او قبایلو د افرادوسره ناوړه سلوک کول او نور ډېر داسې غیر انساني اعمال د زړونو او دماغونو د ماینونو ډېر

ناوړه اثرات دي. تخريبي نتيجې يې دومره زيانمنې دي چې د يو ملت په زړه او ضمير کښې د ناسور زخمونه جوړوي.

څو کلونه دمخه، د آزاد افغانستان د ليکوالو د اتحادیې مشر پروفيسر رسول امين په تعصباتو باندې يو وړوکی کتاب ليکلی ؤ او په هغه کښې يې له نورو ليکوالو او څېړونکو څخه هم غوښتنه کړې وه چې د تعصباتو په خلاف قلمي جهاد پيل کړي. ښايي چا په دې باره کښې څه ليکلي هم وي خو د خپل ژوندانه محدوديتونو ماته دا موقع نه ده برابره کړې چې د تعصب په ضد د بل چا څه ليکنې ولولم يا ښايي په دې باره کښې ډېر څه کم ليکل شوي وي.

د تعصباتو په ضد مبارزه او قلمي جهاد د هر افغان د غاړې فرض دی. نو ما هم وغوښتل چې په دې قلمي جهاد کښې د خپلې وسې سره سم برخه واخلم. ځينو ملګرو (کوريې دې ودان وي)، يو شمېر داسې کتابونه راکړل چې د ټولنپوهنې او ټولنيزې ساپوهنې په باره کښې په تېره بيا د تعصباتو په باره کښې يې نسبتا تازه څېړنې لرلې.

په دې کتابونو کښې چې د تعصب له پاره کوم جامع تعريف وړاندې شوی و، د ليکنې له پاره يې زما جرأت ډېر کم کړ ځکه چې هم ټولنپوهنې (سوسيالوجی) او هم ټولنيزې ساپوهنې (اجتماعي روان شناسی) له "تحقيق څخه مخکې قضاوت کولو" ته تعصب ويلی دی. ورسره يې دا خبره هم کړې ده چې که د تعصب له پاره دغه تعريف سم وبلل شي نو هرڅوک څه ناڅه لږ يا ډېر متعصب دی. يعنې دغه عادت عام شوی دی چې د تور او سپين د معلومولو نه دمخه قضاوت کوي. نو څوک چې په عاجله توګه د ژبې په سر قضاوتونه کوي که ډېر نه وي لږ خو متعصبين بلل کېږي. ربښتيا خبره دا ده چې د افغانستان په باب د يو چا ليکل شوي تاريخ زه وځورولم ځکه چې په هغه کتاب کښې هم د تحقيق نه مخکې

قضاوتونه شوي وو. نو له ما سره هم داسي وبره پيدا شوه چې نه د تعصب په باب زما ليکنه هم د تعصب رنګ ونه لري او په ما هم د هغه ډاکټر کانه ونشي چې د زېړي د ناروغۍ د معالجې په وخت کښې په خپله هم په دې ناروغۍ اخته شو. دا وبره له دې امله ما ته پيدا شوه چې په دې باره کښې له ما سره د پوره تحقيق له پاره امکانات ډېر محدود وو. حقيقت دا دی چې هر تحقيق په ټېره په اجتماعي مسايلو کښې ډېر ګران کار دی.

د فزيکي موادو او موضوعاتو په باره کښې څېړنې مشکل کار نه دی ځکه چې مواد که خصوصيات لري خو شعور او کلتور نه لري هرڅه چې د هغو په باره کښې وويل شي نو دغه مواد د ردولو له پاره ژبه نه لري. خو که چېرې د انسانانو د يو ګروپ په باره کښې څه وويل شي او هغه خبره بيا په دوی بده ولګېږي نو په سړي باندې ډېرې خولې ورپرانستلې کېږي ځکه خو د تعصباتو په باره کښې څه ليکل داسې ساده او آسانه کار نه دی چې غبرګون ونه لري.

دې موضوع څو ورځې زما ذهن او دماغ مصروف وساته خو آخر مې خپل فکر داسې سلا راکړه چې د "تا نه ښيم خو ته يې واوره" له چل ول څخه کار واخلم او خبره د خپل هېواد له خلکو څخه ليرې بوځم او خپلو هېوادوالو ته په بل ځای کښې د تعصباتو ډولونه وشمېرم او د هغو د څرنګوالي په باب ورسره خبرې وکړم. نو د مطالعې له پاره مې يوه داسې ټولنه تر مطالعې لاندې ونيوله چې هغه له مور څخه لرې يعنې په بله قاره کښې پرته ده. دا ټولنه د شمالي امريکا ټولنه ده چې د مختلفو قومونو، نژادونو او مذهبونو څخه جوړه شوې ده. د دې ټولنې محققين هم خپل اجتماعي عيبونه نه پټوي او هغه د داسې موضوعاتو په حيث مطالعه کوي چې

باید وپیژندل شي. لکه څنګه چې جسماني ناروغۍ د ډول ډول میکروبو د مداخلې نتیجې وي، اجتماعي ناروغۍ هم خپل خپل عوامل لري نو که یوه ټولنه خپل اجتماعي معایب د ځینو ناروغیو په خبر پټ وساتي نتیجه یې اجتماعي تباهي ده.

همدا سبب دی چې امریکایي پوهانو په خپله ټولنه کښې د تعصباتو په ټولو عواملو باندې رڼا اچولې ده. نورو غربي پوهانو هم امریکایي ټولنه چې له مهاجمینو او مهاجرینو څخه جوړه شوې او د تماسونو او ټکرونو ډېرې زیاتې او ډول ډول خاطرې لري، د اجتماعي موضوعاتو په ټبره د تعصباتو د مطالعې له پاره په خاصه توګه یوه مناسبه ټولنه یا په بله ژبه د اجتماعي مسایلو د پیژندنې له پاره یو بنه لابراتوار ګڼلې دی.

زمونږ له پاره په خاصه توګه جالبه خبره دا هم ده چې امریکایي ټولنه، سره د دې چې له مونږ څخه ډېره لرې پرته ده خو ځینې اجتماعي خصوصیات یې له مونږ سره، لږ یا ډېر، نژدې والی لري. افغاني او امریکایي ټولنو، تقریباً په یو وخت کې، داسې یو او بل ته ورته اجتماعي تحولات کړي دي چې، مختلفو قومونو، ژبنیو او مذهبي ټولنیزو ګروپونو په خوښه او رغبت، له دوی څخه په ماډرنه بنه، هلته او دلته د یو یو ملت یا یو یو دولت جوړول ممکن کړي دي. د امریکې د جمهور رئیس یو پخوانی مرستیال سپیرو اګنیو چې د ۱۳۴۸ لمریز کال په جدی کښې افغانستان ته راغلی وٴ، په خپله یوه وینا کښې وویل چې د آزادۍ او خپلواکۍ سره مینه د افغانانو او امریکایانو یو مهم ګډ صفت دی چې افغانان په دې باره کښې یو څه وړاندې والی هم لري. ځکه چې جارج واشنګټن چې مونږ یې د

خپل هېواد پلار بولو، پنځلس کلن وُ چې لوی احمدشاه بابا افغانستان په ۱۷۴۷ کښې جوړ کړ[1]

بله خبره دا ده چې کورنیو جګړو هم په امریکا کښې او هم په افغانستان کښې د دواړو ملتونو د ویاړ دغه خوشحالي وغمولې. دلته او هلته کورنۍ جګړې هم په یو وخت یعنې د ۱۹ پېړۍ په زړه کښې روانې وې. البته داسې یو توپیر پکې شته چې د افغانستان کورنیو جګړو تر ډېره حده د کورنیو د افرادو تر مینځ د جګړو خصوصیت درلود لکه څنګه چې د تیمورشاه زامنو د پادشاهۍ له پاره په خپلو کښې جنګونه کول، همداسې جګړې د امیر دوست محمد خان په اولاده کښې هم تکرار شوې که څه هم په دې جنګونو کښې د افغانستان قومونه رابنکېل شوي وو خو هغو اساساً د څو قومونو تر مینځ د جګړې ماهیت نه درلود. اما د امریکې په جګړو کښې قومونه، ایالتونه او مذهبونه یو د بل مخې ته په جګړه کښې درېدلی وو. له همدغه املـه د امریکا قومي، نژادي او مذهبي تعصبونه زمور له ژبنیو، قومي او مذهبي اختلافاتو څخه ډېر سخت وو.

په امریکا کښې د غلامۍ موسسې د هغه هېواد تعصباتو ته یو بل کرغېړن رنګ هم ورکړی وُ په داسې حال کښې چې زمور د ټولنې لمنه له دغه کرغېړن داغ څخه پاکه وه.

که څه هم د افغانستان خاصو اجتماعي شرایطو زمور په ټولنه کښې د تعصباتو د ودې زمینې کمزورې کړې دي سره د دې هم خارجي لاس وهنو وخت په وخت زیار ایستلی دی چې زمور په ټولنه کښې تعصبات راپیدا کړي.

په بېلو بېلو ټولنو کښې سرته رسېدلیو مطالعاتو ثابته کړې ده چې د ټولو تعصباتو مور او پلار "نابرابري او رقابت" دی. کله چې د

---

[1] د اصلاح ورځپاڼه ۱۳۶ګڼه د ۱۳۴۸ لمریز کال د جدي ۱۹

ژوندانه شرایط او د ګټو وټو فرصتونه څه ناڅه سره برابر شوي دي د تعصباتو جړې هم پرې کړې شوې دي. البته دا شرایط په ټوله دنیا کښې عمومیت لري زمورې په هېواد کښې هم قومي خوابدی هغه وخت راپیدا شوې دي چې حکومتونو د افغانستان قومونو ته د خپلو خاصو اداري پالیسیو له مخه په یوه ستر ګه نه دي کتلي. له داسې تبعیضي روشونو څخه دوه ډوله ځورېدنې مینځ ته راغلې دي چې په یو ډول باندې یې د "ملي ستم" او پر بل ډول باندې یې د "کلتوري ستم" نومونه ابنودل شوي دي. شاهي حکومتونو کله کله د ملي وحدت د ساتنې په نامه له عجیبو او غریبو روشونو څخه کار اخیستی دی. مثلاً تیمورشاه لکه چې ځینې تاریخ لیکونکي فکر کوي له دې املې د مختلفو اقوامو او قبایلو سره خپښې وکړې چې له دې لارې د افغانستان ملي وحدت تأمین کړي خو نتیجه د ده د هیلې په خلاف وه او شاهزادګانو په خپل مینځي جګړو کښې ماما خپل قومونه هم رابښکېل کړل. په وروستیو وختو کښې پادشاه له دې املې ځان د ملي وحدت مرکز وبالله چې په نژادي لحاظ یې ځان له یو قوم او په ژبنې لحاظ یې له بل قوم سره تړلی او ګنډلی و.

بله خبره دا ده چې داخلي حکومتونو کله کله د امنیت ساتنې په پلمه د "بېل یې کړه ایل یې کړه" له پالیسی څخه که څه هم یوه استعماري پالیسي ده کار اخستی دی چې له بده مرغه شواهد یې په افغانستان کښې زیات دي. په دې توګه خپلو او پردیو حکومتونو زمورې په ټولنه فرمایشي یا مصنوعي تعصبات هم تحمیل کړي دي چې ځینې شواهد یې په دې لیکنه کښې راوستل شوي هم دي.

معمولا په ټوله دنیا کښې هغه قومي ګروپونه د تعصباتو او توپیرونو بنکار شوي دي چې کوچنې دي یا په اقلیت کښې واقع

شوي دي. دې قومونو د خلاصون له پاره دوې لارې په کار اچولې دي چې يا يې د مسلطو قومونو په ضد اتحاد کړی دی، يا يې په پټه خوله کار کړی دی، هرونه او مهارتونه يې زده کړي دي چې دا يوه ډېره کاميابه طريقه وه او ده. دوی له دې لارې په لنډه موده کښې خپل ځانونه په اقتصادی او اجتماعي ليول له نورو سره برابر کړي دي. په امريکا کښې تورپوستو چې له ټولو څخه د ناوړو تعصباتو ښکار شوي وو له دې لارې خپل ځانونه له سپين پوستو سره برابر کړل.

په هر صورت په دې ليکنه کښې له يوې خوا ډول ډول تعصبات شرح شوي دي له بلې خوا په هغو لارو چارو هم رڼا اچول شوې ده چې تعصبات له مينځه وړي. البته د تعصباتو له مينځه وړل د صالحو ملي حکومتونو تر ټولو لويه وظيفه ده، مګر تعصبات اصلاً او اساساً د خلکو يوه اجتماعي ناروغي ده چې دوی بايد په خپله هغه او د هغې عوامل وپېژني او په خپله يې د معالجې لارې ولټوي. يوه تر ټولو مهمه لاره يې مورِ ته رحمان بابا رانبودلې ده او هغه دا ده چې:

په نبه خوی له بدخواهانو بې پروايم
په نرمی لکه اوبه د اور سزا يم

کله چې په هندوستان کښې ګاندي په دغه لار روان شو نو د آزادۍ پراو ته نسبتاً په آسانی سره ورسېد او کله چې د امريکې د تور پوستو مشر ډاکتر مارټين لوتر کينګ دغه لاره خوښه کړه نو مبارزه يې په نرمی لکه اوبه د تعصباتو د اور سزا شوه تر ټولو وروستی شخصيت چې په دغه لاره کښې يې د کاميابی ګامونه واخستل د جنوبي افريقې ملي مشر نلسن ماندېلا دی. که څه هم دی په

جنوبي افريقا کښې د تورپوستو د اکثريت مشر و، خو د سپين پوستو د اقليت په مقابل کښې يې له وچ زور څخه کار وانخيست او د تعصب اورونه يې په پاکو او نرمو اوبو ساړه او مړه کړل.

په پای کښې اعتراف کوم چې ما د يو لړ زياتو مشکلاتو او محدوديتونو له املـه د دې مهمې ضروري موضوع حق په ځای کړی نه دی، ښايي زما په کار کښې دېرې نيمګړتياوې وليدل شي هيله ده چې هغه د نورو محترمو ليکوالو او څېړونکو له خوا له مينځه يوړل شي او دوی وکولای شي چې په افغاني ټولنه کښې د موجودو تعصباتو عوامل وڅېړي او د دې اجتماعي ناروغۍ د معالجې له پاره مجربې نسخې تجويز کړي.

ومن الله التوفيق

عبدالجليل وجدي

کوټه - جنوبي پښتونخوا

د اپريل/۴/۱۹۹۹

PROPERTY OF
ACKU
8965

تعصب څه شی دی؟

تعصب یوه روحي او اجتماعي مزمنه ناروغي ده. د دې ناروغۍ د تشخیص او معالجې د پاره، مجبورږو چې د ساپوهنې (روان شناسی) او نورو اړوندو اجتماعي علومو مرسته تر لاسه کړو. ښه به دا وي چې لومړی د ساپوهنې په ټېره د ټولنیزې ساپوهنې (اجتماعي روانشناسی) له لارې، د دغې ډېرې پېچلې موضوع سختې ټرل شوې غوټې سره خلاصې کړو او یا د هغو د خلاصولو هڅې وکړو.

د ټولنیزې ساپوهنې د پوهانو له نظره تعصب د هغو کړو وړو او انګیرنو مجموعه ده چې د بې خونده، مبتذلو او کلیشه یي عقایدو، د کرکې او دښمنۍ له احساساتو څخه جوړږي او د توپیر او تبعیض د لارو چارو خوا ته هڅه او میلان لري.

هسې خو د هېڅا په ځان دا نه لوړېږي چې د تعصب کرغېړن داغ ورباندې ولګول شي خو له بده مرغه دا یوه داسې ساري او مزمنه ناروغي ده چې په هرچا کښې پټې او بنکاره نخښې نښانې شته. البته له خپل ځان، خپلې کورنۍ، خپلې قبیلې، خپل قوم او ملت سره مینه طبیعي، پاکه او سپېڅلې ده خو که دا مینې له خپلې سپېڅلې پولې واوړي بیا نو له نورو سره د کرکې رنګ ورو ورو ورباندې زیاتېږي.

د ساپوهنې یو ماهر ارچي بونکر (Archie Bunker) چې په انګرېزي ژبه کښې (Prejudice) یعنې تعصب او د (Prejudge) یعنې له تحقیق څخه مخکې قضاوت، تر مینځ لفظي شباهت ته ګوري نو د دواړو کلماتو تر مینځ د معنی هم آهنګي راپیدا کوي او تعصب له پوښتنې او ګرویږنې یا تور او سپین معلومولو څخه دمخه بېرنی قضاوت یا پرېکړه کول بولي او وایي که تعصب همداسې وي نو بیا هر څوک څه ناڅه متعصب دی.

سپک تعصبونه له کوچنیو او بې پروا تبصرو څخه پیل کېږي د مثال په توګه که د "کوترې له کوترو سره او بازان له بازانو سره الوزي" او یا "زاغ با زاغ نشیند کبوتر با کبوتر" متلونو څخه په بې پروا تبصرو کښې غلط مفهومونه واخستل شي. نو دغه کار د سپکو تعصباتو د پیدایښت او ودې د پاره شرایط برابروي.

بیا خبره دې حد ته رسېږي چې د تعصب کرغېړنې کرښې په یو ریستورانټ کښې د یو نژادي ګروپ میزونه له بل نژادي ګروپ څخه جلا کوي تر دې چې د بنوونځیو تر مینځ هم د توپیر او تبعیض کرښې ایستلې کېږي او د بنوونې او روزنې سپېڅلی چاپېریال د تعصب له ککړتیا څخه خوندي نه پاتې کېږي.

د سخت تعصب منشأ څه شی ده؟ دا هغه لویه پوښتنه ده چې تل د ساه پوهانو په مخکې پرته ده. یو شمېر یې په دې نظریه دي

چې محرومیت د تېري او تجاوز سبب ګرځي. د دې تیوري پلویان وایي دېر ځله داسې کېږي چې د محرومیت اصلي عامل په خپله د متعصب انسان څخه ورک وي او دی خپل زړه په نورو لارو چارو تشوي. کله کله داسې هم احساسوي چې کرکه یا دوښمني د انسان د فطرت له اجزاوو څخه ده. د تعصب دا ډول ناروغان د هر پردې یابو نوي لیدل شوي انسان یا یو شي په مقابل کښې یو ډول د شک یا کرکې نه ډک حساسیت ښکاره کوي.

یو بل ساپوهاندادورن (Adorn 1950) استبدادي خوی لرونکي څوک هم د متعصبانو له ډلې څخه بولي او وایي چې دا ډول کسان د داسې یو بصیرت څخه محروم وي چې د نورو احساسات وربانديې پېژندل کېدای شي، دا ډول کسان خپل استبدادي احساسات پر نورو باندې تحمیلوي. دا هغه کسان دي چې میندو او پلرونو یې په غوږونو کښې د حکم منلو او اطاعت کولو وچې خبرې ور څخولې وي. یعنې دا چې پلار یې ورته ویلي وي "هلکه! زه چې څه درته وایم هغه به کوې اوبس" ادورن، چې په خپله امریکایي ټولنه باندې کومه څېړنه کړې ده لیکي چې له هرو پنځو امریکایانو څخه یو یې په دې کته ګورې کښې راځي. دی وایي داسې یو احتمال نشته یا لیرې برېښي چې دا ډول خلک په خپلو ځانونو کښې بدلون راوستل وغواړي. له دې پنځو امریکایانو څخه یو یې په هغه کته ګورې کښې راځي چې د خپلې هوښیارۍ او زړه سوي په برکت یې خپلې غاړې د تعصب له زنځیرونو څخه آزادې ساتلې دي یا له ګوزاره کوونکو او توافق کوونکو کسانو (Contorming Personalities) څخه دی، چې له نورو ګروپونو سره د مخامخ کېدو، د دوی له عاداتو سره د آشنا کېدو او د دوی د ښو خویونو په خپلولو سره د متعصبو ګروپونو له ساحې څخه وځي.

د يوې څېړنې له مخې چې دريو تنو ساپوهانو کارلينز، کافمن او والټرس په ګډه سره کړې ده، داسې څرګندېږي چې په امريکا کښې له ۱۹۳۳م کال څخه تر ۱۹۶۹م کال پورې د ښځو-ښځو نژادي ګروپونو د محصلينو ترمنځ تعصب په پرله پسې توګه کم شوی دی لکه چې په ۱۹۶۹م کښې د يهوديانو، تورپوستو او چينايي محصلينو تر مينځ اړيکې په مثبت حالت کښې لېدل شوې دي. خو دغه پوهان نظريه ورکوي لا تر اوسه پورې په امريکا کښې هغه وخت نه دی رارسېدلی چې د تعصباتو د له مينځه وړلو د پاره "اخلاقي قانون" جوړ کړل شي ځکه چې د توپير او تبعيض مدافعين لا تر اوسه پورې تر سترګو کېږي. يوازې د ټولنې اخلاقي نورمونه کولای شي چې د يوې ټولنې دغرو په تعصباتو باندې صابون ووهي. په دې توګه دغه پوهان خپلې اوړې سپکوي او د موضوع درونده بار د ټولنې په نورمونو باندې اچوي. غټه خبره دا ده لکه څنګه چې په شپږو يا اوو ميلو کښې لهجې تغيير مومي هماغسې نورمونه هم بدلېږي مثلاً کېدای شي چې د يوې ټولنې "اخلاقي نورم" په بل ځای کښې يو کړلی رواج وښلل شي. که خبره داسې وي نو بيا د ښځوبلو ټولنو نورمونه ټول مسائل نشي حل کولای نو په دې موضوع کښې هم د نورو مسائلو په څېر علمي څېړنو ته سخته اړتيا محسوسېږي په تېره بيا ټولنيزې ساپوهنې ته د امید سترګې اوړي چې د تعصباتو د پيچلې موضوع په ښځوبلو اړخونو باندې رڼا واچوي. خو دا کار هم د خولې د خبرې هومره آسان نه دی بلکه دغه "ځوانه پوهنه" دې موضوع او دې ته ورته نورو (روحي-اجتماعي) مسائلو په څېړنه او مطالعه کښې له ډول ډول خنډونو او پيچومو سره مخامخ کېږي. هرځوک خپل ژوند په يو کوچني ګروپ کښې چې کورنۍ بلل کېږي پيل کوي. کورنۍ لومړنۍ سلول دی. له همدغه ځای نه د ژوندانه اجتماعي ساحه پراخېږي ورسره لوی

لـوی او پیچلـي اجتمـاعي ګروپونـه جـوړېږي چـې پـــه يـــوه ماډرنـــه او عصـري ټولنـه کـښې يـو لـړ متقـابل عملونـــه مينـــځ تـــه راوړي او د ګډ ژوندانـه سـاحې پراخـوي. ټولنـيزه ســـاپوهنـــه دغـــه ګروپونـــه، د هغـــو جوړښت يو پر بل يـــې اغـيزې او پـه فـرد بـاندې د هغـو ټولـو اغـيزې تـر مطالعې لانـدې نيسـي.

د خلکـو د جـامو ډولونـه، کـړه وړه، د بـــدن د غـــړو عـــادي او غـــير عـادي حرکـات، د خـبرو اتـرو طـرز، مـورډ تـه د يـوې ســـرپـــټې روحـــي موضوع په باره کـښې يـو څه پـه سـکېچ برابـر معلومـات پـه لاس راکـوي. سـاپوهـان د دغـو ظواهـرو لـه مخـې خلـک پـه بېلابېلـو کټګوريـو کـښې راولي. خويونـه او کلچرونـه يـې يـو لـه بـل سـره مقايسـه کـوي او خپلـې نتيجـې ورځخـه اخلـــي. دوی معمـــولاً لـــه دې ډول اخســـتنو، تـــاثراتو، مقايسو او استنباطونو ځخه صحيـح معلومـات تـر لاسـه کـولای شـي. خـو داسې تيـاره ګوټونـه هـم راپيـدا کـېږي چـې د څېړنـې مخـه پـه غلطـو لارو ورګرځوي او څېړونکـــي هـــم د اشـــتباهاتو پـــه لـــوري بيـــايي، د اشتباهاتو امکانـــات هغـه وخـت پيـاوړي کـېږي چـې مربـوط معلومـات او تـاثرات پـه سـطحي تـوګه اخسـتل شـوي او د خپلـــې موضـــوع د پـــاره کافي نه وي او يـــا پـه غلطـو طريقـو سـره پـه کتـه ګوريـو کـښې راوسـتل شـوي وي. نښه بـه دا وي چـې هغـه مـوارد وپـېژنـــو چـــې د اشـــتباهاتو ســـبب ګرځي.

له هغـــو مـواردو ځخـه چـې اجتمـاعي څېړنـې د اشـتباهاتو لـه خطـر سـره مخـامخ کـوي يـو يـې هـم کليشـه يـــي نظريـــات (Stereotypes) دي. زيـاتره دا ډول نظريـات فرضـي وي او د تعصبـاتو پـــه بنســـټ درول شـوي وي. کـېدای شـي چـې دا ډول کليشـه يـي او مبتـذل نظريـــات د حقيقت کوم زړی ولـــړي خـو هغـه بـه د تحريفـاتو تـورې پـردې د خلکـو له نظره پـــټ کـړی وي. سـاپوهـان وايـي چـې پـه کـوچنـي تـوب کـښې زده کـړل شـوي کليشـه يـي نظريـات، پـه انسـان کـښې پـه دې نظريـــاتو

باندې د ټینګار کولــو عـادت ډېر پیـاوړی کـوي. کـه پـه افغانـانو کـښې د تعصباتو نمونې تـر مطـالعې لانـدې ونیولـې شـي نـو سړی پوهـېږي چـې زمـوږ کـور کلیشـه یـي او قـراردادي نظریـاتو وران کـړی دی او همدغـه فرضي نظریات دي چــې زمـوږ زړونـه یـو لـه بـل څخـه تـوروي. لـه بـده مرغه قراردادي او کلیشــه یــي نظریـاتو تـاریخي څېړنـو تـه هـم لاره پیـدا کړې ده چې په خپل ځای کـښې بـه وربـاندې مفصـل بحـث وشـي

منطقـي مغـالطې هـم د اشـتباهاتو سـبب ګرځي مثــلا کــه کلــه یــو څوک په خپلو کړو وړو کـښې مـوږ تـه یـو څه راوښیـي نـو مـوږ داسـې ګڼو چـې د ده نـور کارونـه بـه هـم داسـې وي. د سـاري پـه تـوګه کــه یــو څوک په کــوم مجلـس کـښې بـې پـروا خـبرې کـوي نـو پـه لومـړي نظـر دغسـې یـو څوک مـوږ تـه یـو بـې پـروا مغـرور یــا غــیر منطقــي سـړی معلومـېږي. کـه دی یـو ټولنـیز ګروپ (مثـلا، کورنـی، قبیلـې یـا قـوم) تـه منسـوب وي نـو داسـې یـې ګڼو چـې د ګروپ نـور افـراد بـه هـم داسـې وي.

داسـې هـم پـېښېږي چـې د یـو چـا پـه بـاره کــښې چــې ټوکــې او مسـخرې نشـي کـولای یـا یـې نـه خـوښوي، پـه ظـاهري بـڼه هـم لــټ ښکاره کېږي تـېزي او چـالاکي ونـه لـري او پـه زور یـې لـه خولـې څخـه خبرې اخستل کېږي، داسې فکـر وشـي چـې دغـه سـړی یـو غبـي انسـان دی. خـو دی بـه پـه حقیقـت کـښې ډېر پـوه او ذکـی انسـان وي. ده تـه بـه خپـل ګروپ (مثـلا کورنـی) یـا یـې کلچـر دا ورښودلي وي چــې پــه مجلس کښې به درونــد کښېنـي، لـه خپـل ځان نـه بـه کومیـدې لوبغـاړی نـه جـوړوې او خپلـه ژبـه بـه پـه خپـل واک کـښې ولــرې پــه اصطــلاح "شمېرلې خبرې بــه کـوې"

دې او داسې نورو خــبرو، پـه خپلـه منطقیـون هـم پـه دې فکـر کـښې اچولي دي چې په منطقــي قضایـاوو کـښې بـه د بشـپړو واقعـي نتیجـو پـه اخسـتلو کـښې یوازې د "کـبرى" او "صغـرى" تـر مینـځ د رابطـې ســموالی

کافي نه وی. دېر امکان لري چې متعصب یا احساساتي کسان په خپلو خبرو کښې ظاهراً له بنه استدلال څخه کار واخلي خو بنایي د دوی نظریات د "عیني" په ځای دېر "عندی" یا احساساتي وي. باید وویل شي چې کله کله عندي نظریات په خپله د منطق ملا ماتوي ځکه چې معاصر منطقیون "عینیت" د منطق تر ټولو لویه مبداء ګڼي.

همدغسې یوه موضوع څو تنو ساپوهانو لکه اش (Asch-1946) او کیلي (Kelley- 1950) تر تجربو لاندې راوستلې ده. کیلي چې دسا یکالوجي استاد وٴ د همدغې پوهنې یو بل استاد ته بلنه ورکړه چې یوه ورځ ورشي او د ده شاګردانو ته لیکچر ورکړي. خو پخوا له هغه چې مېلمه استاد د شاګردانو ټولګي ته ورشي نو کیلي خپل شاګردان په دوو ګروپونو ووېشل او هر ګروپ ته یې په جلا جلا توګه دغه یوه خبره وکړه چې "داسې استادان د ساپوهنې په باره کښې په زړه پورې او جامع معلومات ورکولای شي چې په دې موضوع کښې د تخصص او تجربو خاوندان وي. ما د همدغسې کسانو څخه یو استاد رابللی دی چې تاسې ته لیکچر درکړي نو زه باور لرم چې تاسې به د ده د وینا څخه ډېره بنه استفاده وکړای شئ". خو کیلي یو بل کار هم وکړ او هغه دا وٴ چې ده د شاګردانو لومړی ډلې ته، مېلمه استاد د تاوده او مینه ناک مزاج خاوند معرفي کړ او دوهمې ډلې ته یې هغه د داسې سړي په توګه وروپېژانده چې سوړ مزاج لري.

کله چې مېلمه پروفیسر راغی نو د یو ټولګي له شاګردانو څخه یوې ډلې هغه ته په یو نظر او بلې یې په بل ډول کتل. هغو شاګردانو چې نوی استاد ورته د تاوده مزاج خاوند ښودل شوی وٴ، د ده لیکچر یې په مینه او دلچسپي واوریده او له مېلمه پروفیسر نه یې ډېرې په زړه پورې پوښتنې وکړې خو د هغې بلې ډلې سلوک د پروفیسر په مقابل کښې سوړ غوندې ښکاریده یوازې یې د پروفیسر د

لیکچر د اوږدو تکلیف وزغملو او نور هېڅ. په دې توګه د ده د لیکچر څخه یو ډول منطقي نتیجه ترلاسه نشوه.

د کیلي د دې تجربې څخه په ضمني توګه دا نتیجه هم راوځي چې د ماغزو مینځلو (Brain Washing) په ذریعه څنګه په مصنوعي ډول تعصبات راپیدا کېدلای شي او له بده مرغه زمونږ په دې مهذبه او متمدنه دنیا کښې داسې ستراتیژیکي مؤسسې کمې نه دي ډېرو رسېدلیو ساپوهانو ته یې د "مغز شویی" کارونه ورسپارلي دي او سایکالوجي یې هم د مینې او دوستی د مزو د پیاوړي کولو پر ځای، د دښمنیو د پراختیا په لار کښې استخدام کړې ده.

سیالي یوه بله کور ورانوونکې او تباه کوونکې پدیده ده. هسې خو، له پخوا څخه زمونږ زړو تربګنیو او تربورګلویو په مورِ باندې یو زیات شمېر حساسیتونه تحمیل کړي وو چې زمونږ د کار او ارادې متې یې فلج کړې غوندې وې. بیا داسې وختونه راغلل چې د نړۍ د لویو سیالیو دروند بار زمونږ د ملت په غاړه واچول شو. دغو نړیوالو سیالیو یوازې دا نه چې زمونږ هېواد یې وران او ویجاړ کړ بلکې زمونږ د خلکو په زړونو کښې یې څه نوري کینې هم پخې کړې. البته د سیالیو دغه دروند بار د ټولې نړۍ په اوږه اچول شوی دی خو په تېرو څو پېړیو کښې یې د ثقل مرکز زمونږ هېواد او زمونږ ملت وُ. دغه درانده بار یوازې مورِ نه بلکې ټوله دنیا په شور او ځورِ راوستلې ده. په تېره هغه پوهان چې د سیالیو او رقابتونو ناوړه نتیجو ډېر وېرولي دي، فریادیې له مورِ څخه ډېر پیاوړی دی.

د ټولنیزې ساپوهنې یو ماهر، چاریس ارجیریس (Charis Argyris- 1975) ته، زمونږ دا نړۍ دوه ډوله په نظر ورغلې ده. یو ډول یې هغه نړۍ ده چې رقابت او انحصار خپلې درنې پښې د هغې په مړۍ باندې اېښې دي. ده دا ډول ترستوني نیول شوې نړۍ د خپلې څېړنې د پاره "لومړی، ماډل" ګڼلې ده. بله یې د ګډې

همکاری، هم آهنګی او د باور نه ډکه نړۍ ده. چې ده "دوهم ماډل" بللې ده. له دې امله چې د ټولنیزې ساپوهنې ماهران له هرڅه نه د مخه ساینس پوهان دي، نو دوی غواړي چې نړۍ څنګه چې ده هغسې تشریح کړي. نو مجبورېږي چې د لومړي ماډل نړۍ چې مور او دوی ټول پکې ژوند کوو یا په هغې کښې ژوند کولو ته مجبور شوي یو، تر مطالعې لاندې ونیسي.

دغه پوهان د سر په ستړګو ګوري چې خلک د هغو اجتماعي ګروپونو له نورمونو سره خپل ځانونه عیاروي چې د قدرت خاوندانو ته د اطاعت کولو د پاره خپل چمتووالی ښیي. البته دا ډول خلک له هغو شرایطو څخه خبر دي چې د خپلو ځانو په باره کښې د ښه فکر کولو په لاره کښې ورسره مرسته کوي. دوی هغه حقایق هم پیژني چې انګیرنې یې روښانه کولای او افکار یې بدلولای شي.. خو د ارجیریس له نظره دا ډول خلک له خپلې ښې پوهنې څخه یوازې یوازې د خپلې محافظه کارۍ د پاره کار اخلي. ګواکې دوی د شکر ناروغانو ته ورته خلک دي چې پوهه یې خواږه او ډېر غوړ شیان ورته زهر ښیي مګر سخته تلوسه یې همدغه شیان د راحت او هوسایۍ او د خولې د خوند د ښه کولو دوا ګڼي. په دې توګه د ارجیریس له نظره د رقابت او انحصار په منګولو کښې راښکېل خلک له خپلې ښې پوهنې او روښانه نظر څخه داسې ګټه نشي اخستلای چې ځانونه وربانديې د خپل واک څښتنان کړي او بیا یو له بل سره د مرستې په پیاوړي طاقت د رقابت او انحصار زنځیرونه مات کړي.

ارجیریس په خپله دې څېړنه کښې د دوو تنو نورو ساپوهانو ابیل سن (Abelson- 1970) او زیمبارډ (Zimbard) له څېړنو څخه هم مثالونه ورکړي دي. دغو پوهانو د سولې مدافعینو ته څو روښانه مشورې ورکړې دي او ورښودلي یې دي چې دوی باید د

سیاسي تشویق له څه ډول اغیزه ناکو تاکتیکونو څخه کار واخلي. د دوی له نظره د ساپوهنې د ماهرینو کار باید د داسې تبلیغاتو بڼه ولري چې په اوربدونکو اغیزه وکړي او له دې اغیزو څخه داسې معنوي قواوې جوړې شي چې هغه د انحصار او رقابت ناوړې نتیجې شنډې کړای شي. خو د ارجیریس له نظره تش پاروونکې ناڅه څه ناڅه د ماکیاولیزم رنګ او کیف لري. نو په خپله ارجیریس د ټولنیزې ساپوهنې ماهرانوته وړاندیز کوي چې دوی باید له هرڅه نه دمخه له خپلو ځانو څخه یو لړ اخلاقي پوښتنې وکړي. مثلاً داسې پوښتنې چې دوی باید خپلې علمي تجربې څنګه تنظیم کړي؟ او هغه بیا څنګه په کار واچوي چې د نړۍ لومړی ماډل چې مور پکښې عملاً ژوند کوو بدلون منلو ته وهڅوي.

د ده غوښتنه دا ده چې د ساپوهنې ماهران باید خپلې دندې یوازې په تشریحي لارو چارو پورې محدودې نکړي بلکې دوی باید د خپلو پرله پسې هڅو په نتیجه کې، بشر ته نوی ډبر ښه کلتور په لاس ورکړي هغه کلتور چې د دوهم ماډل نړۍ د پاره په نظر کښې نیول شوی دی. د ټولنیزې ساپوهنې د یو شمېر پوهانو پورتنې نظریات زمور پام یوې مهمې خبرې ته اړوي او هغه دا ده چې له بده مرغه رقابت او انحصار په خپلو مختلفو ابعادو سره هم زمور د زړه او ضمیر پټه دنیا (Internal) او هم پر مور اغیزه لرونکې خارجي عالم (External) د خپلې داسې پیاوړې حکمرانۍ د پاره لوی قلمرو ګرځولی دی چې د اغیزو ساحه یې هم پراخه او هم ژوره ده.

اوس چې مور افغانان یو بل ته برګ برګ ګورو، یا مو د کلاشینکوفونو، توپونو او راکټونو خولې، یو د بل په لوري برابرې کړې دي. یا مو یو د بل تر پښو لاندې مینونه کرلي دي او یا ډول ډول کینو او بدبینیو په خپله له مور څخه بمونه او ماینونه جوړ

کړي دي، بايد وپوهيږو چې زمور د ډول بدبختي تر ډېره حده د هغې لويې اجتماعي ناروغي له اعراضو او علايمو څخه ګڼل کېدای شي چې له بده مرغه په ټوله نړۍ مسلطه ده. دا اجتماعي سرطان په نړيواله سطحه د "انحصار او رقابت" له بې پروايیو څخه راپيدا شوی دی. مور که په ځان پوهيږو او که نه، زمور اوسنی ډېرې بې ساري روحي او اجتماعي ناروغي حتی زښته زيات تر وخت دمخه مرګونه همدغې سرطاني ناروغي راپيدا کړي دي.

د مطلب خبره دا ده چې تر دې ځايه پورې، ټولنيزې ساپوهنې ځينې مهم حقايق په لاس راکړي دي. مور کولای شو چې د هغو په رڼا کښې د تعصب د ناروغي علايم او اعراض همدارنګه د هغې عوامل څه ناڅه وپيژنو. البته د دې ډېرې غټې او پيچلې مسألې د پاره دا حقايق کافي نه دي او مور اړ يو چې په دې باره کښې د ټولنپوهنې، اقتصاد او نورو اجتماعي پوهانو له څېړنو څخه کار واخلو. په دې ليکنه کښې دا ټکی هم په نظر کښې نيول شوی دی او هڅه شوې ده چې د نورو پوهانو نظريات هم، د ضرورت په اندازه راواخستل شي او له دې لارې ددې ليکنې د علمي بېطرفي روحيه لا پياوړې شي.

تعصبات د ټولنپوهنې په رڼا کښې

ټولنپوهنه هم د ټولنيزې ساپوهنې په څېر له تحقيق څخه مخکې قضاوت کول تعصب بولي او په دې رڼا اچوي چې د (Prejddice) کلمه چې په انګرېزي کښې د تعصب معنی لري د لاتيني ژبې له دوو لفظونو (Pra) يعنې "مخکښې" او (Judicum) يعنی "قضاوت" څخه راوتلې ده. پر دې برسېره ټولنپوهان له خپلې نژادي يا توکمېزې ستې سره له خپل مشروع حد څخه وتلې مينه يا د سوسيولوژي په ژبه (Ethnocenterism)، په نورو خلکو باندې د خپل کلچر يا مذهب تحميلول، د لوړتيا او تفوق غوښتلو تمايلات، د دريځ يا ګټو د ترلاسه کولو د پاره سيالي کول د تعصب له غټو غټو جړو څخه بولي.[1]

نژادي تعصبات

ټولنپوهنه په خپله يو ډېر اجتماعي علم دی. هغه وخت چې په خپله دغه علم د بلوغ مرحلې ته پوره نه ؤ رسېدلی نو ځينو ټولنپوهانو نژادي توپيرونه بنه نه توجيه کول. مورډ چې دا خبره کوو نو يوازې د نازي آلمان ګومارل شوي ټولنپوهان(!) په نظر کښې نه

---

[1] Sociology Paul. B Horton and Chester. L. Hunt Westren Michigan Uniuersity sixth edition 1984

نیسو، بلکه په امریکایي ټولنه کښې هم چې په هرلحاظ یې د ټولنیزو مطالعاتو د پاره یو مناسب لابراتوار ګڼلای شو، داسې ټولنپوهان یا سوسیولوجستان دعلمي چوکیو خاوندان وو چې په نژادي توپیر یې عقیده درلوده. لکه چې په ۱۹۱۴م کښې د امریکې د ټولنپوهنې د ټولنې (American Sociological Society) مشر ټولنپوه اي. اې راس (E. A. Ross) ولیکل چې په ۱۸۸۰م کښې له ختیځې او جنوبي اروپا څخه امریکې ته په کډه تللي خلک له ټیټ نژاد سره تعلق لري د دې نژادونو څخه جوړ شوي ملتونه د اخلاقو او پوهنې په لحاظ مخ په ځوړ روان دي. ده لا دا خبره هم کوله چې د دې کډوالو وینه کم اصله ده که هغه چېرې زمور له وینې سره ګډه شي نو مور به هم کم اصله کړي.

دغه زور انده ټولنپوه چې په ویسکانسین (Wisconsin) پوهنتون کښې د ټولنپوهنې پروفیسر وُ، فکر کاوه چې د هغو کډوالو په وېښتانو پټ او چېشن بدنونه، د دوی ټیټ ذهنیتونه ورسره د دوی غټ، غټ مخونه او د بدن کلک او شړل پوستکي یې داسې څرګندوي چې دوی د لوی کنګل د دورې (Great Ice Age) خلک دي.

پروفیسر راس دا نظریه هم درلوده چې د مدیترانې د ساحل اوسېدونکي په اخلاقي لحاظ د شمالي اروپا د خلکو په نسبت ټیټ خلک دي. د ده له نظره د شمالي اروپا خلکو حتی د بربریت په وختونو کښې، دا سپېڅلتیا درلوده چې رښتیا به یې ویل او سپینې خبرې به یې کولې نو د شمالي اروپا خلک په طبیعي توګه د جنوبي اروپا په خلکو برتري لري دا خلک به هغه وخت خپل خصوصیت د لاسه ورکړي چې په خپلو رګونو کښې د جنوبي اروپا د خلکو ناپاکه او کرغېړنه سیمابي وینه جذب کړي.

دوو تنو نورو نامتو امریکایي ټولنپوهانو ایډګا ایف. بورګټ او هنري جي. میېر چې یو یې ایټالوي او بل یې یهود وُ او د نسب سلسلې یې ختیځې او جنوبي اروپا ته رسېدلې په ۱۹۵۰م کال کښې

د "اجتماعي کنټرول" په باره کښې د پروفيسر راس په مقاله باندې علمي کار وکړ. د کار نتيجه څه وه؟ بس دا وه چې دغو دوو پوهانو په عالمانه ډول هغه پروفيسر ته پېغور ورکړ يعني دايې ثابته کړه چې د پروفيسر د نظر په خلاف د ختيځې يا جنوبي اروپا خلک د (۵۰) کلونو په موده کښې دومره تکامل کولای شي چې د راس غوندې ټولنپوهانو په ليکنو باندې انتقادي څېړنې وکړی شي.

ټولنپوهنې د شلمې پېړۍ په دوهمه نيمايي کښې ټولنپوهانو ته داسې حقايق وړاندې کړل چې د هغه له مخه دوی نه يوازې دا چې د نژادي توپيرونو په کرغېړنو نظرياتو د بطلان کربنې راوايستلې بلکې د ځينو نورو هغو نظرياتو مخه او موخه يې وګرځوله چې د اجتماعي حقايقو له رابرسېره کولو سره يې مرسته نشوای کولای. مثلاً تر دې دمخه په دې خبره ټينګار کېده چې اجتماعي او جغرافيايي انزوا يا ګوښه توب د تعصباتو له مهمو عواملو څخه دي.

د ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ کلونو ترمينځ لسيزه کښې په تعصباتو باندې شوي ريسرچ هم د خلکو په خوله کښې دغه لوبدلې خبره تقويه کوله چې ګويا تعصبات په انزوا کښې وده کوي. که چېرې خلک يو د بل سره نژدې تماسونه ولري بيا نو تعصبات کمزوري کېږي او تر کنترول لاندې راځي. خو ځينو پوهانو دې نظريې ته په شک وکتل. د هغوی له جملې څخه د ټولنيزې ساپوهنې يو وتلی پوهاند د هارورډ اوسېدونکی ډبليو الپورټ لومړنی شخصيت وُ چې په دې باره کښې يې خپل شک بنکاره کړی دی.

ده د خپلې يوې څېړنې له مخې ويلي دي، که چېرې تماسونه د تعصباتو د حل لاره وای نو بيا ولې په جنوبي امريکا کښې تعصبات له مينځه لاړ نشول. هلته خو د شمالي امريکې په نسبت د تورپوستو او سپين پوستو ترمينځ تماسونه ډېر ښه روان وو. په جنوبي امريکا کښې تورپوستو نوکرانو له سپين پوستو سره داسې اړيکي ساتل لکه اولادونه يې چې د ميندو او پلرونو سره ساتي. له پېړيو پېړيو راهيسې

د جنوبي امریکې په ښارونو کښې تور پوستي او سپین پوستي یو د بل تر څنګ ډېر نژدې اوسېدلي دي، سره د دې هم هلته د تورپوستو په ضد تعصب هغومره پیاوړی دی څومره چې په شمالي امریکا کښې دی. دا ولې؟

الپورټ خپلې دغې پوښتنې ته په خپل کتاب (د تعصب مزاج) کښې ځواب ویلی دی او په هغه کښې یې دا خبره کړې ده چې د ټولنیزو ګروپونو تر مینځ د ښو اړیکو د برابرولو د پاره تماس ضروري نه دی. تر دې چې ده په دې خبره ټینګار کړی دی چې ډېر ځله تماس روابط ورانوي خو دا خبره د تماس په شرایطو پورې اړه لري.

سیالي او نابرابري د تعصب ستر عوامل

د الپورټ د تماس د تیورۍ له مخې، که چېرې د ګروپونو تر مینځ د برابرۍ حالت موجود وي بیا نو نژدې تماسونه تعصبات کمولای شي او که چېرې د ګروپونو تر مینځ برابري نه وي نو بیا نژدې تماسونه د تعصباتو لوی سبب ګرځي. په دې معنی چې سپین پوستي سوداګر د تورپوستو سوداګرو سره تماس نه ساتي بلکې د دوی تورپوستي پیرودونکي په کار دي. سپین پوستي ماشومان د تورپوستو همصنفیانو یا ښوونکو سره تماس نه لري بلکې دوی د تورپوستو نوکرانو سره سراوکار لري. دغه نابرابري ده چې سپین پوستي یې تر تورپوستو لوړ کړي او تور پوستي یې د هغوی تر لاس لاندې راوستلي دي.

سیالي یوه بله سخته ضربه ده چې د ښو روابطو د ملا تیر ماتوي. مثلاً مزدوران د هر رنګ او نژاد چې وي تر هغه وخته یو له بل سره

ورورولي چلوي چې د دوی تر مینځ سیالي او رقابت موجود نه وي. کم مهارته کارونه د غریبو سپین پوستو او غریبو تورپوستو ترمینځ تعصب خورا پیدا کولای شي لیکن داسې یو تعصب هغه وخت له مینځه وړي چې دواړه نژادي ګروپونه مشترک هدفونه ولري. لکه چې یو ټولنپوه کیفرت (Kephart- 1957) څرګنده کړې ده. د تور پوستو پولیسو او سپین پوستوپولیسو ګډ کار د دوی تر مینځ تعصبات کم کړي دي.

د الپورټ د نظریاتو د خپرېدو نه وروسته د یو شمېر نورو ټولنپوهانو څېړنو هم د ده د نظریاتو ملاتړ وکړ. مثلاً د دوی له جملې څخه فورډ (Ford- 1973) د خپلې یوې څېړنې څخه دا نتیجه واخسته چې تماس هغه وخت په تعصباتو غلبه موندلی شي چې خلک د برابرۍ په شرایطو کښې د ګډو مقصدونو تر لاسه کولو د پاره خپلې هڅې سره شریکې کړي که نه نو د نه برابرۍ او سیالیو په حالاتو کښې نیول شوي تماسونه دښمنۍ پاروي او ډېر نژدې خپلوان هم پردي ګرځوي.

د اوکلاهوما Oklahoma د پوهنتون دوه تنه استادان موزفر (Muzafer) او کارولین شیریف (Corolyn Sherif) د څېړنو لیونې شوق وهڅول چې داسې کارونه وکړي چې بنایي په ظاهري توګه د دوی د شان او شوکت سره برابر نه وي.

دوی د ۱۹۵۰ په لسیزه کښې د ځوانو هلکانو د دوبي په تفریحي کمپونو کښې یو لړ مطالعې وکړې د دوی د مطالعاتو مقصد دا وُ چې وګوري د ځوانانو د ګروپونو تر مینځ تعصبات څنګه په آسانۍ سره راپیدا کېږي.

شېریف به د یو جاسوس په څېر غلې چېرته ناست وُ او هغو هلکانو ته به یې په ځیر ځیر کتل چې د دوبي د رخصتیو په کمپونو کښې د دوو هفتو تېرولو د پاره راتلل ده به د هر هلک بېلوونکې نخښې (علامه فارقه) ته په ډېر دقت کتل او په دې توګه به یې هر

هلک په نخښه کاوه بیا به یې دغه په نخښه کړل شوي هلکان وخت په وخت تعقیبول. دی د څارنې په کار کښې د یو پولیس غوندې د مهارت خاوند وٴ. خدای خبر نه یې ګنئ که بد؟ ده به په په ټه د هلکانو خبرو ته غوږ نیوه او د یو جاسوس په ټوګه په کمپ کښې لالهانده ګرځیده، دی به، هلکانو ته مخامخ نه کښیناسته، هسې نه چې هلکان د ده په باره کښې بل څه فکر ونه کړي.

ده دا ټول کارونه د دې د پاره کول چې وپوهیږي چې تعصبات څنګه راولاړیږي او بیا یې ځوښ څنګه کښیني. د هلکانو کړو وړو د ده د غیرمستقیمو ازموینو او تجربو د پاره نه زمینه برابره کړې وه. کله کله به چې هلکان په بحثونو کښې سره تاوده شول نو هر یوه به خپلې خبرې په درنه تیږه او د مقابل لوري په سپکه تیږه تللې په تېره سپورتي، هنري او تعلیمي سیالیو د دوی تر مینځ تعصبات راپیدا کول دوی به یو بل ته د "ناځوانی" او په امتحانونو کښې د نقل کولو پېغورونه ورکول. خو بیا به چې کله د اندیوالی روحیه راپیدا شوه هریوه به کونښښ کاوه چې لاس وړاندې کړي او ځان په همکاری کښې مخکښې کړي، په اندیوالی کښې د دوی تر مینځ د هسک او ټیټ توپیر موجود نه وٴ، ټولو فکر کاوه چې بس د یو لاس ګوتې دي. په دې توګه نو اندیوالیو به د دوی تر مینځ هرډول اختلافات له نظره واچول او تعصبات به د مینې او ملګرتوب په روحیه بدل شول.

د الپورټ نظریاتي څېړنو او د شېریف عملي تجربو، د اجتماعي ګروپونو ترمینځ د شخړو په باره کې، د پوهانو پرمخ نوې دروازې پرانستلې. په تېره د الپورټ تیوري ټولنپوهان زیات ورجلب کړل. تر دې چې دوی د سپین پوستو او تورپوستو تر مینځ تعصبات د همدغو نظریاتو او عملي تجربو په رڼا کښې تحلیل او تجزیه کړل. مثلاً دوی علماً ومنله چې په امریکا کښې له تور پوستو غلامانو سره د سلوک

اصلي منشاء هم اقتصادي نابرابري وه چې اوس يې اصلي ماهيت پوهانو ته په ښه توګه څرګند شوی دی.

غلامي او تعصبات

له نن څخه څه د پاسه دوه پېړۍ دمخه د امريکې د متحدو ايالاتو بنسټ اېښودونکو له برتانيې څخه د خپلې خپلواکۍ د ګټلو اعلاميه د خپلو سرونو د قربانولو په بيه صادره کړه. د دې اعلاميې په دوهم پروګراف کښې ويل شوي دي چې "سړي په مساوي توګه خلق شوي دي." خو نه پوهېږم څنګه يې بولئ چې همدغو مشرانو په خپله هم غلامان درلودل. د غلامانو يو مالک په خپله جفرسن هم وُ. وايي چې ده په خپله ډېره زياته هڅه کوله چې غلامي غير قانوني کړي، يو ځل نژدې وو چې په ورجنيا کښې په خپل دغه کار کښې کامياب هم شي. سره د دې هم ده غلامان ساتل ورسره يې دا فکر هم کاوه چې دا به د ثواب کار نه وي چې غلامان آزاد کړي او هغوی د غلامانو په ټولنه کښې بې سرنوشته پرېږدي څو ببرته مجبور شي چې خپلې غاړې د غلامۍ حلقو ته ونيسي ځکه ده فکر کاوه چې د غلامانو د پوره آزادۍ د پاره فرصتونه برابر نه وو.

د مساوي فرصتونو برابرولو د پاره هڅې او ورسره د فردي ازادیو ملاتړ له پخوانيو امريکايي ارزښتونو څخه وو، سره د دې هم د غلامۍ سيستم او نژادي توپيرونه پکښې منل شوي اصول ګڼل کېدل. په ۱۹۴۴ کښې يو سويسي اقتصاد پوه ګونرمېردال (Gunnar Myrdal) په امريکا کښې د نژادي روابطو په باره کښې خپله نامتو څېړنه خپره کړه. په دې څېړنه کښې د دموکراتيکو نظريو او د نژادي تبعيضي اعمالو تر مينځ د تضاد او تناقض موضوع ته ډېر ځير شوی دی د کتاب نوم يې "د امريکې يو مشکل انتخاب" دی. په ربښتيا چې هغه وخت امريکايان نه پوهېدل چې کومه خوا ونيسي

دموکراتیک ارزښتونه وپالي او که د غلامۍ سیستم فعال وساتي او ورسره د نژادي توپیر روحیه هم ولري.

دنیو انګلنډ خلک د غلامۍ د سیستم سره دومره مخالف وو څومره یې چې له انګریزي استعمار سره مخالفت درلود. خو نورو زیاتو امریکایانو له یوې بلې حیلې څخه کار اخیست. هغه دا وه چې دوی غلامي انساني کار نه باله خو تور پوستي یې هم پوره انسانان نه بلل نو په دې صورت د "ټول انسانان په مساوي ډول خلق شوي دي" اصل نه تطبیق کېده. دا چې ښځې له دې متن څخه غورځول شوې وې څه د شرم او پېغور خبره نه وه.

نو په امریکا کښې غلامي د تعصب عامل او هم یې نتیجه وه. خو څنګه کېدای شي چې هوښیار خلک په دې قانع کړل شي چې تور پوستي پوره انسانان نه دي. اصلاً موضوع په تور پوستکو باندې مربوطه نه وه او دا خبره هم نه وه چې تور پوستکي لرونکي خلک له یوه پردي او ابتدایي کلچر څخه راوتلي خلک دي. اصلي موضوع د غلامۍ د مؤسسې له ماهیت سره اړه درلوده. په دې معنی چې د غلامانو او بادارانو تر مینځ د تماس په نتیجه کښې سپین پوستو ته تور پوستي خلک نیمګړي انسانان په نظر ورغلل. که دې موضوع ته د الپورټ د نظریې په رنا کې، چې د نابرابرۍ په حالت کښې نژدې تماس تعصبات لاخراب حالت ته رسوي وکتل شي نو د غلام او آغا تر مینځ رابطه له ټولو څخه د بدې نابرابرۍ مظهر دی.

د کاتولیکانو او پروټېستانو تر مینځ شخړې

په امریکا او شمالي آیرلنډ کښې د کاتولیکانو او پروټېستانو تر مینځ شخړې تر څېړنې لاندې موضوع د پاره څه نور مثالونه په لاس راکوي. د ۱۸ پېړۍ په پای کښې یو زیات شمېر کاتولیکانو د امریکې متحدو ایالاتو ته مهاجرت وکړ. دا یو لوی مهاجرت وُ، چې د هغه هېواد په پروټېستانو کښې یې عکس العمل راپیدا کړ. د نورو زیاتو

مهاجرينو په څېر له کاتوليکانو سره پيسې کمې وې،تعليمي سطحه يې هم دومره لوړه نه وه،نو دوی هلته په بې مهارته مزدوريو کښې ځانونه مصروف کړل.

د څو نسلونو د ودې په موده کښې کاتوليکان طبقاتي وېش د ټولنې په تل کښې اچولي وو. د کاتوليکو کورنيو عايدات د پروټېستانو د کورنيو په نسبت ډېر لږ وو، د نابرابرۍ دغه حالت د کاتوليکانو او پروټېستانو تر مينځ ډېر ترخه تعصبات راپيدا کړل. اقتصادي نابرابري ورسره د توپير غوښتنې تمايل، دوه عوامل وو چې کاتوليکان يې له پروټېستانو سره په شخړو او جګړو کښې سره مخامخ کړل.

د کاتوليکانو داسې کوښښونو چې ځانونه له پروټېستانو سره برابر کړي د پروټېستانو د پاره د نابودۍ معنې درلوده. د ۱۹۲۰ د لسيزې په پيل کښې د مهاجرت په باره کښې يو قانون جوړ او هغه په حقيقت کښې په پروټېستانو باندې تحميل شو په دغه قانون کښې د کاتوليکانو په مقابل کښې چې په لږ مزد باندې يې کارونه کول، د پروټېستانو د لوړې بيې اجرتونه خوندي ساتل شوي وو. لکه چې يو ټولنپوه ګريلي (Greely- 1974) ليکلي دي، کله چې له کاتوليکانو سره د پروټېستانو ګټې څه ناڅه برابرې شوې نو تعصبات هم ډېر کم شول تر دې چې په ۱۹۶۰م کال کښې يو کاتولېک د امريکې د متحدو ايالاتو د جمهوررئيس په توګه وټاکل شو.

د امريکې په متحده ايالاتو کښې د کاتوليکو او پروټېستانو د جګړو او شخړو په موده کښې داسې فکر کېده چې کلتوري په تېره مذهبي اختلافاتو دغه شخړې راپيدا کړې دي. اصلي خبره دا ده چې مذهبي اختلافونه د تشخيص هسې برسېرنې کرښې وي چې د شخړو په حل کېدو سره دغه کرښې ډېرې پيکه شوې تر دې چې له نظره ولوېدلې نور يې نشوای کولای چې تضادونه غټ وښيي.

اقتصادي جګړې او تعصبات

يـو ټولنپـوه سـټنلي ليبرسـن (۱۹۸۰) پـه دې بـاره کـښې څېړنـه کـړې ده چې د دريځ جـګړه څنـګه د کلچـر او قـوم پـه نـوم ببلوونکـي کـرښې جوړوي. دی وايي چـې سـيالي کوونکـي ډلـې د دوی تـر مينـځ موجـود اختلافـات پـه نظـر کـښې نيسـي يـوه پـه بلـه ډول ډول نومونـه وړي. مثلاً د شـمالي آيرلنـډ پروټېسـټان ځانونـه "نـارنجي رنـګه" بـولي او د هغـه ځای کاټوليکـان "زرغـون رنـګه" ګڼي البتـه دا هسـې مسـتعار نومونـه دي، که نه نـو د شـمالي ايرلنـډ، پروټېسـټان نـارنجي رنـګه بـنې نـه لـري او نه د کاټوليکانو پوسـتکی زرغـون رنـګ لـري.

روښانه خـبره ده چـې دا مسـتعار نومونـه د نفـرت او تعصـب پـه وجـه اېښودل شـوي دي.

د ليبرسـن لـه نظـره ټول جسـماني اختلافـات کـه هـرډول نومونـه وربـاندې کـښېښودل شـي د جـګړو د اورونـو پـه بلولـو کـښې دوهمـه درجه رول لري ټولـې جـګړې تـر ډېره حـده د اقتصـادي زمينـو تـر لاسـه کولو يـا د موقـف د نيولـو د پـاره شـوې دي. دی وايـي چـې د امريکـې په متحـده ايـالاتو کـښې د سـپين پوسـتو او تـور پوسـتو تـر مينـځ فزيکـي اختلافـات هغـه وخـت د نـژادي تـوپـير بـد حـالت تـه رسـېږي چـې د اقتصـادي رقـابت وېره راپيـدا شـي. د ده لـه نظـره کـه د تـور پوسـتو او سـپين پوسـتو تـر مينـځ اقتصـادي شـخړې او جـګړې د حـل سـمه لاره پيدا کړي بيا به ټول بحرانونه پـه چټکـی سـره لـه مينـځه لاړ شـي.

د قومـي او نـژادي تضـادونو جـړې د اقتصـادي نـابرابريو او جـګړو څخه اوبه چـښي. تـر تسـلط لانـدې قومـي او نـژادي اقليتونـه د کـار پـه ساحو کـښې د مسـلط اکـثريت افـرادو تـه يـو لـړ مشـکلات او د دوی ګټو تـه زيانونـه پـېښوي ځکـه چـې د قومـي او نـژادي اقليتونـو کـارګران پـه ټيـټ مـزد کـار کـوي او چـې دوی د مسـلط ګروپ پـه څېر د لـوړې اُجرې د غوښتنې چـانس نـه لـري.

يـــوې ټولنپوهـــې اډنابوناســـيچ (Edna Bonacich- 1976) د بشـــري قـواوو پـه مـارکيټونو کـنبې د بـازاري شـخړو او قومـي- نـژادي تضـادونو تـر مينـځ اړيکـې پـه تفصيـل ســره شــرح کــړې دي. دې څلــور هغــه فکټورونـه پـېژنـدلي دي چـې تـر لاس لانـدې قومـي او نـژادي ګروپونـه د ټيټې اجرې کــارونو تـه مجبـوروي.

لومـړی دا چـې د دوی د ژوندانـه سـتنډرډ ټيــټ دی، دوی معمــولا له داسې ځايــو څخـه لـېږدېدلي دي چـې هلتـه د ژوندانـه سـطحه لـوړه نه ده. نــو کـه دوی د مسـلطو قومونـو يـا نژادونـو د کـارګرانو پـه مقايسـه په لږ مـزد کارونـه کـوي نـو چنـدان نـه وربـاندې ځورېږي خـو د مسـلطو قومونـو د کـارګرانو پـه سـينو کـنبې اورونـه بلـوي. د مثـال پـه تــوګه د امريکې متحده ايـالاتو تـه د مکسـيکو څخـه پـه غـير قـانوني تـوګه ورغلـو کسـانو د امريکـې د اتبـاعو پـه نسـبت پـه ډېر کـم مـزد کـار کـاوه سـره د دې هـم د مکسـيکو پـه نسـبت پـه امريکـا کـنبې د دوی د لاس ګټه زيـاتـه وه نـو ډېر خوشـحاله وو خـو د امريکـې د اتبـاعو پـه زړونـــو کــنبې يــې کرکـې او پـه دمـاغونو کـنبې يـې وېرې راپيـدا کــړې وې. پــه همــدې ډول د هغـو تـور پوسـتو کليوالـو د ژوندانــه ســطحه اوس نښه شــوې ده چـې د ۱۹۳۰- ۱۹۴۰ پـه لسـيزه کـنبې يـې مهاجرتونـه کـړي وو. دوی بــه تل د کارګرانو د اتحـاديې لـه خـوا د منـل شـوي اجـرت څخـه پـه ټيـټ مـزد کارونـه کـول او دوی بـه د اعتصـابونو مـاتوونکو پـه تـوګه د شـمال پـه کـانونو او کارخـانو کـنبې استخدامېدل لـه همدغـه املـه هـم سـپين پوسـتو کـارګرانو ورتـه پـه بـده سـترګه کتـل. د هغـو جـاپانيـانو او چينيـانـو يـانو حـالت همداسـې وُ چـې د غربـــي ســـواحلو څخــه لــېږدېدلي وو. اوکـي يـان (Okies) پـه قـوم او نـژاد سـپين پوسـتی وو چـې د ۱۹۳۰ پــه لسيزه کنبې د شــمال لويديځ لـه کرونـدو څخـه کاليفورنيـا تـه ولـېږدېدل کله چې دوی په لــږ مـزدٌ کارونـه شـروع کـړل او لـه خپلـو ځانونـو څخـه يـې اعتصـاب مـاتوونکي جـوړ کـړل. بيـا نـو دوی هـم د نـورو قومـــي او

نژادي اقليتونو په څېر د سپين پوستو کارګرانو د سترګو اغزي وګرځېدل.

د بوناسيچ له نظره ناخبري بل عامل دی چې له غريبو هېوادو څخه د لېږدېدلوخلکو د کار مزد راتيټوي، دا ډول خلک په دې هم نه پوهېږي چې دوی د استثمار د ښامار په خوله کښې لويدلی دی پر دې برسېره په ژبه نه پوهېدل، د اجرت د قوانينو څخه ناخبرتيا- د سياسي قدرت نشتوالی يو بل فکتور دی چې قومي او نژادي لږ- کي له لورو اجرتونو څخه محرومـوي.

يهودي لږ کيان د نورو په نسبت زيات مهارتونه لري دوی د ټيټو اجرتونو له مزدوری څخه ژر ځانونه ايستلای شي او ډېر ژر د کارخانو خاوندان ګرځي. د بوناسيچ له نظره، تر لاس لاندې نژادي او قومي ګروپونو اقتصادي محرکات يو بل فکتور دی چې اجرتونه راټيټوي ځينې داسې قومي ګروپونه شته چې د لنډې مودې مزدوری د پاره له خپل هېواد نه د ژر راستنېدو په نيت وځي او هيله لري چې موقتي مزدوران وي. دوی زياتره هغه کسان وي چې د پښتنو خبره "د مزدور په توګه يې ګټي خو د خان په څېر يې خوري". نو دوی په لږو پيسو قانع کېږي ورسره د کار ډېر بد شرايط په ځان مني. پر دې سربېره موقتي کارګران په کار بنديزونو يا اعتصابونو کښې دومره څه نشي ترلاسه کولای څومره چې ګټه د لاسه ورکوي نو دوی ښو او په اصطلاح واره دا رو کارونو ته انتظار نه باسي د بدو شرايطو لرونکو کارونو ته هم غاړه ږدي. د هغو کارګرانو د پاره چې د لنډې مودې هدفونه لري لږ نغد مزد د ډېر خو منتظره اجرت څخه ډېر ګټور دی. زياتره ايټالويان شمالي امريکې ته د لنډې مودې د مسافرانو په توګه ورتلل، دوی غوښتل چې ببرته ايټاليا ته چې د ژوندانه سطحه پکښې ډېره ټيټه وه ستانه شي او د مزدور په چم ګټلې پيسې د خان په توګه مصرف کړي. دې

ډول مزدورانـو پـه هـيڅ ډول اعتصـاب کـښې برخـه نـه اخيســتله ځکـه چې دغه کار د دوی د لنډې مودې لــه هـدف سـره سـمون نـه درلـود.

په همدې ډول لکــه چـې يـو ټولنپـوه ميلـيز (Millis- 1915) پـه خپـل يو راپــور کـښې ليکلـي دي چـې جـاپـاني کـارګرانو پـه کاليفورنيـا کـښې نـور کـارګران لـه هغـه ځای څخـه کـډه پـر شـا کـړل او تبښتـې تـه يــې مجبـور کـړل، ځکـه دوی پـه ډېر لـږ مــزد کــار کــاوه- د کــار ورځنــې ساعتونه يې هــم د نـورو کـارګرانو پـه نسـبت زيـات وو، دوی بـه د ورځې ۱۲- ۱۴ ساعته کار کــاوه. د هفتـې د پـای پـه رخصتيـو کـښې بـه يـې هـم کـار کـاوه. دوی ځکـه داسـې سـخت کارونـه کـول چـې ژر پيســې وګټي او ډېر ژر ببرته خپل هـيواد جـاپـان تـه ستانه شـي. يـو بـل ټولنپـوه بـرګ "Berg- 1966) ليکـي چـې د کليـو افريقـايي کـارګران پـه ډېره ارزانـه بيـه کارونه کــوي. دوی يـوازې د واده کولـو، يـو ټوپـک يـو بايسـکل رانيولـو د پيسو د ګټلو تر وختـه پـورې کـار کـوي.

اصلي موضــوع دا ده هغـه قومـي او نـژادي ګروپونـه چـې پـه ارزانـه بيه کارونه کـوي د نـورو هغـو ګروپونـو ګټې پـه خطـر کـښې اچـوي چـې غـواړي د کـارونو ارزښت او اهميـت زيـات کـړي. د کـار ســاعتونه يــې کـم وي خــو ګټه يـې زياتــه وي. د ګټو دغــه ټکــر يقينــاً چــې ســخت تضادونه او دښمنـي راپيـدا کـوي.

لکـه چـې بوناسـيچ ليکلـي دي، د دې د پـاره چـې د برلاســي ګروپ او تــر لاس لانــدې ګروپ د مزدورانــو تــر مينــځ د دا ډول تعصــب زېږوونکــو ســيالیو مخــه ونيولــه شــي، پــه عمومــي تــوګه دوه ډولــه ســتراتيژۍ پــه کــار اچولــې شــوې دي، چــې يــوه يــې د شــړونتيا (Exlusion) سـتراتيژي ده. د دې سـتراتيژۍ لـه مخـې د تــرلاس لانــدې ګروپونـو د خلکـو د راتـګ مخـه نيولـه کـېږي او يـا هغـوی ببرتـه شــړل کـېږي بلـه يـې د کاسـټ سيسـتم (Caste System) سـتراتيژي ده. ددغــه سيسـتم لـه مخـه تـر لاس لانـدې ګروپ تـه چـې معمـولاً کـم اصلـه بلـل

کـېږي يـوازې د يـو څو محـدودو داســـې کـــارونو ســپارل دي چـــې د ممتاز ګروپ کارګران ورځخــه کرکــه کــوي يــا وربــاندې شــرمېږي.

شـــړونتيا Exclusion:

لکــه چــې د مخــه څرګنــده شــوه د کلتــوري او نــژادي ګروپونــو بــهير د برلاسو يا مسلطو ګروپونـــو لــوړ اجرتونــه پــه خطرکــې اچــوي او محلــي عکــس العملونــه راپيــدا کــوي. يعنــي داســـې يـــوه غوښـتنـــه راولاړوي چــې خارجيــان دې زمــوږ هــېواد تــه نــه راځي لکـــه چـــې دمخــه يـــې يادونــه شــوې ده، د ۱۹ پــېړۍ پــه وروســتيو لســيزو کـــې، امريکـــې تـــه د کاټوليکــانو ډلــه ايــز لــېږد او يــون د امريکــې پــه سياســتونو کــښې ســمتي پاليســيو (Nativistic Policies) تــه لاره پرانســـتله چـــې نـــژادي او قومـــي تعصبــاتو دغــه کــار يــو جــايز عمــل وبالــه. لکــه چــې يــو ټولنپـــوه ګرنـــت (Grant- 1916) ليکلــي دي، شــمالي امريکــا تـــه د ايټالويــانو او ختيـــځې اروپا د اوسېدونکو ټک تــر جــدي بحثونــو لانــدې راغــې او دا خلــک يــې "تيــټ نــژادي کهولونــه" وبلــل او د خــالص او لــوړ نــژاد دپــاره خطرنـــاک وګڼل شـــول.

د لومــړۍ نړيوالــې جګړې نــه وروســته پروټيســټانو پــه شــمالي امريکــا کښې د کـــاټو ليکــانو او آســيايي اوســېدونکو د راتـــګ پــه لار کــښې موانــع زيات کړل، هدف يې دا وُ چـــې د ارازنــه کــار مخــه ونيســي او پــه صنــايعو کښې د دوی ونـــډې زيــان ونــه مومــي. همدارنــګه د امريکــايي کــارګرانو يــوې پــارټۍ آســيايان لــه غربــي ســاحل څخــه وشــړل دهغــه وخـــت يـــو سوسياليســټ کــامرون. ايــچ کينـــګ (Comeron. H. King Jr) پـــه ۱۹۰۸ کــښې وليکــل چــې د کــارګرانو دغــه ګونــد تــر دې شــعار لانــدې چــې "د چــين خلــک دې هــرو مــرو ووځي" لــه کاليفورنيــا څخـــه د آســـيايانو پـــه شړلو لاس پورې کـــړ. لکــه چــې بونــا ســيچ هــم ليکلــي دي چــې دوو زړو کــارګري ګوندونــو د دې د پــاره چــې د کـــارګرانو رايـــې (ووټونـــه) تـــر لاسه کــړي، د آســيايانو د شــړلو د نظريــې ملاتــړ وکــړ. ګويــا دوی د ببړنيــو سياســـي مقصدونـــو د ترلاســـه کولـــو د پـــاره د کـــارګرانو د نړيـــوال

پیوستون شعار شاته واچاوه. لکه چې ټولنپوه ویلیامز (Mc Williams-1945) لیکلي دي په کالیفورنیا کښې د ۱۹۳۰ په لسیزه کې، کارګرانو او بزګرانو ګزمې جوړې کړې وې او په غیرقانوني توګه یې د اوکیانو (Okies) د ورتګ مخه نیوله. په همدې دول سپین پوستو کارګرانو هڅه کوله چې شمال ته د جنوب د کلیوالو تور پوستو مزدورانو د تګ مخه ونیسي.

د کاسټ سیستم- Caste System

له دې املـه چې د ډلـه ایـزې شـړونتیا کـار پـوره ممکـن نـه دی نـو لکـه چـې ټولنپـوه هیچـر (Hecher- 1978) لیکلـي دي، د ځواکمـن ګروپ غړوتـل دا هڅه کړې ده چې د اصـل او کـم اصـل پـه معیـار (!) انسانان سره وویشي او د کاسټ سیستم راپیدا کړي. د دغـه سیستم لـه مخـه پـه اصطـلاح کـم اصلـه لـږ کیـان پـه هغـو ټیټو کـارونو مصـروف او محدود ساتل کـیږي چې نـور وربـاندې شـرمیږي، یـوازې پـه اصطـلاح اصیـل زاده ګان مـهم او ګټور کارونـه کـولای شـي لکـه چـې ټولـو تـه څرګنـده ده، د کاسـټ زوړ سیستم پـه هندوسـتان کـښې پـیدا شـوی وٴ، خـو اوس د کاسـټ سیستم لـږ یـا ډیر عنـاصر پـه هغـو ټولنـو کـښې هـم محسـوس دي چـې لـوړ موقفونـه پکـښې ارزښت لـري. خـو دا موقفونـه څومـره چـې پـه یـو لـږ چانسـونو یـا کامیـابیو ولاړ دي هغومـره اوس پـه اصل او نسب تکیه نـه کـوي.

د کاسټ د اوسني سیستم له مخـه هغـه نـژادي ګروپونـه کـم اصـل یـا کـم ذاتـه خلـک بلـل شـوي دي چـې پـه لـږ اجـرت ډیر کـار کـوي او د کـار پـه سـیالي کـښې د ځواکمـن ګروپ د کـارګرانو ګټو تـه لـوی لـوی زیانونـه رسـوي (تاسـې پوهـیږئ چـې دا یـو علمـي اصـل نـه بلکـه یـو عنـدی نظـر دی). پـه اصطـلاح دغـه کـم اصلـه خلـک د کـارګرانو اتحادیو، ښوونځیو یا نورو داسـې کـارونو تـه نـه پـریښودل کـیدل چـې د دوی موقفونـه پکـښې یـو څه لـوړیدل. مـایکل هیچـتر (۱۹۷۴م) دا ډول پـه محدودیـت کـښې ساتل شـوی ګروپ د کـارګرانو کلتـوري ډویـژن

(Cultral Division of Labor) بللـــی دی. تـــر دغـــه عنـــوان لانـــدې، د يـوې ټولنـې کلتـوري او نـژادي تنـــوع د ټيـټو يـــا د لـــوړې درجـــې د کـارونو لـه نظـره ارزيـابي کېدلـه. يـا پـه بلـه ژبـه د مزدورانـــو کلتـــوري ډويـژن داســې يـو حـالت څرګنـداوه چـې د هغـه لـه مخـه نـــژادي يـــا قومي ګروپونه مشخصو کـــارونو تـه تـړل کـېدل.

د لال اقليتونـــه Middleman minorities

پـه دې موضـوع پوهېدنـه هـم مـهم کـار دی چـــې د مزدورانـــو يـــو کلتـوري ډويـژن پـه حتمـي تـوګه د يـو طبقـاتي نظـام پـه تـل کـښې نـه اچـول کـېږي. بلکـه د ځينـو اقليتونـو لـه مـزدورې طبقـې څخـه د لالان (Middlemen) جـوړېږي او د منځنـی طبقـې پـه لـېول سـاتل کـــېږي. لـــه دوی څخـه د لـوړو او ټيـټو طبقـاتو تـر مينـځ هـــم د رابطـــې او هـــم د حـائل پـه تـوګه کـار اخســـتل کـــېږي. لکـــه چـــې ټولنپوهـــانو بلـــولاک (Blolock- 1967) او بونيـــچ (Bonich- 1973) څرګنـــده کـــړې ده، د منځنی سطحې د دلالانـــو اقليتونـه طبقـاتي جـګړې بـې ســېګه کـوي. د بلـولاک د خولـې خـبره ده: پـه نـارامو حـــالاتو کـــښې ډېر ځلـــه ممتـــاز کسان او د ښکتنـی طبقـې خلـک د منځنـی طبقـې د خلکـو (دلالانـو) پـه ضـد ائتلافونـه جـوړوي او پـه دې ډول دواړه خـــواوې خپلـــې خـــاصې خـاصې عقـدې تشـوي. د مثـال پـه ډول پـه فيـودالي اروپـــا کـــښې ډېرو هېوادونـو يـهوديانو تـه اجـا زه ورکـړه چـې يـوازې پـــه ځينـــو مـــواردو کـښې د منځنـی طبقـې د خلکـو ځينـې کارونـه وکـړي يعنـې ســـوداګري وکـړي، د سـود کـار او بـار وچلـوي او د ټکـس ټولولـو دنـده پـــر غـــاړه واخلـي. خـو ددغـه کـار نتيجـه دا راووتلـه چـې يـهوديان هـم د اشـرافو لـه طبقـې او هـم د بزګرانـو لـه طبقـې سـره پـه جـــګړو بوخـــت شـــول. اشـرافي طبقـې پـه ټکـس ټولوونکـو يـهوديانو اعتراضونـه کـــول چـــې د دوی ګټې يـې زيـانولې دي. سـره د دې هـم دوی ټکـس ټولوونکـــو تـــه د بزګرانو د پـــاربدو تـر وختـه پـورې موقـع ورکړلـه کلـه چـې د يـهوديانو پـه ضـد د بز ګرانـو کينـه وپاربدلـه، بيـا نـو د اشـــرافو طبقـــې او هـــم د بزګرانو طبقې د يهودي ســـودخورو او ســـوداګرو پـه ضـد لاسـونه سـره يـو کـړل تـر دې چـې د يـهوديانو د شـړلو حتـی لـه وژلـو څخـــه يـــې هـــم

مخونه نه اړول. لکه چې بلولاک څرګنده کړې وه د افریقې او جنوب ختیځې اسیا په ټولنو کښې هندي او چینایي اقلیتونو همدغسې د منځنۍ طبقې اقلیتو ته جوړ کړي دي په دې توګه دوی هم له ممتاز ګروپ سره په جګړه کښې د قربانۍ پسونه ګرځېدلي دي.

د نوم ایستلو سیالي *Identifiability*

د نوم ګټلو یا موقف نیولو سیالي هم تل د ترخو شخړو او جګړو بڼه غوره کړې ده. مثلا په لوړو ښوونځیو کښې دا خبره عامه ده چې د شاګردانو تر مینځ د غوره تعلیمي کارنامو، هنري کردارونو او سپورتي لوبو له امله توپیرونه راپیدا کېږي بیا د همدغو توپیرونو په بنسټ ګروپونه جوړېږي او لکه چې یو ټولنپوه کولمن (Coleman 1961) څرګنده کړې ده له دې ډول سیالیو څخه په اصطلاح دهسکو او ټیټو ټولنیزو ګروپونو د افرادو تر مینځ ډېر سخت منفي احساسات راپیدا کېږي دغه حالت په هغو ګروپونو کښې راپیدا کېږي چې ګټې مټ له یوه نژاد یا قوم سره تعلق ولري. مثلا د کانادا په کیوبیک کښې د کاټولیکانو په لوړو ښوونځیو کښې ولیدل شول چې د اوړي په کمپ کښې د کوچنیو شاګردانو تر مینځ ډېر ژر ترخه روابط راپیدا شول. کله چې شخړې په نوي نسل اغېزه ولري او کله چې هغه په یو شان ټولنیزو ګروپونو کښې راپیدا کېږي ډېرې دردناکې او ترخې وي. د مثال په توګه کله چې څوک د اعتصاب ماتوونکو مزدورانو یا په لږ اجرت د قانعو مزدورانو په وجه خپل کارونه د لاسه ورکوي له دې څخه ډېرې سختې کرکې راپېدا کېږي چې ددې ډول سیالیو جګړې د یو کلتور یا یو نژاد لرونکو خلکو تر مینځ وي نو د ټولنیزو ګروپونو قهر او غصه د افرادو تر مینځ د قهر او غصې په ډول سخت تمرکز پیدا کوي.

په افغانانو کښې "تربګينې" يا "اودرزاده ګي" د متمرکزو کينو او تعصبونو يوه بڼه ده چې تل يې دردناکې نتيجې ورکړې دي. لکه چې وليدل شول د جهاد په وختونو کښې خلکو وسلو ته توجه لرله لاسونو ته يې توجه نه لرله. ډېرو خلکو له دې امله هم وسله تر لاسه کوله چې د خپل تربور په مقابل کښې د قدرت موازنه وساتي.

کله چې د مخالفينو يا دښمنانو دواړه خواوې له يو نژاد يا يو کلتور سره تعلق ولري بيا دوی يو په بل ناشولته نومونه ږدي، يا يې غرونو کليو او دروته منسوبوي لکه "غرني" يا "صحرايي". په شمالي امريکا کښې يو قوم ځکه "اوکيان" بلل کېدل چې دوی د اوکلهما (Oklahoma) ځخه وتلي خلک وو. له اوکيانو سره تعصب له نژادي او قومي اقليتونو سره د تعصب څخه جلا ؤ اوکيان په خپله سپين پوستي انګلوساکسون نژاده پروټستان وو. دوی خپله د نسب شجره له هغو انګرېزانو سره نښلوله چې د امريکې قارې ته په کډه راغلي وو او په دې قاره کښې يې خپلې مستعمرې جوړې کړې وې. دې خلکو ته د رنګ، نژاد او کلتور په لحاظ بله خبره نه جوړېده نو په دوی يې د "چټل"، "خيرن" يا جاهلانو نومونه کښېښودل او داسې موجودات يې وبلل چې د سويانو په څېر زېږېږي او همداسې زېږول شوي. په اوکيانو چې دا ډول نومونه اېښودل کېدل او نورې خبرې يې ورباندې تپلې پرته له دې، چې دوی د ټيټې بيې په مزدورۍ کارونه کول بله ګناه يې نه درلوده.

نن اوکيان د کاليفورنيا د ايالت د مستو حاصل ورکوونکو کروندو مالکان دي اوس دوی ته هېڅوک نه وايي چې تاسې هغه اوکيان ياست چې په ۱۹۳۰ م کال کښې کاليفورنيا ته په کډه راغلي ياست. دا خلک کله کله په خپله هم ځانونه اوکيان بولي، دا هغه وخت وي چې دوی په خپلو کاميابيو باندې د ويار خبرې کوي.

کـه سـيالی، تربګينـی او جـګړې د تعصـب اور تـه لمـن وهـــي نـــو د برابری حـالت پـر دغـه اور سـړې اوبـه اچـوي يعنـی کـه مسـاوات تـامين شوی وي بيا نو د کينـــو او جـګړو خـبره لـه مينـځه ځي.

دېرې بوګنوونکې مخامخ کېدنې

جاپانيان چـې د لومـړي ځل د پـاره امريکـا تـه ورغلـل نـو امريکايـانو ورته د "ژېړ خطر" په ســترګه وکتـل، دوی يـې "پيـت پـوزي" وبلـل او نـور عجيـب او غريـب نومونـه يـې هـم ورباندې کـــښښودل، خـــو خـــدای جـاپانيـانو تـه هـم سـترګې او خولـې ورکـړې وې نـو دوی هـــم چـــې د امريکايـانو اوږدو مخونـو تـه وکتـل نـو د امريکـايي ټولنپوهـانو پـه قـــول، دوی يـې سـپي مخـي (Dogface) وبلـل.

جـاپانيـان چـې کلـه امريکـې تـه ورســېدل دوی بـــزګران وو لـــږ څه سـواد يـې درلـود خـو تعليمـات يـې نيمـګړي پـاتې وو. د څو لسـيزو پـــه مـوده کـښې دوی د سـختو تعصبـــاتو او تـــوپـــيرونو هـــدف ګرځېدلي وو. خو دوی د نورو هغـــو کـډوالو پـه نسـبت چـې لـه اروپـا څخـه امريکـا تـه تللي وو نښې کاميابی ترلاسه کـــړې چـې دغـه موضـوع مـوږ تـه پـه خاصـه تـوګه پـه زړه پـورې ده، جـاپانيـان يـوازې شـمالي امريکـا تـه نـه بلکـــه کانادا تـه هـم ورغلـي وو. پـه دې دوو ټولنـو کـښې د دوی د جـذب کېدو جريانونه يو له بل څخـه يـو څه تـوپـير لـري. نـو لومـړی بـه د هغـو جاپانيانو حال بيان کـړو چـې شـمالي امريکـې تـه يـې کـډه کـړې وه بيـا به کانادا ته د تللیو مهاجرينو پـــه حـال ځانونـه خـبر کـړو.

پـه ۱۹۰۷ کـال کـښې دېرش زره جـــاپـــاني کـډوال د امريکـــې پـــه هـاوايي او کاليفورنيـا کـښې ميشـته شـول. پـه کاليفورنيـــا کـــښې داســـې قـانون پـاس شـو چـې جـاپانيـانو تـه يـې د مځکـو اخســـتلو اجـــازه نـــه ورکولـه. دوی د يـو څه مـودې د پـاره د ســـپين پوســـتو امريکايـــانو پـــه

نومونـو مځکـې اخسـتلې خـو بيـا داسـې وختونـه راغلـل چـې دوی پـــه امریکـا کـــښې د خپلـــو زېږېدل شـــومانو پـــه نومونـــو مځکـــې واخیستلې. په ۱۹۲۰م کـال کـښې دغـه موضـوع چـې هلتـه خارجیـانو تـه د تـابعیت حـق ورکـړل شـي او کـه نـه؟، عـامو رایـو تـه واچولـه شـــوه د رایو په نتیجـه کـښې آسـیایي خلـک د تـابعیت او مځکـو اخسـتلو لـه حـق څخه محـروم وګرځول شـول. پـه ۱۹۲۴ کـال کـښې د فیډرال یـو قـانون امریکې ته د جـاپانیـانو او نـورو آسـیایي خلکـو مـهاجرت منـع کـړ. دا یـو داسې کار وُ چې په جـاپـان کـښې یـې د امریکایـانو پـه ضـد کرکـه زیاتـه کړه چې همدغې کرکـې هـم د دوهمـې نړۍ والـې جـګړې اورتـه لمـن ووهله. دغه قـــانون امریکـې تـه د جـاپانیـانو ورتـګ پـه ټپـه ودراوه. دغـه کار که له یوې خوا د امریکایانو تشویش کم کـړ نـو لـه بلـې خـوا یـې پـه امریکا کښې د پـاتې شـویو جـاپانیـانو د یـون او حرکـت لـه مخـې ځینـې خندونه لـرې کـړل ځکـه چـې دوی د امریکایـانو لـه فـوري توجـه څخـه ولـوېدل نـو د کـــار او فعـــالیت مـــتې یـــې آزادې شـــوې او د ګړنـــدې پرمختګ زمینې ورتـــه زیـاتې شـوې.

کـه څه هـم د دوی د لومـړي مـهاجر نسـل کاروبـار کرنـــه وه خـــو د دوی اقتصـادي پرمختګ یـوازې پـه کرنـــه او کرونـــدو کـــښې محـــدود پـاتې نـه شـو. د جـاپانیـانو د بـاغداری محصولاتـو د پـاره لویـه غوښتنـــه (تقاضـا) موجـوده وه. د کـار سـامان یـې هـم سـاده وُ، چـې ډېرې پیســـې وربـاندې نـه لګېدلـې. دوی پـه خپلـه د خپلـو ځانـو د پـاره کارونـه پیـدا کول یا دا چـې ځانونـه یـې پـه خپلـه پـه خپـل کـار کـښې اسـتخدامول. یو ټولنـیز څېړونکـي (کیټانـو ۱۹۲۹) لیکلـي دي چـې جـاپانیـانو پـه ۱۹۲۸ کـال کـښې پـه خپلـه د خپلـو ځانونـو اســتخدامولو (Sef- employment) یـو زر او درې سـوه کاروبـاري کـوچنـی پـروژې درلـودې چـې زیـاتره د بـاغداری پـه سـاحه کـښې وې، همدارنـــګه دوی پـــه ښارونـــو کـــښې د خپلـو سـبو، ترکـاریو او مـیوو خرڅولـو د پـاره خپـل خپـل بازارونـه جـوړ کړي وو لکـه چـې یـو بـل څېړونکـي (لایـټ ۱۹۷۲) لیکلـي دي پـه ۱۹۲۹

کال کښې جاپانیانو یوازې په لاس انجلس کښې (۷۰۰) مارکیټونه جوړ کړي وو. په ۱۹۴۰ کال کښې د جاپانیانو اکثریت د کرنې په چارو بوخت وُ لکه چې کیټانو په (۱۹۶۹)، پیټرسن (۱۹۷۱) او سویل (۱۹۸۱) دریو اړو لیکلي دي په کالیفورنیا کښې د کرنې د محصولاتو او تجارتي ورکړو راکړو درېیمه برخه د جاپاني امریکایانو په لاس کښې وه او لکه چې لایټ (۱۹۷۲) لیکي د جاپاني امریکایانو لومړنۍ نسل په کروندو سربېره نور کوچنۍ تشبثات هم پیل کړل، د پور (قرضې) انجمنونه یې جوړ کړل او د ځمکو او جایدادونو په رانیولو یې لاسونه پورې کړل.

په ۱۹۴۰ کال کښې محلي جاپاني امریکایان (په امریکا کښې زېږېدلي جاپانیان) په لوړو زده کړو کښې د ځایي سپین پوستو امریکایانو څخه ډېر مخکې شول. د امریکایي جاپانیانو اوسط د عالي تعلیماتو خاوندان شول. په داسې حال کښې چې د سپین پوستو امریکایانو اوسط یوازې تر اتمې درجې (بنایي اتم ټولګي) پورې ورسېد. د لوړو تعلیماتو دغه تناسب امریکایي جاپانیانو ته د زیاتو حرفوي مصروفیتونو زمینې په لاس ورکولې، د سیالۍ په ډګر کښې د جاپانیانو دغه پرمختګ د سپین پوستو تعصبات راپارول. د ۱۹۴۱ کال د دسمبر د اوومې نېټې جنګ هر څه بدل کړل. جاپاني الوتکو په دغه ورځ باندې د امریکا په بندري اډه د مرغلرو په بندر (Pearls horbor) یرغل وکړ ورسره یې د جنوب شرقي آسیا په ځینو برخو او د الکاهل سمندر په ځینو ټاپوګانو حملې وکړې. دغو پېښو په امریکا کښې عام احساسات راوپارول ډېرو امریکایانو هغه وخت د خپل جمهور رئیس فرانکلین ډي روز ویلټ دا خبره چې ویل یې "د دسمبر ۷ یوه توره ورځ ده" ټینګه په غوږ کښې نیولې وه. تر دې وروسته د امریکایي جاپانیانو په نسبت احساسات بدل شول له زیاترو امریکایي مشرانو سره داسې نظریه پیدا شوه چې دا خلک د جاپان سره وفاداري لري یا دوی جاپاني جاسوسان دي، دې پېښو په

امریکا کښې د جاپاني اصله امریکایانو په ضد کرکه او تعصبات لا زیات کړل چې په نتیجه کښې ۱۵۰۰ داسې جاپانیان چې په بنکاره یې د جاپان ملاتړ کاوه د امنیتي ملاحظو له مخه ونیول شول. له دې پېښو څخه د راپاریدلیو تعصباتو په وجه (۱۰۰۰۰) جاپاني اصله امریکایان سړي، ښځې او ماشومان چې په جنوبي سواحلو کښې یې ژوند کاوه راټول کړل شول او د بندیانو په توګه په کمپونو کښې واچول شول. چې سیاستمدارانو او سیاسي لیکوالو دغه کار ته لاسونه وپرکول او د خوشحالۍ چک چکې یې ورته وکړې. داسې معلومېده چې ټول خلک د جنرال جې، ایل ډي ویټ له دې نظریې سره توافق لري چې "جاپ، جاپ دی فرق نه کوي چې هغه متمدن شوی دی او که نه دی". د "جاپ" کلمه د جاپاني کلمې لنډیز دی. د دې خبرې مطلب دا دی چې یو جاپانی که هغه متمدن وي او که نه وي بیا هم یو جاپانی دی.

د دې نظریې څخه راپیدا شوي ژوند تعصب د هغو زرګونو جاپاني امریکایي عسکرو صفوفو ته لاره پیدا کړه چې د دوهمې لویې جګړې په جریان کښې په اروپا کښې جنګېدل، په دې عسکرو کښې افسانوي مبارز ۴۴ کنډک هم شامل و چې قهرمانیو یې د امریکې پوځ نه ځلولی و. په دې ډول په پوځ کښې هم جاپانیانو ته په مشکوک نظر کتل کېدل.

په کمپونو کښې د جاپاني امریکایانو اجباري منزوي ژوند دوی ته زیات اقتصادي زیانونه واړول. د دوی په زرګونوکروندې او کوچني تشبثات د تل د پاره له مینځه لاړل. ځینې یې په ډېره ټیټه بیه خرڅ شول. او خلک یې مجبور شول چې کمپونو ته واستول شي. داوخت تعصبات خپلې ډېرې لوړې سطحې ته جګ شول. د مرغلرو د بندر د پېښې نه یو کال وروسته د سپین پوستو امریکایانو اکثریت پریکړه وکړه چې دوی به هېڅکله بیا جاپانیان استخدام نکړي او نه به د دوی له دکانونو څخه سودا اخلي. د جګړې په

پای کې، جاپانیانو خپلې هڅې پیل کړې، دوی کوښښ کاوه چې په امریکا کښې یو ځل بیا خپل د لاسه ورکړل شوی مقام ترلاسه کړي. یو زیات شمېر یې بیا باغواني خوښه کړه خو اوس په دغه کار کښې د دوی سره هغو لوړو تحصیلاتو ډېره ښه مرسته وکړه چې د جګړې نه مخکې یې ترلاسه کړي وو همدغه طاقت له جګړې څخه وروسته د دوی خراب شوی اقتصاد پرمخ روان کړ. هغه وخت تعلیمیافته کارکوونکو ته غوښتنه زیاته وه یا د اقتصاد د پوهنې په ژبه "تقاضا ورته شدیده وه" امریکایي جاپانیانو د نورو نژادي او قومي ګروپونو په نسبت د کالجونو زیات بري لیکونه درلودل. یو څېړونکي (سوویل ۱۹۸۱) لیکلي دي چې آسیایي امریکایانو په ۱۹۸۰ کال کښې د نورو نژادي او قومي ګروپونو په نسبت د انجنیرۍ او نورو مسلکونو زیات بري لیکونه درلودل. د (پترسن ۱۹۷۱) د څېړنې له مخې جاپاني امریکایانو ۱۷ کاله وروسته له هغه چې دوی بېرته له کمپونو څخه راووتل، د خپل اقتصاد سطحه له سپین پوستو امریکایانو سره برابره کړه او بیا وروسته د جاپاني امریکایانو د ګټو وټو اوسط د سپین پوستو امریکایانو تر اوسط لوړ شو. له کمپونو څخه د راوتلو په وخت کښې د دوی اقتصاد ډېر ویجاړ وُ خو دوی ډېر ژر خپلې ټولې وروسته پاتې کېدنې له مینځه یوړلې. ددې پرمختګ علت په لویدیځ ساحل کښې د امریکایي جاپانیانو تمرکز وُ، په دغه ځای کښې د کار اجرتونه لوړ وو نو ځکه د دوی عایدات زیات شول. کله چې جاپاني امریکایانو په خپل همت اقتصادي نابرابري له مینځه یووړه نو ورسره له دوی سره د نورو امریکایانو په روشونو کښې هم ګړندی بدلون راغی دا بدلونونه په ډېرو ساحو کښې لیدل کېدل چې یوه ساحه یې ازدواجي زمینه وه. په لومړیو مرحلو کښې له نورو امریکایانو سره د جاپاني امریکایانو د ودونو لړۍ غړنده روانه وه. د ۱۹۲۰ په لسیزه کښې یوازې په سلو کښې دوه دا ډول ودونه کېدل خو لکه چې دوه څېړونکي لیوایې او موټېرو

(۱۹۷۳م) لیکـي د ۱۹۵۰ پـه لسـیزه کـښې دا ډول ودونـه پـه سـلو کـښې شـلو تـه ورسـېدل او اوس لکـه چـې یـو څېړونکـی (هـیر ۱۹۸۰) لیکـي د دغـو ودونـو فیصـدي (۵۰٪) تـه رسـېدلې ده. د دوو یـوه لـه بلـې څخـه د لـیرو پرتـو قـارو د مختلفـو نـژادي او قومـي ګروپونـو ترمینـځ د ودونـو دا اندازه په ډراماټیکـه تـوګه ښیـي چـې د نـژادي او قومـي ګروپونـو تـر مینځ په روشونو کـښې څومـره تغیـیر راغلـی دی.

ژېړ خطر په کانادا کښې

په کانادا کـښې هـم د جـاپانیـانو شـمېر کـم وُ د ۱۹۰۱ کـال شـمېر نـه د دوی شـمېر د شـلو زرو پـه شـاوخوا کـښې ښیـي. دوی پـه برتـانوي کلومبیـا کـښې اوسـېدل. پـه کانـادا کـښې دغـه وړوکـي شـمېر پـه خلکـو کـښې د "ژېړ خطـر" پـه نـوم وېره پیـدا کـړې وه. پـه ۱۸۹۵ م کـښې جـاپانیـانو تـه د رایـې ورکولـو یـا ووټ اسـتعمالولو حـق نـه وُ ورکـړل شوی. همدارنـګه دوی د یـو قـانون لـه مخـه د مسـلکي کـارونو د ملکـي خدمـاتو پـه سـاحه کـښې د کـار کولـو څخـه محـروم شـوي وو. پـه ۱۹۰۷ کـال کـښې هغـه وخـت یـو بحـران راپیـدا شـو چـې سـپین پوسـتو پـه وانکـوور (Vancouver) کـښې د جـاپانیـانو پـه سـیمه هجـوم وروړ. د دوی قصـد دا وُ چـې د همـدوی پـه اصطـلاح دغـه "کـافر یـا مشـرک شرقیان" له خپـل ملـک څخـه ورک کـړي.

د دې د پاره چې پـه کانـادا کـښې د جـاپانیـانو شـمېر محـدود سـاتل شوی وي د کانادا او جـاپـان د حکومتونـو تـر مینـځ یـو تـړون لاس لیـک شـو، د دغـه تـړون لـه مخـې پـه یـو کـال کـښې یـوازې (۴۰۰) جـاپانیـانو اجازه لرله چې کانادا تـه هجـرت وکـړي خـو پـه ۱۹۲۸ کـال کـښې د یـو بل تړون له مخې دغه وندې پـه یـو کـال کـښې (۱۵۰) تنـو تـه راتیـته کړلـه شـوه. د کانـادا زیـاتره جـاپانیـان هـم د امریکـې د جـاپانیـانو پـه څېر د

کراوکیلې په چارو بوخت شوي وو. یو شمېر ټور یې د کبانو نیولو په چارو مصروف او کوچنۍ کوچنۍ کلۍ یې جوړ کړي وو. د ۱۹۲۰ په لسیزو کښې حکومت په سختۍ سره د جاپانیانو شمېر محدود ساتلی وُ او محدودو جاپانیانو ته یې د کبانو نیولو اجازه لیک ورکړی وُ. خو دې ډول محدودیتونو د جاپانیانو په همت باندې بندیز نشوای لګولی. تر دې چې کاناډایي جاپانیانو د امریکې د متحدو ایالاتو ښوونځیو ته لاړې وایستلې لکه چې یو څېړونکي (یوجمو تو ۱۹۷٦) لیکلي دي: د ۱۹۳۰ په لسیزو کښې په کاناډا کښې د زېږېدلو جاپانیانو اوسط د نورو کاناډایي نژادي ګروپونو په نسبت په زیات شمېر کښې ښوونځیو ته تللي دي. کله چې د جاپان حکومت د مرغلرو د بندر (Parl Harbor) په بندري اډه باندې بمونه واچول، په کاناډا کښې په اوسېدونکو جاپانیانو باندې هم بده ورځ راوسته شوه. کاناډایي واکمنو وغوښتل چې کډې یې په سر وربار کړي او ۱٦۰ کیلومټره لیرې ساحې ته یې وشړي او هلته یې د حیواناتو په پندغالو کښې پنډ کړي. بیا یې داسې بارکونو ته چې په لږ باد به هم ړچېدل، واستول.

د امریکې په متحدو ایالاتو کښې جاپانیانو ته له دې املاه تاوانونه واوښتل چې د دوی ملکیتونه په ډېره ارزانه بیه وپلورل شول خو په کاناډا کښې د دوی املاک لکه مځکې، د کاروبار دکانونه او د کبانو نیولو بېړۍ او نور سامانونه ټول ضبط او مصادره کړل شول. د جګړې د پای ته رسېدو وروسته د کاناډا حکومت غوښتل چې د جاپانیانو نیمایي برخه وشړي خو د خلکو عام پروټیست د حکومت د دغه اقدام مخه ونیوله بالاخره په ۱۹۴۹ کال کښې جاپانیانو ته د رایې ورکولو (ووټ استعمالولو) حق ورکړل شو.

تر دې وروسته لکه چې (یوجي موتو ۱۹۷٦) لیکلي دي د کاناډا جاپانیانو په تېرو دېرشو کلونو کښې په اجتماعي او اقتصادي ساحو کښې ګرندي پرمختګونه وکړل. دوی له تعلیمي امکاناتو په ګټه

اخیستلو سره خپل ځوانان پوهنتون، تخنیکي، مالي او اداري پوهنځیو یا لوړو مسلکي ښوونځیو ته واستول. په نتیجه کښې جاپانیان د تخنیک او منجمنټ په چارو کښې ډېر بلد شول. نن د جاپاني کاناډایانو د عایداتو اوسط د هغه ځای د زیاتره سپین پوستو قومونو د عایداتو د اوسط څخه لوړ دی. ورسره له دوی سره د نورو کاناډایانو په سلوک کښې هم ګرندی بدلون راغلی دی. دا هماغسې بدلون دی چې د امریکې په متحدو ایالاتو کښې د جاپانیانو په نسبت د خلکو په روش کښې راغلی دی او لکه چې دوو تنو څېړونکو (اداچي ۱۹۷۸) او (سوناهر ۱۹۸۱) لیکلي دي په کاناډا کښې هم د کاناډایانو او جاپانیانو تر مینځ د ودونو اندازه (۵۰٪) ته رسېدلی ده.

سره د دې چې په امریکا او کاناډا کښې د نژاد او کلچر په اساس سخت تعصبات موجود وو او سره د دې چې له جاپان سره جګړې وحشیانه هیجانات وپارول کله چې په دواړو هېوادونو کښې جاپانیانو د دغو هېوادو له نورو اوسېدونکو سره په اجتماعي او اقتصادي ساحو کښې مساوي حیثیت ترلاسه کړ نو دا ټول تعصبات په پسرلي کښې د ژمي دواورو په څېر اوبه او محوه شول.

د قومي او نژادي اقلیتونو د پرمختګ مهم عوامل

د امریکې د تاریخ له مخه زیاتره نژادي او قومي اقلیتونه د طبقاتي نظام په قاعده کښې موقعیت لري تقریبا بې له استثنا، هر نژادي یا قومي اقلیت ښکته طبقې ته اچول شوی دی. تر یوه وخته پورې خو عامه نظریه دا وه چې دا ګروپونه ښه راتلونکې نه لري او دوی به د تل د پاره په ښکته طبقه کښې پاتې شي، د مثال په توګه د امریکې د انقلاب په موده کښې بنجامین فرانکلین داسې ولیکل:

"هغه جرمنيان به چې په وروستيو وختونو کښې په پنسلوانيا کښې مېشته شوي دي هېڅکله به په امريکايي ټولنه کښې سم رانشي او نه به دوی له دې ټولنې سره مرسته او همکاري وکړي." خو داسې وختونه راغلل چې دا پېش ګويي يې غلطه ثابته کړه. لکه چې يو څېړونکي (ګريلي ۱۹۷۴) ليکلي دي: هغو بوستونيانو چې خپل ځانونه يې ډېر ښه او وړ خلک ګڼل آيرلنډيان به يې نشه يان، ټنبل او خرافاتي خلک بلل او تل به يې دا خبره کوله چې له دې خلکو څخه به څه شی جوړ نشي خو نن د امريکې په متحدو ايالاتو کښې د انګليسي نسبه پروټسټانو څخه د دوی د لاس ګټې يو څه لوړې دي.

څلورو تنو ټولنپوهانو (ويرت ۱۹۲۵)، (ګلزر اوسويني هان ۱۹۷۰) او (سوويل ۱۹۸۱) هغه دری اساسي عوامل چې د ټولنيزو ګروپونو د پرمختګ او لوړتيا له ميکانيزم سره مرسته کولای شي، په ګوته کړي دي چې هغه (۱)جغرافيايي تمرکز (۲) د خپل مينځي اقتصاد وده او حرفوي تخصص (۳)د منځنۍ طبقې وده دي.

جغرافيايي تمرکز

قومي، نژادي او مذهبي اقليتونه د توپير په سبب مجبورېږي چې له مسلطو ګروپونو څخه ځانونه ګوښه کړي او په ځانګړو ځايو کښې هستوګنه ولري. بله خبره دا ده چې دا ډول لږکيان د اړتيا او علاقې له مخې هم غواړي چې يو پربل تکيه شي او د مسلطو ګروپونو په مقابل کښې يولاس شي او خپل مهم خصوصيات لکه مذهب او عنعنات وساتلی شي.

جغرافيايي تمرکز يو قومي يا نژادي ګروپ په انزوا کښې ساتي او د ګروپونو تر مينځ د ښه ګډ ژوند کولو زمينې له مينځه وړي سره د دې هم د الپورټ د تيوري له مخې تر تسلط لاندې امريکايي ګروپونو د لومړيو وختو تجربو وښودله چې په يوه سيمه کښې د يو

نژادي ګروپ تمرکز دومره کولای شي چې د نورو ګروپونو سره د تماس د منفي نتیجو اندازه راټیټه کړي. جغرافیایي انزوا یا تمرکز څه نورې ګټې هم لري. که یو ګروپ په یو ځای یا څو مشخصو ځایونوکې راغونډ شوی وي نو د دغه ګروپ اقتصادي او سیاسي قدرت لوړیږي. دلته راځئ آیرلنډیان په نظر کښې ونیسو دوی د امریکې په متحدو ایالاتو کښې (۸%) دي. که دوی امریکې ته د کډې کولو نه وروسته په یو ځای نه وای راغونډ شوي او د امریکې په هره خوا کښې خواره شوي وای نو د دوی نفوس به (۸%) وای خو د پاملرنې وړ یو شمېر به نه وای ګرځېدلی. آیرلنډیانو له هوښیاری او اتفاق څخه کار واخیست په څو لویو ښارو کښې په ځانګړو ځایونو کښې راغونډ شول او خاص ګروپونه یې جوړ کړل په دې توګه دوی په مربوطو ښاري حوزو کښې د اکثریت او په لویو ښارو کښې د پاملرنې وړ اقلیت په توګه وپېژندل شول. د دغه اتفاق او یووالي په برکت دوی خپلې یو لړ ګټې وساتلای شوی. تر دې چې دوی ژر د څو ښارونو واکمني هم ترلاسه کړه.

جاپانیانو او چینایانو هم، چې په لویدیځه غاړه کښې اوسېدل، همداسې وکړل. جاپانیان په امریکا کښې (۰,۴%) وو خو دوی د اتفاق او یووالي په برکت وکولای شول چې له ۱۹۷۶ څخه تر ۱۹۸۰م کال پورې د امریکې مشرانو جرګې ته درې سناټوران واستوي.

یهودیانو هم د امریکې په متحده ایالاتو او هم په کانادا کښې د خپل شمېر په تناسب څو ځله زیات سیاسي موثریت تر لاسه کړی دی دا ځکه چې دوی په دې دواړو هېوادو کښې په خپلو خپلو مربوطو سیمو کښې سره یو موټی اوسېدلي دي.

په یوه سیمه کښې د یوه موټي په توګه د اوسېدلو بې ساري نمونه په فرانسوي کانادا کښې محسوسه شوه، په کانادا کښې فرانسویانو یوه حقیقي ټولنه جوړه کړې ده. جغرافیایي تمرکز

فرانسوي ژبو کاناډايانو ته دا ځواک بخښلی دی چې خپل کلچر ورسره خپل سياسي قدرت ټينګ وساتي دا جغرافيايي تمرکز د کيوبک په بڼه وجود لري.

د خپل مينځي اقتصاد وده

جغرافيايي تمرکز يو ګروپ ته د دې وړتيا هم بخښي چې خپلو اقتصادي منابعو او موسساتو ته وده ورکړي او له همدې لارې د خپل اجتماعي ګروپ د پرمختګ مالي امکانات زيات کړي. زياتره تر تأثير لاندې ګروپونو د خپلو زراعتي کارونو او نورو تشبثاتو د پاره پانګه يا پولي اعتبار نه درلود. نويوراغلو کډوالو خپلې وړې وړې نغدي شته منې سره شريکې کړې او د دوکانونو او کوچنيو کوچنيو اقتصادي تشبثاتو د پاره يې ورځخه پانګې جوړې کړې. دې کډوالو ګروپونو په خپلو ټولنو کښې دننه داسې يو اقتصادي سيستم جوړ کړ چې په هغه کښې پلورونکي او پيرودونکي په خپله همدوی وو.، په دې توګه دوی د خپلو ټولنو د پاره يو ډول اقتصادي خپلواکي برابره کړه. دا ډول خپلواکي د جغرافيايي تمرکز په برکت مينځ ته راځي په دې سيستم کښې هم هوساينه شته او هم ګټه، هوساينه يې دا ده چې يو ځوک په سودا پسې لېرو ځايونو ته نه ځي او په بازارونو کښې ډېر ځان نه ستړی کوي ګټه يې دا ده چې پيسې د نورو خلکو په جيبونو کښې نه لوبړي او د ګروپ ګټه نه پردی کېږي.

د نورو تر تأثير لاندې ګروپونه چې د پرمختګ په لاره کښې له کومې مرحلې څخه تېر شول هغه په خپله د خپلو مالي موسساتو تأسيسول وو مثلاً جاپانيانو کوچني کوچني پولي صندوقونه جوړ کړل چې همدغو صندقونو ترقي وکړه او بانکونه ورځخه جوړ شول. د سان فرانسسکو خلکو او آيرلنډيانو هم کوچني کوچني بانکونه

جوړ کړل چې بیا په سترو سترو بانکونو بدل شول د امریکې د یو جمهور رئیس جان ایف کینډي پلار جوزف کینډي هم داسې یو کوچنی بانک جوړ کړی وُ چې ډېر نه وچلېده بیا لوی بانک ورځخه جوړ شو او له دغه آیرلینډي څخه یې د پیسو امپراتور جوړ کړ.

کډوالو لږ کیو غونښتل چې خپل ځینې مهارتونه خپلو خپلوانو او قومي عزیزانو ته هم ورزده کړي. مثلاً آیرلنډیانو په نیارونو کښې د امنیت راوستلو په کار کښې نښه مهارت درلود دا مهارت به یې خپلو عزیزانو ته هم ورښوده. په ۱۹۵۰ کښې د امریکې په متحده ایالاتو کښې ددغه قوم د پولیسو شمېر تر نورو سپین پوستو امریکایانو څخه درې چنده لوړ وُ. د سرجوړولو (سلماني) په چارو کښې د ایټالویانو شمېر د نورو سلمانیانو څخه اته چنده زیات وُ، د نجارۍ په چارو کښې د سویډنیانو شمېر د نورو په نسبت څلور چنده زیات و، دربستورانټونو په کاروبار کښې د یونانیانو شمېر د نورو په نسبت ۲۹ ځله زیات وُ، د خیاطۍ په کارونو کښې د یهودیانو شمېر د نورو په نسبت ۱۷ چنده زیات وُ. تقریباً ټول الماس تورړونکي یهودیان وو.

په پرمختیا کښې د منځنۍ طبقې رول

تر تسلط لاندې ټولنیز ګروپونه له هرڅه نه زیات نښو مشرانو، لارښوونکو او د مهارت خاوندانو ته ضرورت لري. د کډوالو په جمله کښې یهودیانو، ورپسې کیوبایانو د نورو په نسبت نښه اقتصادي پرمختګونه وکړل، ځکه چې دوی د ټولنې جوړولو مهارت درلود، دې دواړو ګروپونو د تعلیم خوا ته ډېره توجه درلوده دوی خپل زامن په داسې نښوونځیو کښې روزل چې اجتماعي او اقتصادي پرمختیا ته یې نښه لارښوونه کولای شوای. همدا سبب دی چې

يهوديان په شمالي امريکا کښې د ټولو نورو خلکو په نسبت په تعليمي ساحو کښې ډېر په مخکې لاړل او لکه چې (ګريلي ۱۹۷۴) او (هيټن ۱۹۸۴) ليکلي دي د دوی د کورنيو د عايداتو اوسط هم له نورو نژادي، قومي او مذهبي ګروپونو څخه لوړ وٗ.

تر کله چې د يو نژادي او قومي ګروپ منځنی طبقې پرمختګ نه وي کړی، نو د هغه ګروپ پرمختيايي حرکت غړندوي. د يهوديانو په نسبت د ايټالويانو ترقي له همدغه املـه غړنده وه.

د تورپوستو ژوند يا د پرابلمونو عصاره

که څه هم تورپوستي هغه کډوال نه دي چې په وروستيو وختو کښې امريکې ته تللي وي. دوی د نورو نژادي او قومي ګروپونو د کډوالو په نسبت زياته موده په امريکا کښې ژوند کړی دی. سره د دې هم د دوی د ودې او پرمختګ او له نورو سره د ځان برابرولو په لار کښې خاص بنديزونه او خنډونه موجود وو.

ترننه هم په امريکا کښې د تورپوستو نيمايي برخه د دغه هېواد په جنوب کښې استوګنه لري د ۱۹۴۰ تر لسيزې پورې د تورپوستو يو لوی اکثريت په جنوب کښې اوسېده او کليوالي ژوند يې درلود. دوهمې لويې جګړې د تورپوستو يوه لويه څپه د شمال په لوري وخوځوله. جګړې د وسلو د پاره غوښتنه زياته کړې وه له همدغه املـه د شمال صنعتي استخدام کوونکي جنوب ته لاړل او له هغه ځای څخه يې تور پوستي په اورګاډو کښې شمال ته واستول چې هلته يې په دفاعي صنايعو کښې د مزدورانو په توګه استخدام کړي. تر جګړې وروسته هم دغې لېږدونې دوام وکړ او په مليونونو تورپوستي له جنوب څخه شمال ته لاړل. او په مليونو هغه تورپوستي چې په کليو کښې اوسېدل اوس د دې جوګه شول چې په بنارونو کښې ژوند وکړي. اوس د ميسيسپي د ټول ايالت په نسبت د شيکاګو په بنار کښې ډېر تور پوستي استوګنه لري همدارنګه اوس

د کوم جنوبي ایالت په نسبت په نیویارک کښې ډېر تورپوستي ژوند کوي د تور پوستو دغه خوځېدنه یوازې له جنوب څخه شمال ته دلېږدېدنې ماهیت نه لري بلکه له کلیو څخه ښارونو ته د کوچېدو اهمیت هم لري.

تر وروستیو وختونو پورې ټولنپوهانو د شمال اوسېدونکي سپین پوستي په شمال کښې د اوسېدونکو تورپوستو سره بې له دې چې د نسلونو په رسېدنه کښې د وختونو یا دورو تفاوت په نظر کښې ونیول شي، مقایسه کول. خو حقیقت دا دی چې په شمال کښې تورپوستي له پخوا راهیسې نه دي اوسېدلي یوازې یو نسل یې هلته لوی شوی دی. په دې ټوګه د هغو تورپوستو شمېر ډېر کم دی چې پلرونه یې په شمالي امریکا کښې زېږېدلي دي. په دې حساب په شمال کښې مېشته تورپوستي لا تر اوسه هلته د نویو ورغلو کډوالو حیثیت لري که چېرې د نسلونو سلسلې په نظر کښې ونیولې شي نو د تور پوستو او سپین پوستو تر مینځ ډېر تفاوتونه به له مینځه یوړل شي. لېبرسن او سوویل دواړو لیکلي دي چې د تور پوستو هغه نسلونه چې زیاته موده یې په شمالي امریکا کښې تېره کړې ده د لوړو تعلیماتو خاوندان دي او په ښو کارونو بوخت دي.

حقیقت دا دی چې په جنوب کښې د اوږدې مودې هستوګنې د تورپوستو د پرمختګ مخه نیولې وه. هغه سپین پوستي چې په وروستیو وختو کښې له جنوب څخه شمال ته خوځېدلي دي همدغسې یو حالت لري شمال ته د نویو ورغلو سپین پوستو د ذکاوت د ازموینې (I.Q) نومرې د تور پوستو سره برابروي له دې څخه داسې څرګندېږي چې د یوې وروسته پاتې ټولنې افراد له هر نژاد سره چې اړیکې ولري په ذهني لحاظ وروسته پاتې خلک وي.

د غلامۍ وراثت

د امریکې په متحده ایالاتو کښې هر یو اقلیت د تعصب او تبعیض له املې ځورول شوی او زیانمن شوی دی. خو څومره چې تعصب او توپیر تور پوستي د کینې او دښمنۍ په سره اور اړولي رااړولي دي بل یو اقلیت یې هم دومره زیات نه دی کړولي یوه وجه یې دا ده چې دې خلکو څو پېړۍ د غلامۍ دوره تېره کړې ده.

امریکایي تورپوستي له دې املې چې اصل او نسب یې له امریکې څخه د باندې له کوم خاص ملت یا خاصې ټولنې سره ترون او پیوستون نه لري بې وطنه خلک بلل کېږي ځکه چې دوی د افریقې له بېلابېلو سیمو څخه راوستل شوي دي. تر وروستیو وختونو پورې هغو سیمو چې دوی ورڅخه راوستل شوي یا ورڅخه راغلي دي، خپلواکې نه درلوده او اروپایي ځواکونو وربانديې حکومت کاوه.

زیاتره نور اقلیتونه چې امریکا په تېره شمالي امریکا ته په مهاجرت تللي دي، په خپله یې د کډې کولو تصمیم نیولی دی لومړی یې دا فکر کړی دی چې کډه کول ورته ګټه لري او که نه؟ دوی د ګټو وټو هغه چانسونه چې په خپلو مربوطو هېوادونو کښې یې لرل په امریکا کښې د ګټو وټو له چانسونو سره مقایسه کړي دي. خو تورپوستي غریبان په خپله خوښه امریکې ته تللي نه دي. دوی په دې هم نه پوهېدل چې دوی ته به څه وخت آزادي ورکول کېږي چې په خپله خوښه کارونه وکړي. په حقیقت کښې تورپوستو د امریکې د کورنیو جګړو نه وروسته په ورانه، ویجاړه شوې او ماتې خوړلې جنوبي خوا کښې په ډېر زیات کړاو سره یو څه پیسې ټولولې او له مشکلاتو څخه ډک ژوند یې کاوه مګر په هغه بله خوا یعنې شمال کښې کډوالو ته نسبتاً ښه شرایط برابرېدل خو هلته هم

نیول شوې ګټې نشوای کولای نو د دوی لار خلاصه وه د پرېشانۍ او خواری په صورت کښې دوی بېرته خپلو اصلي هېوادو ته ستنېدلای شوای لکه چې یو څېړونکي (هندلین ۱۹۵۷) لیکي د ۱۹۳۰ په لسیزو کښې یا د ژور خپګان په یوه مرحله کښې (۵۰۰۰۰۰) کډوال بېرته په اروپا کښې خپلو اصلي هېوادو ته ستانه شول خو تورپوستو داسې یوه چاره هم نه لرله.

بله خبره دا ده چې اروپایي کډوالو په خپلو اصلي هېوادونو کښې داسې حکومتونه درلودل چې د کډوالو د ستنېدو په چارو کښې یې مرستې کولې او یا یې د مهاجرو د مربوطو مسایلو په باره کښې د بېلابېلو حکومتو تر مینځ د مینځګړیتوب دنده په غاړه اخیستله خو لکه چې (لیبرسن ۱۹۸۰) لیکلي دي، د تورپوستو په باره کښې دا ډول امکانات موجود نه وو ځکه چې دوی اصلا هېڅرې خپل حکومتونه نه درلودل.

بله خبره دا ده چې تور پوستو دا چانس هم نه درلود چې ځانونه کوم بل نژاد ته منسوب کړای شي مثلا یهودیانو به په هغو وختو کښې چې د ځینو نورو نژادو احساسات به د سختو سیالیو په نتیجه کښې د دوی په ضد وپاریدل نو دوی به کوشش کاوه چې ځان د نورو خلکو په لباسونو او عاداتو کښې پټ او ورک کړي. سره د دې هم دوی ځانونه پوره نشوای پټولای ځکه دوی په خپلو مخصوصو پزو سره پېژندل کېدل.. خو لکه چې یو څېړونکي (فېش برګ۱۹۱۱) لیکلي دي پزه د یهودیانو د پېژندنې په باره کښې پوره د اعتبار ور نه وه. په نیویارک کښې یوې څېړنې وښودله چې یوازې په سلو کښې ۱۴ یهودیان په پزه وپېژندل شول.

د قومونو او نژادونو د پېژندنې نور علایم د ژبنیو اختلافونو او کلتوري تفاوتونو له مخه څرګندېږي. خو کلتوري خصوصیات کېدای شي ژر بدل شي دا هم کېدای شي چې ځینې خلک له تعصباتو څخه د وېرې له امله خپل نومونه او لباسونه بدل کړي خو

هغه شی چې دومره ژر نشي بدلېدلای هغه د پوستکي رنګونه دي همدې غیر ضروري خبرې تورپوستو ته غټ مشکلات پېښ کړي وو.

بله مساله چې تور پوستو ته یې غټ مصیبت پېښ کړی و هغه په شمېر کښې د دوی زیاتوالی و که څه هم امریکایانو په خپل هېواد کښې د چین او جاپان موجودیت (ژېړ خطر) باله خو هغوی په شمېر کښې دومره زیات نه وو چې امریکایان ورځخه زیاته وېره ولري خو تور پوستي په امریکا کښې د نورو ټولو اقلیتونو په نسبت زښته ډېر وو.

د دې حقیقت په نظر کښې نیولو سره چې رقابت او سیالي د تبعیض او تعصب له اساسي عواملو څخه دي نو د تورپوستو دشمېر زیاتوالي ته د دوی رقیبانو په ښه سترګه نه کتل ځکه چې د دغو ارزان بیه مزدورانو د شمېر دومره زیاتوالي د چا خبره د نورو سیالانو روزي په لغته وهله. په تېره بیا د ۱۹۲۰ په لسیزه کښې کله چې د کاراو کارګرانو په قوانینو کښې تغیرات راغلل سپین پوستي سیالي کوونکي سخت پرېشانه شول ځکه چې دغو تغیراتو له نورو هېوادو څخه د ارزان بیه کارګرانو د راتګ شرایط اسانه کړل. په همدغه وخت کښې له تورپوستو څخه د سپین پوستو د پاره یو غټ رقابتي ځواک او د دوی د ګټو د پاره خطر جوړ شو. بله خبره دا وه چې دا وخت سپین پوستي مزدوران دومره د مهارت خاوندان هم نه وو. اوس نو هغه تضاد چې له ایټالویانو، پولنډیانو، جاپانیانو سره موجود و په ډېره قوي توګه د تورپوستو په مقابل کښې متمرکز کړل شو. کله چې تورپوستو ته د رایې اچولو (ووټ ورکولو) حق ورکړل شو نو له دوی څخه یو د پاملرنې وړ سیاسي قدرت هم جوړ شو چې دغه حالت د دوی په مقابل کښې تضادونه او تعصبات لا زیات کړل.

په همدغسې بدو حالاتو کښې د تورپوستو یو مشر بوکر تي واشنګټن دوی ته وویل چې تاسې د شکایت کولو په ځای مهارت زده کړئ. او له همدې لارې په ټولنه کښې خپل ارزښت او اهمیت

تثبیت کړئ. ده د تورپوستو په غوږونو کښې دا خبره هم وروځځوله چې په یوه کروندې کښې په یویې (قلبه) باندې کرښه ایستل هغومره درنښت لري لکه یو شاعر چې د کاغذ په مخ یو ښه شعر لیکي. دغه سړي تورپوستو ته ښه درسونه ورکړل کله چې تورپوستو د کار او تعلیم له لارې خپل اهمیت زیات کړ په سپین پوستو خلکو کښې یې د تعصب او توپیر غندلو د پاره ښه ملګري پیدا کړل د توپیر غندلو نهضت دومره پیاوړی شو چې سپین پوستي اوتورپوستي ځوانان به په ګډه سره ریستورانټونو ته تلل او یوځای به سره کښیناستل او له دې لارې یې غوښتل چې د سپین پوستو او تورپوستو تر مینځ غیر ضروري دیوالونه ونړول شي.

په امریکا کښې د ۱۹۸۱ سرشمېرنه ښیي چې د ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ کلونو تر مینځ د هغو سپین پوستو ښځو شمېر دېر زیات شوی دی چې تور پوستي مېړونه یې خوښ کړي دي.

طبقاتي تضادونه او تعصبات

په ټرو تقريبا څلـورو لسيزو کـې، لـه هغـه وختـه را پـه دې خـوا چـې د هېواد په تعليمـي او فرهنـګي موسسـاتو کـښې مارکسيسـتانو نفـوذ کړی دی په ټره پـه هغـو وختـو کـښې چـې دغـه موسسـات پـه مسـتقيم ډول د دوی تـر کنـټرول لانـدې راغلـې دي، اجتمـاعي واقعيتونـه د مارکسيسـتي ټولنپوهنـې لـه مخـې ارزيـابي شـوي دي او ډېره هـڅه شـوې ده، چـې د افغـاني ټولنـې خصوصيـات د مارکسيسـتي نظريـاتو پـه قالب کښې پـه ډېر زور او فشـار سـره واچـوي.

پـه افغانسـتان کـښې د مارکسيسـتي ټولنپوهنـې لـه پـاره دومـره کـار او تبليغ شـوی و، چـې نـژدې وو هغـه د خلکـو لـه نظـره د کـانې د کـرښې په څېر د يو منـل شـوي او ثـابت شـوي حقيقـت پـه تـوګه وروسـتل شـي خـو کلـه چـې هغـه د افغانسـتان د پېښو پـه لابراتـوار کـښې تحليـل او تجزيه او تر عملي تجربـې لانـدې راوسـتله شـوه، نـو څرګنـده شـوه چـې دغـې ټولنپوهنـې پـه تـره د هغـې طبقـه بنـدی کـوم علمـي ارزښت نـه درلـود او د هغـې طبقـاتي نظريـه د مصنوعـي تضـادونو د خلـق کولـو د پاره راپيدا کـړل شـوې وه.

نورو ټولنپوهانو لـه هغـه وختـه چـې مـارکس د بزګرانـو لويـې پرګنـې د "پروليټاريـا" لـه لويـې طبقـې څخـه وايسـتلې، د ده اجتمـاعي طبقـه بنـدي تـر انتقـادونو لانـدې نيولـې ده دوی وايـي چـې مـارکس خـو بزګران پـه دې پلمـه د پروليټاريـا د طبقـې څخـه وايسـتل چـې هغـوی د نورو خواريکښانـو پـه څېر د ژر او ښه منظـم کـېدو وړتيـا نـه لـري خـو پـه

خپله پرولیټاریايي هم روغه او رمټه پاتې نه کړه او زیات شمېر خواریکښان بلکې د خواریکښانو اکثریت یې د لومپین پرولیټاریا په نامه ورځخه وایستل "لومپین" د خیرن او خچن معنې لري په خپله مارکس دا ډول زیارکښان د ټولنې "چناس یا تفاله" بلل.

د هغو ټولنپوهانو څخه چې د مارکس په طبقاتي نظریه یې پخې نیوکې کړې دي یو یې هم ماکس ویبر (Max Weber 1864-1920) دی چې په ټولنه او تاریخ کښې یې نوم ایستلی دی. د ده له نظره د طبقاتي سیستم په باره کښې د مارکس اقتصادي نظر د صنعتي طبقاتي نظام په خصوصیاتو باندې د تطبیق وړ نه دی. ویبر چې صنعتي هېوادو ته په ځیر کتلي دي نو دې نظریې ته رسېدلی دی چې یوازې د ملکیت موضوع په ټولنه کښې د موقفونو یا دریځونو او طبقاتو په ټاکلو کښې قاطع رول نه لري د مثال په ډول ده په جرمني کښې داسې کسان لیدل چې ملکیتونه یې نه درلودل خو لوړ حیثیتونه او سیاسي قدرتونه یې لرل په مقابل کښې یې جرمني یهودیان ډېر شته من خلک وو او د لویو لویو کارخانو خاوندان هم وو. خو دوی سیاسي قدرت نه درلود.

ویبر به ویل که چېرې مورِ د مارکس له نظره د طبقاتي نظام اقتصادي ارخونه په نظر کښې ونیسو د شلمې پېړۍ په پیل کښې چې یهودیانو د جرمني بوژوازي جوړه کړې وه نو پرولیټاریا د سیاسي قدرت په چوکیو ناست وو.

په رښتیا سره چې ویبر یوې مهمې موضوع ته ځیر شوی دی. د مارکس انقلابي نظریه دا وه چې پرولیټاریا به له بورژوا څخه قدرت اخلي او خپل دولت به جوړوي خو په جرمني کښې دا کار له انقلاب نه پرته هم شوی و.

د ویبر د نظریاتو پلویان ډېر شول او د یو لړ ژورو څېړنو او انتقادونو نه وروسته یې دری اجتماعي طبقې ومنلې چې د هرې

طبقې په سر کښې د (P) حرف راځي. په دې توګه دا طبقه بندي د دري (P) ګانو د طبقاتي وېش په نامه هم شهرت لري چې لنډيز يې په لاندې ډول دی.

- ملکيت = Property
- حيثيت/اعتبار = Prestige
- قدرت = Power

ملکيت:

ويبر د خلکو هغه ګروپ ته د طبقې (Class) په نظر کتل چې يو له بله سره ورته د ژوندانه چانس ولري او په ټولنه کښې د خپل اقتصادي حالت (شته منی يا د ګټو وتو د چانس) له مخې پېژندل کيږي له همدغه املـه معاصرو ټولنيو هانو د ويبر د "طبقې" مفهوم "د ملکيت" په مفهوم تعبير کړی دی.

ويبر د مالکينو په طبقه کښې يوازې د ملکيت خبره ټينګه نه نيسي بلکې ده ته معلومه شوی ده چې په ځينو حالاتو کښې د ملکيت کنټرول ممکن له ملکيت څخه مستقل حيثيت او اهميت ولري. مثلا اداره کوونکي (Managers) هم په کاپيټا ليستي موسساتو کښې او هم په اشتراکي صنايعو کښې د ټولو فابريکو او کارخانو کنټرول په لاس کښې لري. ډېر داسې اداره کوونکي شته چې په خپله ملکيت نه لري خو د ملکيتو نو واک او اداره د دوی په لاس کښې وي مزې او چرچې کوي. د ی وايې چې مارکس د همدغسې کسانو له پاره د پرولېټاريا قالب جوړ کړی دی.

حیثیـــت Pristige:

د ویـبر لـه نظـــره حیثیـــت یـــا د ده پـــه خپلـــه اصطلاح (Status) او طاقت دواړه یوازې د مالکانـــه روابطـو نتیجـې نـه بلکـې پـه خپلـه د دې دول روابطـو منـابع هـم دی. کلـه چـې سـپورتي اتـــلان، هـــنرمندان او داسې نـــور کسـان چـې د چـا خـبره پـه سـپورټ یـا هـنر کـښې یـې نـوم ګټلی‌وي. په تجـارتي اعلانونـو کـښې د ممثلینـو پـه تـوګه کـار کـوي. پـه حقیقت کښې خپـل حیثیتونـه یـا شـهرتونه، د اقتصـادي ګټـو وټو لـه پـاره بازار ته عرضه کوي. خلـک لـوړ حیثیتونـه کـه لـږ شـتمني ولـري یـا هیـڅ ونـه لـري خـوښوي. دا هغـه ځای دی چـې لـه بـې شـتو کســانو څخـه ممتاز کسان او لـه دوی څخـه یـوه طبقـه جوړیـږي.

قـــدرت Power:

د ویبر له نظره د شته منـــی څخـه د طـاقت اسـتقلال یـو بـل څرګنـد حقیقـت دی. دی هغـه څوک د قـدرت یـا طـاقت خـاوند بـــولي چـــې د خپلـې لارې څخـه هـر ډول خنډونـه او مقاومتونـه لـــرې کـــولای شـــي. دی وایـې ځینـې خلـک کـه څه هـم لـه پـلار او نیکـه څخـه ورتـه پـــاتې شـوې شـته منـی ونـه لـري خـو دوی د زیـات طـاقت خـاوندان کـېدلای شـي. د ده منظـور نظـامي افسـران او بـیرو کراتـان دي. دی د مثـال پـه توګه وایي کېدای شـي یـو سړی خپلـه زیاتـه شـتمني ونـه لـري خـو کـه دی پـه پـوځ یـا د دولـت پـه بـیرو کراسـی کـښې رول ولـري نـــو یـــوې لنډۍ پاچاهی ته رســیدلی سړی دی. دی وایـي چـې پـه جرمنـي کـښې داســې عسـکري منصبـداران کـم نـه وو چـې لـه پـلار او نیکـه څخـــه څه شـــی ورتـه پـاتې شـوی نـه وو خـو د دوی ګټې زیـاتې وې او لـه ســـرمایه دارانو څخـه ممتـاز وو.

یـو افغـان څیړونکـی بناغلـي عطـایي پـه خپـل یـو کتـاب "د جـــرګو هیواد" کـښې لیکـي چـې: د احمـد شـاه بابـا د واکمنـی پـه مـوده کـښې لـوی څمکـه وال د توریـالیو تـر شـــا دربدل. لـــه دې څخـــه معلومیـــږي

چې نظاميان له ټولـو څخـه لـوړه اجتمـاعي طبقـه وه. د احمـد شـاه بابـا بيروکراسـي زيـاتره د هغـو ايرانيـانو څخـه جـوړه شـوې وه چـې احمـد شـاه بابـا د دفـترداري د چـارو د متخصصينـو پـه تـوګه اسـتخدام کـړی وو. دا بيروکراسـي د ده د زوی تيمـور شـاه پـه مـوده کـښې دومـره ځواکمنه شـوې وه ، چـې تيمـور شـاه يـې د چـا خـبره پـه هـوا کـړی وُ . په همدغه وخت کـښې د افغانسـتان پـايتخت لـه کندهـار څخـه کـابل تـه انتقاليږي ورسـره پـه درباري فرهنګ کـښې هـم تغيـرات راځي افغـاني پاچاهان د ايراني او د هنـد د مغـولي پـاچاهـانو پـه څير پـه اوږدو او لـه تملق نه ډکو القـابو بـاندې نـازول کيـږي.

د تقليدونـو، سياسـي بدعتونـو او اسـتعماري مداخلـو او نظـامي تېريو يوه توره دوره له همدغـه وخـت نـه پيـل کيـږي.

تيمور شاه د يو بـل تيمـور پـه تقليـد لـه ډېرو ښځو سـره د نکـاح تړلـو شوقي وُ د هـر قـوم او قبيلـې ممتـازو کسـانو غوښتـل چـې لـه تيمـور شـاه سره د خپلې لـه لارې پـه درباري طبقـه کـښې د خپلـو ځانونـو لـه پـاره ځايونـه پـيدا کـړي . کـه د ګورګانـي تيمـور د مـاينو شـمېر ۱۸ تنـو تـه رسـيده نـو درانـي تيمـور شـاه دغـه شـمېر د مرحـوم غبـار پـه قـول ۱۰ ښځو تـه رسـولی وُ. کـه د ګورګانـي تيمـور د زامنـو شـمېر ۳٦ تنـو تـه رسـيده نـو درانـي تيمـور شـاه پـه دې مسـابقه کـښې ځان ډېر ورنـژدې کړی وُ ده ۳۳ تنه زامـن درلـودل مـوږ د دې څيړنـې پـه يـوه تـېره برخـه کـښې د ډېرو شـو اهـدو لـه مخـې څرګنـده کـړې وه چـې "رقـابت او انحصـار" د تعصـباتو سـکني مـور او پـلار دي. کلـه چـې د تيمـور شـاه د مرګ نه وروسته د پـاچاهـي د اسـتحقاق پـه موضـوع کـښې سـيالیو سـرونه راپورته کړل نـو د شـهزادګانو ترمنـځ سـيالیو پـه ملـت کـښې هـم درزونـه را پـيدا کـړل. ځکـه يـو شـمېر شـهزادګانو چـې ځانونـه يـې د سـلطنت حقيقي وارثـان ګڼل خپلـو ماما خپلـو قومونـو او قبـايلو تـه مراجعـه وکـړه او په افغانستان کښې کورنـې جګړې لـه همدغـه ځای څخـه پيـل شـوې

د دريځ بې ثباتي Status Inconsistancy

تولنپوهان د دريځ د بې ثباتيو موضوع د اجتماعي نارامیو له مهمو عواملو څخه بولي له همدغه امله دغه موضوع د يوې تيوري په چوکاټ کښې چې نوم يې هم "د دريځ بې ثباتی تيوری" دی مطالعه کوي. د دې تيوری له مخه هغه خلک ډېر سخت نامېده کيږي او عقده يي ګرځي چې د ژوندانه يو اړخ يې ډېر وړاندې تللی وي او نور ابعاديې وروسته پاتې شوي وي. د تيوري د ځينو شخصياتو مطالعه زمور له پاره ډېره ضروري ده ځکه چې د وروستيو رنکارنګ انقلابونو په موده کښې تر حد وتلې جاه طلبی او عظمت طلبی رقابتونه او تعصبات تر ډېره حده د دريځونو د بې ثباتيو څخه را پېدا شوي دي.

د دريځ د بې ثباتی د تيوري لومړنی وړاندې کوونکی ګرډ هارډلنسکی (Gerd hard lenski 1966)وايي کله چې د چا د دريځ يو اړخ ډېر ښه وي او د ژوندانه د نورو اړخونو يې خونده نه وي نو له خلکو څخه د ده هيله دا وي چې د ده هغه ښه اړخ په نظر کښې ونيسي.

مثلاً د پوهنتون د استادانو آرزو دا وي چې خلک بايد د دوی علمي رتبې په نظر کښې ونيسي او هماغسې په درنه سترګه ورته وګوري خو د پوهنتون څخه د باندې ممکن د هغو خلکو شمېر ډېر زيات وي چې د خلکو ماغزو يا علمي درجو ته نه بلکې د دوی جيبونو او نورو خوا وُ ته ګوري. نو که د پوهنتون استادانو ته خپل علم او سپېڅلې عقيدې لوی زړه نه وي ورکړی نو هغه له بده مرغه د حيثيت د بې ثباتی په ناروغی اخته کيږي. په افغانستان کښې د دغه راز ناروغانو يو مثال حفيظ الله امين وُ. هغه د تعليم او تربيې په رشته کښې د ماستری بری ليک راوړی وُ هغه هم له امريکې څخه خو هغه وخت د عام ذهنيت له مخه د حقوقو او سياسي علومو لوړو شهادتنامو ډېر زيات اهميت درلود ځکه چې هغه وخت د دغو

شهادتنامو لرونکي حاکمان (ولسوالان) یا ډیپلوماتان کېدل. بنایي حفیظ الله امین ته ډېر ځله دا خبره شوې وي چې :یاره! ستا نصیب به د معلمي، د لېسې مدیریت یا د پوهنې په وزارت کښې د تعلیم او تربیې د کوم بورډ د غړیتوب نه پرته بل څه نه وي او دغو شیانو د امین د جاه طلبۍ حس نشوای تسکینولای. یوازې امین نه بلکې د ثور د انقلاب (!) نورو رهبرانو همدا ډول تکلیفونه درلودل چې په خپلو خپلو ځایو کښې به وربانديې خبرې وشي.

لیسکي وایي چې د ویېر د ژوندانه په موده کښې د آلمان یهودیان ډېر شتمن خلک وو، خو د نژادي ملاحظو له مخه له دوی سره د نورو خلکو کړه وړه خوندور نه وو له همدغه امله دوی د دریځ د بې ثباتۍ په آفت ککړ شوي وو. د امریکې په متحده ایالاتو او کاناډا کښې هم دې ته ورته مثالونه شته. هلته د هیک (Hick) ملیونران زیات شته من خلک وو خو د علم او هنر برخه یې ډېره خواره وه خلکو به شډل شته من (The vulgar rich) بلل.

په دوی باندې د داسې نوم ایښودل، په ټولنه کښې د دوی د دریځ د بې ثباتۍ نخښه وه.

لیسکي زیاتوي هغه کسان چې په ټولنه کښې یې موقف یا دریځ د دوی د هیلې سره سم نه منل کیږي نو ټولو هغه شیانو ته د کرکې او د دښمنۍ په سترګه کوري چې په ټولنه کښې موقعیتونه یا دریځونه ټاکي. په نتیجه کښې دوی د هغو سیاسي حرکتونو او تحریکونو له پاره مساعد کسان ګرځي چې له مخالفو لورو طبقو سره د مبارزې هدفونه لري.

همدا ډول روحاً ځوریدلي کسان دي چې لیبرال یا رادیکال ګوندونه او د دوی کړنلارې خوښوي.

د دریځ داسې بې ثباتي چې ځینې خلک شته منې ولري خو له قدرت یا د نوم ګټلو له چانس څخه محروم وي، دا ډول خلک حتی دې ته لمسوي چې د خپلې طبقې (د شته منو طبقې) ګټو ته شا

واړوي او د هغو کسانو ملاتړ وکړي چې په امتيازاتو کښې د لړو برخو خاوندان وي.

د شلمې پېړۍ يو بل مارکس يعنې ټولنپوه ګری مارکس (Gary Marxs 1967) د دريځ د بې ثباتۍ د تيوري د ټيستې کولو څخه دغه نتيجه را وباسي چې ټول شته من او د لوړو تحصيلاتو خاوندان تور پوستي امريکايان د ۱۹۶۰م په لسيزه کښې د دريځ د بې ثباتۍ له املې ځورېدل. د دې ازموينې له مخې د لوړ موقف خاوندان تور پوستي د ټيټو موقعيتونو د خاوندانو تور پوستو په نسبت زيات جنجالي او جنګيالي وو. د دې څېړنې له مخه تور پوستي بانک لرونکي او ډاکټران د تور پوستو چوکيدارانو او د دروازه ساتونکو په نسبت رادېکال وو. په امريکا کښې په ملي سطحه يوه سرته رسېدلی سروې د ګری مارکس فرضيې ته د حقيقت بڼه ورکوي.

په همدې توګه يهودي بانک لرونکو او د صنايعو خاوندانو په شمالي امريکا او اروپا کښې لکه چې (کوهس ۱۹۵۸) ليکلي دي د ليبرالو او رادېکالو ګوندونو ملاتړ وکړ. همدارنګه لکه چې ټولنپوه بلټزيل (Baltzell 1966) ليکي دې شته منو او ځواکمنو امريکايي کاتو ليکانو د ديموکرات ګوند ملاتړ وکړ ځکه چې دا ګوند د جمهوريت غوښتونکو په نسبت رادېکال ګڼل شوی دی.

د دريځ بې ثباتي او روحي فشار

يو ځوان څېړونکي چې د مشکان په پوهنتون کښې د خپلې ډکتورا (P.H.D) د بشپړولو له پاره په خپرنو بوخت وُ، تصميم ونيو چې د بې ثباته دريځونو يا موقعيتونو روحي او رواني نتيجې راوباسي. دغه ځوان څېړونکی (اېلټن جاکسن ۱۹۶۲) دې نتيجې ته رسېدلی دی چې د دريځونو بې ثباتي خلک د "توقعاتو د جګړې" له روحي مسائلو سره مخامخ کوي. مثلاً که د يو چا په يوه ساحه کښې دريځ لوړ ختلی وي او په بله کښې يې موقعيت ټيټ لويدلی وي، نو له دغو هسکو او ټيټو موقعيتونو څخه د راپيدا شويو توقعاتو

ترمینځ جګړې راپیدا کیږي چې له هغو څخه بیا روانې مسائل تولیدیږي.

جاکسن د خپلې فرضیې د ازمویلو له پاره خلک په دریو کتګوریو کښې راوستل لومړی یې د کسب او کار، دوهمه یې د تعلیم او تربیې او دریمه یې د نژادي او قومي موضوعاتو په باره کښې وه. ده د هرې کتګورۍ خلک په اعلی، اوسط او ادنی درجو وویشل او بیا یې نتیجه ګیري وکړه. مثلاً په لومړۍ کتګوری (کسب او کار) کښې مسلکي کسان منیجران او بیزنس مینان یا منشیان په اعلی درجه کې، کاتبان او ماهر کار ګران په اوسط درجه کښې او د لږ مهارت خاوند مزدوران او بې مهارته مزدوران یې په ادنی درجه کښې وشمېرل.

په دوهمه کتګورۍ کښې (د تعلیم او تربیې په کتګورۍ کې) یې د پوهنځیو فارغان په اعلی درجه کې، د لوړو ښوونځیو فارغان په اوسط درجه کښې او د اتم ټولګي او یا له دې څخه ښکته ټولګیو څخه راوتلي کسان یې په ادنی درجه کښې وګڼل.

په دریمه کتګورۍ (نژادي او قومي) کښې یې هغه پخوانې امریکایان چې انګریزي نژاده خلک وو او له انګلستان څخه ورغلي وو، په لومړي ګروپ کښې ، هغه خلک چې نیکه ګان او اجدادیې له شمال لویدیزې اروپا څخه امریکا ته ور غلي وو په دوهم ګروپ کښې او یهودیان او نور هغه خلک یې چې سپین پوستي نه دي په دریم ګروپ کښې وشمېرل.

د هر چا چې په دریو اړو ساحو (کاروبار، تعلیم او نژادي- قومي) کښې درجې سره برابرې وي هغوی د ثابت دریځ خاوندان وو او د چا چې دا درجې برابرې نه وې نو هغوی د بې ثباتۍ په مختلفو اندازو کښې راتلل. په دې ټوګه جکسن یو ډېر مهم راز کشف کړ او هغه دا وُ، چې د موقف د بې ثباتۍ بیلو بیلو نمونو ډول، ډول نتیجې درلودلې چې دغو ټولو نتیجو د روحي یا د ذهني روغتیا له

ساتلو سره اړه درلوده. مثلاً هغه کسان ، چې فکر کوي د نژادي سوابقو له مخه د لوړ موقعیت خاوندان دي که ځان د کار او د وظیفې له مخې په ټیټ موقف کښې ووینې نو تر سخت روحي فشار لاندې راځي خو برعکس هغه خلک چې د چا خبره ټیټ نژادی موقف ولري خو د کار او بار موقف یې ښه وي نو په زړه کښې ګورې ماتوي.

په افغانستان کښې د تېرو دریو لسیزو کودتاګانې، سیاسي او اجتماعي تحولات مورِ ته ډېر داسې مثالونه په لاس راکوي، چې د دریځ د بې ثباتۍ په ناروغۍ اخته کسانو کښې د توقعاتو د جګړې ډول، ډول خصوصیات څرګندوي.

د افغانستان یو انقلابي جنرال عظیمي چې انقلابونو د ټولي له قومندانۍ څخه ستر جنرالۍ ته رسولی وُ د خپل کتاب "اردو و سیاست" په ۱۵۳ مخ کښې د ثور د انقلاب د اصلي ماهیت په لومړنیو شېبو ورځو کښې د انقلابیونو ترمنځ سیالۍ داسې رسوا کوي:

"... تره کی ارګ نشین شد و کارمل صدارت نشین و امین در وزارت خارجه جا خوش کرد. تره کی گفته بود که ما برای تعویض کارمندان اسبق سر کادر های کافی داریم و میتوانیم بدون استفاده از آنها چرخ دولت را بحرکت در آوریم. وزراء با لهام از ین حرفهای غیر واقعی و اصولی سعی نمودند که اعضای حزبی بخش مربوطه خویش را در وزارت خانه نصب کند و کارمندان مسلکی، تعلیمیافته و باتجربهٔ گذشته را بیکار ساخته و روانهٔ منزل نمایند. نتیجه چنان شد که در وزارتخانهٔ خلقی از الف، تا "ی" کدرهای خلقی که اکثر معلمین بودند و در وزارت خانه ایکه پرچمی در راس آن بود از رأس تا آخر پرچمی ها نصب گردیدند. این امر موجبات برهم خوردن توازن نظامی، اداری و عدم اعتماد و اطمینان مردم را سبب گردید و باعث آن شد که کار شکنی ها، رقابت (!) سوءتفاهمات در اولین فرصت ها بین ادارات دولتی بوجود آید و اولین زمزمه

هـای اختـلاف و عـدم همـآهنگی و تشـتت و پراگنـدگی در امـور روزمـره بین وزارت خانه هـا و موسسـات دولتـی ظـهور نمـاید..."

جـنرال عظیمـي د خلـق د دموکراتیـک ګونـد د بطـــن نـــه خـــبرې کـړې دي. ده د دې لـه پـاره چـې خپلـې اوږې د دغـه ګونـد د غړیـو د تقصیراتو،اشـتباهاتو او مسؤلیتونو څخـه سـپکې کـړي نـو د لـوړو خلقیـانو او پـرچمیـانو ډبرو تصمیمـاتو تـه یـې ګوتـه نیولـې ده کـه د ده کتـاب د ټولنپوهنـې د نویـو څیړنـو پـه رڼا کـښې ولوسـتل شـي نـو پـه هغـه کـښې ټولې لیکـل شـوې پـښې او رویدادونـه د هغـو کسـانو مـاجراګانو را پیـدا کـړي دي، چـې د دریـځ د بـې ثباتـی په ناروغـی اخته شـوي وو. دوی خپلـه ټولنـه سـمه طبقـه بنـدي کـړې نـه وه او نـه د طبقـاتي مبـارزې لـه ماهیت څخه خـبر وو. پـه خپلـه عظیمـي د دریـځ د بـې ثباتـی نخـښې د شـهید محمـد داؤد خـان پـه شـخصیت کـښې لـټوي او خپلـــې خـــبرې د همدغه ځای نه پیل کـوي، دی د هغـه مرحـوم پـه بـاب لیکـي:

" ســـردار محمـــد داؤد در زمـــان دهـــهء دموکراســـی و دګر ګونـــی های عظیم سیاســـی در کشـور در حـالت انـزوا و تجریـد بسـر مـی بـرد... وزراء، جـنرالان، قوماندانـان و الا مقامـان، کاسـه لیسـان همـــه و همـــه او را ترک ګفتـه بودنـد...

وی تنـهایی، حقـارت وبـی اعتنـایی را نسـبت بـه خـود احسـاس مـــی کـرد و در درون وی دیګ انتقـام خمـو شـانه در حـال جوشـــش بـــود او طعم تلخ شکسـت را احسـاس مـی کـرد.."

په بـل ځای کـښې د ده پـه بـاره کـښې لیکـي:" سـردارمحمد داؤد بـا انضباط، سختګیر، مستبد و مغـــرور کـه عشـق جنـون آمـیز نسـبت بـه ترقـی اعتـلاء کشـور داشـت، مـردی بـود خـــدا پرســـت. پرهـــیز ګار، مومـــن و متقـی.."

"زندګی سـاده و بـی تجملـی داشـت و از بـد مسـتی و عربـده جـویی هـا و عیاشـی هـای "خـانواده" بـدور بـود و پرهـیز مـی کـرد. عیاشـــی و فحاشـی را مذمـت مـی کـرد و بـا عـاملین آن کینـه مـــی ورزیـــد، دارای

استقلال رأی بود و مرد صاحب عمل.. این مرد مارکسیست و کمونیست نبود، مسلمان ساده یی بود که خط فکری او را نوع ناسیونالیزم ناب و سوچهٔ افغانی تشکیل میداد..."

جنرال عظیمي د مرحوم داؤد خان په شخصیت باندې تپل شوي القاب لکه فاشیت او داسې نور مینځي. خو لکه چې لوستل کیږي د ده شخصیت له متضادو عواملو او تمایلاتو څخه مرکب ګڼي. بنایي دا خبره به تر یوه حده رښتیا هم وي. په یوه ټولنه کښې چې د سوپر طاقتونو ترمینځ "د لویې لوبې" ډګر ګرځېدلې وي او په نتیجه کښې اقتصادي، سیاسي او اجتماعي وروسته والی وربانديې تپل شوی وي، د هغې ټولنې د شاه او ګدا په شمول ټول خلک ځوریدلي دي.

د یو بزګر، شپانه او کارګر نه نیولي تر شهید داؤد خان او له هېواد څخه وتلي ظاهرشاه پورې ټول خلک په مختلفو ډولونو سره د محرومۍ او حقارت احساس کوي. په همدغسې شرایطو کښې د دریځ د بې ثباتۍ لویې ناروغۍ هم را پیدا کیږي، چې جنرال عظیمي هغه په غیر مستقیم ډول شمیرلې او شرح کړې دي.

د جنرال عظیمي په کتاب کښې د هغو خلکو نومونه لیکل شوي دي چې د افغانستان د خلکو د دموکراتیک ګوند مؤسسه کانګره ورڅخه جوړه شوی وه دا کسان (۱) آدم خان ځاځی نظامي پیلوټ (۲) نور محمد تره کی (۳) ببرک کارمل (۴) صالح محمد زیری (۵) محمدطاهر بدخشی (٦) سلطان علی کشتمند (۷) دستګیر پنجشیری (۸) شهرالله شهپر (۹) ظاهر افق (۱۰) نور احمد نور (۱۱) محمد اسمعیل دانش (۱۲) دکتور شاه ولي (۱۳) دوکتور ظاهر (۱۴) عبدالکریم میثاق (۱۵)عبدالکریم شرعی جوزجانی (۱٦) سلیمان لایق (۱۷) اناهیتا راتب زاد (۱۸) محمد حسن بارق شفیعی (۱۹) نظام الدین تهذیب (۲۰) عیسی کارګر (۲۱) دوکتور درمانګر

(۲۲) قـدوس غوربنـدی (۲۳) یاورشـیرزی (۲۴) کـریم (۲۵) دوکتـور عبدالحکیـم هـلالي.

هغه څوک چې دا خلـک لـه نـژدې څخـه پـېژنـي پوهيـږي، چـې په دوی کښې زيـاتره کسـان لـوړو او ممتـازو طبقـاتو تـه منسـوب وو، څوک د جـنرالانو او بيروکراتـانو زامـن وو، څوک د تعليـم د لـوړو درجـو لرلـو لـه املـه ممتـاز کسـان وو، ځينـي خـو هغـه قـوم تـه هـم منسـوب وو، چـې د افغانسـتان لـوړه حاکمـه طبقـه ورځخـه راوتلـې وه يـا د يـوې ډلـې لـه نظره د افغانستان نور قومونه يـې تـر "ملـي ستم" لانـدې راوسـتلي وو.

هوا! اناهيتا راتـب زاد د سـردارانو لـه طبقـې سـره مربوطـه يـوه ښځه وه. د خلکـو پـه خولـه کـښې دا خـبره پرتـه وه، چـې د شـاهي دولـت او د پرچم د ګوند روابط د دې پـه وسـيله سـاتل کـېدل لکـه چـې عظيمـي هم ليکلي دي خلق او هم پرچـم ظـاهر شـاه تـه ډاډ ورکـړی وُ، چـې پـه اردو کـښې بـه جـذب نـه کـوي کـېدای شـي د داسـې يـو اعتمـاد د برابرولو په کـار کـښې د دې نقـش ډېر مـهم وُ.

د جـنرال عظيمـي کتـاب لـه دې املـه ډېر پـه زړه پـورې دی، چـې د خلـق او پـرچـم د ګوندونـو ځينـي پـه زړونـو کـښې پـتې سـاتل شـوې خـبرې رسـوا کـوي پـه تـېره هغـه وخـت، چـې د ځان او د خپـل نـژدې ملـګري کـارمل د سـپينولو لـه پـاره پـه نـورو بـاندې د پـړې او ملامتـی اچولو هڅه کـوي. د نـور محمـد تـره کـی د مـير محمـد صديـق فرهنګ د کتاب (افغانسـتان در پنـج قـرن اخـير) پـه استناد داسـې يـو بـيروکرات بـولي چـې د پټرولـو او بـورې د انحصـار د شـرکت د پټرولـو د مديـر پـه حيث يې د پټرولو په کوپونونـو کـښې ګوتـې وهلـې پـه همدغـه سـبب لـه دې (واره دارې) چوکـی نـه برطـرف شـو بيـا مجيـد زابلـي چـې لـه ده سره قومي عزيزولي لرلـه پـه خپلـه تجارتخانـه کـښې پـه تعمـيراتي چـارو بوخت کړ. خو له هغه ځايـه څخـه يـې هـم د اختـلاس پـه سـبب وايسـته. تره کی يو ځل د ويـښ زلميـانو د غړيتـوب پـه وجـه بنـدي شـو خـو کلـه چـې د زابلـي پـه وسـيله صدراعظـم شـاه محمـود خـان تـه د ده د

وفاداری ډاډ ورکړل شو نو دی یې په واشنګټن کښې د مطبوعاتي آتشې په حیث مقرر کړ.

جنرال عظیمي د تره کي په باره کښې خپله تبصره په دې الفاظو پای ته رسوي:

" جاه طلبی و خویشتن بزرگ بینی را حفیظ الله امین در وجود او پرورش داد تا به جنون کیش شخصیت تبدیل گردید. هنگامیکه او را نابغه گفتند، ستارهٔ شرق خواندند، آموزگا ر توانا شمردند، پدر ملت خطاب کردند خود را مقدس شمرد. مغرور و مست گردید و چون کیک بزرگ را بدید و دختران در پیرامونش حلقه زدند و حوار یون آغاز به کفل جنبانیدن و کاکل شوراندن کردند فکر کرد که جهان به کام اوست و عیش تمام. هنگامی بخود آمد که همه چیز را باخته بود..

عظیمي د امین په باره کښې لیکي:

"بزودی کار ترمیم قصر دارا لامان و قصر تاج بیک پایان یافت و حفیظ الله امین قصر تاج بیک را محل کار و رهایش خویش تعیین نموده به آنجا نقل مکان کرد و قصر دارالامان را برای صدارت افغانستان اختصاص داد. دلیل این امر معلوم نبود اما می گویند امین میخواست مانند اعلیحضرت امان الله خان غازی که در اواخر پادشاهی خویش به تجمل پسندی گرایش پیدا کرده بود متمایل به ارسطو کراسی، اشرافیت و تجمل پسندی گردیده بود و در قصر مذکور مجلل ترین مهمانی ها و شب نشنیی ها را ترتیب میداد و با جلال و جبروت خاصی زنده گی می کرد.

په بل ځای کښې د ده په باره کښې لیکي چې:

"او استعداد خاصی در دگرگون ساختن تاریخ داشت به امر او تاریخ خود ساخته حزب را نوشتند و به امر او دستبرد های زیادی در تاریخ جدید کشور زدند. تجمل پسند بود و در زنده گی شخصی، زنده گی به طرز و سلیقهٔ امریکایی ها رامی پسندید وی

خود را سوویتیست میخواند و به هر کس با فخر و افاده می گفت "رفیق .. من روسی تر از شما هستم" او دشمن هزاره ها، ازبک ها بود و پرچمی هارا مانند "اودر زاده" بدمی دید و بد می گفت..."

خود ببرک کارمل په باره کښې چې د ډګر جنرال محمد حسین خان زوی وُ لیکي:

"سخنرانی های او چه در تالار شورا چه در تظاهرات خیابانی و چه در حلقات حزبی و چه از ورای امواج رادیو، هزاران شنونده را بخود می کشانید او با جسارت و شجاعت با صدای رسا و محکم و با کلمات گرم و آتشین حرف میزد. از رنجهای بیکران خلقهای ستمدیده افغانستان حکایت ها می نمود از تن بر هنه پای بخون نشسته و شکم گرسنه بینوایان قرن بیستم صحبت می کرد نان سیاه و خشک جوین را که خورش روزانه ملیونها نفر گرسنه این سرزمین بود در مجلس پارلمان از جیبش در اورده به همه نشان میداد".

خو وروسته بیا د کارمل په باره کښې د ځینو مورخینو خبرې داسې را اخلي:

"بعضی از مؤرخین او را یکی از نزدیکان و هوا خواهان ظاهر شاه یاد می کردند زیرا که روزی در شورای ملی شاه افغانستان را از جمله مترقی ترین پادشاهان جهان یاد کرده و ستوده بود که در مجله "اشترن، المانی، نیز انعکاس یافته بود. عده ای او را هوا خواه محمد داود می دانستند و میگفتند که در فراهم اوری پیروزی کودتای ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ به دستوروی پرچمیان با محمد داود کمک کردند..."

عظیمي د دې له پاره چې په افغانستان کښې د شوروی د نظامي مداخلې د مسولیت بار د کارمل له اوږې وغورځوي او د حفیظ الله امین پر غاړه یې ور واچوي لیکي چې د ځینو خپرو شویو سندونو له مخې حفیظ الله امین (۱۸) ځله په رسمي توګه د نظامي قواوو غوښتنه کړې وه. په دې اسنادو کښې د کارمل نوم قدرې نه

دی ذکر شوی. همدارنګه دی لیکي چې تر دې دمخه هم امین ځینې شوروي عسکري قطعات رابللي وو چې د بګرام په هوایی ډګر، دارالامان، تاج بیګ غونډۍ او د شوروی په سفارت کښې پلی شوي وو. عظیمي هغه پوځي قطعات چې کارمل ورسره راغی یا راوستل شو داسې توجیه کوي:

" روسها خواه نا خواه به افغانستان لشکر میکشیدند زیرا که انقلاب ثور را در خطر میدانستند و مرزهای جنوبی کشور پهناور شان نا مطمئن و نا امن اما درین میانه وجهه ملی (!) ببرک کارمل صدمه دید.."

عظیمي د نجیب په باب که څه هم پرچمي وُ، له دې امله چې پښتون وُ څه نیشدارې خبرې کوي او لیکي:

"دکتور نجیب الله از قبیلهٔ احمد زایی مربوط به قوم غلزایی بود. امتیازی که برای رهبری کردن جامعه افغانی ضروری پنداشته می شد. امتیازی دیگری نیز داشت و آن تسلط وی بر زبان دری و شناخت او از کلتور و فرهنګ شهری بود..."

په بل ځای کښې د ده په باره کښې وایي:

"نجیب به سختی بالای رفیقایش اعتماد میکرد همیشه انګیزهٔ خاصی برای بی اعتمادی داشت. جاه طلبی و قدرت طلبی یکی ازین انګیزه ها بود او برای ګرفتن قدرت و امتیاز همه چیز را فدا می کرد و به هر کاری دست میزد اګر از کسی چیزی میخواست برای بدست آوردن آن حتی از چرب زبانی و تملق ابا یی نداشت. اما همین که مقصودش را حاصل میکرد دیګر طرف را نمی شناخت. کسیکه مانع وسد راه موفقیت و پیشرفت او می ګردید روز خوب نمی دید .زیرا که به یک ضربهٔ او از میان برداشته می شد. او درین راه مصمم، قاطع و با اراده بود."

وړاندې لیکي:

"نجیب الله در آغاز مبارزه اش با خلقی ها روابط صمیما نه یی نداشت و با تعصب با آنها بر خورد می کرد. اما بعد از اشغال پست ریاست جمهوری با آنها کنار آمد و در عوض دشمن آشتی نا پذیر کارملی‌ها گردید. بطوریکه این دشمنی را پایانی نبود و هرگز بخشیده نمی شد.

هنگامیکه رئیس جمهور شد و آخرین روزهایش را می گذرانید مقدار زیاد اسعار خارجی را به هندوستان ذریعهٔ خانمش انتقال داده بود."

عظیمي د دې له پاره چې د نجیب طبقاتي ماهیت وښیي لیکي: "نجیب الله با دختری از فامیل سراج که با خانواده شاهی پیوند داشت آشنا گردید. و با وی ازدواج کرد. اسم این دختر فتانه بود...."

دی د نجیب په خاص استعداد، هوښیاری او زیرکی او پخه سیاستمداری ستړکې نه پټوي وایي چې ده د خلکو روانشناسي په نظر کښې لرله او د حزب د لویو اشتباهاتو په باره کښې یې سپینې خبرې کولی او د خلکو مظلومیت یې په دقیقو او شمېرلو کلماتو کښې په ډېره ښکلې پیرایه کښې څرګنداوه.

د نجیب پر مختلفو اړخونو باندې د رنا اچولونه وروسته د ده په باره کښې د عظیمي وروستنی حکم دا دی چې دی د بیلا بیلو خصوصیاتو په وجه یو " مرکب معجون" ؤ، هغه څه چې عظیمي په "مرکب معجون" تعبیر کړی دی زمور د روانې خیړنې د "توقعاتو د جګړې" خصوصیات څرګندوي دا خصوصیات یوازې دنجیب د شخصیت په باره کښې صدق نه پیدا کوي بلکې لکه چې د جنرال عظیمي د کتاب له مطالبو په تېره له هغو برخو څخه چې مور لومړی د ضرورت په اندازه کټ مټ رانقل کړې دي، له ورایه څرګندیږي.

مثلاً نور محمد تره کی د شپانه زوی ؤ لږ تعلیم یې کړی ؤ خو زحمت یې ایستلی ځان یې یو څه رسولی دی، د کابل د میرزایانو

یـا اوسـنیو بیروکراتـانو پـــه اصطـــلاح پـه "واره دارو چوکیـــو" ناســـت وٴ داسې معلومیـــږي چـې پیسـې هـم لاس تـه ورتللـې د "دریـځ بـې ثباتـی" دی مجبوراوه، چـې هـر بـوتې تـه لاس واچـوي پـه ویـښو زلمیـانو کـښې ورکډ شـو. د دربـار سـره یـې وفـاداري څرګنـده کـړه، د هغـــه وخـــت د معیـارونو لـه مخـه د لـــورٔ "حیثیـــت" خـــاوند شـــو پـــه امریکـــا کـــښې د مطبوعاتي آتشـــې پـه تـــوګه مقـرربدل هـم اوس او هـم هغـه وخـت لـورٔه چوکـی وه خـــو د "ډبر قـدرت" فقـدان پـــه ده کـــښې د توقعـــاتو جـــګړه تونـده کـړه زمـانې هـم پـه غورځونـو کـښې دا خـبره ورځځولـې وه، چـــې سوسیالیزم پیـاوړي قـدرت تـه د رسـیدو ډبره مادرنـه ذریعـه ده.

بـبرک کـارمل د یـو جـنرال زوی وٴ، د سـردارانو لـه خـپل څخـه یـــوه ښځه اناهیتـا یـې د مبـارزې شـریکه او ملګرې وه، لـه دربـاره ســـره یـــې هم رابطـه ښه وه، دومـره ښه وه چـې ظـاهر شـاه یـې د نـړۍ لـه مـترقی پـاچاهـانو څخـه بالـه، ٴ ده هـم لـورٔ تحصیـلات سـرته رسـولي وو خـــو دا ارمان یې په زړه کښې وٴ چې پـــه ارګکـښې کښینـي یـا پـاچـا دې وي خـو نوم یې دی انقلابي رهـبر هـم وي. پـه یـو انګریـزي هـنري فلـم کـښې د اشرافو په کورنـــی کـښې د محصـورې یـوې شـهزادګۍ پـه ضمـیر کـښې د "توقعـاتو جـګړه" ډبره ښه تمثیـل شـوی وه پـه داســې ډول چـــې دا لـــه شـاهي قصـر څخـه ووتلـه څو شـپې ورځې یـې د خوارانـو پـــه جونـــګړو کـښې تـیرې کـړې او لـه یـو ډول آزاد ژونـد څخـه یـې خونـد اخیســـت. ښاغلـي عبدالحمیـد مبـارز پـه خپـــل کتـــاب (حقـایق و تحلیـــل وقـایع سیاسی افغانستان) کـښې لـه ظـاهر شـاه سـره د ده د سـلطنت پـه مـوده کـښې د یـوه ملاقـات، یـوه ډبره پـه زړه پـورې خـاطره لیکلـې ده. هغـــه وخـت ظـاهر شـاه ده تـــه ویلـــي وو، چـــې لا تنکـــی ځوان وو، چـــې د سلطنت درونـــد بـار یـې پـه اوږو اچـول شـوی وٴ او تشـریفاتي ژونـد د ده عـادي آزادی محـدودې کـړې وې. لکـــه څنـګه چـــې شـــهزادګان پـــه شـاهانه ژونـد کـښې یـو لـــړ قیـــود، ســـتومانی او نارامـــی احساســـوي د اشراف زاده ګانـــو هـم حـالت همداسـې وو.

یقیناً یو اشراف زاده هغه وخت روحاً آرامي احساسوي، چې د خلکو په ګڼه ګونه کښې ټولې سترګې د ده خوا ته کړې شي او چک چکې ورته وشي یا په پارلمان کښې له خپل جیب څخه د وربشو ډوډۍ راوباسي او خلکو ته یې وښیي په شد او مد وینا وکړي او ووایي "وګورئ د افغانستان خوار او خواریکښې خلک دا ډول ډوډۍ خوري"

په همدې توګه حفیظ الله امین هم له هغو بختورو کسانو څخه وُ، چې هغه وخت یې له امریکا څخه ماسټري (ایم، اې) ترلاسه کړې وه، چې ډېرو افغانانو ته د پوهنځیو ویلو چانس موجود نه وُ، خو دې علمي درجې ده ته د ده د توقعاتو سره سم مقام نه ورکاوه معلمي، د لیسې مدیریت او بالاخره د پوهنې وزارت د ده د تصور د پاچاهۍ نه ډېر ټیټ موقعیتونه وو. د دریځ بې ثباتۍ د ده په طوفاني انقلابي ضمیر کښې د توقعاتو سخته جګړه را پیدا کړې وه. یوې هیلې د ده نور توقعات تر پښو لاندې راوستل دا هم عجیبه هیله وه د خواریکښانو په اوړو پورته کېدل د تاج بیک او دارالامان په شاهي مانیو کښې له خوندونو او عیاشیو څخه ډک ژوند تېرول.

په دې ډول نور هم داسې انقلابیان وو، چې یا شته منې، یا پرستیژ او یا قدرت د دوی یو، یو اړخ له لوړو طبقاتو سره نښلولی وُ خو په نورو ابعادو کښې یې د دریځ بې ثباتیو ځورول مګر د انقلابیانو اکثریت هغه خلک وو، چې زیاتره یې لوړو طبقاتو ته نه وو رسیدلي تلوسه یې دا وه، چې دوی هم لوړو مقاماتو ته ډېر ژر ورسیږي دې تلوسې د دوی ترمنځ سخت رقابتونه او سیالۍ را پیدا کړې وې، چې د ټولنپوهانو له نظره د تعصباتو له سترو عواملو څخه بللې شوې دي. عظیمي لیکي کله چې نجیب د خاد رئیس وُ او ګلاب زوی د څارندویو لوی قوماندان وُ، د دوی ترمنځ رقابتونو د همکاریو ځای نیولی وُ همدارنګه اسدالله سروري زیاته هڅه کوله چې روسان دی د ببرک کارمل په ځای ولګوي.

د توقعاتو جګړو انقلابي دولت (!) مجبور کړی وٴ، چې د وزارتونو او ریاستونو شمېر زیات کړي خبره حتی دې حد ته ورسېدله، چې په یو دولت کښې دوه صدراعظمان وټاکي، چې یو به په جنوبي افغانستان (!) کښې او بل به په شمالي افغانستان (!) کښې کار کوي. دوی یوازې د یو شمېر سکتوریستانو د تسکینولو له پاره دا کار نه کاوهٴ، بلکې یو بل لوی هدف یې ناراضه خلقیانو او پرچمیانو ته د وزارتونو او ریاستونو ډېرول هم وو.

په رښتیا چې انقلاب عجیب موجود وٴ. ډېر زیات چوچیان یې زیږول او ډېر ژر یې لویول او بیا یې ژر، ژر په خپله خوړل.

عظیمي د جورج آرنی د کتاب څخه یو مطلب داسې را اخیستی دی:

" دیپلومات های غربی اکثر آدم کشی ها، انفجار بم هایی را که در شهر کابل صورت میگرفت به رقابت های دو جناح حزب برسر اقتدار نسبت میدادند نه به مجاهدین. بین جنوري ۱۹۸۰ و فبروری ۱۹۸۱ دیپلوماتها افواه هایی را هم گذارش دادند که طبق آنها پلان چهار کودتای خلقی ها کشف گردید". دی په داسې حال کښې چې د دغو ادعاګانو د رښتیا یا دروغ بللو څخه ډډه کوي دا خبره کوي چې :" اما بدون تردید هر دو جناح برای بدنام ساختن یک دیگر و گرفتن کریدت به نزد روسها از تمام انواع و اقسام مبارزه استفاده میکردند."

هوا! د انقلاب سره چرګه ډېره فعاله وه سره د دې چې خپل ډېر جوچیان یې تر پښو لاندې کول یا یې په خپله خوړل نور نوریې هم را پیدا کول او د جنګ کولنکي چرګان یې ورځخه جوړول او په نتیجه کښې د نور محمد تره کی توریالی پرولتاریا دومره ډېره لویه او دومره چاغه شوه چې نوره د نظامي تشکیلاتو په چوکاټ کښې نشوای ځایېږلای. غونښتل یې، چې په ټولو ځایو باندې خپله خیټه واچوي هغه وخت چې نجیب د تیښتې لاره نیولې وه نو په خپله د

"اردو سیاست " د کتاب لیکوال ستر جنرال محمد نبي عظیمي یوې پېښې سخت ځوروونکی وۀ او هغه لکه چې ده په خپله لیکلي دي دا وه:

"عبدالرحیم هاتف بحیث سرپرست ریاست جمهوری از طرف بیروی اجرائیه حزب برګزیده شد. اګر چه هاتف شخص هوشیار ، با تجربه، کاردان و محترمی بود اما اویک فرد ملکی و غیر نظامی بود تعیین او بحیث سرپرست دولت و قوای مسلح کشور در آن موقع حساس یک اشتباه تاریخی بود.."

له دې لیکنې څخه وروسته په خپله دا حقیقت څرګندیږي، چې د میلتاریزم بنامار خلقي دولت په خپله کلچه کښې داسې راوستلی وۀ، چې یو څه ورځخه لوړ شوی هم وۀ او د دولت ترځنګ یې دا ردو په نامه یو بل طاقت، چې له دولت سره هم رقیب واقع شوی وۀ جوړ کړ، ځکه خو عظیمي د "سر پرست دولت " په ځای "سرپرست دولت و قوای مسلح" عبارت په کار اچولی دی.

باید وویل شي، چې د نور محمد تره کی نه نیولي تر نجیب پورې د خلقي دولت د مشرتوب مقام ملکي کسانو ته سپارل شوی وۀ او هر ملکي سړی د وسله والو قواوۀ عمومي قوماندان هم بلل کېده. له دې څخه معلومیږي چې د ماشیني منصبدرانو د ډېرښت په سبب له پوځ څخه تر دولت لوړیو بل طاقت هم جوړ شوی وۀ.

البته عظیمي د دې خبرې په لیکلو سره غوښتې دي، چې ووایي که چېرې د دولت او وسله والو قواوو په سر کښې یو عسکري څوک پاتې وای نو ده به د افغانستان اردو له تجزیې څخه بچ کړې وای خو لکه چې له حقایقو څخه څرګندیږي د تنې د ناکامې کودتا نه وروسته "نظامي قدرت" پتې او بنکاره نورې چړې هم خوړلې وې، ځکه چې د اردو غټو غټو جنرالانو په پته کښې د خپلو ځانونو د ساتنې له پاره جهادي تنظیمونو ته لاړې ایستلې وې نو په اردو کښې دمخه هم درزونه پیدا شوي وو.

کـه مـورِ د عظیمـي دې ډول څرګندونـو تـه د ټولنـیزې سـا پوهنـې د یـو مـاهر چـــارلس او جـــیریس (Charlis Ar gyris, 1975) د تیورۍ پـــه رڼا کـښې وګورو نـو "د ثـور انقـلاب" د انحصـار او رقـابت هغـه درنـه پـښه وه چـې د افغـاني ټولنـې پـه مـرۍ بـاندې ایـښودل شـــوې وه البتـه دا د سـرمایه داري نظـام درنـه پـښه نـــه وه بلکـــې د ملیټاریـــزم او بـیروکراتیزم دوې غـبرګې پـښې وې، چـې فشـار یـې ټولنـې تـه ســـالنډې اچولې وه. دا دومـــره خطرنـاک اختنـاق ؤ، چـې نـور خـو نـور د عظیمـي غوندې انقلابیون یې هـــم پـه فریـاد راوسـتلی وو.

د رقـابت او انحصـار کینـه نـــاک اوښ اســلامي تنظیمونـــه هـــم تـــر خپلـې خیـټې لانـدې اچـولي وو. پـه پاکســـتان کـــښې لـــه جـــور شـــویو تنظیمونوڅخـه هـر یـوه یـې هـڅه کولـه، چـې قـدرت پـه خپـل انحصـار کـښې ولـري تـردې چـې ټول ملـت یـې د ملـي واکمنـۍ لـه حـق څخـه محـروم کـړی و لکـه څنـګه چـې د کـــابل پـــه ښار کـــښې د خلقیـــانو او پـرچمیـانو ترمنـځ خونـړی جـګړې کېدلـې همدغسـې رقـاپـت او سـیالیو مجاهدین د جهاد په سـنګرونو کـښې یـو د بـل سـره جنـګول.

لکـه څنـګه چـــې د ســیالیو پـــه ســختو مرحلـــو کـــښې خلقیـــانو او پـرچمیـانو طبقـاتي مبـارزه هـېره کـړې وه او د ډاکـټر نجیـب پـــه قـــول خلکـو پـه تـېره خواریکـښې طبقـې تـه یـې د ډوډۍ پـــر ځای ګولـــۍ، د کـــالیو پـــر ځای کفنونـــه او د کورونـــو پـــر ځای یـــې ګورونـــه ورکـــړل هماغسـې سـیالیو د اسـلامي تنظیمونـــو د اســلامي اصـــولي جـــهاد پـــه مـاهیت کـښې ډېر زیـات تغیـــیر راووســـت د دوی او د خلقیـــانو ترمنـــځ نظریـــاتي او عقیدتـــي پولـــې ورو- ورو نـــرۍ شـــولې. د خلقیـــانو او پرچمیانو بیلا، بیلو ګروپونو هـڅه وکـړه چـې پـه مخـالفو تنظیمونـو کـښې دوستان پیدا کړي او مجـاهدو تنظیمونـو هـم هـڅه کولـه چـې پـه چپـې ګروپونـو کـښې داسـې کسـان پیـدا کـړي، چـې لـه دوی سـره د دولـــت وسلې او د قدرت ګټلـــو وسـیلې شـریکې کـړي.

نتیجه څه وه؟ بس دا چې د دواړو خواوو قدرت غوښتونکو او جاه طلبانو د مسلمانانو او خواریکښانو په سرونو اورونه بل کړل او د جګړو په همدې لمبو کښې یې کینې پخې کړې، چې عجیب او غریب تعصبات ورڅخه پیدا شول.

افغاني ټولنه او تعصبات

ټولنپوهان د داسې يوې ټولنې له پاره چې بيل، بيل قومي يا نژادي ګروپونه يې په يو له بل سره د ورور وليو په بيلو، بيلو تنو او تنستو سره او بدل شوي يا ګنډل شوي وي د موزائيک (Mosaic) اصطلاح په کار اچوي. خو مور د دغسې يو په زړه پوري او ښکلي اجتماعي ماهيت له پاره يوه ډېره ښه اصطلاح لرو چې هغه زمور د اجتماعي ژوند او ملي فرهنګ سره په هر لحاظ مناسبت لري. دا اصطلاح د "غالۍ نخچ " يا "نقش قالين" ده يقيناً چې په افغانستان کښې بيل،بيل قومونه او نژادونه د غالۍ د نقش په څېر يو له بل سره او بدل شوي دي. زمور په تاريخي هېواد کښې داسې ولايت نشته ، چې په هغه کښې د افغانستان بيل ،بيل قومونه په لږ يا زيات شمير کښې موجود نه وي دا قومونه له ډېرو پخوانو زمانو څخه يو د بل تر څنګ نژدې پراته دي. دې قومونو اوس خپل نژادي خصوصيات تر ډېره حد دلاسه ورکړي دي او هېڅ قوم داسې ادعا نشي کولای چې نژادي خالص دی يوازې ځينو کلتوري مشخصاتو هغوی د قومونو په ښه په نخښه کړي غوندې دي. دا کلتوري

مشخصات هم د افغانانو د عمومي او شريک کلتور د داسې اجزاؤ بڼه لري، چې د سوسيولوجي په ژبه فرعي يا ضمني کلتور (sub-culture) بلل کيږي. دا قومي تنوع چې زياتره جړې يې سره شريکي دي، يوازې زمونږ له پاره نه بلکې د خارجي هېوادو د څيړونکو له پاره هم ډېره په زړه پورې وه او ده په ربنتيا چې د داسې يو هېواد کلتور چې د تمدنونو د تقاطع او تشعشع ځای لقب يې ګټلی وي ډېر مهم او په زړه پورې دی، چې يو له بل سره اوبدل شوی او ګډل شوی اجزاء لري.

بايد ووايو،چې د څيړنو کار د خولې د خيرو په څير آسانه او ساده نه وي. د دقيقو احصائيو نشتوالی د افغاني او خارجي محققينو کار له ډېرو ستونزو سره مخامخ کړی دی. خدای شته زمونږ يو شمېر ځوانانو په ټولنپوهنه کښې بڼه تعليمي سندونه ور سره کافي پوهنه ترلاسه کړې وه خو د دوی له پاره داسې امکانات ډېر کم وو چې کلي په کلي وګرځي او د افغاني ټولنې اجتماعي خصوصيات له نژدې څخه مطالعه کړي.

زمونږ د جهاد لسيزې نه يوازې نسبتاً راکده افغاني ټولنه د ولاړو اوبو په څير وچړپوله بلکې ټوله سيمه يې هم داسې وخوځوله چې په ځينو ځايونو کښې يې د نړۍ نقشه بدله کړه. مونږ دلته د نورو په باره کښې ډېرې خبرې نه کوو غواړو، چې د خپلې خوځيدلې افغاني ټولنې نتيجې په تيره هغه پايلې تر غور لاندې ونيسو، چې زمونږ له دې څيړنې سره اړيکي لري.

ماته شخصا ډېره په زړه پورې موضوع دا وه ،چې په پکتيا کښې د ځدرانو عنعنوي ميلمه پالنې هزاره ګان، پښتانه، ازبکان، تاجيکان په يوه دسترخوان لکه د يوې مور د زامنو په توګه راغونډول. کله چې زه د ګران هېواد څخه په مهاجرت راوتلم دوې شپې د ځدارنو په کليو کښې پاتې شوم. په دې موده کښې به د هر مانښام د لمانځه نه وروسته په ځدرانيلهجه کښې راته ويل کېدل "وشوه! ته

به له ما سره څې" په دې توګه به په جومات کښې تقريباً ۴۰-۵۰ تنه ستړي ستومانه مسافر (مجاهدين يا مهاجرين) په کورونو کښې ويشل کېدل او هر چا به په برخه کښې ور رسېدلي ميلمانه خپلو کورونو ته بيول او په خپل کور کښې به يې ډوډۍ ورکوله. ما به کتل، چې په يو دسترخوان هزاره، ازبک ،تاجيک او پښتون راغونډ کړی شوي دي.

ځدرانې له دې امله ډېر بې شتو خلک دي، چې زراعتي ځمکې نه لري ځنګلونه يې حتی د جهاد په لومړنيو کلونو کښې ډېر لغړ شوي ښکاربدل، دوی د خپلو ځوانانو يوه برخه د جهاد له پاره چمتو کړې وه او بله برخه يې د خليج هېوادو ته د مزدورۍ له پاره استوله، دوی له مزدوريو څخه لاس ته راوړې ډوډۍ د افغانستان له ټولو قومونو سره شريکه کړې وه. د جهاد په موده کښې به د ځدرانو ټول جوماتونه د مسافرو څخه ډک وو ځکه د افغانستان د زياتو برخو مجاهدين يا مهاجرين د ځدرانو په دره کښې تېرېدل، هغه وخت د سالنګ لاره بنده وه د شمالي صفحاتو خلک به هم د هزاره جات، وردګو، لوګر يا خروار له لارو تلل او راتلل، د انسانانو دا لوی، لوی بهيرونه به زياتره د ځدرانو په درو کښې سره يو ځای کېدل په دې خلکو کښې به هر قوم او قبيلې ته منسوب کسان لکه ازبکان، هزاره ګان، تاجيک او پښتانه شامل وو. زما له پاره ډېره عجيبه خبره دا وه ،چې هزاره ګان څنګه دومره منل شوي وو چې د ځدرانو په جومات کښې واړوي ځکه ما اوربدلي وو چې هزاره ګان د ځدرانو له نظره کافران وو خو اوس دوی پر يوه دسترخوان او په يوه لوښي کښې له دوی سره ډوډۍ خوړله. سړی چې خپرې شوې اوازې د اصلي حقايقو سره مقايسه کړي نو پوهيږي، چې د افغاني ورونو قومونو ترمنځ د کرکو او بدبينيو د راپيدا کولو له پاره ډېر کوښښونه شوي وو، لا روان دي کيږي.

په هر حال دا يوازې ځدرانې نه وو، چې د افغانستان د بيلو، بيلو قومونو د ميلمه پالنې ويارپې درلود بلکه د جهاد په موده کښې د ټولو لويو مشهورو لارو په څنګ کښې پرتو قومونو خپلې دودې او خپل دسترخوان له هزاره ګانو،تاجيکو، پښتنو ، ازبکو، نورستانيو، بلوڅو او نورو قومونو سره شريک کړی دی.

د دې ليکنې په يوه تېره برخه کې، د هغو مطالعاتو له مخې، چې يو زيات شمېر ټولنپوهانو کړې دي، داسې يوه نتيجه ترلاسه شوې وه، چې په امريکا کښې د تعصباتو تر ټولو لوی عامل "سيالي او نا برابري" ده. خو که په افغانستان کښې همدومره ټولنپوهان همدومره زيات مطالعات وکړي زه باور لرم چې کټ مټ هماغسې نتيجه به ورنکړي چې په امريکا کښې يې ورکړي ده. دا ځکه چې زمور په هېواد کښې "اقتصادي رقابت" خپل ځای تر دېره حده اخلاقي سيالي ته ورکړی دی. په افغانستان کښې هر يوه کوښښ کړی دی چې د خير اوښيګنو په کارونو کښې ځانونه دمخه کړي. بنايي ځينې کسان دا فکر وکړي، چې افغانستان پانګه واله وده نه وه کړی چې "اقتصادي رقابت" ته يي کم ارزښت ورکړی دی. البته هغه وخت چې د جهاد په ماهيت کښې تغيير راغی،د هېواد په ځينو برخو کښې دا جاري او ټيکې جګړې زياتې شوې نو له بده مرغه په ملي اخلاقو کښې هم تغيرات راغلل ورسره ورو،ورو د افغانستان د قومونو ترمنځ د تعصب تورې کرښې وايستلې شوې.

د يو بنه چانس له مخه ما د هېواد په شمالي، جنوبي او هم په شرقي برخو کښې تقريباً درې کاله د اطلاعاتو او کلتور د چارو مسوؤليت په غاړه لرلی دی. زه دا منم چې زما د کار په دې موده کښې ما داسې معلومات نه دي ترلاسه کړي، چې د اجتماعي قضاياوو په تحليل کښې زيات علمي ارزښت ولري سره د دې هم د فارياب، ننګرهار او پکتيا په ولاياتو کښې زما مطالعاتو او مشاهداتو د افغانستان د ټولنې په اجتماعي واقعيتونو څه نا څه پوهولی يم. ما

چې په دې دريو ولایاتو کښې د خپلو مطالعاتو او مشاهداتو څخه کومه کلي نتیجه ترلاسه کړې ده دا ده چې په افغانستان کښې بیلا بیل قومونه په یو باغ کښې د ډول، ډول ګلانو د غوړېدو خوند او کیفیت لري، چې هر ګل یې د ستاینې او کتنې وړ دی. دغه قومونه یو کلتور روزلي او پاللي دي او مشترک تاریخ لري که څه هم په افغانستان کښې قومي تنوع شته خو په عمده خصوصیاتو کښې یو شان والی لري. ټول افغانان تقریبا یو ډول جامې اغوندي. ډېره جالبه خبره دا ده، چې د ځینو ولایاتو د جامو ځینې برخې د یو بنه مودې او فیشن په ټوکه زیاترو افغانانو اغوستې دي د مثال په ټوکه د شمالي ولایاتو چپنه یا جیلکه د افغانستان په زیاترو جنوبي برخو کښې هم اغوستل شوې ده په تېره بیا زیاترو کسانو د جمعې د لمانځه ادا کولو په وخت کښې په اصطلاح د یوې سنګینې او صوفیانه جامې په ټوکه اغوستې ده. همدارنګه د مشرقي ولایاتو پکولي خولی تر ډېره وختې په تېره د جهاد په وختونو کښې د زیاترو افغانانو د ویاړ تاج ګرځېدلې ده. همدارنګه په ملي ورځو کښې د افغانستان د بیلو بیلو سیمو خلکو د پکتیا او غربي ولایاتو خاص کوڅې ګان اغوستي دي او خپل ډېر بنه یادګاري عکسونه یې پکښې اخیستي دي.

زه دانه وایم، چې د افغانانو ترمینځ د ژبې، مذهب او نژادله املې اختلافات نشته خو دا اختلافات لکه څنګه چې زمور ملي دښمنانو فکر کړی دی دومره ژور نه دی. د دې خبرې د سپیناوي له پاره غواړم چې دوه یو د بل ترڅنګ پراته قومونه، هزاره او وردګ یو د بله سره د قضیې د مطالعې (*case study*) په اساس مقایسه کړو.

بنایي د څېړنې دا مقایسوي میتود د دې لیکنې علمي اړخ هم څه نا څه پیاوړی کړای شي.

زه په خپله په قوم وردګ یم ما د خپل ماشومتوب یوه مرحله په داسې یو کلي کښې تېره کړې ده، چې د وردګو او هزاره جات ترمینځ بیلوونکې کرښې ته ډېر نژدې پروت دی. دا کلی د وردګو د جغتو د النې کلی دی، چې یو وخت زما مرحوم پلار هلته د امامت او تدریس په چارو بوخت وُ. د هزاره ګانو یوه هدیره کلي ته ډېره نژدې جوړه شوې وه. کله چې به دوی خپل مړی خښولو نو د النې د کلي سپین ږیري به هم د غم شریکې له پاره ورتلل خو مور ماشومان به هم ورسره تللو ځکه چې هزارګانو د مړي د خښولو نه وروسته په خیرات کښې وچې میوې ویشلې او هغه زمور ډېرې خوښیدلې.

د وردګو او هزاره ګانو ترمینځ تجارت به ډېر ښه روان وو له همدغه امله به زمور د قوم خلک هزاره جات ته تلل او د هغه ځای خلک به زمور سیمو ته راتلل. که څه هم دا تګ او راتګ آزاد او بې خطره وُ سره د دې هم په خلکو کښې یوه وېره پرته وه او هغه دا وه که کوم سني په داسې حال کښې هزاره جات ته لاړ شي، چې هلته دوست او آشنا ونه لري نو هزاره ګان یې داسې وژني چې له پوستکی څخه یې یوه یوه تسمه وباسي. له نن څخه تقریباً پنځه کاله دمخه زما یو هزاره ملګري مرتضی په معکوس ډول دا خبره کوله او ویل به یې،چې د هزاره ګانو ذهن ته دا خبره رسولی شوې وه، چې که چېرې کوم هزاره د سنیانو په ټیره د پښتنو په سیمه کښې دوست او ملګری ونه لري نو سنیان د هغه له پوستکي څخه تسمې وباسي او په ډېر کړاو یې وژني کوم پښتون یا هزاره به چې دا ډول آوازې د یو بل غوږونو ته رسولې د پېښو شو اهدبه یې نه لرل داسې معلومیږي، چې خارجي خیرنو ذهنیتونو په پښتنو او هزاره ګانو کښې د کینو پخولو له پاره دا ډول آوازې د دواړو قومونو د افرادو په خولو کښې اچولې.

حقايق له آوازو څخه ډبر مهم او خوندور دي. د وردګو د ژمي د پيتاوونو په مجلسو کښې هغه په زړه پورې خاطرې تکراربدلې چې د اعليحضرت امان الله خان په ملاتړ د وردګو له مبارزې څخه ورته پاتې وې. په دې مبارزه کښې وردګ او هزاره په يو صف کښې دريدلي وو. د جګړې په ډبرو بدو شرايطو کښې به يو قوم بل قوم ته خپلې ښځې، ماشومان استول ځکه په وردګو کښې د هزاره او په هزاره ګانو کښې د وردګو ښځې او ماشومان ډبر خوندي ؤ او دواړو قومونو د ننګ او غېرت په باره کښې ګډ معيارونه درلودل.

کله چې زه د ځوانۍ مرحلې ته نژدې کېدلم يوې بلې پېښې هم د دواړو ګاونډيو قومونو ترمنځ د صميمانه اړيکو ډبر ښه مثال وراندې کړ. هغه دا وه چې د حکومت او هزاره ګانو ترمينځ يوه خوابدي پېدا شوې وه حکومت فکر کاوه، چې هزاره ګانو بغاوت کړی دی هغه وخت د مخالفينو مشر د "ګاو سوار" په نامه شهرت درلود. د کابل والي مرحوم محمد اسمعيل مايار چې په خپله هم په قوم وردګ ؤ د حکومت تر غوږ دا خبره ورسوله چې کولای شي د خپل قوم څخه يوه جرګه جوړه کړي او هغه جرګه د حکومت او هزاره ګانو ترمينځ روغه جوړه وکړي همداسې وشول د وردګو يو شمېر سپين ږيري هزاره جات ته لاړل او د حکومت او هزاره خلکو ترمينځ يې مخالفتونه له مينځه يوړل او جنګ ته ضرورت پېښ نشو.

کله چې زه په خپله د سواد څښتن او د تاريخ سره آشنا شوم نو په يو بل ډبر په زړه پورې او مهم حقيقت وپوهېدم هغه دا و،چې هزاره ګان له ايران څخه د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو په لويه تاريخي مبارزه کښې د هوتکو پښتنو ترڅنګ ولاړ وو. ظاهراً هغه وخت له ايراني حکومت سره د هزاره ګانو مذهب، ژبه حتی نژاد شريک ؤ ځکه چې صفويان اصلاً ترکان وو او په نژادي لحاظ هزاره ګانو ته نژدې هم وو.خو شريک سرنوشت او ګډ وطن هزاره ګان د پښتنو ترڅنګ درولي وو. په ځينو تاريخي کتابونو کښې راغلي دي،

چې يو ځل هوتکي شاه محمود د ايران له صفوي پاچا سره روغې جوړې ته نژدې شوی وٴ خو هزاره ګانو د دغه کار سلا ورنکړه او شاه محمود ته يې مشوره دا وه چې د ايران پاچا بايد خپله لور شاه محمود ته ورکړي او بيا دې روغه جوړه وشي. د شيراز ښار زبردست خان هزاره فتح کړی وٴ.

مرحوم غبار په "افغانستان در مسير تاريخ" کښې خو ځله دا خبره نکرار کړې ده، چې هزاره قوم که له يوې خوا د ايراني عمالو تر فشار لاندې وٴ نو له بلې خوا خپلو فيوډالانو هم وربانديې د ژوندانه ساحه ډېره تنګه کړې وه نو دوی په افغانستان کښې د مرکزي پيارې دولت او د افغانستان د ملي خپلواکۍ د ډېرو کلکو طرفدارانو څخه وو همدا سبب دی، چې دوی د ملي دولت په جوړولو کښې د احمد شاه بابا سره د زړه د اخلاصه مرستې کړې دي.

د مستبديا پولادي امير عبدالرحمن په زمانه کښې د ملوک الطوايفۍ سيستم د ختمولو په جريان کښې د افغانستان ډېر قومونه او قبائل وځورول شول، خو د دوی په جمله کښې هم په هزاره ګانو او هم په وردګو د فشار درجه زياته وه د هغه وخت مهم سياست پوهان او د جهاد تکړه جنرالان لکه مستوفي حبيب الله خان، غازي محمد جان خان او جنرال غلام حيدر خان په قوم وردګ وو دوی له اوله دا شک درلود چې امير عبدالرحمن د انګريزانو په کومک راغلی او پاچا شوی دی. تر دې چې دغو شخصيتونو پخوا له هغه چې عبدالرحمن خان پاچاهۍ ته ورسيږي، هڅه کوله چې د ده د اقتدار او نفوذ مخه ونيسي. کله چې عبدالرحمن خان پاچاهۍ ته ورسيد نو دغه ملي او سياسي شخصيتونه يې شهيدان يا فرار کړل. د جنوبي پښتونخوا د کوټې د ښار يو پخوانی ښاروال سردار محمد ايوب خان وردګ او د ده په څير نور وردګ چې د پاکستان په حکومت کښې د لوړو رتبو او مقاماتو خاوندان شول د هغو کورنيو له

بقایاوو څخه دي چې د عبدالرحمن خان په وخت کښې د خپل هېواد څخه ایستل شوي او ځمکې یې د نورو قوموونو خلکو ته ورکړل شوې دي.

د وردګو په څیر ډېرې داسې هزاره کورنۍ هم د کوټې په ښار کښې لیدلې کیږي، چې د عبدالرحمن خان حکومت راشړلي یا دوی په خپله تیښتې ته مجبور شوي دي. مرحوم غبار لیکي، چې یو شمېر هزاره فیوډالانو غوښتل چې د دغه زیارکښې قوم خلک د افغانستان له اردو او دربار څخه جلا وساتي څو دوی د خلکو په یې رحمانه استثمار کښې پوره آزاد لاسونه ولري. له دې څخه څرګندیږي چې له یوې خوا امیر عبدالرحمن خان سخت استبدادي مزاج درلود له بلې خوا هزاره اربابانو یا د غبار په ژبه فیوډالانو غوښتل، چې د هزاره ګانو د ځپلو او زبیښلو له پاره زیات واک ولري له همدغه املې د هزاره ګانو او عبدالرحمن خان د حکومت ترمینځ دښمنې ډېره سخته شوه.

د حزب وحدت مشر عبدالعلي مزاري په خپله هغه وینا کښې چې په چندولو کښې یې کړې وه او د طلوع وحدت اخبار په خپله ۱۳۷۱، لمریز کال د دلوې د میاشتې (یا د دوهم کال په ۲۲) ګڼه کښې ټوله خپره کړې ده، په دې موضوع پوره رڼا اچولې ده، ده په دې وینا کښې ویلي دي، چې امیر عبدالرحمن خان د افغانستان د هرې برخې قومي مشران خپل حضور ته ورغوښتي او هغوی ته یې د افغانستان په باب معلومات ورکول. مثلاً ده دغو مشرانو ته د افغانستان څلور خواوې وروښودلې او د هغو هېوادونو نومونه یې واخیستل چې له افغانستان سره یې شریکه پوله لرله خو کله چې امیر وویل چې د افغانستان په غرب کښې ایران پروت دی نو یو هزاره په امیر غږ وکړ چې": امیر! تو اشتباه میکنی سرحد غربی افغانستان با یران نه بلکه به هزاره جات منتهی میشود..."

کـه خـبره داسـې وه نـو د خونړيـو پـېښو او د هــزاره ګانــو د ځپلــو ټول مسئولیت یـوازې د امـیر عبدالرحمـن پـه غــاړه نــه بلکــې د هغــه وخت د هـزاره اربابـانو پـه اوږه لویـږي ځکـه لکـه چـې وروسـتنیو پـېښو وښودلـه زمـوږ هـزاره ورونو لـه پخـوا راهیسـې ځینـې مشـروعې مطــالبې لرلـې او لـري یـې ، خـو هیڅکلـه یـې د هـېواد د تجزیـې ملاتـړ نــه دی کـړی او کومـو هـزاره سیاسـتمدارانو چـې پـه دې بـاره کــښې پــټ یــا ښکاره خپل نظریات یـا خیـالات ښکـاره کـړي دي، پـه هغـو کـښې یـې د ټولو هزاره ګانو د فکــر او احساس نمـایند ګي نـه ده کـړې.

زمــا لــه نــه هېرودونکــو خــاطرو ځخــه یــوه دا ده ، چــې زه د دیموکراسـۍ پـه لسـیزه کــښې د عاشــورې د مراســمو پــه یــوه ورځ د جمـال مینـې تکیـه خـانې تـه ورغلـم، زمـا یـو ملـګری هـزاره قربــانزاده چې هغه وخت یې له ما سره پــه یـو دفـتر کـښې کـار کـاوه زمـا لـه ورتـګ ځخـه ډېر خوشـحاله شـو همدارنـګه د ولسـې جـرګې یـو وکیـل اسـمعیل مبلغ چې د چا خبره مــا ورسـره (سـلام علیـک) درلـود زمـا د دغـه ورتـګ ډېره قدردانـۍ وکـړه.

زه چې له تکیه خانې ځخه وتلـم داسـې فکـر راتـه پـېدا شـو چـې کـه چـېرې د پښتنـو ملـي مشـران د عاشـورې پـه ورځ د جمـال مینــې تکیــه خانې تــه ورشـي نـو د دغـه کـار نتیجـه بـه د ملـي وحـدت د لاټینـګښت له پاره ډېره ښه وي. بــس نـور کارونـه مـې پریـښودل لـه همـاغـه ځای نـه نیغ د افغان ملــت د ګونـد دفـتر تـه ورغلـم او لـه دوی نـه مـې وغوښتـل چـې د هغـه ګونـد لـه مشـر دیپلـوم انجینـیر غــلام محمــد فرهــاد او د پښتنـو لـه نـامتو مشـر خـان عبدالغفـار خـان ځخـه هیلـه وکـړي، چــې د جمال مینې پـه تکیـه خانـه کـښې د عاشـورې د ورځې پـه مراسـمو کـښې برخه واخلي. دواړو مشــرانو دا خـبره پـه خوشـالی ومنلـه.

د عاشـورې پـه ورځ کلـه چـې دغـه مشـران ورسـره نـور مـهم ملـي او سیاسـي شـخصیتونه د جمـال مینـې د تکیـه خـانې ســره نــژدې ســرک کښې لـه خپلـو موټرانـو ځخـه رابښکتـه شـول او د تکیـه خـانې پـه لـوري

يې حرکت شروع کړ يو شمېر هزاره ځوانانو خان عبدالغفار خان له ځمکې څخه پورته کړ او د خپلو پياوړو متو څخه يې ورته تخت جوړ کړ په همدغه روان تخت کښې يې تکيه خانې ته ور ورسا وه او هلته يې په خپل منبر باندې کښېناوه بناغلي مبلغ د هر کلي په وينا کښې خان عبدالغفار خان ته وويل" ما مې شنيديم که بيشتر مردم بشما لقب فخر افغان داده ولی، ميګويم که شما فخر آسيا نيز مې باشيد".

په مقابل کښې يې خان عبدالغفار خان په خپل مخصوص سبک سره د قاموليې، ورور ولی، مينې او محبت په باره کښې خبرې وکړې.

مورِ وينو او خبريږو په کومو هېوادو کښې چې سني او شيعه مسلمانان يو د بل ترخنګ ژوند کوي د هغو ملکونو د امنيت مسؤلين ډېره زياته وېره لري ځکه په دغه ورځ احساسات ډېر په ځوښ راغلي وي. مګر په هغه ورځ د جمال مينې په تکيه خانه کښې د ژبې، نژاد او مذهب په نامه درول شوي ديوالونه ونړېدل. په هغه ورځ يو پښتون عالم استاد خادم مرحوم په خپله وينا کښې وويل چې مورِ بايد د نن په څير يو د بل عبادتخانو ته ورشو په ځواب کښې يې محمد اسمعيل مبلغ د استا د نظر تائيد کړ خو يوه توضيح يې ضروري بلله، وې ويل دلته چې تاسې راغلي ياست دا زمورِ تکيه خانه ده، عبادت خانه نه ده. که نه نو زمورِ او ستاسې عبادت خانه شريکه ده او هغه مسجد دی.

دا خو د دموکراسۍ د لسيزې خوندوري خبرې وې وګورو چې د ژور د کودتا نه وروسته حالاتو او روابطو د څه ډول تراژيدۍ بڼه غوره کړه. خلقيانو -پرچميانو د دوی په اصطلاح "هزاره ملت" ته ظاهراً په خواږه نظر کتل په لومړنۍ کابينه کښې يې له دوی څخه څو کسه وزيران وټاکل چې کشتمند او کريم ميثاق د دوی له جملې څخه وو هغه هزاره کار ګران يې چې د خلق يا پرچم د ګوند غړيتوب يې درلود د رياستونو په لوړو څوکيو کښينول.

خلقي دولت په دې تظاهر کاوه، چې د هزاره قوم محرومیتونه به رفع کوي. په کابل کښې داسې آوازه خپره شوه چې خلقي حکومت غواړي هزاره ملیت د خپلو انقلابي تغییراتو او اصلاحاتو یو ماډل وګرځوي نو په لومړي ګام کښې یې وغوښتل، چې د هزاره جات نه کوندې ښځې او بې وزلې پېغلې راټولې کړي، دوی ته د سواد ښودلو نه علاوه د لاسي صنایعو ځینې مهارتونه هم ور زده کړي. خو هزاره قوم چې له نورو افغانانو سره په ننګ او غیرت کښې شریکه برخه لري د حکومت دغه اقدام د ښه نیت له مخه ونه باله مخالفت یې څرګند کړ. حکومت داسې وګڼله، چې د مخالفت کولو دا تحریک د هزاره دیني علماوو او روحانیونو له خوا لمسول شوی دی نو یو شمېر روحانیون یې بندیان کابل ته بوتلل چې دغه کار د هزاره ګانو د پاڅون سبب وګرځېد او د خلقي حکومت او هزاره ګانو ترمینځ د وسله والو نښتو باعث شو.

خلقیانو او پرچمیانو غوښتل، چې پښتانه قومونه په دې جګړه کښې رانښکیل کړي. نو دوی د وردګو د قوم سره ارتباط ونیو، دغه قوم ته یې وویل: چې هزاره ګان د خمیني په لمسون غواړي چې په تاسې باندې حمله وکړي نو تاسې باید ځانونه مسلح کړئ. وردګو ومنله چې مورچې له خپلو ځانونو څخه د دفاع له پاره وسله اخلو. کله چې وردګو وسله ترلاسه کړه، نو د وردګو سیمې ته نژدې هزاره ګانو خپلې کډې وایستلې او خوندي ځایونو ته یې ولیږدولې مګر وردګو دوی ته ډاډ ورکړ چې مورچې نه غواړو له تاسې سره ښه ګاونډیتوب خراب کړو مورچې وسلې یوازې د خپلې دفاع له پاره ترلاسه کړي دي او بس.

د وسلو ویشلو نه دری ورځې وروسته حکومت د وردګو د چک ولسوالۍ ته موټران ولیږل. ټول هغه خلک یې راوغوښتل چې وسلې یې ورکړې وې. دوی ته یې وویل ، چې ورشئ! موټرانو ته وروخیژئ! خلکو "د څه لپاره؟" پوښتنه وکړه. ورته وویل شول ولاړ

شئ د هزاره ګانو سره جنګونه وکړئ! د دې خبرې په اوږدو سره خلکو حکومت ته ردځواب ورکړ ورته ویې ویل چې مورږ د خپلې دفاع له پاره وسلې اخیستې وې په ګاونډیانو باندې د تعرض له پاره نه!

حکومت غوښتل چې د زور نه کار واخلي، نتیجه معکوسه شوه د حکومت له خوا د ویشل شویو ټوپکو خولې په خپله د حکومت په لوري وروګرځول شوې.

د وردګو پاڅون حکومت سخت په وېره او تشویش کښې واچاوه. نو یې قوم ته جرګې واستولې. په یوه جرګه کښې زه (لیکوال) هم شامل وم. خلکو جرګې ته دا څو مهمې خبرې وکړې:

خلقیانو به تل نارې سورې وهلې، چې مورږ هر ډول نژادي، ژبنې او مذهبي ټوپیرونه غندو نو دوی بیا ولې مورږ لمسولو چې هزاره ګان یوازې په دې نامه وځپو چې هزاره ګان دي. خلقیان ادعا کوي، چې دوی داسې انقلاب کړی دی، چې ټولنه پرمخ بیایي دوی ولې مورږ مجبورولو، چې دوی پیړۍ په شا لاړ شو او کورنۍ جګړې بیا پیل کړو.(۱)

وروسته له هغې چې دا جرګه ناکامه شوه حکومت په وردګو سختې حملې وکړې. پر حملو برسېره دوی یې په اقتصادي محاصره کښې راوستل هغه وخت لوی واټونه د حکومت تر کنټرول لاندې وو له بلې خوا د هغه کال په ژمي کښې ډېرې سختې واورې شوې وې د خرو او کچرو لارې هم بندې وې په دې سختو شرایطو کښې دوی له هزاره ګانو سره چې هغوی هم په اقتصادي محاصره کښې راوستل شوي وو خپل امکانات شریک کړل.

---

[1] د جرګې جریان ما په خپل یو بل کتاب " په افغانستان کښې دعنعنوي جرګو نن او پرون" کښې په مفصل ډول لیکلی دی.

اما لـه بـده مرغـه هغـه وخـت چـې پـه افغانسـتان کـښې لاس وهنـې ورځ په ورځ زیاتیدلې پـه هـزاره جـات کـښې داسـې عنـاصر راپـیدا شـول چـې غوښتـل یـې د پښتنـو پـه ضـد د هـزاره ګانـو زړونـه تـــور کـــړي دا عناصر د ایـران لـه خـوا ګومـارل شـوي د نصـر او سـپاه تنظیمونـه وو، لـه دې امله چـې نـور پـه هـیواد مـین هـزاره ورونه د دوی پـه لاره نـه تلـل دوی تـه یـې ډېر سـخت زیانونـه او تاوانونـه واړول. د نیـو یـــارک ټایمـــز نمـاینده ٦٢ کلـن امریکـایي ژورنالیسـت ار بونـیر چـې پـه ۱۹۸۴م کـــښې هـزاره جـات تـه تللـی وٴ پـه خپـل کتـاب کـښې زړه ځوروونکـي حقـایق لیکلـي دي. دی لیکـې چـې د نصـر او سـپاه تنظیمونـــو د هـــزاره ګانـــو کورونـه سـوځولي وو. د دوی ګنـاه دا وهٴ، چـې هغـوی ولـــې د شـــورای اتفاق سـره همکـاري کولـه. دې دوو ایرانـي مشـربه تنظیمونـو د شـورای اتفـاق د تحقـیرولو پـه مقصـد د یـوه مسـجد هـم بـې حرمتـي کـــړې وه، چـې مورِ هغه دلته نـــه شـو لیکلـی.ګران لوسـتونکي هغـه د بونـیر د لیکـل شـــوي کتـــاب (Among the Afghans) پـــه ۳۲۹ مـــخ کـــښې لوستلای شـــي. د شـورای اتفـاق ګنـاه بیـا دا وه چـې هغـه ولـې د پښتنـو سره هم جنګ نـه کـوي.

امریکـایې ژورنالیسـت لیکـي، چـې د شـورای اتفـاق اسـلامي د مشـــر آقای بهشـتی یـو مرسـتیال صدیقـیٰ نیلـي پـه همـدې خـبره لـه ده څخـه واوښت او د ۱۹۷۲ کـــال پـــه اوړي کـــښې یـــې د ایـــران پـــه مرســـته د (سازمان نصر) په نامه یـوه ډلـه جـوړه کـړه.

د شـورای اتفـاق مشـر سـید بهشـتی لـه همدغـه ژورنالیسـت سـره پـــه مرکـه کـښې وویـل: کلـه چـې مـورِ جـهاد پیـل کـاوه نـو زمـورِ اصلـــي او اساســي هیلـه داوه، چـې د افغـان ملـتٰ ملـي وحـــدت وســـاتل شـــي او افغانسـتان د یـو خپلـواک اسـلامي هـیواد پـــه شـــکل پـــاتې شـــي خـــو وروسـته بیـا صدیقـي نیلـي غوښتـل، چـې پـه افغـاني ټولنـه کـښې نـــوي تضادونـه خلـق کـړي او شـیعه ګان د سـنیانو پـه تـېره د پښتنـو پـــه ضـــد وجنګوي. سـید بهشـتي د خپلـو خـبرو پـه تـرڅ کـښې دا هـم وویـل چـې

مورِ پوهیږو د (نصر او سپاه) زیاتره قوماندانان هغه خلقیان، پرچمیان او شعله یان دي چې د هزاره جات د سیمې د تصفیه کېدو په وخت کښې ایران ته وتښتېدل کله چې په وسلو د مجهز کېدو نه وروسته راستانه شول نو هزاره ګان یې د سنیانو پر ضد ولمسول.

بهشتی صاحب د یوې بلې پوښتنې په ځوابکښې وویل: مورِ د ایران او هم د پاکستان مرستو ته ضرورت لرو خو که چېرې دا مرستې بندې شي ګټه به یې دا وي، چې د دوی د مداخلې لاسونه به هم لنډ شي.

امریکایي ژورنالیست له یو بل نامتو جهادي قوماندان سید جګړن سره هم مرکه کړې وه او هغه هم بهشتي صاحب ته ورته خبرې کړې وې.

بونیر لیکي چې زه یوشمېر ځورېدلیو او کړېدلیو هزاره ګانو د سوځېدل شویو کورونو یوې کنډوالې ته ودرولم او یو زیات شمېر ویر ځپلي ماشومان یې زما مخې ته ودرول، وې ویل: چې دا هغه کورونه دي چې د نصر او سپاه تنظیمونو د کینې په اور سوځولي دي او دا هغه یتیمان او بې وسه ماشومان دي چې پلرونه یې ایراني مشر به تنظیمونو وژلي دي، د دوی ګناه دا وه چې د روسانو او خلقیانو د حملې په وخت کښې دوی د وردګو مرستې ته وردانګلي وو.

د هزاره جات په زړه کښې دا ډول لګول شوي اورونه د هغې شریکې دسیسې یوه څرګنده نتیجه ده چې روسیې او ایران په ګډه سره د افغانستان په ضد جوړه کړې وه او دا ده روانه ده. د همدې دسیسې له مخې له هزاره جات څخه تښتېدلي پرچمیان، خلقیان او شعله یان چې بیرته له وسلو سره راستانه شوي وو د غېر ضروري جګړو او تضادونو د خلق کولو له پاره توظیف شوي وو. د ایرانیانو او روسانو یوه دایمي هیله دا وه چې په افغانستان کښې د تړون او

پیوستون هغه تنې او تنستې وشکوي چې دا قومونه يې يو د بل سره د غالۍ د نخچ په توګه او بدلی او ګنډلي دي.

که تښتيدلي خلقيان، پرچميان او شعله يان په خپله د دې خطرناکې دسيسې ښکار شوي نه وای نو لږ تر لږه دوی به خپل قرار دادي نظريات تر پښو لاندې نه وای راوستلي او د "خپل مليت خواره طبقه" به يې دومره په بې رحمانه توګه نه وای ځپلې او نه به يې د دوی د مسجد داسې سپکاوی کړی وای. کله چې د سپاه او نصر تنظيمونه له ځينو نورو تنظيمونو سره يو ځای شول او په ګډه سره يې "حزب وحدت اسلامي افغانستان " جوړ کړ بيا هم په هزاره قوم کښې د دغه حزب مخالفين کم نه وو.

په هزاره قوم کښې د يو بل جوړ شوي تنظيم "حزب عدالت اجتماعي افغانستان " مشر سيد عبدالحسين په پيښور کښې د ۱۳۷۱ لمريز کال د ميزان په مياشت کښې د ازاد افغانستان د ټولنې له خوا په يو جوړ شوي سيمينار کښې د " بايد عادلانه سخن ګفته شود و مردانه قضاوت ګردد" تر عنوان لاندې ټول هغه کوښښونه وغندل چې د افغانستان د ورونو قومونو ترمينځ ښلتون او تويير راولي. ده په يوه مطبوعاتي مرکه کښې دا خبره هم کړې وه چې "حزب وحدت" د ټولو شيعه ګانو او هزاره ګانو نماينده حزب نه دی. ده وويل چې د جهاد په موده کښې ټولو پښتنو ورونو په تېره وردګو له هزاره ګانو سره ميړنی مرستې کړې دي.

ښاغلي واعظ داسې يو حقيقت هم څرګند کړ چې په هزاره جات کښې هغه ګوندونه هم پلويان لري، چې مشرتوب يې پښتانه کوي.

تر دې ځايه خو زما ليدنې، کتنې او يو څه مطالعې وليکلې شوې راځئ اوس د هغه چا خبرو ته هم لږ څه غوږ ونيسو چې د چا خبره د چپې او انقلابي حلقو او رژيمونو په نس کښې پاللل شوی دی. دا سړی حسن شرق دی چې مختلفو ليکوالو په بيلا بيلو اشکالو معرفي

کړی دی، دلته زمور له پاره د ده هغه خاطرې د پاملرنې ور دي چې د پرچميانو د واکمنۍ په موده کښې ور په برخه شوې وې. دی د پښتو د جريان په مرکزي هسته کښې راوستل شوی ؤ د ځان د سپينولو له پاره ځينې مهمې خبرې نه پټوي. دی د خپل کتاب "کرباس پوشهای برهنه پا" په (۲۲۰) مخ کښې ليکي:

ما د هزاره مليت په پراخه جرګه کې، چې په کابل کښې جوړه شوې وه ګډون کړی ؤ. دوه هزراه ورونه ماته نژدې ناست وو. ما هغوی ته وويل چې حکومت هزاره ورونو ته زياته توجه لري، خو هغوی زما په دې خبره وخندل وې ويل: "دوی غواړي چې مور د پښتنو سره وجنګوي خو مور نه غواړو، چې له خپلو پښتنو ورونو سره وجنګېږو" په دغه وخت کښې يو هزاره ديني عالم (!) پاڅېده او د حکومت په ګټه يې خبرې وکړې له دې دوو تنو هزاره ګانو څخه يوه يې پوښتنه وکړه " اې ملاکيه! از موخونيه!" يعنې دا ملا څوک دی؟ له مور څخه خو نه دی. هغه بل يې په ځواب کښې وويل: "خادی يه" يعنې خادي دی، چې د دولت د جاسوسي شبکې سره تړلی دی.

حسن شرق ليکي چې په همدې غونډه کښې حکومت د حزبي ملګرو تر رهبری لاندې د هزاره قوم خودمختاري اعلان کړه او وې غوښتل چې د دغه مترقي اصل بد خواهان له دې خاورې څخه ورک کړي. د جرګې فضا د شور او ځور څخه ډکه شوه، چک چکې ووهل شوې او شعارونه ورکړل شول ما بيا هغه هزاره ته چې زما تر څنګ ناست ؤ وويل هزاره خلک بايد خوشحاله وي چې د ټول هېواد صدراعظم (سلطان علي کشتمند) له دوی څخه دی ما چې دا خبره وکړه نو هغه هزاره ماته ځير ځير وکتل وې ويل " او هزره نيه، او کمونسته و هزره مسلمانه ...." يعنې هغه هزاره نه دی، هغه کمونست دی او هزاره مسلمانان دي.

حسن شرق د خپل کتاب په (۲۲۲) مخ کښې يوه بله دسيسه هم رسوا کړې ده، هغه دا ده چې د پرچميانو حکومت په دې هيله، چې پښتانه په مرکزي افغانستان کښې له هزاره ګانو سره وجنګوي نو د پښتنو کوچيانو څخه يې يو بل ملیت جوړاوه.

د حسن شرق دا خبره د افغانستان د شاهي حکومتونو همدا ډول دسيسې زما د ذهن د سترګو مخې ته دروي.

هغه وخت چې زه ځوان وم په کيسو او خاطرو پسې ډېر ګرځېدلم يو چا خپله خاطره راته بيان کړه ويې ويل چې زه د يو ډېر مقتدر سړي په خونه کښې ناست وم، چې يو شمېر هزاره ګان ورته راغلل او د پښتنو کوچيانو نه يې سر وټکاوه ويې ويل چې کوچيان راځي زمور په ورشوګانو کښې رمې څروي، ډېر ځله داسې هم پيښ شوي دي چې دوی زمور د شنو غنمو په کښتونو کښې رمې پياييي. دغه مقتدر سړي هغوی ته وويل چې کوچيان دا حق نه لري چې ستاسو په ورشوګانو کښې خپلې رمې خوشې کړي.

کله چې هزاره ګان ووتل نو کوچيان راغلل او مقتدر سړي ته يې په معکوس ډول شکايت درلود ورته ويې ويل چې مورِ کوچيان نه په آسمان کښې ستوری لرو او نه د ځمکې په مخ سيوری،هزاره ګان مو په سلطاني (ملي) ورشوګانو کښې نه پريږدي اوس تاسې راته ووایاست چې مورِ څه وکړو او چېرې لاړ شو؟

کوچيانو د حکومت څخه غوښتنه وکړه، چې يا بايد دوی ته ځمکې ورکړلې شي او يا خو دوی په ورشوګانو کښې پرېښودل شي. مقتدر سړي دوی ته وويل ځمکې خو اوس نشو درکولای. هزاره ګان دا حق نه لري، چې تاسې له عامو ورشوګانو منع کړي.

بايد يادونه وشي، چې د ورشوګانو موضوع يوازې د کوچيانو او هزاره ګانو ترمنځ نه بلکې د کوچيانو او پښتنو قبيلو ترمنځ هم شخړې او جګړې را پيدا کولې او له بده مرغه تېرو حکومتونو هم کله چې لازم يې بللي دي له دې شخړو څخه د "بېل يې کړه ايل

يې کړه" استعماري او استثماري فارمولي په توګه استفاده کړي ده. لکه چې خبرېدلو او د سر په سترګو مو ليدل مارکسيستانو همدغې زړې استعماري فارمولې ته نوی فلسفي رنګ ورکاوه او د "تضادونه اوج ته ورسوئ انقلاب پر مخ بوځئ" شعار يې ورځخه جوړ کړی وٴ. له بده مرغه د افغانستان ټولې اوسنۍ شخړې په مصنوعي ډول د تضادونو او په نتيجه کې يې د تعصباتو خلق کولو له پاره د انقلابي (!) هڅو او ټکرونو نتيجې دي.

په هر صورت ما د دوو داسې قومونو ترمنځ اړيکې د اجتماعي مطالعاتو د يوې طريقې يعنې د قضيې د مطالعې Case study په توګه په تفصيل سره څرګندې کړې، چې په ژبه، نژاد او مذهب کښې يو له بل څخه توپير لري. د دوی ترمنځ دملي وروروليۍ دا روابط څرګندوي چې په افغانستان کښې نژادي، ژبنې او مذهبي تعصبات ژور اساس نه لري. په افغانستان کښې د تعصب ټولو ظواهرو په حقيقت کښې د قدرت له انحصار، رقابت او اجتماعي بې عدالتيو څخه نشأت کړی دی چې خارجي مداخلو هغه د قوي دښمنيو يوې ډېرې ناوړې مرحلې ته رسولي دي.

اوږد تاریخ:

ستړې ویاړنې لوی غـــمونه

یـو نقـاد نـامتو رومـان لیکونکـي سـموئیل ریچاردســن تــه ویلــي وو چـې "د یـو ډېر رښتینـي تـاریخ لمنـه هـم لـه غلطیـو او اشـتباهاتو څخــه تشه نه ده، خو سـتا رومـان لـه حقـایقو څخـه ډک دی" پـه لومـړي نظـر دا یـوه عجیبـه خـبره ښکـاري. رومـان چـې تـر ډېره حـده لـه تخیـل ســره تعلق لـري څنـګه کـولای شـي چـې د حقـایقو پـه تشـریح کـښې د تـاریخ ځای ونیسـي تـر دې چـې پـه دې لار کـښې لــه تــاریخ څخــه یــو ګام وړاندې شي. خو کــه د حقیقـي او یقینـي اسـنادو پـه ځای پـه کلیشـه بې او فرمایشـي نظریـاتو او فرضیـو بـاندې د ځینـو مورخینـو اتکـا تـه وکتــل شي نو د دغــه نقـا د نظریـه د پـاملرنې وړ ګرځي.

یوه ډېره بختــوره ټولنـه هغـه دهٔ، چـې لیکـوالان یـا تـاریخ لیکونکـي یې فکري اسـتقلال ولـري. مـوږ پـه همـدې روانـه پیـړۍ کـښې دوه ځلـه د زمـانې لـه دوو ډېرو سـترو نظـامي او سیاسـي طــاقتونو ســره د خپلــې

ملي خپلواکۍ د ببرته ترلاسه کولو له پاره دومره لويی مبارزې وکړې چې د چا خبره نور ويې تراوسه پورې ريکارډونه مات کړي نه دي خو تر اوسه پورې مو هغه لومې شکولې نه دي چې د هنر خاوندانو زمور د افکارو د بندي ساتلو له پاره له نرمو وريښمو څخه ډېرې کلکې او بدلې دي.

زياتره د تاريخ له پاره د "زماني څرخ" استعاره د يوې اصطلاح په توګه په کار اچوي. هر څوک د دې څرخ حرکت د خپلو انګيرنو او معيارونو له مخې ټاکي دا يو داسې څرخ دی چې د ورانې حرکت لري خو د موټر د عرادې په توګه پرمخ روان دی مګر له بده مرغه د زماني دغه څرخ زمور د ځينو ليکوالو له نظره د بادِ ژرندې د څرخ غوندې يو شی دی چې د هرې خوا بادونه يې مختلفو خواوو ته څرخوي.

يو افغان ژورنالیست کاظم آهنګ يوه ورځ خپله خاطره بيانوله ويل يې چې دی د دوهمې نړۍ والې جګړې د جريان په موده کې، په کابل کښې د يوې ليسې چې ليليه يې درلوده شاګرد وٶ. هغه وخت په کابل کښې د راډيو سيټونه ډېر کم وو، يوازې د ليليو شاګردان نه بلکې د نبار زياتره اوسيدونکي به سهار وختي له خپلو کورونو څخه راوتل چې د جرمنيانو د بريالیتوبونو په باره کښې په زړه پورې خبرونه واوري. کاظم آهنګ دا خبره هم کوله چې هغه وخت د افغانانو احساسات د جرمنيانو په ګټه دومره زيات پاريدلي وو چې يوازې د ليليې شاګردانو نه، بلکې د خلکو اکثريت هم د جرمنيانو د کاميابيو له پاره نبې هيلې څرګندولې او دعاګانې يې ورته کولې.

هغه وخت له جرمنيانو سره د افغانانو دې ډول علاقه مندیو يو شمېر وجوهات لرل. يوه وجه يې دا وه چې جرمنيانو له افغانستان سره په ځينو ساحو کښې مؤثرې مرستې کړې وې، بله يې دا وه، چې جرمنيان له انګريزانو سره چې افغانانو هم خپل دښمنان بلل

په جګړه اخته وو. دریمه وجه یې دا وه، چې جرمنیان هم د افغانانو په څیر آریایان دي. هغه وخت د خلکو په خولو کښې دا خبره هم لوبدلې وه: جرمنیان هغه افغانان دي، چې ډېر پخوا اروپا ته په کډه تللي دي او د پښتو څو خاص توري لکه (څ او ښ) لاتراوسه په جرمني ژبه کښې ساتل شوي دي.

هغه وخت د "آرین تر ټولو لوړ نژاد" د تبلیغ له پاره په ایران کښې سرمایه ګزاري هم شوې وه. د جرمنیانو له خوا د "ایران باستان" په نوم یوه جریده هم چاپېدله. ما (لیکوال) د دې جریدې یو بشپړ کلکسیون کتلی او د هغه ځینې برخې مې لوستې هم دي. دا جریده ټوله په فارسي ژبه چاپېدله خو تبلیغات په کښې سم نیمایي ویشل شوي وو. یعنې د اخبار یوې برخې د جرمني او بلې برخې یې د ایراني هدفونو له پاره تبلیغات کول. په اخبار کښې د هټلر ډول، ډول عکسونه په ټېره هغه یې چاپېدل چې د ده مهم فعالیتونه به یې ښودل له همدغه امله د اخبار په ظاهري بنایست کښې هم د جرمني له ډېر لوړ تخنیک او هنر څخه کار اخستل شوی وُ.

په اخبار کښې د افغانانو په ټولو ویاړونو قبضه لګول شوې وه تر دې چې شیرشاه سوري هم یو ایراني بلل شوی وُ.

د ایران دې ډول لویو ادعاګانو په افغانانو کښې هم د سیالۍ او رقابت احساس پیاوړی کړی وُ. له همدغه امله دا هڅه روانه وه، چې په لرغوني آریانا کښې د پاتې شویو آریایانو یعنې پښتنو په باره کښې ډېرې ځیرنې وشي. دا ځیرنې د مقالو له ظرفیت څخه زیاتې شوې کتابونه او بیا کتابخانې وربانديې ډکې شولې.

د افغانستان د تاریخ لوی محقق مرحوم احمد علي کهزاد دی، چې د ده ځیرنې د زیاترو لویو ځیړونکو له پاره سر مشق ګرځېدلې دي. مرحوم کهزاد سره د دې، چې یو دري ژبې افغان دی خو د خپلې علمي بیطرفۍ له مخې یې د پښتنو پر لرغوني تاریخ ډېره

مهمه رښا اچولی ده. ده هغه وخت چې له ایرانیانو سره سیالي ډیره تـوده وه خپل علمي کار د کابل مجلې په (۹۸) ګڼه کښې د یوې مقالې په خپرولو سره پیل کړی وُ بیا یې دا څیړنه د یوه کتاب "آریانا سطحې ته لوړه کړه، چې په ۱۳۲۰ لمریز کال کښې یې د آریانا لومړی جایزه، چې تر ټولو لوړه جایزه ده وګټله ورپسې یې د افغانستان د تاریخ په باره کښې څو نور غټ غټ کتابونه ولیکل.

مرحوم کهزاد په خپل لیکل شوي تاریخ کښې پکتیان (پښتانه) د هیرودوت او نورو مهمو مورخینو په استناد د باختر (بلخ) یو ډېر لرغونی قوم بللی دی، چې د مهاجرت په وخت کښې په دوو برخو ویشل شوی دی یوه برخه یې د هندوکش له غره څخه جنوبي اړخ ته او له هغه ځای نه د سپین غره په لوري خوځېدلې ده، چې هلته یې (پښتونخوا) جوړه کړې وه او بله برخه یې په بخد، بخدی (بلخ) کښې پاتې شوې ده، چې په بخدیا بخدی کښې د "پښت، پښتون" د کلمې ریشه پاتې شوې ده.

مرحوم کهزاد دادیکان یا تاجیکان هم د هیرودوت د لیکنې په استناد له پښتني قبایلو څخه یوه قبیله بللې ده.

زمورِ یو بل د قدر وړ مورخ مرحوم میر غلام محمد غبار دی، چې د احمد شاه بابا په باره کښې لیکل شوي کتاب یې د اریانا دوهمه درجه جایزه وړې وه. ده په خپل همدغه اثر کښې د افغانستان د تاریخ هغه څېړه په لنډه توګه را معرفي کړې ده، چې د احمد شاه بابا له زماني څخه دمخه یې لرله. ده د خپل کتاب "احمد شاه بابا" په ٦٦-٦٧ مخ کښې داسې یو مطلب لیکلی دی:

" مملکت افغانستان فترت های بزرگ تاریخی را طی کرده است باین تفصیل که هنوز قرنی از زردشت و دولت باختری نگذشته بود تا هخامنشیان (قرن ٦ ق،م) به افغانستان تاختند، و با انکه کورش مشهور سرش را بمقابل مدافعین افغانستان غربی (اسکایی های سیستان) باخت نفوذ نظامی و سیاسی انها در مملکت پهن شد.

افغانستان درین دوره تکالیف نظامی کشیده وا دای باج نمود. ولی بر خلاف فارس از مدنیت هخامنشی که هنوز نضجی نیافته بود، متأثر نگردید . هخامنشی ها در برابر هجوم اسکندر ماکدونی (قرن ۴ ق،م) فرار نموده و دروازه افغانستان را بر رخ آنها باز گذاشتند و یونانیان با تلفات زیاد مملکت را گرفتند ولی بزودی در افغانیت تمثیل نمود و منبع صنایع باختری و موسس دولت فاتحی گردیدند. در قرن ششم مسیحی فترت دویمین افغانستان شروع شده و ساسانیان با تورکان تورکستان پیمان خرابی و تجزیه افغانستان بسته، بدخشان و قطغن را بآنها گذاشتند مزار و مرو و هرات و سیستان را خود گرفتند و شاید درین سهو سیاسی که نژاد بیگانه تری را بداخل مملکت آریه های افغانی راهنمایی بلکه کمک نمود. نوشیروان تا اندازه ای معذور بوده است زیرا دولت هیاطلهٔ افغانی که در آن وقت از حیث تورکتاز و یغما و عداوت شدید که به فارس داشت خود دشمن دیگر شمرده میشد. محمود غزنوی که خیلی پادشاه دور اندیش و سیاسي بود نیز ازین قسم اشتباه برکنار نمانده و چندین هزار ترکمن را در ولایت خراسان اجازه چوپانی و مالداری داد. و همین ترکمن ها بودند که بالاخره باعث شکست دولت اولاد او گردید نه تنها قسمتی از ولایات شمالی افغانستان بلکه مملکت فارس را هم گرفتند..."

مرحوم غبار دغه مطالب چې د آریایانو په هېواد کښې یې ترکان او ترکمنان پردي ګڼلي دي له نن څخه (٦١) کاله دمخه لیکلی دی او دا هماغه وخت دی، چې له یوې خوا آلمانیانو د آریایي نژاد د برتری نظریه توده کړې وه او له بلې خوا د افغانستان او ایران ترمنځ د آریایي ویاړنو د خپلولو په موضوع کښې سختې سیالی روانې وې. مرحوم غبار د افغانستان د هغو تاریخ لیکونکو څخه دی، چې د شلمې پېړۍ زیاتره مهمې تاریخي پېښې یې یا د سر په سترګو لیدلې دي او یا یې له نژدې څخهمطالعه کړې دي. نو ده

هغه پښې هم له نژدې څخه مطالعه کړې دي، چې پياوړی آلمان يې پر ملامات او دوې ټوټې کړ. ورسره د استبدادي رژيمونو په شکل کښې هم يو بدلون راغی يعنې يو ډيکټاټور (هټلر) له پښوو لوېد او بل ډيکټاټور (ستالين) په پښو ودرېد. د پراختيا غوښتنې يا عظمت طلبۍ په بڼه کښې هم ظاهري بدلون راغی اوس د لوړ نژاد نظريې خپل ځای يوې بلې نظريې ته پريښود. که د آلمان نژادي نظريه د جګړې تر خاورو او دوړو لاندې پټه او ورکه شوه نو د "مليتونو" ستالينستي مکتب سر راپورته کړ. که هټلر آريايي قومونه د تسپو په څير د اصيل نژاد په مزی له يو بل سره پېيل نو ستالينستی مکتب په تاريخي او اجتماعي لحاظ يو له بل سره پېيل شوي قومونه او نژادي ګروپونه د پياوړو ملتونو د له منځه وړلو او بې ثباته کولو له پاره سره شنل، چې دا شنل شوي وولسونه په آسانۍ سره له خپل استعماري ستوني څخه تېر کړای شي.

يو فرانسوي څېړونکي او ليوېه روا چې د خلقيانو، پرچميانو د رژيم د قبائلو او مليتونو وزارت يې په ۱۹۱۷م کال کې، د ستالين د مليتونو د يوې اداري سره مقايسه کړی دي ليکي چې ستالين غوښتل د دې اداري په ذريعه هغه اړيکې له منځه يوسي چې د شوروي ترکستان خلکو په فرهنګي او هم مذهبي لحاظ له خپلې تاريخي ټولنې سره درلودې. نو يې دا لويه ټولنه په بېلو بېلو مليتونو سره وشنله.

د زمانې نوي بادونه او د تاريخ څرخ

د دې ډول کمي تغيراتو له څپو څخه راپېدا شويو بادونو په افغانستان کښې هم د تاريخ د بادي ژرندې څرخ په بله خوا را وخرخاوه. ورو ورو د افغانستان تاريخ ته د طبقاتي کشمکش د نظريې په رڼا کښې کتل پيل شول. ورسره نوي تاريخي منابع هم زيات شول، چې زياتره يې په يو ډول کلتوري هجوم کښې راوړل

شوي وو. د منابعو نوي والي او زياتوالي زمور د پيژندې د مؤرخ مرحوم غبار د تاريخ ليکنې په شکل او محتوی کښې هم مهم تحولات راوستل اوس نو ده هغه خلک چې د آريايانو په ملک کې پردې ګمل کېدل، ډېر ور خپل کړل په خپل مشهور کتاب "افغانستان در مسير تاريخ" کښې يې وليکل:" اصلاً وقتيکه مغلها با آريه های آسيايی مزج و مخلوط شدند نام"ترک" به آنها اطلاق شد" او بيا د دغه کتاب په ۵۷ مخ کښې دغه عناصر څنګه بنه سره يو ځای کوي او ليکي :" در ادبيات و تاريخ افغانستان و ايران نام ترک و تاجيک بطور لازم و ملزوم همديګر در يک رديف و به مفهوم يک ملت مذکور ميګردد"

د مرحوم غبار دا نظر د ده له هغې نظريې څخه ډېر توپير لري چې په خپل کتاب (احمد شاه بابا) کښې يې د ترکانو او ترکمنانو په باره کښې څرګند کړی وُ. له دې څخه څرګندېږي، چې وروستيو مطالعاتو د دوی د نظر په پراخوالي کښې غټه برخه لرلې وي. د دوی داسې يوه نظريه چې بيل بيل قومونه يو د بل سره د وحدت په مزي سره يوځای کوي زمور له پاره په خاصه توګه د دې موضوع سره په ارتباط، ډېره په زړه پورې ده خو نه پوهيږم،چې هغه مرحوم په داسې يو ملت کښې پښتون د يو مهم عنصر په توګه ولی نه دی شامل کړی؟د مرحوم کهزاد مستنده څېړنه هم په تاريخ او دري ادبياتو کښې لوړ مقام لري د دوی د څېړنې له مخې پښتون او تاجيک ډېر پخوايو د بل سره لازم او ملزوم ګرځيدلي وو او د يو ملت په مفهوم يې يادونه شوې ده.

د مرحوم غبار د وروستيو نظرياتو په جوړښت کې، په احتمالي توګه دا څو عوامل اغيزه لري:

۱. په آلمان کښې د هټلر د ماتې سره سم په خالص نژاد باندې درول شوی نشنليزم ته قبر ايستل شوی دی، ملي مفاهيمو ورو ورو خپل ځای طبقاتي نظرياتو ته پرې ايښی دی.

۲. مرحوم غبار د ویښو زلمیانو په دوره کښې د نویو افکارو او ابتکاراتو خاوند ګڼل کېده، د وطن په نامه د یوې حزبي هستې د جوړولو مبتکر وٗ خو دا وخت څو نامتو چپي عناصرو لکه ببرک کارمل او نورو له ده سره ملګرتیا پیل کړې وه. د افغانستان در مسیر تاریخ کتاب یې له هېواد سره د مینې په روحیه لیکلی دی خو چپي ترجیحات او توجیهات پکښې له ورایه څرګند دي.

ده د "ملي ژبې" د اصل په ځای د "ملي ژبو" اصل منلی دی او د افغانستان خلک یې عمدتاً په دري ژبو او پښتو ژبو ویشلي دي، د ازبکانو او بلوڅانو غوندې قومونه یې هم دري ژبي بللي دي. په دې باره کښې به د کتاب په راتلونکو برخو کښې په مفصل ډول بحث وکړو.

د مرحوم غبار مشهور اثر " افغانستان در مسیر تاریخ" په ۱۳۴۹ (۱۹٦۷م) کښې چاپ شوی دی چې د چاپېدو سره سم مصادره شو. له دی املې چې د ده کتاب د ژبو په اساس په افغانستان کښې د دوو حکومتونو د جوړښت له نظریې سره زیاته مرسته کولای شي نو هغه پرچمیانو په ۱۳۷۰ (۱۹۹۱) کښې بیا چاپ کړی دی.

که د ببرک کارمل او میر محمد صدیق فرهنګ سره د مرحوم غبار نژدې روابط چې دکتور محمد حسن شرق په خپل کتاب "کرباس پوشهای برهنه پا" کښې د هغو یادونه کړې ده په نظر کښې ونیسو نو سړي ته داسې شک پېدا کیږي چې د مرحوم غبار له علم او شخصیت څخه د هغې ستراتیژۍ په جوړونه کښې په مستقیم دول یا په غیر مستقیمه توګه استفاده شوې ده، چې د افغانستان په شمال او جنوب کښې یې د دوو ژبو په اساس د دوو حکومتونو د جوړښت هدف درلود. د کارمل د واکمنۍ په موده کښې د دې ستراتیژۍ ځینې غټې غټې برخې راڅرګندې شوې.

حسن شرق لیکلي دي چې ببرک کارمل له پخوا څخه د محمد صدیق فرهنګ او علي محمد زهما غوندې کسانو سره چې د

شوروي د تاريخ او کمونيزم په باره کښې يې معلومات درلودل نبه روابط ساتل. کارمل د ميرمحمد صديق فرهنګ په وسيله در بار ته لاره پيدا کړه. همدارنګه ده له مير غلام محمد غبار سره هم نبه روابط ساتل خو دا روابط د خلق د دموکراتيک ګوند د جوړښت نه وروسته خراب شوي وو. مګر لکه چې حسن شرق ليکلي دي له کارمل سره د فرهنګ ملګرتيا پخه وه او کمونيزم ته د ځوانانو په اړولو کښې د ده برخه هم څرګنده وه.

د لرغونتوب سترې دعواګاني

د جهاد په موده کښې د نويو جوړو شويو نظرياتو څپو د تاريخ د ژرندې حرکت بلې خوا ته وګرځاوه. اوس نو د "آريا" کلمه نبه نه تعبيربدله ځکه چې د اسلام نه دمخه آريايي ويړنې ټولې د "جهالت" په کانې تللې کبدلې. بله خبره دا وه د هند او پاکستان ترمينځ يوازې د نيمې قارې د سيمو ويش جنجالونه نه وو را پيدا کړي بلکې د تاريخي ميراثونو ويش هم يوه جنجالي مسئله ګرځبدلې وه.

د نيمې قارې دوه ډبر مهم تاريخي ځايونه موهنجو دارو (Mohenjodaro) او هړپه (Harappa) پاکستان ته په برخه کښې رسيدلي دي. مؤرخين ليکي چې هند ته د آريايانو د ورتګ نه دمخه په موهنجودارو کښې ډبر متمدن خلک اوسبدل چې آريايانو د دوی تمدن له منځه يووړ.

اوس (۵۰) کلن پاکستان کولای شي، چې د داسې يو تهذيب ميراثونه خپل حق وبولي چې له آريايي تهذيب نه ډبر مشر وُ، پاکستانيان اوس په خپلو ځينو کتابونو کښې هندوان (آريه سماج)

بولي. د کاسټ کرغېړنه نژادي موضوع هم په "اريه سماج" ورتړي او خپل ډېر پخوانی تهذيب ورځخه "پاک "ګڼي.

همدغسې يوې موضوع زمونږ يو هزاره ورور حسين علي يزداني ته هم قلم په لاس ورکړی دی. دی ليکي چې" احتمال دارد که اجداد مردم هزاره قبل از اريايی ها درين کشور ساکن بوده و بعد در اثر هجوم اريايي درطی برخوردهای بسيار چون تاب مقاومت نداشته اند به تدريج بسوی مرکز افغانستان که دارای کوههای مرتفع و دست نارسی ميباشد پناه برده باشند."

د محترم حسين علي يزداني "حاج کاظم" دا ليکنه سړي ته د بناغلي کوثر غورياخيل تاريخي څېړنې او فيلالوژي ور په يادوي چې د "اپه ګان- افغان" قوم يې له اريايانو څخه مشر باله ده په تاريخ، فيلالوژي، انتروپولوژي او ميتو لوژي کښې د ژورو څېړنو نه وروسته دا نتيجه اخيستی وه چې د اريايي او سامي قومونو جړه يوه ده چې هغه د "اپه ګان" قوم دی د ده د څېړنې له مخه پښتانه بنې اسرائيل نه دي بلکې بنې اسرائيل د پښتنو يوه څانګه ده. د سومريانو قوم چې په لرغوني عراق (بين النهرين) کښې يې لوی تمدن ايجاد کړی وو هغه اپه ګانان افغانان وو، چې د نړۍ د بام (پامير) له لمنو څخه بين النهرين ته په کډه تللی وو.

جالبه دا ده، چې يو عراقي پوهاند دوکتور فوزي رشيد د کوثر غوريا خيل دا خبره هغه وخت په غېر مستقيم ډول تائيدکړه چې ده په ۱۳۵٦ لمريز کال کښې د کابل په ښار کښې په يو جوړ شوي سيمينار کي خپله مقاله لوستله. ده په خپله مقاله کښې څرګنده کړه، چې سومريانو په خپله ژبه کښې په لا جوردو د "زرګين" نوم اېښی و، چې هغه د افغانی ژبو د "زرغون، زرګون" له کلماتو سره ډېر نژدې والی لري لکه څنګه چې مورِ عراقيان اوس د خپل هېواد تيلو ته "توره طلا" وايو هماغسې سومريانو لاجورد "زرغوندې" قيمتي ډبره بلله او د ټولو علمي مطالعاتو له مخې د لاجورد ډبره

سومریانو له افغانستان څخه ورسره وړی وه. همدارنګه د بین النهرین د یو لرغوني ښار نوم (اور) کټ مټ پښتو دی، چې دغې کلمې په سومری ژبه کښې هم د (آتش) معنی ورکوله.

د کوثر غوریاخیل او عراقي پوهاند دکتور فوزي رشید له لیکنو څخه پورتني اقتباسات له دې املې نه دي شوي چې مورِ خدایه مه کړې د ښاغلي حسین علي یزداني غوندې پنسل پاک را اخلو او د افغانستان له تاریخ څخه د نورو وروڼو قومونو د موجودیت او قدامت په باب لیکل شوي مطالب محوه کوو. مورِ په دې ډېر خوشحاله کیږو چې یزداني صاحب په افغانستان کښې د هزاره قوم قدامت ښودلی، څومره چې زمورِ له لرغوني هېواد سره د یو قوم قدامت ثابتیږي هغومره ورسره د هماغه قوم مینه او وفاداري هم ټینګیږي. زمورِ له پاره دا مطلب هم ډېر په زړه پورې دی، چې زمورِ هزاره وروڼه لکه چې ځینو تاریخ لیکونکو فکر کړی دی د چنګیز د لښکرو پاتې شوني نه دي بلکې له ځینو پاتې شونو سره ګډ شوي دي. خو له یزداني او د ده په څیر نورو لیکوالو څخه زمورِ د ورورګلوی ګیله دا ده چې هغوی د خپلو خپلو قومونو د تشبیتولو له پاره ولې پښتانه نفي کوي او د افغانستان له تاریخ څخه یې د ایستلو هڅې کوي. مثلاً لرغوني غوریان او خلجیان هزاره ګان یا ترکان بولي. دی ډېر کوښښ کوي، چې د هزاره ګانو د قوم او سیمې لمن ډېره پراخه وښیي تردې چې د پښتونخوا د هزاره ضلعې اوسېدونکي چې اوس په پښتو ژبه خبرې کوي، د ده له نظره هزاره ګان دي. مورِ علماً دا خبره منو، چې ډېر هزاره ګان به پښتانه شوي وي خو دوی دې هم علماً دا خبره راسره ومني، چې ډېر پښتانه قومونه لکه جا غوریان هزاره ګان شوي هم دي، کېدای شي چې یو شمېر پښتانه غوریان هم هزاره ګان شوي وي.

که مورِ دې موضـوع تـه يـو ځل بيـا د ټولنپوهنـې لـه نظـره وګورو نـو راته څرګنـده بـه شـي : کـوم قومونـه چـې د اوږدو زمـانو راهيسـې يـو د بل په څنګ کـښې پراتـه وي او يـو د بلـه نـژدې اړيکـې ولـري، دوی پـه يو بل کښې د جذب کـېدو يـا د يـو بـل د کلتـور د منلـو لـه املـه د ورتـه والي يـا يـو شـان والي (assimilation) مرحلـې تـه يـا د مطـابقت او موافقـت پـه وسـيله د جـــور جـــاړي (accommodation) مرحلـــې تـــه رسيږي. له هغو قومونو څخـه چـې د څو پيړيـو پـه مـوده کـښې يـې يـو د بـل سـره ګډ ژونـد کـړی وي داسـې يـو ملـت جوړيـږي، چـې يـو کثـــير الثقافه حـالت تمثيـل کـړي پـه مجمـوع کـښې افغـان تـاريخي ملـت هـم داسې يو حيثيت لري. نـو کـېدای شـي ځينـې پښتانـه غوريـان داسـې پـه هـزاره قوميـت کـښې جـذب شـوي وي لکـه چـې يـو شـمېر هـــزاره ګان پښتانه شوي دي زما يو ملګری هـــزاره مرتضـی چـې پـه ګډه سـره مـو پـه يـوه بـين المللـي خيريـه موسسـه (MCI) کـښې کـار کـاوه مـا تـه ځينـې داسـې هـزاره قبيلـې راوښودلـې، چـې اوس يـې هـزاره ګي مذهـــب او رسـم و رواج منلـــي دي.

د خراسان کډه پرشا پښتانه

پـه همـدې ډول د ښاغلـي مـير محمـد صديـق فرهنګ ليکـل شـــوی کتـاب "افغانسـتان در پنـج قـرن اخـير" لـه دې املـه تـر سـختو انتقـادونو لاندې راغی چـې د يـو شـمېر ليکوالـو لـه نظـره د پښتنـو پـه بـاره کـښې يـې لـه تنګ نظـری څخـه کـار اخيسـتی دی . ښاغلـی فرهنګ پـه يـــو ځای کښې ليکـــي:

" هنګام ګشـوده شـدن خراســـان بدســـت مســـلمانان بخـــش بـــزرګ ساکنين ايـــن سـرزمين را مردمـانی تشـکيل ميدادنـد کـه از شـاخه هنـد و اروپا يی نژاد آريـــن بودنـد و بعـداً بـه نـام تـاجيک شـهرت يـافتند. عـلاوه بـر تاجيکـان در ان هنـګام اقـوام ديـګری هـم در خراسـان زيسـت مـــی کردنـد کـه بعضـی از بقايـای مـهاجمان سـايق بودنـد و برخـی از مـــردم خانـه بـدوش محلـی مـانند اجـداد پشـتونها و بلـوچـی هـا و نورســـتانی

هـای کنونـی. در عـین حـال در کوهسـتان مرکـزی خراسـان کـه بـه نـام غـور، غرجسـتان یـا مطلـق جبـال یـاد مـی شـد مردمـان دیـگری بنـام هـزاره و تکـودری جـا گرفتنـد کـه بعضـی پیـش از هجـوم مغـولان بـاین خطـه وارد گردیـده و برخـی در اثـر لشـکر کشـی چنگیـز خـان و جانشـینان او در آنجـا جـایگزین شـدند."

تر دې دمخه په زیـاترو تـاریخي څېړنـو کـښې کـه هغـه افغانـانو کـړې دي او کـه نـورو ختیـځ پوهـانو، دغـه مطلـب ډېر ځلـه تکـرار شـوی دی چې د هنـد او اروپـایي آریـن نـژاده خلکـو سـتره برخـه لـه پښتنـو څخـه جـوړه شـوې ده چـې د مرحـوم احمـد علـي کـهزاد د تحلیـل لـه مخـې تاجیکان هم د دغه لـوی تـاریخي قـوم یـوه برخـه وه.

کله چې تاجیکان هم پښتانه وو

مرحـوم احمـد علـي کـهزاد د خپـل کتـاب (اریانـا) پـه (۵۱-۹۶) مخونـو کـښې پـه دې موضـوع مفصـل بحـث کـړی دی چـې ځینـې مـهم ټکي يې دلتـه رااخیسـتل کیـږي، دی لیکـي:

" هـیردوت دادیکـها (تاحیکـها) را یکـی از شـعب پکتـی هـا (پختـون هـا) میدانـد و متصـل بـاگنداری هـا ذکـر نمـوده و بـا اهـالی صفحـات شرقی آریانـا خصوصـاً گنداریـها پیوسـتگی داشـتند.."

مرحوم کهزاد پښتانـه د آریانـا دومـره لـوی قـوم بالـهٔ،چـې یـوه برخـه یـې لـه هندوکـش څخـه واوښتلـه او د سـپین غـره پـه لمنـو کـښې یـې پکتیکـا (پښتیخـا -پښتونخـوا) جـوړه کـړه پـه دې پکتیکـا یـا پښتونخـوا کـښې لکـه چـې هـرودت لیکلـي دي څلـور قومونـه ګنـداری، اپـاریتی، ستاګیدی او دادیکـی اوسـیدل، چـې د هـردوت پـه قـول دادیکـی (تـاجیک) د پښتـون قـوم یـوه برخـه وه. مرحـوم کـهزاد د هغـو پښتنـو پـه باره کـښې چـې د هـیواد پـه شـمالي برخـو کـښې پـاتې شـوي وو داسـې لیکـي:

" نا ګفته نماند که شق دیګر پکتها یا (پختون ها) در بخدی و تخارستان مانده که بعدها بسوی غرب منتقل ګردیده و ایالت و دولت پارت را تشکیل نموده اند. این دولت امپراتوری فارس را تسخیر نموده در مرور قرون متمادی در فارس و بین النهرین جهانداری و جهانبانی کرده اند و چندین بار قوای رومی را شکست دادند."

ممکن ځینې کسان دا ووایي چې مرحوم استاد کهزاد دا خبرې د هغه وخت د حکومت تر فشار لاندې لیکلې وي خو هر څوک پوهیږي چې تر فشار لاندې لیکل شوې لیکنې د مرحوم کهزاد د علمي او مستند تحقیق سطحې ته نشي لوړیدلای. پراخ علمي نظر او د خپل هېواد د تاریخ سره د مینې اثر ؤ چې د مرحوم کهزاد تحقیق یې د ډیرو وروستیو څېړونکو له پاره تر ټولو باوري منبع ګرځولی دی. بله خبره دا ده چې یو ایرانی لیکوال چې د مرحوم کهزاد تحقیق ته ورته څېړنه یې کړې ده په هیڅ وجه د افغانانو تر فشار او اختناق لاندې نه ؤ. د ایران یوې مجلې "سپید و سیاه" په ۱۳۴۶ لمریز کال کښې د لرغونې ایران په باره کښې د تاریخي څېړنو یوه لړۍ پرله پسې چاپوله. دې مجلې د همدې څېړنې په یوه برخه کښې چې د مجلې په (۷۵۰) ګڼه کښې خپره شوې ده څرګنده کړې ده چې هخا منشی پاچایانو په لمر ختیځ کښې د پښتنو وطن د پاتانستان یا پښتونخوا په نوم په رسمیت پېژندلی ؤ.

د لیدې نامتو مؤرخ خانتوس لیکلي دي، چې کورش د میلاد نه د مخه په ۵۴۵ کال کښې د اکتابال په نښار کښې د خپلو درباریانو سره په خبرو کښې مخ د لمرخاته یا د دوی په ژبه د "خراسان" په لوري وګرځاوه ویې ویل هلته پیاوړي او تکړه خلک بلاچان یعنې بلوڅان، پاتانان یعنې پښتانه، زابلیان او ساکان اوسیږي. دوی د نړۍ له ډېرو ښو او تکړه خلکو څخه دي زه غواړم دوی د ځان تابع یا ملګري کړم، چې له دوی څخه د یونان په جګړه کښې کار واخلم.

دوی ډېر سخت سره خلک دي. د دوی سیمه سخت ژمی لري خو د ژمي ساړه دوی د پښو نشي اچولی که چېرې دوی زمور دوستان شي بیا نو په مور باندې د یونان زور نشي رسېدلی.

سپید و سیاه مجلې لیکلي دي، چې خانتوس د کورش د خولې دغه خبره لیکلې ده چې نامتو ختیځ پوهاند "مورګان" په شوش کښې د یو تاریخي سند په کشفولو سره تائید کړې ده. دلته غواړو هغه مطلب چې زمور له موضوع سره ډېر نژدې ارتباط لري د مجلې له اصلي متن څخه په خپله د مجلې په الفاظو کښې راواخلو هغه په دې ډول دی:" کورش بقول مورخین یونانی و مخصوصاً کزنفون در پائیز سال (۵۴۵) ق، م از فارس بسوی کارمانیا (کرمان امروزی) رفت تا که از آنجا بطرف بلوچستان کنونی و توران قدیم، افغانستان و سرزمین پاتانستان (پشتونستان امروز) برود..."

مجله زیاتوي چې کورش ایران ته د بیرته ستنېدو په وخت کښې له ځان سره د پښتنو زرکورنۍ د مېلمنو په توګه ولېږدولې چې له ایرانیانو سره د دوی په ازدواج سره د ایران نسل دومره تکړه او پیاوړی شي چې د یونان سره جنګ وکړای شي.

په دې توګه د تاریخي پښتونخوا هغه حقیقت چې مرحوم کهزاد د یوناني مورخینو د لیکنو په استناد لیکلی دی ایراني محققینو هم د یوناني او نورو مهمو تاریخ لیکونکو او ختیځ پوهانو د لیکنو له مخې تائید کړی دی. دلته په ضمني توګه یو بل مطلب هم راڅرګندیږي او هغه دا دی چې د ایران په لمر خاته کښې د خراسان سیمه د یو هېواد نوم نه دی بلکې د هغې سیمې نوم دی چې د ایران په شرق کښې غځیدلې پرته ده.

په خپله د خراسان کلمه د پهلوي ژبې یو لفظ دی، چې د "لمر ختیځ خوا" مانا لري. ځکه خو کورش لمر ختیځې خوا (یا د ده په ژبه خراسان) ته مخ وکړاوه چې هلته د سپید و سیاه د مجلې په قول "بلوچستان کنونی و توران قدیم، افغانستان و سرزمین پاتانستان

یا پشتونستان امروز" پراته دي. نن هم د لمر ختیځ لویې لویې سیمې د "منځني ختیځ" او "لېرې ختیځ" په نومونو یادیږي، چې په همدې ډول یوه ساحه کښې ډېر هېوادونه شامل دي.

اوس نو ځکه سړی د تاریخ د لوی استاد مرحوم کهزاد او د ده په څیر د نورو سترو مورخینو لیکنو او د ایراني مجلې یادونو ته وګوري نو حیران پاتې کیږي چې دا ځمکه څنګه داسې وچاودیدله چې د آریانا ډېر لوی قوم یعنی پښتون یې په خپل تاریخي ټاټوبي کښې تری تم کړ او خراسان ته یې یو کم شمېره کډه پر شا پښتانه پریښودل.

د بناغلي فرهنګ د تاریخ لیکنې له شیوې څخه داسې بریښي چې د باسوادانو په ژبه یعنې دري کښې چې رسمي او درباري ژبه وه دغه تاثیر پروت وُ چې خپل یې پردي کول او پردي یې راخپلول. دی لیکي :"دولت غزنوي از نژاد ترک بودند اما چون پیش از بدست آوردن قدرت مدتی درماوراء النهر و خراسان به سر برده و زبان دری را با فرهنګ خراسان اسلامي فراګرفته بودند" نو په دې اساس ترکان په افغانستان کښې د تاریخ خاوندان شول او پښتانه چې له دربار او درباري ژبې څخه لیرې پراته وو نو کډه په شا خلک وګرځېدل.

زه په خپله د دري ژبې علمي او فرهنګي حیثیت ته په زیات درناوي قائل یم او هغه هم د افغانستان یوه مهمه تاریخي ژبه بولم خو هغه د فرهنګ صاحب غوندې لیکوالو د قضاوت معیار ځکه نشي ګرځېدلای چې دا ژبه یو وخت په سیمه کښې د یوې لویې درباري ژبې په څیر د هرې خوا د ځواکونو د تبلیغ وسیله هم ګرځېدلی وه. لیرې به نه ځو په تېره دوه نیم سوه کلنه دوره کښې چې ځینو لیکوالو د یوې تنګ نظرۍ له مخې هغه د پښتني فاشیزم او شوونیزم دوره بللې ده محدودو څوکسو پادشاهانو پښتو ته ډېره لږه توجه کړې ده. بیا هم ډېر وړاندې نه ځو، له نن څخه څه د پاسه سل

کاله پخـوا پـه افغانسـتان کـښې يـوه مسـتبد او د چـا خـبره يـوه فـولادي امير حکومـت درلـود. دا سړی عبدالرحمـن خـان و چـې ظـاهراً پښتـون بلل کېده خو قلم يـې د يـو هـزاره فيـض محمـد پـه لاس کـښې وٴ. ده يـو نـامتو پښتـون عـالم او مجـاهد مـلا مشـک عـالم انـدړ د هغـه وخـت د جهاد له تاريخ څخه وويسـت او د (مـوش عـالم) پـه نـوم يـې پـه سـرکاري تاريخ کښې ثبـت کـړی دی. دغـه پـاچـا چـې د شـمال د خلکـو پـه مـټو خپلې پـاچاهـۍ تـه رسـېدلی وٴ خپـل مخـالفين پښتانـه چـې د ويـاړنې وړ مجاهدين هم وو د اسـتبداد پـه چـاړه پـه بـې رحمانـه تـوګه ووژل او لـه خپل تاريخ څخـه يـې وايسـتل.

د تاريخ او افسانو مشترک اتلان

کلـه چـې تاريخونـه د سياسـي تنګ نظريـو پـه حـالت کـښې ليکـل کيـږي نـو حقـايق د "تـاريک تـاريخ" لـه کړکيـو څخـه وځي د افسـانو پـه لـوی او پـراخ جـهان ورګډيـږي دا هماغـه ځای دی چـې د ادبيـاتو يـو اسـتاد د يـو اديـب پـه قلـم ليکـل شـوی رومـان د تـاريخ پـه نسـبت د غلطيـو او اشـتباهاتو څخـه پـاک ګڼي او د تـاريخ نـامتو پروفيسـر تاينبـی فولکلور د تـاريخ روح ګڼي. د امـير عبدالرحمـن خـان پـه فرمـايش ليکـل شوي تاريخ کـښې دوو مـهمو سـترو مجـاهدينو يعنـي غـازي محمـد جـان خـان وردګ او مـلا مشـک عـالم تـه بـد ويـل شـوي او د هغـو پـه مـهمو تاريخي کردارونـو سـترګې پـټې شـوې دي خـو ولسـي چـاربيتو او ولسـي کيسو د دغه لـوی جـهاد اتلانـو پـه تـېره غـازي محمـد جـان خـان تـه د تاريخ پـه روح او د کلتـور پـه زړه کـښې ځای ورکـړی دی.

دا هماغـه ځای دی چـې دېر مـهم حقـايق د فرمايشـي تـاريخ لـه محدود لوښي او ظرفيت څخه د بـاندې پـاتې کيـږي. نـو کـه پـه نـژادي لحـاظ د پښتـون او پـه درباري لحـاظ دري ژبـي پـاچـا پـه زمانـه کـښې

هغه هـم پـه معـاصرو پېړيـو کـښې مـهم قـهرمانان د تـاريخ لـه مسـير څخـه ايستل کيږي يـا پـه بـدو نومونـو يـادول کيـږي نـو لـه دغـه کـار څخـه د عربو، ترکـانو، مغولـو، ايرانيـانو، انګريزانـو او روسـانو لاسـونه چـا نيـولای شـوای.

همدارنـګه دبسـت د تـاريخي ښار د اهميـت پـــه بـــاب د دري ژبـــې لرغوني متون تر سترګو کيـږي خـو هغـه آثـار پـه دغـه ښار کـښې د پښتنـو د اجتمـاعي ژونـد او فرهنـګي آثـارو پـه بـــاره کـــښې رڼا نـــه اچـــوي او سړي ته دا سوال پيدا کوي چې هســې نـه دغـه آثـار هـم د نظـر پـه يـوه تنـګه زاويـه کـښې ليکـل شـوي وي خـو د يـوې مـور سـوې نـاره د هغـه وخت د پښتو ادبياتو يوه بيلـګه وه چـې پـه پرلـه پسـې تـوګه د بيلـو بيلـو نسلونو د زړونو پـــه صفحـو وليکـه شـوه او تـر مـورِ پـوري راورسـوله شـوه هغه نـــاره دا وه:

يـو کـه دوې دي، کلابســـت دروازې دوې دي
په دا يوه يـــې پتـې وځي
په دا بله يـــې د مورسـوې نـارې دي

دا مثلث ډوله وولسي سـندره (نـاره) چـې پـه رنـګ او خونـد کـښې لـه يـو ډول نويـو رواج شـويو سـندرو (هـايکو) سـره ورتـه والی لـري پـه يـــو داسـې پيـاړي دولتـي فرهنـګ رڼا اچـوي چـې پـه تـاريخي بسـت کـــښې موجود ؤ خـو دربـاري تـاريخ ليکونکـو وربـاندې خولـه پـټه نيولـې وه. دا سـندره يعنـي د پروفيسـر ټايبنـي خـــبره د تـــاريخ روح وايـــي چـــې پـــه تـاريخي بسـت کـښې مقتـدر پښتانـه قومـي مشـران اوسـېدل پتـــې خـــان (فتح خـان) د يـو مقتـدر خـان يـا قومـي مشـر يـو نـازولی زوی ؤ چـې پـه يوه خـــبره د خپـل پـلار څخـه مـرور شـو او د خپلـو شـپيتو ملـګرو سـره د هندوسـتان پـه لـوري وخـوځېد او بيـا د ډېرو مـــاجراګانو ســـره مخـــامخ شو. اوسني محققين وايي چـــې پتـې خـان يـوازې يـو افسـانوي اتـل نـه و بلکـې يـو تـاريخي شـخصيت هـم ؤ چـې تـاريخ ور بـاندې خولـــه پـــټه

کړې ده خــو خلکــو د هغــه خــاطرې پــه خپلــو ســینو کــښې ســاتلې دي .
اوس د جنوبــي پښتونخــوا د کــوټې پــه ښار کــښې د بړیځانــــو قــــوم یــــوه
قومــي اتحادیــه جــوړه کــــړې ده چــې د مشــرتوب ویــاړ یــې هماغــه
تــاریخي او افســانوي اتــل فتــح خــان تــه ورکــړی دی. د فردوســي
شهنامې هم مــورِ تــه ځینــې داســې موثــر شــخصیتونه را معرفــي کــړي دي
چې د تاریخ او افسانو شــریک اتــلان بلــل کــېدای شــي.

د پــټې خزانــې زیــات اهمیــت پــه دې کــښې دی چــې هغــې د پښتــو
ژبــې د کلاســیکو ادبیــاتو ترڅنګ هغــه فولکلــوري ســندرې هــم راټولــې
کــړې دي چــې هــم پــه مــهمو تــاریخي دورو رڼا اچــوي او هــــم د انــــترو
پولوژي (بشر پېژندنې) ســره زیاتــه مرســته کــوي.

پر احتمالاتو ولاړ تاریخ

بناغلــي فرهنګ هــم کلــه چــې غونښتــي یــې دي ځان د یــو ریالیســټ
تاریخ لیکونکــي پــه ځیره کــښې را وښیــې زمــوږ لــه پورتنیــو نظریــاتو ســره
یو څه موافــق نظــر ښودلی او لیکلــي یــې دي چــې " مــن بــه هیــچ وجــه
ادعــا نــدارم کــه ایــن کتــاب تــالیف جــامع و مــانع در موضــوع ومــبرا از
حشو و زوایــد و کمبــود و نواقــص باشــد همچنــان نمــی توانــم یــک ســان
بودن تمام مطــالب آن را بــا واقعیــت امــر تضمــین کنیــم زیــرا چنانچــه بــر
ارباب خــبرت دانشــمند روش شناســی معلــوم اســـت بنــای تــاریخ بــر
احتمــالات اســت نــه بــر قطعیــات وایــن امــر در مــورد تــاریخ کشــورهای
مشــرق زمــین کــه مــردم آن بــــه علــت شــرایط بخصــوص بــه ثبــت و
یادداشــت مشــاهدات و خاطراتشــان کمــتر عــادت دارنــد، بیشــتر صــدق
می کنــد."

فرهنګ صیب د دغه مطلب په لیکلو سره خپله غاړه یو ځه خلاصه کړي ده خو د ده کتاب سړي ته ځینې غټې غټې پوښتنې هم پیدا کوي هغه دا چې په داسې حال کښې چې په افغانستان کښې د "لویې لوبې" لوبغاړي زیات شوي وو او زمور لرغونی او تاریخي هېواد یو ځل بیا د ډېرو سختو سیالیو ډګر ګرځېدلی وٴ،ده داسې یو کتاب لیکلو چې د ده په قول په قطعیاتو نه بلکې په احتمالاتو باندې یې ډېره تکیه کوله ضرورت څه وٴ؟ د کتاب د چاپولو په وخت کښې تنګ نظره ناسیونالیزم او منطقه پرستی په افغانستان کښې د تاریخ د بادي ژرندې د حرکت اړخ بدل کړی وٴ دې پېښې د جهاد په ماهیت کښې ډېر زیات تباه کوونکی بدلون راوستلی و له بده مرغه د لویې لوبې لوبغاړو هېوادونو غوښتل چې په افغانستان کښې د قومي، ژبنیو او مذهبي اختلافونو څخه د خپلو ستراتېژیو د پرمختګ په ګټه زیاته استفاده وکړي په داسې بدو شرایطو کښې د دې کتاب د چاپولو ګټه څه وه؟

یو دولت او دوه حکومتونه

د فرهنګ صیب کتاب دوهم ځل په ۱۹۸۸ کال کښې چاپ شوی دی په دې وخت کښې دوې غټې پېښې شوي وې یوه یې دا وه چې احمد شاه مسعود له شورویانو سره نېغ په نېغه معاهده لاس لیک کړی وه دې معاهدې د جنوبي افغانستان د ځپلو له پاره د شورویانو لاسونه ډېر آزاد کړي وو. بله یې دا وه چې د افغانستان دولت عملاً په دوو جنوبي او شمالي حکومتونو وېشل شوی وٴ.

دکتور محمد حسن شرق په خپل کتاب (کرباس پوشهای برهنه پا) کښې لیکي چې د ۱۳٦۷ (۱۹۸۸م) د جوزا په میاشت کښې د ژبو او قومونو مسٴالی د افغانستان دولت د شورویانو په مشوره سره

وښلی ؤ په داسې توګه چې ډاکټر نجیب الله جمهور رئیس او سلطان علي کشتمند د جنوبي افغانستان د صدراعظم په توګه او د خلق د دموکراتیک ګوند غړی نجیب الله مسیر د شمالي افغانستان د صدراعظم د کفیل په توګه مقرر شوي وو. د شمالي افغانستان د صدراعظم له پاره ۱٦ کسه معاونان ټاکل شوي وو چې په هغوی باندې د کابینې پستو نه هم ډک شوي وو. د شمالي افغانستان دې کابینې د ۱۳٦٦ کال د حوت په میاشت کښې په مزار شریف کښې په کار پیل وکړ خو د افغانستان نجیب ملت او د شمال شریفو خلکو دغه اقدام وغانده او هغه یې یوه خارجي دسیسه وبللـه.

حسن شرق لیکي چې دغه پلان په ۱۹۸۸ کښې شنډ کړل شوځکه په کابل کښې نوی صدراعظم لګیدلی ؤ چې هغه په خپله حسن شرق ؤ کله چې د نوي حکومت خط مشي د هغه وخت فرمایشي ولسي جرګې ته وړاندې شوه کاویاني او د ده نورو ملګرو په ډیر شدت سره چې د حسن شرق په قول له خولو څخه یې ځکونه بادبدل د ملیتونو د وزارت او د شمالي افغانستان د حکومت د له منځه وړلو له امله سخت انتقادونه وکړل او دغه کار یې د دري ژبو په حقوقو باندې د سترګو پټولو په څیر یو اقدام وبالـه. د ده له نظره یوازې تاجیکان او هزاره ګان دري ژبې نه وو بلکې د شمال ازبکان، ترکمنان او پښتانه هم دري ژبې ګڼل شوي وو.

کله چې د کاویاني غوندې کسانو پر مخ د ناکامۍ څپېړه وخوړله نو دوی مسعود ته مخه کړه او له شوروي سره د مسعود معاهده یې خپلو هدفونو ته د رسېدو یوه بنه وسیله وګڼله لکه چې ځینو افغاني او خارجي کتونکو نظر ورکړی دی دغه معاهده په جنوب کښې په پښتنو باندې د روسي قواو د فشار زیاتولو او مهاجرت ته د دوی مجبورولو او په نتیجه کښې په مصنوعي ډول د پښتنو اکثریت پر اقلیت باندې بدلولو له پاره شوې وه.

لـه مسـعود سـره د روسـانو د معـاهدې او د فرهنـګ د کتـاب د چاپېدو نه يـو کـال وروسـته يعنـي په ۱۹۸۹ کـال کـښې د حـزب وحـدت مشـر عبدالعلـي مـزاري د ده د خپلـې وينـا لـه مخـې لـه خپلـو تـاکتيکي ورونو مسـعود او دوسـتم سـره د ده پـه خپلـه اصطـلاح د "همسـويې" مرحلـې تـه رسـيدلي دي يعنـي خپلـه لاره او لـوری يـې ورسـره شـريک کـړی دی. پـه همدغـه کـال "تـاريخ هـزاره" چـې د لـوی او تـاريخي هزاره جـات محتـوی لـري چـاپ شـوی دی. د دغـه کتـاب ليکـوال هـم دېر زيـات کـوښښ کـړی دی چـې پنسـل پـاک راواخلـي او د افغانسـتان په مهمو تاريخي مرکزونـو کـښې د پښتنـو نومونـه او نخـښې نښانـې محـوه کـړي.

لکـه چـې دمخـه وويـل شـول مرحـوم فرهنـګ پـه دې خـبره چـې د خپـل کتـاب د ټولـو مطـالبو واقعيـت نـه تضمينـوي ځکـه چـې تـاريخ د قطعياتو پـه بنسـټ نـه بلکـې پـه احتمـالاتو درول شـوی دی، خپلـه غـاړه څه نـاڅه خلاصـه کـړې ده. همدارنـګه ده د پوهـاند حسـن کـاکړ د انتقاد پـه ځواب کـښې يـوه بلـه ښه خـبره کـړې ده او هغـه دا ده چـې : "درست اسـت کـه مـن در کتـاب از برتـری خواهـی افـراد معـين از قـوم پشتون بـا تکيـه بـر اسـناد تذکـار داده ام امـا هيچـګاه ايـن نسـبت را بـه قـوم موصـوف بطـور عـام وارد نسـاخته ام و نظـر حرکـت معـروف سـتم ملی را دريـن بـاره رد کـردم".

د فرهنـګ دا خـبره د ټولـو لـه پـاره د منلـو وړ ده پـه اصلـي مانـا کـښې هـېواد پـال پښتـون هغـه ځوک دی چـې د افغانسـتان لـه نـورو قومونو سره د پښتـو پـه لاره روان شـي يعنـي لـه هغـوی سـره د وروروليـ او برابـری چلـن وکـړي. دا پـه خپلـه "پښتـو" ده چـې پښتانـه پـه يـو داسـې مجلـس کـښې چـې يـوازې يـو دري ژبـی پکـښې ناسـت وي پـه پښتـو خـبرې نـه کـوي ځو هغـه يـو دري ژبـی د پـردي تـوب احسـاس ونـه کـړي. کشـکی زمـور دري ژبـو ورونو هـم د پښتـو پـه ويلـو سـره د بيګانـګی دا احسـاس لـه منـځه وړی وای.

چې نشه د استبداد لري په سر کې
ماته یو دی که مغل دی که افغان

د مرحوم فرهنګ کتاب هغه وخت د تعصباتو د تودولو سبب وګرځید چې د ملي ستم د نظریې پلویانو ورځخه دفاع کول پیل کړل. دوی له همدغه فرصت څخه په استفاده د پښتنو په ضد خپلې خبرې ولیکلې. د کتاب د مدافعینو په جمله کښې دکتور امین فرهنګ هم دی. د ده دا خبره یقینا په زړه پورې ده:" انچه مضر می باشد حل نکردن پر ابلمهای اجتماعی ناشی از تعدد اقوام است که متاسفانه در افغانستان هیچ وقت جدی ګرفته نشده... ما باید راههای حلی را جستجو کنیم که در چوکات ان جمیع اقوام باشنده کشور ما بدون امتیاز و تبعیض اجزای مساوی الحقوق ملت واحد افغانستان را تشکیل بدهند انکار از موجودیت اقوام متعدد افغانستان همان طوریکه ګفتم شیوه کمونیست ها است".

د دکتور فرهنګ په دې خبرو کښې یوازې یو ټکی داسې دی چې سړی ورته ګوته نیولای شي هغه دا دی چې د ده په خیال په افغانستان کښې د متعددو قومونو له موجودیت څخه انکار د کمونستانو شیوه ده. زمونږ له نظره که دکتور فرهنګ دا مطلب په معکوس ډول لیکلی وای نو په یو واقیعت به یې رنا اچولې وای. کمونستي شیوه خو دا ده چې په یو ملت کښې ډول ډول قومونه حتی جلا جلا ملیتونه وګڼل شي.

پښتنو تاریخ لیکونکو ته پیغور

دکتور فرهنګ یوه بله عجیبه خبره لیکلې ده او هغه دا ده چې:
امروز برادارن پشتون ما حق دارند که عصبانی شوند و در عین زمان حق دارند این سوال را مطرح کنند که چرا علما و

دانشمندان، مورخـــین و متفکریـن شـان تـا حـال در زمینـه هیـچ اقدامـی نکرده اند شـاید علـت ان ایـن بـوده کـه اکـثریت هموطنـان پشـتون مـا با السـنه خـارجی اشـنا یی ندارنـد و از مطـالب ایـن اثـار خـبر ندارنـد و حـالا بـرای اولـین بـار توسـط کتـاب فرهنـگ (صدیـق فرهنـگ) بـان برخورد می کننـد. ولی علمـای پشـتون مـا همـه از وجـود ایـن اثـار خـبر داشتند و باید بـه کمـال تاسـف اظـهار داشـت کـه کـوچکـترین اقدامـی نکردنـد و دریـن زمینـــه سـکوت اختیـار نمودنـد و بدیـن ترتیـب از اجـرای یـک وظیفـه بـزرگ تـا ریخـي و ملـي در مقـابل ملـت افغانسـتان اهمال ورزیدنـد"

د دکتـور فرهنـگ پـه پورتنیـو خـبرو کـبنې څو ټکـي د پـاملرنې وړ دي یـو دا چـې دوی د اهمـال مسـولیت د پښتنـو د تـاریخ لیکونکـو پـه غاړه اچوي او وایـي چـې دوی د پښتنـو د تـاریخ پـه روښانـه کولـو کـبنې د ملت په مقابل کښې د یـوې ملـي او تـاریخي وظیفـې پـه سـر تـه رسـولو کښـې لـه اهمـال څخـه کـار اخیسـتی دی. دا خـبره صحیـح ده چـې د افغانستان پـه بیروکراسـی کـبنې د پښتنـو لـه پـاره دغـه چـانس نسـبتا ډېر لږ و چـې دوی خپـل زامـن یـا لـونې د عـالي تحصیلاتـو لـه پـاره خـارج ته واسـتوي او خـارجي ژبـې نبې زده کـړي ټولـو تـه معلومـه ده چـې دا ډول چانسـونه د څو محـدودو بـیروکراتو کورنیـو پـه اختیـار او انحصـار کښې وو. نو لـه چانسـونو څخـه د پښتنـو د لیکوالـو د اکـثریت محرومیـت د دوی خپله ګناه نـه ده. نـو پـه داسـې شـرایطو کـښې د فرهنګیـانو (مـیر محمـد صدیـق فرهنـگ، دکتـور امـین فرهنـگ) او د دوی پـه څېر د نـورو ملـي او تـاریخي وظیفـه څه ده بـس دومـره چـې د پښتنـو پـه ضـد لیکـل شـوي شـیان راټول کـړي او کتـاب وربـاندې ولیکـي او بیـا لـه هماغه کتـاب څخـه د دفـاع پـه وخـت پښتنـو لیکوالـو تـه پېغـور ورکـړي. زمـور د فرهنګیـانو ورونو (مـیر محمـد صدیـق او امـین) لـه کورنـی څخـه مرحوم سـید قاسـم رشـتیا غونـدې یـو شـخصیت هـم راوتلـی دی چـې د افغانستان مشـترک ملـي فرهنـگ تـه یـې نـه هېرېدونکـي خدمتونـه کـړي

دي. لکه چې ټولو ته څرګنده ده مرحوم رشتيا له فرانسوي منابعو څخه داسې مهم اثار را ترجمه کړي دي چې د پښتو ژبې په تاريخي او ادبي څېړنو په تېره په فيلالوژي کښې له مهمو منابعو څخه شمېرل کيږي او د پښتنو په لرغونتوب رڼا اچوي. د مرحوم رشتيا يو بل ډېر مهم کار چې لوړ ملي ارزښت لري دا دی چې دوی د هغو کلماتو ليست برابر کړی دی چې له پښتو څخه دري ژبې ته ورغلې دي. هرڅوک پوهيږي چې د مرحوم رشتيا دغه کار د ملي وحدت د ټينګښت او د تعصباتو په کمولو کښې څومره زيات ارزښت لري. څومره به ښه وای چې زمونږ له نورو فرهنګيانو ورونو سره هم داسې احساس او فکر موجود وای.

خپل ملت ته د نورو د فکر په هنداره کښې کتل

زمونږ په "خارج ديده" کسانو کښې داسې کسان وو او شته چې هڅه يې کړې ده خپل ځانونه او خپل ملت د نورو د فکر او پندار په هنداره کښې وګوري دا ډول انګيرنې له "فکري استعمار" څخه نشأت کوي. له داسې يو فکري استعمار څخه د خلاصون له پاره پر مسلمانانو باندې د لوی خدای (ج) لورينه ډېره زياته ده تردې چې دوی ته يې پر نورو ټولنو باندې د شاهدي ورکولو صلاحيت بخښلی دی الله (ج) فرمايلي دي:

"وکذالک جعلنکم امة وسطا لتکونو شهداء علی الناس"

د دې مبارک ايت له متن او مفهوم څخه په واضحه توګه څرګنديږي چې مسلمانانو ته د مينځګړي امت په توګه په خلکو او ولسونو باندې د شاهدي ورکولو امتياز ورکړ شوی دی. دوی يوازې په اخرت کښې نه بلکې په دې دنيا کښې هم په نورو خلکو او ولسونو باندې د شاهدي ورکولو صلاحيت لري خو له بده مرغه په دې دنيا کښې نورو خلکو او ولسونو په تېره د دوی فرهنګي او

نشراتي موسسو يا د دوی پروپاګنډي اړو دغه صلاحيت ترلاسه کړی دی.

دا کار دوه ممکن سببونه لري يو دا چې په مورِ کښې د حقارت احساس پياوړی شوی دی، بل دا چې ماکياولیزم د مسلمانانو په تېره د دوی پر حکومتونو او سياسي ګوندونو ډېر مسلط شوی دی له همدغه املـه د چا خبره مصلحت امیز (!) دروغ د دوی د تبلیغاتو مرج او مساله ګرځېدلي دي. خلک ځکه د اسلامي هېوادونو او ځینو نورو مشرقي هېوادو راډیوګانو ته لږ غورِ نیسي چې پروپاګنډي جنبې يې ډېرې برېښې دي خو غربي راډیو ګانې په تېره بې بي سي او امریکا غږ ته ځکه ډېر غورِ نیسي چې په خبرونو، تبصرو او مرکو کښې د حقایقو د مسلکي موازنې په ساتلو سره خپل خبرو نه ظاهرا د پروپاګنډي حالت څخه وتلي ساتي مګر د دقیق نظر خاوندان پوهیږي چې د خبرونو او تبصرو تر شا ځینې خاص خاص مقصدونه په نظر کښې نیول شوي وي.

د دوی تاریخ لیکونکي او لیکوالان هم د دې ډول کریکترونو خاوندان دي سره د دې هم مورِ د دوی په قضاوتونو باور کوو.او د خپلو مسائلو په باره کښې هم د دوی په لیکنو استناد کوو.

مسلکونو او هدفونو هغه خارجي لیکوال هم په څو ډولو ویشلي دي چې د خپلو هېوادونو د ستراتژیکي موسساتو له پاره کار کوي هغوی کوښښ کړی دی چې په افغانستان کښې د خپلو لیکنو له لارې د نفاق تخمونه وکري، ځینې په کښې داسې لیکوالان شته چې د حقایقو لیکلو هڅه کوي خو د دې حوصله يا امکانات نه لري چې په مربوطو موضوعاتو کښې کافي تحقیق وکړي نو له تحقیق څخه پرته د دوی لیکنې که د دوی په خپل ګومان له تعصب څخه ډکې نه وي نو د تعصبونو په پارولو کښې لوی لاس لري.

شوروي اتحاد د بې شائبه (!) کلتوري علایقو له مخې د افغانستان په باره کښې ډول ډول کتابونه حتی زمورِ په ژبو راته

ليکلي دي په ځينو کتابونو کښې يې پښتانه د افغانستان مطلق اکثريت بللي دي او پښتون قوم يې يو فطرتا دموکراتيک قوم بللی دی‌خو په ځينو نورو کي يې پښتون په افغانستان کښې دننه يو داخلي استعمار ښوودلی دی . د ملي ستم د نظريي پلويانو همدغه خبره ټينګه نيولی ده. د غربي دنيا ليکوالو هم ډول ډول او يو له بل سره متضاد شيان ليکلي دي، په دې مانا چې چا پښتانه د نفوسو په لحاظ ډېر ښودلي دي خو د اجتماعي موقف له مخه يې مظلوم او تر فشار او ستم لاندې خلک ښودلي دي. مثلا يو شمير ليکوالو لکه ريچادسن، کلا فيدوتوف او واشنګټن پوست چې جنرال رحمت الله صافي يې ځنې اقتباسات په خپلو کتابونو کښې راوړي دي.ليکي چې پښتانه په ټولنيزه توګه خپلواکي پال دي او پر ځان پردی واکمني نه مني له همدغه املـه دوی د استعماري طاقتونو نه خونښړي هر سوپر طاقت بالاخره غوښتي دي چې دغه قوم له پښو واچوي د شورويانو د پاکوني سياست مانا د پښتنو له منځه وړل وو يا يې د شمېر کمول وو روسانو غوښتل چې د پښتنو غرور او قومي جوړښت رنګ او له ځينو سيمو څخه يې وشړي چې ورو ورو تاجيکان، ازبکان او ترکمنان د دوی په سيمو کښې ورزيات کړي او هغه بيا د شوروي تر لاس لاندې جمهوريتونو سره يو ځای او ګډ کړي.

د بلې خوا د "افغانستان ګذرګاه کشور کشايان " مولف جارج ارني چې کتاب يې پوهاند دوکتور سيد محمد يوسف علمي او پوهاند حبيب الرحمن هاله ترجمه کړی دی د افغانستان په باب خپل خيالات داسې څرګندوي:

" از نظر نژاد شناسی افغانستان کابوس انسا نشناسان است، هر مداخله ګرو يا مهاجرت جديد اثاری از خود برجا ګذاشته است. نام کشور افغانستان يا سرزمين افغانها تصور نا درستی از تجانس قومی را در ذهن انسان القاء می نمايد. اګر دقيق حرف زده شود در

گذشته ها چیزی بـه حیـث مدلـول کلمـه وجـود نداشـته اسـت ایـن نـام توسـط دیـگران بـرای تشـخیص گروه قومـی مسـلط در جامعـه بـه کـار بـرده شـده اسـت. در حالیکـه ایـن گروه خـود را پشـتون مینـامند و در دنیـای دیـگر بـه نـام پتـان شـناخته میشـود. در جـوار پشـتونها حـد اقـل بیسـت و یـک گروه قومـی دیـگری وجـود دارنـد کـه بـه بیشـتر از سـی زبان گونـه گون حـرف مـیزنند. موضـوع زمـانی پیچیـدگی پیـدا مینمـاید کـه وفـاداری زبـانی و فرهنـگی انـها از سـرحدات موجـوده افغانسـتان به بیرون سـرایت میکنـد بـه گونـه مثـال بیشـتر ازبکـها در اتحـاد شـوروی و چـین زنـدگی دارنـد انـها مـانند تاجیکـها و ترکمنـها در شـوروی جمـهوری از خـود دارنـد. بلـوچـها در صحـاری جنـوب غـرب افغانسـتان و درکنـار خـط دیورنـد در پاکسـتان و ایـران سـکونت دارنـد. در حالیکـه پشـتونها تقریبـا مسـاویانه در پاکسـتان و افغانسـتان از هـم جـدا سـاخته شده انـد"

داسې معلومیږي چې دغه انګریز ژورنالیست حتی تر خپلو پښو لاندې مځکه سمه نه ده لیدلې او که نه نو انګلستان هم چې د جارج ارنی هېواد دی د نژاد پېژندنې له نظره یوه خپسکه (کابوس) ده که جارج ارنی کولای شي چې زمونږ د هېواد په باره کښې خبرې جوړې کړي مونږ ته هم خدای (ج) خوله او ژبه ورسره عقل او فکر راکړي دي مونږ هم دا ویلای او ګنلای شو چې (انګلستان یا د انګریزانو وطن) د انسان په ذهن کښې د قومي تجانس یو نا درست تصور القاء کوي ځکه بریتانیا یوازې د یو قوم (انګریزا نو) هېواد نه دی هلته سکاټلنډیان، ویلزیان او ایرلنډیان هم د انګریزانو ترڅنګ ژوند کوي هلته د قومي کرکو او کینو نتیجه ده چې د هوسا او اسوده حاله استعمار کوونکو انګریزانو تر پښو لاندې مځکه خوځوي لکه چې وخت په وخت په لندن او د انګلستان په نورو ښارو کښې ډېرې سختې چاودنې کیږي. جارج ارنې د خپل هېواد د قومي تجانس د نا درست تصور له مخې زمونږ هېواد ته هم داسې

کتلي دي. خو مورِ او هغوی د ملـــي جـــورښت لـه مخـه فـرق لـرو پـه دې مانا چـــې انګريـزان يـو مشـهور اسـتعماري قـوم دی داســې يـو قـوم چـې دېر قومونه يې د پښتنـــو پـه خپلـه د جـارج ارنـــي پـه قـول تقريبـا سم نيمـايي سـره بيـل کـړي دي او ځينـې يـې پـه وچ زور لـه خپـل ځان ســره تــړلي دي خـــو پـــه افغانســـتان کـــښې ټولـــو وروڼو قومونـــو لـــه اسـتعماريونو څخـه د خلاصـون او د افغانسـتان د تجزيـې د ختمولـو لـــه پاره د احمد شاه بابا قيادت ومنلـــو او ټولـو پـه خپلـه خـوښه او رغبـت يـو پيـاوړی ملـي دولـت چـې د افغانسـتان د يـو مـــوټي او نـــه بېلېدونکـــي ملت پيـاوړی بنسـټ و او دی، جـوړ کـړ.

دغه انګريز ژورنالیســت چـې دا خـبره کـوي يـا پـه خپلـه د پښتنـو پـه ضد د تعصب نـه ډک نظـر لـري او يـا دا چـې د متعصبـو کسـانو خـبرو تـه يې غـوږ نيـولی دی او د ده پـه ذهـن کـښې يـې نـا درسـت تصـور القـاء کـړی دی. کـه جـارج ارنـی همـدا نـن ورځ چـې زه پکـښې دا کـــرښې ليکم يعنـي د ۱۹۹۹ کـال د مـی د مياشـتې پـه شـبږمه نـېټه دلتـه د کـوټې په ښار کښې لـــه مـا سـره يـو ځای ناسـت وای نـو مـا بـه ده تـه يـو نـوی راغلـی څلـور کلـن افغـان مـهاجر چـې "ايمـل" نوميـــږي ورښودلی وای، د دغه ماشـــوم نـوم پښتـو دی خـو دی پـه خپلـه پـه قـوم د تخـار ولايـت ناجيک دی. زما د يو نمســـي نـوم هـم "ايمـل" دی د دوی کـور زمـوږ لـه کـور څخـه تقريبـا لـس مېتـره لـرې دی پـه کـوڅه کـښې کلـه کلـه دواړه ايمـلان لوبـې کـوي لومړی دوی دواړه يـو د بـل پـه ژبـه نـه پوهـــېدل خـو يـو شـريک احسـاس د دوی ترمنـځ عجيبـه مينـه را پـيدا کـــړه. اوس نـوي راغلـی ايمـل دومـره پښتـو زده کـړې ده چـې زمـوږ د کورنـی لـــه ايمل سره وربـانډې خـبرې وکـړي زمـوږ ايمـل تـه يـې هـم د دري ژبـې څو الفـاظ ور زده کـــړي دي.

د کـوچنـي ايمـل پـلار يـو پـوځي افسـر و خـو اوس د يـو ګنـډونکي سره د شـــاګرد پـه حيـث کـار کـوي. دی پـه خپلـه خـوښه او رغبـت ځان افغان بـولي دلتـه د کـوټې پـه ښار کـښې يـې پـه کـاکړ کالونـی کـښې يـو

کـور پـه کرايـــه نيـــولی دی. دی وايـــي چـــې مـــا دغـــه ځای ځکـــه د استوګنې لـه پـاره خـوښ کـــړی دی چـې اوســيدونکي يـــې پښتانـــه کـاکړان او اځکـزي دي دوی لـه مـورِ سـره ورتـه عنعنـات لـري. دی لـــه کاکړانو او اځکزو سره په روانـــه پښتـو خـبرې کـوي خـو لـه مـا سـره کلـه دري ژبه او کله په پښتو ژبـه خـبرې کـوي زه پـه خپلـه د يـو افغـان پـه صفـت د ده دغـه روش ډېر زيـات خـوښوم. د کـوچنـي ايمـل پـــلار پـــه دې خـبر دی چـې "ايمـل خـان" د خوشـــحال خـــان خـټک پـــه ځېر د تـاريخي پښتونخـوا يـو ملـي مبـــارز و چـــې د مغلـــو ســـره يـــې د ازادۍ غوښتنـې جـګړې کـړې دي. د دغـه پـوځي افسـر چـې نـه غـواړي نـــوم يې وليکل شي د ايمل خـان تـاريخي کـردار خـوښ و، ځکـه خـو يـې پـه خپل زوی نـــوم ايمـل ايـښی دی.

د اوږده تاريخ بد بختي؟

د افغانستان د چـــالاتو يـو بـل ځيړونکـي ارنولـود فيلجـر هـڅه کـړې ده چـې پـه افغانسـتان کـښې د تومـاس کـــار لايـــل يـــوې خـــبرې تـــه مصداق پـيدا کـړي. ده ويلـي دي چـې "بـد بختـه ملـت هغـه دی، چـې ډېر اوږد تـاريخ لـري"

ممکـن د امريکـې د ملـــت د کـــارټونيک او ســـمبوليک کاکـــا انکـــل سام Uncle sam)په زړه کـــښې همدغـه خـبره راتـاو شـوې چـې پـه خپلـه نرۍ اوږده .ږيره د لاس تېرولـــو پـه حـالت کـښې بـه يـې ويلـي وي چـې شکر دی چـې زمـا وفـاداره ملـت (د امريکـې ملـت) د زرګونـو کلونـو يـو بـوډا ملـت نـه بلکـــې د دوه ســـوه ځو کلونـــو يـــو ځوان او ځواکمـــن موجـــود دی.

د امریکې د کولمبیا پوهنتون استادانو د تاریخ او سیاسي علومو شاګردانو په غوږونو کښې همدغسې یوه خبره ځځولې ده. د مثال په ډول د دغه پوهنتون له پاره په یو لیکل شوي تاریخ کښې راغلی دي چې " د امریکې د انقلاب ځلورمه نتیجه د داسې یو ملت تخلیق دی چې په منشا او کرکتر کښې د زړې دنیا څخه مختلف دی" له دې څخه داسې څرګندیږي چې امریکایان که د تاریخ نه کوم درس او عبرت اخستل غواړي هغه زمور د خلکو "تېر په هیر" مشهوره محاوره ده که نه نو د امریکې تاریخ زمور د ډېر اوږده تاریخ په څیر له غمجنو ماجراګانو، تهاجماتو، مهاجرتونو، کورنیو جګړو او شخړو څخه ډک دی چې له هغو څخه را پیدا شوي اجتماعي مسائل په تېره ډول، ډول تعصبات د دې کتاب د ټولنیزې څیړنې په برخه کښې تر بحث لاندې راغلي دي.

د امریکې اصلي بومي خلک اوس د مهاجمینو او مهاجرینو په لویه ټولنه کښې حل شوي او ورک شوي غوندې دي. د امریکې د تعلیمي نصاب او اجتماعیاتو د یو کتاب له مخې د ځینو امریکایي پوهانو نظریه دا ده چې د امریکې بومي اوسیدونکي هم اصلا هغه مهاجرین دي، چې تقریبا شل زره کلونه د مخه یې له اسیا څخه د امریکې قارې ته مهاجرت پیل کړی دی او د دوی مهاجرت تر لسمې عیسوي پیړۍ پورې دوام کړی دی.

له پنځو سوو کلونو راهیسې هسپانویانو، فرانسویانو، هالیندیانو، جرمنیانو، سکاټلیندیانو یا ځینو نورو اروپایی قومونو د نوې دنیا (امریکې) په لوري تهاجمات، سیاحتونه او مهاجرتونه پیل کړي دي. تور پوستي غریبانان د غلامانو په توګه پیرودل شوي او امریکې ته راوړل شوي دي.

امریکایان هغې لویې پېښې ته چې دا مخالف او مختلف او هسک او تیټ خلک یې سره د ګډو فیصلو له پاره په جرګه کښې کښینول انقلاب وایي. دا هماغه انقلاب دی چې په دوې باندې یې "تیر غمونه هېر کړي اولنویو اندیښنو سره یې مخامخ کړي دي".

په مقابل کښې یې زمور اوږد تاریخ چې پیاوړي تمدنونه یې پیدا کړي یا یې سره مخامخ کړی او سپیځلي تهذیبونه یې پاللي دي هم له ډېرو ښو او بدو خاطراتو څخه ډک دی. مور نشو کولای چې د تېر تاریخ هرڅه هېر کړو خو دا خبره هم سمه نه ده چې د خپل تاریخ هغه ترخې خاطرې او اجتماعي پېښې د خپلو سترګو مخې ته نېغې ودروو چې په زړو زخمونو د نویو مالګو د اچولو او یو له بله د افغاني اقوامو د پردي کولو نه پرته بله موخه نه لري.

دلته دا خبره هم د یادونې ور ده، چې زمور لرغونی ملت یوازې د ویاړنه ډکو خاطرو ډېر اوږد تاریخ نه لري بلکې د لویو ملي ارادو ډېر لنډ تاریخ هم لري، چې مور په سیالۍ کښې له امریکایانو څخه دمخه کولای شي. امریکایان په خپله خوله وایي چې افغانان د ملي انقلاب په راوستلو کښې ورڅخه قدامت لري. د امریکې یو مهم سیاسي شخصیت سپیرو اګنیو کابل ته د خپل راتګ په وخت کښې دا خبره کړې وه. چې د امریکې بابا (جارج واشنګټن) لا ۱۵ کلن ځوان وُ چې احمد شاه بابا په افغانستان کښې د امریکې انقلاب ته ورته یو انقلاب راوستلی وو(په دې باره کښې د کتاب په راتلونکي یوه برخه کښې یو څه زیات مطالب لیکل شوي دي چې په خپل ځای کښې به ولوستل شي.)

زمور د معاصر تاریخ د وروستنۍ پېړۍ یعني شلمې پېړۍ تاریخ چې د افغانانو اوسنی نسل یې هم د ډېر وپېښو عیني شاهد دی، له داسې لویو انقلابي پېښو څخه ډک دی، چې د نړۍ د غټو

استعماري او استکباري طاقتونو تر پښو لاندې يې ځمکه لړزولې او آسيايي او افريقايي ملتونو ته يې نوې سا بخښلې ده او د دوی له غاړو او پښو يې د غلامۍ زنځيرونه غورځولي دي. که يو څه ځير شو او د خپلو تاريخي پيښو له نتيجو او اغېزو څخه سم درس واخلو د شاوخوا د ملتونو پيدايښت او خپلواکي، په دې پېړۍ کښې زمور د لويو اسلامي جهادونو او ملي مبارزو ضمنې توليدات (By-productions) دي. مور د همدې پېړۍ په پيل کښې انګريزي استعمار ته په ماتې ورکولو سره د آسيا او افريقا د ملتونو د آزادۍ غوښتونکو غورځنګونو علمبرداري وکړه او د همدې پېړۍ په پای کښې مو روسي استعما ر چې په سوسيال امپرياليزم هم مشهور شوی و، له پښو واچاوه چې په نتيجه کښې يې د منځنۍ آسيا پر هېوادونو ټينګې ګډول شوې استعماري منګولې يې سستې او بې واکه شوې.

زمور د ۲۵۰ کلونو معاصر تاريخ چې ځينې کسان يې د پرديو اصطلاحاتو په قالب کښې راولي او د همدوی له نظره يې تعبيرم وي، په حقيقت کښې د ټولو افغانانو حتی د هغو افغاني اقوامو د ګډې ملي ارادې تاريخ دی، چې په افغانستان کښې د ډېرې اوږدې مودې استوګنې له امله اوس مهاجم يا مهاجر نشي بلل کېدای.

دغه تاريخ د وطن د مور اصلي بچيانو يعنې پښتنو، تاجکو، بلوڅانو، هزاره ګانو، ازبکانو، ترکمنانو، نورستانيانو او نورو لويو وړو قومونو، قبايلو او عشايرو جوړ کړی دی.

دا خبره صحيح ده چې زمور ۲۵۰ کلن معاصر تاريخ که د مهمو ويارنو څخه ډک دی نو لويو غمونو زمور د ويارنو ډېرې لويې خوشحالی هم غمولې دي او يقيناً يو شمېر بې عدالتيو زمور د هېواد ټول ورونه قومونه په جلا جلا توګه او متفاوتو درجو خوړولي دي.

دا لـوی غمونـه او مصیبتونـه خـارجي مداخلـو او زمـوږ کورنیـو شـخړو او جګړو را پیدا کړي دي. خـو نـور ملتونـه هـم لـه دغسـې مصیبتونـو څخـه خوندي پـاتې شـوي نـه دي.

خبره به را لنـډه کـړو. اوس کـه مـوږ د خپـل تـاریخ څخـه کـوم مـهم درس اخستلای شـو هغـه دا دی چـې خـارجي مداخلـو او زمـوږ کورنیـو شخړو زمـوږ کـور وران کـړی دی او لا لګیـا دي ورانـوي یـې. نـو پـه کـار دي چـې پـه سـره سـینه د خپـل ملـت او خپـل هـیواد د ورانولـو خـارجي عوامـل او داخلـي عمـال وپـیژنـو او لـه هغـوی سـره پـه ګډه مبارزه وکـړو.

په يو ملت کښې بيل بيل مليتونه ؟

له هغه وخته چې په افغانستان کښې د کمونستي نظرياتو د خپرونو له پاره هڅې روانې شوې دي نو ورسره د دې کوښښ هم په کار اچول شوی دی چې افغاني تاريخي ټولنه چې د يو اوږد تاريخي جريان په لړ کښې يو موټی او نه ټبلېدونکی ملت ورڅخه جوړ شوی دی د خيدک يا پنير د يوې ټيکلۍ په توګه د بيلو بيلو مليتونو په نامه داسې توټې کړي چې د توټې شوې بخارا او ترکستان په څير په آسانۍ سره د پخوانې شوروي اتحاد تر ستوني تېر شي.

زمونږ د دري ژبې تکړه څيړونکي او نامتو ډيپلومات دکتور روان فرهادی څو کلونه دمخه د وفا په جريده کښې د خپلې يوې په زړه پورې مقالې په ترڅ کښې د افغانستان په واحد ملت کښې د مليتونو د جوړولو په هڅو انتقادي نظر اچولی وُ ده ليکلي وو، چې د ستالين د حکومت په دوره کښې چاپ شوي روسي دائرة المعارف د افغانستان تر عنوان لاندې د افغانستان اوسيدونکي خلک يو ملت نه وُ بللی خو د ستالين له مرګ څخه ۱۲ کاله وروسته يوه روسي بشر پېژندونکي استاد "دبتز" چې په افغانستان کښې يې څو کلنې

مطالعې کړې دي، دا حقیقت درک کړ چې د افغانستان ملیتونه د ګډ ژوند کولو په اثر اوس یو موټی ملت ګرځېدلي دي.

له بده مرغه په افغانستان کښې د لینن او سټالین د نظریې پلویانو بې له دې چې د افغاني ټولنې اجتماعي واقعیتونه درک کړي، د نفاق او پردې توب د تخمونو د کرلو له پاره د "بیلا بیلو ملیتونو" اصطلاح رواج کړه. د ملیتونو مفهوم په خپله د افغانستان مارکسیستان په دریو ګروپونو ویشلي وو، یو دې هغه ګروپ و چې د خپلو خاصو سیمه ایزو ملاحظو له مخې یې د دوی په انګیرنه د افغانستان د بېلا بیلو ملیتونو "صورتونه" له خپلو "مخرجونو" سره یو ځای یو کول غوښتل مثلاً آرزویې لرله چې د تاجک، ازبک او ترکمن قومونه له خپلو مخرجونو یعنې شوروي تاجکستان، شوروي ازبکستان، شوروي ترکمنستان او.. سره یوځای شي او افغانستان د یو مترقي عمل (!) په توګه تجزیه کړل شي. بل ګروپ داسې احساسوله چې په افغانستان کښې د صنعتي انقلاب اغېزې دومره محسوسې نه وې چې د دوی د انقلاب له پاره یې د خامو موادو په توګه د کار ګرانو یوه لویه طبقه په لاس ورکړې وای له بلې خوا د مارکس د تصور سره سم په افغانستان کښې بشپړ فیوډالیزم موجود نه وُ ورپسې هغه سرمایه داري هم نه وه راغلې چې د دوی له فکري قالب سره سمه پرولتاریایي زېږولې وای. نو د خلقي انقلاب (!) له پاره یې د "اضدادو تشدیدولو" له پاره بله لاره غوره کړه او هغه د ملیتونو په نامه په افغانستان کښې د ورونو قومونو ترمنځ د پردیوالي او بېګانه ګي احساس را پېدا کول وو البته یو بل ګروپ یې له هغو کسانو څخه جوړېده چې غوښتل یې د ځینو قومي او سیمه ییزو محرومیتونو څخه په استفاده او د دوی له اقتصادي او اجتماعي حقوقو څخه د دفاع په ادعا یا پلمه د خپلو ځانونو له پاره قومي

ادې جوړې کړي که چېرې دغه ډول کسان له لوړو دولتي امتیازاتو څخه لویږي نو پښې یې تر ځمکې ونه رسیږي بلکې د خپلې سیمې د خلکو له خوا په اوږو وګرځول شي.

د رژیم له بندو شویو صندوقونو څخه راوتلي حقایق

محمد حسن شرق چې د پرچمیانو په رژیم کښې ډېر ورننوتلی و تر دې چې د صدارت عظمیٰ چوکۍ ته رسېدلی و، د دغه رژیم له ډېرو زیاتو اسرارو څخه خبر دی ده چې غوښتي ځان سپین کړي نو د پرچمیانو او روسانو ډېر پټ او خطرناک پلانونه او پروګرامونه یې رسوا کړي دي. دی د خپل کتاب (کرباس پوشهای برهنه پا) په (۲۰۹) مخ کښې د پرچمیانو د یوې انقلابي غونډې رویداد داسې لیکي:

" تجارب درین چند سال شاهد انست که دین مانندهسته های فولاد این ملت را بهم پیوند داده و وطن دوستی و دفاع از وطن نیرو مند ترین سلاح شکست نا پذیر این مردم است بیائید مثل موریانه این اشیانه ای فولادین را فرو پاشیم و مثل شیطان قلوب پاک اینها را بشک و تردید و بد گمانی اغشته کنیم تا توانسته باشیم برادر را مقابل برادر، قوم را بجان قوم و قبیله را به قبیله، شیعه را با سنی، پشتو زبان را با دری زبان با هم کلاویز کنیم و اتش کینه و عداوت را میان شان بافروزیم و انگاه در قله فتح نشینیم و بیچارگی و در ماندگی این قهرمانان تسلیم نا پذیر را نظاره کنیم! جام فتح بنوشیم و رقص کامیابی را بره اندازیم (کشیدن هو را و کف زدن)"

بلی تفرقه و بـاز هـم تفرقـه، رفقـا بـاور داشـته بـا شـیدتا روزیکـه قـوم بجـان قـوم و قبیلـه بجـان قبیلـه، پشـتو زبانـها بطـرف دری زبانـها و شـیعه هـا بسـوی سـنی هـا و بـرادر بـه سـوی بـرادر تیـغ نکشـیده باشـد، مـا برا حـت نخواهیـم خوابیـد و ارمـان پیـاده کـردن سوسـیالیزم علمـــی را بـاخود بـه خـاک خواهیـم بـرد و شـعار سوسـیالیزم را بـدر وازه هـای امـا کن مقـدس نصـب نخواهیـم توانیسـت و حلقـه ای از حلقـه هـای زنجـیر کمونیزم بـین المللـی نخواهیـم بـود...."

دکتورحسـن شـرق لیکـي چـې د شـوروي سـفیر احمـد فکـرت جـانو ویچ تایبوف چې پـه قـوم تاتـار او یـو مسـخ شـوی مسـلمان وُ او پـه خپـل روسـي تـوب یـې ویـاړ کـاوه پـه افغانسـتان کـښې د خلـــق دموکراتیـک ګوند او اردو تـــه لارښودنـه کولـه، د همـده پـه لارښوونـه د سیاسـي بـیرو یو شمېر غـړي موظـف کـړل شـول چـې افغـاني ملیتونـه (!) پـه جنـګ او جګړو بوخـــت وسـاتي، دغـو کسـانو د شـوروي نظـام د ټینګښت لـه پـاره تعهد کـړی وُ، د دوی پـه اصطـلاح د هـر ملیـت لـه پـاره د هماغـه ملیـت څخه یو څوک چې د سیاسـي بـیرو غـړی هـم وُ، ټاکـل شـوی وُ.

دکتور حسن شـــرق نـه پوهیـږم ، چـې د کومـې ملاحظـې لـه مخـې د دغو کسانو نومونـه نـه دي څرګنـد کـړي.

د افغانسـتان د چـارو یـوه فرانسـوي څېړونکـــی اولیویـــه روا ولیکـــل چـې د قبـایلو او ملیتونـو وزارت د شـوروي د ملیتونـو د کمیسـاری سـره چـې پـه ۱۹۱۷ کـښې تأسـیس شـوی وه کـــامل شـباهت درلـــود. دغـــه کمیسـاري سـتالین پـــه شـــوروي ترکســتان کـــښې تاسـیس کـــړې وه. د کمیسـاری وظیفـه دا وه چـې د ترکسـتان د خلکـــو علایـــق لـــه اســـلامي امت او ترکي فرهنګ څخه پرې کـړي نـو ځکـه یـې هغـه ټولنـه پـه بیلـو بیلو ملیتونـو وویشـله تـر دې چـې ځینـې ملیتونـه یـې پـه مصنوعـي تـوګه جوړ کـړل.

دکتور محمد حسن شرق چې د پرچم د رژیم په پیاوړي منځني جریان کښې واقع ؤ د دغه فرانسوي څیړونکي دا لیکنه په خپل کتاب کښې په غیر مستقیمه توګه تائید کړې ده. لیکي چې په بیلو بیلو ملیتونو باندې د افغانستان د ملت د ویشني له پاره د اقوامو، قبایلو او ملیتونو د وزارت تشکیلات ډېر پراخ شول او د ملیاردونو افغانیو په لګښت د شمالي ولایاتو له پاره د جلا حکومت (صدراعظم اوکابینې) تشکیلات جوړ شول همدارنګه د ډېرو زیاتو پیسو په لګولو سره د هزاره ملیت او د پښتنو کوچیانو د ملیت له پاره خاص تشکیلات جوړ شول.

د ملي مسألې ساینټفک حل یعني څه؟

سړی نه پوهیږي چې پرچمیانو د "ملي مسالې د حل" له پاره له څه ډول ساینټیفیک روش څخه کار اخیستی دی ، چې خواره واره کوچیان یې چې د سیاسي علومو له نظره د جلا ملیت جوړونې شرایط نه لري ملیت بللي دي څکه د ملیت د جوړښت له پاره د ټاکلې سیمې لرل ضروري دي په داسې حال کښې چې کوچي پرګنو ته لا تراوسه پورې د مځکې ورکولو غمه نه‌ده خوړل شوې ډېره عجیبه خبره دا ده چې کوچیان ملیت بلل شوي دي خو پښتون قوم ته د ملیت درجه نه ده ورکړل شوې. دکتور حسن شرق په دې باره کښې لیکي:

"اقوم و قبایل را مرحله ابتدایي نظام اجتماعی گفتند و پشتونها به حیث عقب مانده ترین ملیت از صف ملیتهای افغانستان جدا و به اقوام و قبائل پینه زدند برای نتیجه گرفتن از کتاب ثمره ای

دوستی وزارت ملیتـــها را بـا طـول و عـرض وزارت اقـوام و قبـائل تاسـیس میکنند و ملیت پښتـــون در تشـکیل اینـوزارت شـامل نمـی باشـد...

د دوستی ميوه: پښتون دښمني

په کمونسـتي لټريچـر کـښې دې ځلـه داسـې کلمـات راځي چـې هغـه پـه حقيقـت کـښې د کمونسـتانو د خـاص افـهام او تفـهيم لـه پـاره د يـــو ډول شغر په توګه د معکوســې مانـا لـه پـاره اسـتعماليږي لکـه چـې دمخـه يادونـه شـوې ده کلـه بـه چـې دوی پـه کومـه ولسـوالی وحشـيانه او بـې رحمانـه حملـې کـولی نـو راډيـو يـي خـبر بـه دا وُ چـې ګويـــا د هغـــې ولسـوالی خلکـو د سـولې پـه ګټه اوږد مـارش کـړی دی. دکتـــور حســـن شـرق د "ثمـرهٔ دوسـتی" د کتـاب د ليکـوال د ليکنـی څخـه يـــو مطلـــب داسې اقتبـاس کـړی دی:

"مـن در ميـان هـزاره هـا، تاجيکـها، ازبکـها و ترکمـن، نورسـتانی بـــه کمـک رفقـای بـيروی سياســـی کـــه وظيفـــه دار شـــده انـــد روزګاری را بوجـود خواهيـم آورد کـه در ميـان خـود مثـل ګڼدم بجـــان هـــم نيـــش زننـد امـا مقـابل پشـتونها جبهـه ای واحـدی بوجـود آورنـد مـــن دريـــن بـاره کتـابی بنـام ثمـره دوسـتی نوشـته ام آنـرا توزيـع نشـــر و بـــاز هـــم تجديد کنيـــد.."

دکتور حسن شرق پـه دې لړ کـښې زيـاتوي :

"مفکـورهٔ سـتم ملـی و ضديـت پشـتونها را کـه از جـانب يـک تعـــداد اشـخاص بنـام بدخشـی هـا کـه در حقيقـت کمـتر آنـها بدخشـی بودنـــد بنـام سـازمان انقلابـی زحمتکشـان بوجـــود آورد و چنـــد نفـــر ترجمـــان روس تـاجيک شـده کـه علنـاً مشـــوق ايـــن کـــار بودنـــد نـــيز بدســـت همکاران تفرقـه انـداز رفيـق ... افزودنـد."

د ژبي، نژاد يا جغرافيايي موقعيت له مخې مليتونه يو له بل څخه نه ببلول کېدل بلکې دغه کار د حاکمه هئيت په خونبه سر ته رسېدې يعني د افغان ملت د پريکولو چاړه د حاکمې طبقې په لاس کښې وه، دکتور حسن شرق په دې باره کښې ليکلي دي:

" آن عده از مردم مليت پشه ئی که پشتو زبان مادری شان شده در تذکره مجبور بودند که مليت پشه يی بنويسند نه پشتون، اما تعدادی کثير از پشتونها که بمرور زمان دری زبان مادری شان اند بايستی مليت تاجک بنويسند. برخلاف پشتونهای دری زبان و پشه ای های پشتو زبان، ازبکها و ترکمنن های دری زبان بايستی مليت ازبک و ترکمن را بخود بگيرند. احفاد حضرت محمد (ص) و صحابه کبار که بنام سيد و خواجه و حضرت مورد احترام مردم بودند مجبور شده بودند تا نام قومی خود را حذف و آن مليتی را به پذيرند که با آنها زندگی دارند مثال سادات پشتو زبان مليت پشتون و دری زبان ها تاجيک و هکذا هزاره، ازبک وغيره.

د مخرجونو له پاره د صورتونو پيدا کولو هڅې

د دکتور حسن شرق په دې څرګندونو سره له هغې خطرناکې ستراتيژۍ څخه پرده پورته کيږي چې په اقليت باندې د اکثريت د بدلولو او په مصنوعي توګه د هغو قومونو د ډېرولو له پاره جوړه شوې وه چې د شوروي "مخرجونو" له پاره "صورتونه" "فرمايشي صورتونه" جوړ کړي.

د افغانستان ورونو قومونو په تېره د شمال ازبکو او ترکمنو د دې ستراتيژۍ د ماهيت په پېژندلو سره د هغې څخه خپله لمنه توله

کړه لکه چې دکتور حسن شرق لیکلي دي: د ۱۳٦۷ کال د ثور په میاشت کښې د رژیم د تعلیم او تربیې وزیر هغه وخت چې په شمالي ولایاتو کښې یې د خپلو لیدنو کتنو نتیجه د وزیرانو د شورا یوې غونډې ته اوروله وویل چې ازبکان او ترکمنان نه غواړي چې په خپلو مورنیو ژبو کښې درس ووایي، دوی غواړي چې بچیانو ته یې په دري یا پښتو ژبو کښې درس وویل شي. د تعلیم او تربیې د وزیر دغه خبره د کابینې د غړیو له پاره عجیبه او د منلو وړ نه وه خو د رژیم د مشر له پاره ډېره دردناکه خبره وه، مخ یې د تعلیم او تربیې وزیر ته واړاوه: دا خلک ډېر وروسته پاتې دي دوی حتماً باید د مترقي حکومت دا مقرارات ومني د تعلیم او تربیې وزیر څرګنده کړه چې ده ډېرې زیاتې هڅې کړې دي او په دې باره کښې یې خلکو ته ډېر څه ویلي دي مګر هغوی له دې خبرې څخه ډډه کوي.

دکتور حسن شرق لیکي چې ده په دې باره کښې د تعلیم او تربیې له وزیر نه پوښتنه وکړه چې ازبکانو او ترکمنانو ولې نه دي غوښتې چې د دوی بچیان په خپلو مورنیو ژبو کښې تحصیل وکړي. په ځواب کښې ورته ویل شوي دي چې ترکمنان او ازبکان دې خبرې ویرولي دي هسې نه چې د دوی بچیان د آمو د هغې غاړې د نجونو او هلکانو په څیر کمونیست تربیه شي. دوی ته دا ویره له دې امله پیدا شوې ده چې د دوی د بچیانو له پاره په ازبکي او ترکمني ژبو کښې لیکل شوي کتابونه په شوروي اتحاد کښې چاپ شوي دي نو دوی فکر کوي چې په شوروي کښې چاپ شوي کتابونه د دوی د بچیانو عقیده اړوي نو دوی د خپلې مورنۍ ژبې څخه تېر دي خو د خپل پلار او نیکه مذهب (اسلام) له لاسه نه ورکوي.

د ملي وحدت د ماتولو هڅې

تولـو افغانـانو پـه خپلـو پنځو واړو حواسـو بـاندې د دې ســـتراتيژۍ مصيبتونـه درک کـړل. دا مصـايب پـه خپلـه د سـتراتيژۍ جوړوونکـو هـــم پيشـبيني کـړی وو، دکتـور محمـد حسـن شـرق بيـــا هـــم د يـــوې پـــتې غوندې رويداد د خپل کتاب پـــه ۲۱۸ مـخ کـښې ليکلـی دی خـو بيـا يـې هـم د مسئولو کسـانو نومونـه پـټ سـاتلي دي. مثـلاً دی د يـو "رفيـــق" د خولې داسـې خـبره را اخلـي:

فکر می کنـم قطعـات مسـلح از مـردم ازبـک و ترکمـن تحـت رهـبری و سـازماندهی رفقـای حزبـــی ترکمـــن و ازبکـــها بوجـــود آوريم و ايـــن قطعـات را راسـاً بـه جنـگ مجـاهدين پشـــتون، تـــاجک، هـــزاره وغـــيره گمـاريم.

رفيـق.....! نظـر فـوق العـاده خـوب و بکـر امـا تعـداد عسـاکر ازبـک آنقـدر نيسـتند کـه بمقـابل همـه مجـاهدين بجنگنـد. رفيـق... بـا خنـــده ايکه منـوط چـهرهء بشـاش اوسـت ميخنـدد. رفيـق.. مانـه بـرای شکسـت مجـاهدين بلکـه بـرای شکسـت وحـدت ملـی مـردم تحـت نـــام ازبـک اجـيران قومـی رابـه جنـــگ قندهـــار و پکتيـــا، بـــه هـــرات و بدخشـــان ميفرسـتيم. رفقـاء ازجـــا برخاســـتند و بـــه ابتکـــار و انديشـــه رفيـــق... و رفيق... هورا کشـان تـبريک گفتنـد.

رفقا! ما به اينصـورت جنـگ حزبـی بـا مـردم را بـه يـک جنـگ قومـی تغيـير جـهت خواهيـم داد. اطمينـان دارم کـه بـرای ايـن مقصـد رفيـــق کـارمل و رفيـق نجيـب بـهترين و بـا اسـتعداد ترين شـــاگردان دبســـتان لينن کبير اســـت.

بالاخره په همدې غونډه کې شوروي مشاور په خپل وار سره خبرې کوي د ده خبرې دکتور محمد حسن شرق داسې لیکلې دي:

"رفقا بخاطر دارند که چند هزار بچه های که پدر و مادر و خانمان خود را در زیربمباران از دست داده بودند برای تجدید تربیت و غمخواری بشوروی فرستاده بودیم اکنون قسمتی زیادی از انها از نقطه نظر عقیده کمونیست های سرسخت و اشتې نا پذیر بیار امده اند. بانها در شوروی (البته تاجکستان) تا حد باور دانانده اند که پدر، مادر و اقارب و خانه و زندګی شان از دست مخالفین ح. د. خ یعنی مجاهدین از بین رفته اند انها از عواطف و احساسات خانوادګی بدور تربیت دیده اند انها ترحم و محبت را نمی شناسند انها دشمنان اشتی نا پذیر با مجاهدین افغانستان اند. ما انها را که اکثریت او شان تعلیم جنګی دارند و بهتر از هر چیز استعمال سلاح بکشتن طرف مقابل خویش اموخته اند اما محل سکونت و اقارب خود را بخاطر ندارند، به شما باز می ګردانیم تا اینها را بصفت قوت های قومی بکمارید و انګاه ویرانګری های اینها را تماشا و به پیش بین شدن دوستان شوروی خود برای چنین روزها اعتماد داشته باشید.

همه جامهای لبریز از شرابهای بهترین جهان را بسلامتی رفیق مشاور بهم مینوشند...."

روزل شوي جنایتکاران

د دکتور شرق د لیکنې له مخې له دې ډول روزل شویو کسانو څخه یې داسې ملیشایی قطعات جوړول چې په بې رحمی کښې یې

ساری نه درلـود دوی د خلکـو د مـال او نـاموس پـروا نـه سـاتله، پـه هـر ځای کښې دوی د ازبک ملیشـې پـه نامـه مشـهور شـول ځومـره بـه چـې د دوی جنایتونـه زیـاتېدل هغومـره بـه یـې مقـام او مـنزلت د جمـهور رئیـس پـه نظـر کـښې لـوړېده. دوی بـه د شـوروي اتحـاد د سـاتېریو ځایونو ته په وړیا تـوګه اسـتول کـېدل.

حسـن شـرق زیـاتوي چـې یـوازې د ازبکـو او تـاجیکو ځخـه دا ډول بې رحمه او بـې عـاطفې قطعـات نـه جـوړېدل بلکـې پـه شـمال کـښې د اوسېدونکو پښتنـو ځخـه یـې هـم دا ډول جنایتکـاره باندونـه جـوړ کـړي وو. د پښتنو په نامـه د جنـایت کـارانو د اډلـه د "قطعـه نـا خـدا" پـه نامـه یادېدلـه. دې ډول کسـانو هـم خپـل دیـن او هـم خپلـه پښتـو تـر پـښو لانـدې کـړې وه او د ازبکـو او تـاجیکو د ملیشـې پـه ځیر یـې داسـې جنایتونه کړي دي چې د قلم پـه پاکـه ژبـه نشـي بیـا نـېدلای.

په خپلـه پـه دکتـور حسـن شـرق پسـې ډېرې خـبرې کیـږي خـو ده پـه خپـل کتـاب کـښې د ځان سـپینولو لـه پـاره د خلـق، پـرچـم د رژیم د واکمنو په سـرو بـاندې ډېرې خـاورې اچولـې دي. مـوږ چـې دلتـه د ده لـه کتـاب ځخـه زیـات اقتباسـات وړانـدې کـړي دي دا کـار مـو یـوازې یوازې له دې املـه کـړی دی چـې دی هغـه وخـت پـه حاکمـه دسـتګاه کـښې یـو شـامل یـا دې دسـتګاه تـه ډېر نـژدې سـړی وُ. نـو د ده لیکنـې په حقـایقو بـاندې د رڼا اچولـو پـه کـار کـښې زیاتـه مرسـته کـولای شـي. ده پـه خپلـه د افغانسـتان د دوه ټوټې کولـو د پروسـې پـه هغـه برخـه خولـه پـته نـه ده نیولـې چـې دی د افغانسـتان د صدراعظـم پـه حیـث د نیمـایي افغانسـتان (شـمالي افغانسـتان) لـه پـاره د مرسـتو ترلاسـه کولـو په مقصد شوروي اتحاد تـه ورغلـی وُ، دی پـه دې بـاره کـښې لیکـي :

سـفر هیئـت افغـانی تحـت ریاسـت اینجـانب از ۱۸ سـپتامبر تـا ۲۲ سـپتامبر ۱۹۸۸ مطـابق ۲۶ تـا ۳۰ سـنبله بدوشـنبه، لیننـګراد و مسـکو

صورت پذیرفت در میدان هوایی تزئین شده با بیر قهای هردو کشور بشهر دوشنبه تاجکستان از طرف رئیس شورای وزیران و تعداد کثیری از رهبران حزبی و حکومتی تاجکستان با گرمی زائد الوصفی استقبال و حین مذاکرات رئیس شورای وزیران ترکمنستان و ازبکستان نیز حاضر بودند از بحث روی همکاری های مستقیم ولایات همسرحد با کشور افغانستان و کشور های فوق در یک فضای نهایت دوستانه و مثمر صورت گرفت (ص ۲۵۴)".

دکتور حسن شرق لیکي کله چې ده او ګورباچوف یو له بل سره وکتل نو ګورباچوف د افغانستان په شمال کښې احمد شاه مسعود ته د یوې پراخې سیمې او خود مختاری موضوع تر بحث لاندې راوستله. خو ده ورته هغه مشکلات وشمېرل چې په دې لار کښې موجود وو او ورته څرګنده یې کړه، چې د افغانستان د شمال او د هزاره جاتو خلکو ته تر دې دمخه وړاندیز شوی وُ چې که چېرې دوی له جګړې څخه لاس واخلي نو خود مختاري به ورکړل شي. په دې باره کښې پخواني صدراعظم کشتمند ډېرې هڅې وکړې اما نتیجه یې ترلاسه نشواي کړی. هغوی بس یوه خبره کوله او هغه دا وه چې دوی د کمونستي حکومت د نسکورېدو تر وخته پورې له جهاد څخه لاس نه اخلي.

د دې مطالبو د یادونې څخه د حسن شرق مطلب دا دی چې په شمالي او جنوبي برخو یې د افغانستان د ویشلو په لار کښې په لوی لاس خندونه را پېدا کړل خو دننه په دستګاه کښې او هم په شوروي اتحاد کښې یې خپل مخالفین زیات کړل دا څکه چې ده د کابینې غړي چې د کشتمند په وخت کښې ډېر زیات کړل شوي وو راکم کړل، د صدارت اووه تنه معاونین او په شمال کښې د یو بل صدارت او کابینې تشکیلات، د ملیتونو وزارت او له ځینو ولایاتو

(شمالي ولایاتو) سره د شوروي اتحاد د مستقیمو مرستو وزارت له مینځه یووړل شول.

دی ادعا کوي کله چې د ده اعتدالي خط مشی اولسي جرګې (!) ته د اعتماد د رایې د اخیستلو له پاره وړاندې شوه نو د ولسي جرګې یو وکیل او د پرچم د ګوند د سیاسي بیرو غړی او د ده د ګوند نورو غړو له دې امله د حکومت په کړنلاره سختې حملې وکړې چې ګویا د شمالي ولایاتو د کابینې په له منځه وړلو سره د دري ژبو په حقوقو تېری شوی دی. حسن شرق لیکي چې په همدغه خبره شوروي مقامات له ده څخه ناراضه شوي وو.

د اضدادو د تشدیدولو له پاره مصنوعي تعصبات

د دکتور شرق له دې توضیحاتو څخه څرګندیږي چې د خلق، پرچم رژیم په افغانستان کښې د اضدادو د تشدیدولو له پاره په مصنوعي توګه هم قومي او ژبني تعصبات را پیدا کول. د پښتنو اکثریت د شوروي اتحاد له پاره د سترګو اغزی ګرځېدلی وُ دېرې لویې هڅې په کار واچولې شوې چې دا اکثریت په اقلیت واړول شي چې د افغانستان د ویشنې کار آسانه شي، پښتنو ته د یو ملیت په درجه قائل نه وو خو د هزاره ملیت په مقابل کښې یې د پښتنو کوچیانو څخه ملیت جوړاوه. د ملیتونو د جوړولو او ملیتونو ته د زیاتې خودمختاري جادو چې کمونستانو له پخوا څخه دېر پوخ کړی وُ. د افغانستان پوه او خیر او زیرک خلک مسحور نشوای کړای. څکه دوی فکر کاوه، چې دا دول حرکات او تحریکات د "بیل یې کړه ایل یې کړه" د ستراتیژی یو تاکتیکي حرکت وُ.

هر کله چې دا ټول چلونه او تاکتیکي روشونه ناکام شول نو بیا په مجاهدینو کښې د نفوذ کولو له پاره هڅې او امکانات په کار واچول شول. د رژیم کار کوونکي هم تلولي وو، چې لږ تر لږه په جهادي تنظیمونو کښې د سرامن خو پیدا کړي. اوس د رژیم د هر واکمن له مغزو څخه دا خبره وتلې وه چې حکمتیار او احمد شاه مسعود غوندې وتلي کسان دي له خپلو خانو سره په قدرت کښې شریک کړي بلکې اوس دوی غوښتل چې خانونه له هغوی سره په نښو او یا بدو کښې شریک کړي چې دمخه جوړه شوې ستراتیژي له نویو لارو او چارو څخه په استفادې سره پر مخ بوتلله شي.

انقلابونو خپلې سرې او شنې جامې څنګه بدلې کړې؟

کله چې په افغانستان کښې صادرو شویو انقلابونو ورو ورو خپلې سرې او شنې جامې بدلولې نو هغه کمونستان چې د مخه یې د خپلو خانو له پاره قوی ادې جوړې کړې وې په ډېره مصوونه توګه له یو انقلاب څخه راووتل او په بل انقلاب کښې یې ځای ونیو او په دې ډول د ملیتونو اصطلاح له یوه انقلاب څخه بل ته د سوغات په توګه یورل شوه. دې اصطلاح په خپله د استاد برهان الدین رباني په وینا وو کښې هم ځان بنکاره کړ.

د هېواد یو سابقه لرونکی لیکوال او ژورنالېست عبدالحمید مبارز په خپل کتاب یعنې حقایق و تحلیل و قایع سیاسی افغانستان کښې د فرانسوي لیکوالو او ژرونالستانو له خولې لیکي کله چې جمعیت خپله بنسټاله نظریه پرېښوده نو یې زیات فارسي ژبي جذب کړل او له جمعیت څخه یې د تاجیکانو یو حزب جوړ کړ.

بناغلی مبارز په خپل دغه کتاب کښې لیکي: کله چې ببرک کارمل په مسکو کښې د کورباچوف او په کابل کښې د نجیب د ماتې خوړلو آوازې واوربدې نو په بېړه یې ځان افغانستان ته را ورساوه چې په حزب کښې د نجیب د مخالفینو رهبري په غاړه واخلي او د وکیل، مزدک او جنرال نبي عظیمي د کودتا له پاره چې د جنرال عبدالرشید دوستم ملیشې به ورسره مرسته کوي، زمینه برابره کړي. خو ځرنګه چې په مسکو کښې د ګنادي انایف کودتا ناکامه شوه، په کابل کښې د کارمل د طرفدارانو د پښو او لاسونو پلې او عضلې هم غرندې شوې نو کارمل د دې جرأت ونکړ چې په کابل کښې قدرت ترلاسه کړي. دایي غوره وګڼله چې د ده پلویان د جمعیت او شورای نظار سره یو ځای شي. هغه وخت چې نجیب د ملګروملتو په دفتر کښې پناه واخسته خارجه وزیر وکیل او ځلور کسه جنرالان چاریکارو ته ورغلل او له مسعود ځخه یې وغوښتل ، چې کابل ته ورسره لاړ شي او قدرت ترلاسه کړي.

کله چې د نسکور شوي حکومت ځینې واکمن د نبو امکاناتو سره مسعود ته ورغلل نو ده د افغانستان د جهاد قوماندانانو ته شا ور وګرځوله او د هغوی فیصلې یې هم شاته واچولې. په همدغه وخت کښې د سیاف یو قوماندان محمد انور تولواک له مسعود سره په بې سیم کښې خبرې کوي او ورته وایي چې اوس څه کوې؟ مسعود قوماندان انور تولواک ته لنډ ځواب ورکوي چې که له تا سره ځلور سوه ټانکونه او یوه منظمه قوا وای نو دا راته وایه چې تا به څه کړي وای؟ دا هغه ځای دی چې د قدرت نښې د مسعود سترګې پټې کړې وې اوس یې نه د جهادي قوماندانانو ګډې پریکړې او نه یې د ملګروملتو پلان ته کتل مفت لاس ته ورغلي ځلور سوه ټانکونه او یوه منظمه قوا د ده له پاره هر څه وو.

په دې توګه د ډاکټر نجیب د حکومت له پای ته رسېدو سره سم د راستیانو او چپیانو د ادغامولو یا ائتلافونو ورسره د سختو سیالیو مسابقه جوړه شوه. په نتیجه کښې یو ائتلاف په دې مسابقه کښې ځان دمخه کړ او په کابل کښې یې په قدرت منګولې ورټینګې کړې. ورسره د ائتلاف هر اړخ په خپلو چاپې خپرونو کښې ادعا وکړه چې دوی ګواکې د فاشیستانو او شوونیستانو اډې ونړولې. کابل راډیو او تلویزیون د شورای نظار د کار کوونکو لاس ته ورغلل هغوی هم په فاشیزم سختې حملې وکړې.

ډګر جنرال عبدالروف بیګي د شمالي صفحاتو د عمومي نظامي قوماندانی رئیس ارکان د ملي اسلامي جنبش د بیرغ د رپولو په مراسمو کښې د خپلې وینا په ترڅ کښې وویل:

" بیرق جنبش ملی اسلامی نما د و ممثل وحدت ملیتهای محروم افغانستان در راه نیل به حقوق مشروع سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی میباشد که به یاری خداوند بزرگ بعد از دو نیم سده اخیر طومار حاکمیت ګروه قبیله سالار شوو نیستی را فرو پاشیده اند"

د ده دغه وینا د جنبش د جرېدې "ندای اسلام" د لومړۍ ګڼې په اووم مخ کښې راغلې ده، چې د ۱۳۷۲ لمریز کال د حمل د میاشتې په ۲۵ نېټه خپره شوې ده.

همدغسې یو مطلب د جنبش په یوه بله جریده "ارمغان" کې، چې د ۱۳۷۲ د سرطان په میاشت کښې نوې تأسیس شوې او د فاریاب په دولتي مطبعه کښې چاپ شوی ده لیکل شوی دی. دې جریدې ته د فاریاب والي عبدالرحمن رحماني په خپل پیغام کښې لیکلي دي، چې:

"جنبش چون موج تو فانزا کاخ استبداد و استکبار را از بنیاد بر افکند و طومار سیاه قبیله سالاری فاشیت های زمان را درهم پیچید"

د دغو مطالبو لوستل سړي ته له نوي سره د فاشیزم او شوونیزم د تعریفونو په باره کښې پوښتنې پیدا کوي تاسې باور وکړئ چې د هغو په لوستلو سره زه په خپله حیران پاتې شوم او نه پوهېدم چې ددې مهمو جملو له مخې څوک فاشیستان او شوونیستان وبولم او څوک نه؟

د دې مجلې په یوه لومړی برخه کښې هلته چې په تعصباتو باندې د ټولنیزې ساپوهنې په رڼا کښې بحث شوی دی. یو مهم ټکی لیکل شوی دی چې دلته یې یادونه بیا په کار ده او هغه دا دی چې ټاپه یې یا کلیشه یې نظریات (stereotypes) د سترو اشتباهاتو او غلطو قضاوتونو سبب ګرځي مثلاً د پښتنو مخالفینو په تېره ایراني او کمونستي منابعو یوه نظریه قایمه کړي ده چې که په ګوند کښې یا حکومت کښې ظاهراً پښتانه دېر شمېرل شوي وي نو هغه ګوند یا حکومت فاشیستی دی نو بیا هر پښتون فاشیست دی.

په پورتنیو مطالبو کښې د " دو نیم سده اخیر" عبارت د افغانستان تېرو دوه نیمو پېړیو ته صریحه اشاره ده، په دې تاریخي دوره کښې پښتنو د افغانستان د نورو ورونو قومونو په همکاری افغانستان له یو مثلث ډوله استعماري بنکیلاک څخه راوویست او د مرحوم غبار په قول یې په همدغه وخت کښې دوه نیم سوه کلنه تجزیه پای ته ورسوله.

زمور یاران خو به ګوندې دې خبرې نه وي خواشیني کړي، چې هغه وخت ولې افغانانو د اریانا تاریخي هېواد د پان تورانیستانو، ایرانیانو او مغلو له منګولو څخه ویوست.

کـه پـه فاریـاب کـښې دار دور د وختونـو د والي عبدالرحمـان رحمـاني د پېغـام د "قبیلـه سـالاری فاشیسـت هـای زمـان" ټکـي پـه نظـر کـښې ونیسـو نـو بنایـي د دوی مقصـد د محمـد زیـو قبیلـه او د شـهید محمد نادر شـاه کورنـی په خاصـه تـوګه شـهید داود خـان وي. زمـا پـه یاد دي کله چـې د داود خـان پـه مشـرتابه سـپینه کودتـا وشـوه او د هغـه مرحوم عکس په اخبـارونو کـښې چـاپ شـو یـو ځـا چـې د ده عکـس تـه وکتـل نـو ژر یـې ټاپـه وربـاندې ولګولـه چـې "سـترګې یـې د فاشیسـت دي" خـو هـم دکتـور محمـد حسـن شـرق او هـم جـنرال عظیمـي پـه خپلو کتـابونو کـښې پـه هغـه بـاندې دغـه لـګول شـوې ټاپـه پاکـه کـړې ده.

مرحـوم داود خـان پـه دې تومتـي شـوی و چـې هغـه ګویـا پښتـون قوم یا پښتو ژبـې تـه خاصـه توجـه لرلـه. خـو حقیقـت دا دی چـې اسـتاد ربـاني تـر ده زیـاتي ویناوې پـه پښتـو ژبـه کـښې ورکـړې دي. د داود خـان تـر ټولـو سـخت مخـالفین د ده لـه اسـتبدادي خصلـت څخـه سـرټکوي خـو پـه دې اعـتراف کـوي چـې دی د تقـوی خـاوند و او لـه وطن سره یې د ځینو لیکوالو پـه قـول " لیونـی مینـه لرلـه".

بلـه خـبره دا ده چـې د دکتـور محمـد حسـن شـرق پـه قـول د پرچمیانو د ارزیابـی له مخـې او د هـرات څخـه د یـو راغلـي طـالب پـه قـول د جمیعـت د یـو قومـاندان او د هـرات د والي تـورن اسـمعیل د پریکړې لـه مخـې ټول پښتانـه چـې دري یـې مورنـی ژبـه ګرځېدلـې ده نـور نـو بـاید تاجیکـان وبلـل شـي کـه د دوی دا ډول ارزیابـی او پریکړې په نظر کـښې ونیولـې شـي نـو محمـد زایـي سـرداران چـې تـل د اشـرافو او بیروکراتـانو د طبقـې سـره نـژدې خپلـوي هـم لـري پښتانـه

نـه بلکـې تاجیکـان دي چـې پـه عـــین حـــال کـــښې یـــې د زر او زور د خاوندانو په ملګرتیا ســره یـو عجیبـه (فاشیســتي قبیلـه؟) جـوړه کـړې ده.

کـه دا هـم نـه وي نـو د محمـد زیـــانو حـــاکمې طبقـــې د سیاســـي ملاحظې لـه مخـې یـا هـم د ملـي مصـالحو لـه املـه هـر قـوم تـه ځان ور خپـل کـړی دی چـې دا تـــاکتیک یـــې د ملـــي وحـــدت د ټینـــګښت او پایښت د یوې زړې نســخې پـه تـوګه ښه دی، بـد نـه دی.

عبدالحمیـد مبـارز پـه خپـل یـو کتـاب کـښې لیکـي" مـهمتر از همـــه ظـاهر شـاه تشـویش داشـــت تـــاحرکت وی طـــوری باشـــد کـــه بـــاعث اسـتحکام وحـدت ملـی مـردم افغانســـتان بـــګردد. چنانچـــه در طـــول دوره طولانـی سـلطنت شـــخصا هیچګونـــه تعصـــب قبیلـــوی و مذهبـــی نداشـت بنـاء هـراس دارد کـه اګر در صحنـه داخـل شـود و حمـــایتی از پشتونها پیدا کنـــد و دیـګران احسـاس منفـی نمـایند وحـدت ملـی صدمـه نبینـد"

د" پژوهشـی در تـاریخ هـزاره هـا" لیکـوال حسـن علـي یزدانـي کـــه څه هم د یحیی د کورنۍ څخـــه سـر ټکـوي خـو پـه هـزاره ګانـو کـښې د ظاهر شاه د محبوبیت یـــوه تتـه غونـدې څیره هـم رانښیـي.

دی لیکـي:

" دسـت هـای نـا پیـدا در میـان مـردم تبلیـغ میکردنـــد کـــه شـــاه و وزراء ازیـن ظلمـها خـبر ندارنـد تمـام بیدادهـا از ناحیـه مقامـات پـــایین صورت میګیرد کـــه شـخص ظـاهر خـان در بـاطن شـیعه اسـت و بکـر بـلا رفتـه ، چشـمش را حضـرت عبـاس شـفا داده اسـت ازیـن رو بـه کربـلایی ظـاهر خـان شـهرت یافتـه بـود بعضـی بـرای بقـای تخـت و تـاج او دعـا می کردنـد".

د پښتنو فاشیستانو په لاس جوړ شوي نور فاشیستان

هغه کسان چې زمور د زماني د فاشیستانو د قبیله سالاری د طومار د تولولو ادعا کوي په خپله د همدې زماني د فاشیستانو په لاس جوړ شوي قهرمانان او پهلوانان دي.

زمور د دري ژبې تکړه لیکوال او ژورنالیست د انیس د ورځپاڼې یو پخوانی چلوونکی عبدالحمید مبارز په خپل کتاب (حقایق و تحلیل و قایع سیاسی افغانستان) کښې لیکي چې عبدالرشید دوستم یو عادي کارګر و "دوستم" د ده تکیه کلام و، د انقلاب څخه د دفاع په واحدونو کښې دی د قدرت لوړې پوړی ته ور ورسول شو. د دغو واحدونو په باره کښې د بناغلي مبارز لیکل شوي ځینې تکي په خپله د ده د لیکل شوي دري متن څخه را اخلو:

"واحد های دفاع انقلاب ابتکار کیوبا بود. حفیظ الله امین انرا حین مسافرت وی از انجا با خود اورد و نجیب از ان استفاده بیشتر بعمل اورد. این ملیشه صرف از قوماندان بزرگ بدو لحاظ اطاعت می نمایند (۱) پول برای شان میدهد.(۲) دیگر اینکه اگر از وی اطاعت ننمایند بیرحمانه از بین میروند. نجیب که از لحاظ تعداد افراد در قوای مسلح نسبت فرار جوانان از کشور به فقر مبتلا بود در برابر هر جنګ برای دوستم یک مقدار پول می پرداخت، پیروزی هایی که دوستم در جنګ ها با مجاهدین بدست اورد نجیب وی را

لقب قهرمان ملی داد و عکس بزرگ دوستم را در کنار خارجی عمارت جدید انستیتوت دولتی طب کابل آویخت..

مخالفت دوستم با جنرال اڅک در مزار شریف و قیام جنرال مومن قوماندان حیرتان که بر کناری خود را قبول نکرد باعث شد که دوستم و مومن در یک موقع حساس برای نجات خود پناه گاه پیدا نمایند مسعود که میخواست پیروزی را بدون تلفات بدست بیاورد دوستم و مومن را تحت حمایت خود قرار داد ولی بعد از اندک زمان که دوستم از وضع و نفاق مجاهدین آگاه شد به قوت های خود رنگ و رونق داد و همچنان تعدادی از کدرهای پرچمی نیز به مزار پناه بردند تقاضاهای امتیاز مساوی را از مسعود نمود و این امر باعث جدایی گردید. (ص ۱۷۸)

د دې له پاره چې د پورتنیو توضیحاتو او هم د فاشیزم د خصوصیاتو په رڼا کښې دا خبره سپینه شی چې د فاشیزم تاپه پر چا او پر کوم قوم ډېره چسپه راځي، غواړو چې د فاشیزم ځینې خصوصیات په ډېر لنډ ډول وليکو.

یو ایراني کتاب "فرهنګ علوم سیاسی" چې غلام رضا علیٰ بایي لیکلی او په ۱۳۶۹ لمریز کال کښې بیا چاپ شوی دی څرګندوي چې د موسولیني له نظره "فاشیزم یو مذهبي مفهوم دی، چې انسان له یو اعلی قانون او واقعي ارادې سره تړي او له فردیت څخه یې جلا کوي او د یوې روحاني جامعې د غړیتوب درجې ته یې لوړوي." د فاشیزم ځینې اساسي اصول چې موسولیني هغه د ایتالیا د ۱۹۳۲م کال په دائره المعارف کښې څرګند کړی دی په دې ډول دی

۱- د سولې په ګټه بـاور نـه لـرل.
۲- له سوسیالیســتي مفکـورو سـره مخـالفت .
۳ - له لیبرالـیزم سـره مخـالفت .
۴ - خلک بـاید ټول یـوازې د دولـت اطـاعت وکـړي.
۵ - تـر ممکنـه حـده د لارښود لمانځنـه.
٦ - یو حزبـي سیسـتم.
۷ - له دموکراســي سـره مخـالفت.
۸ - ډېره زیاتـه قـهرمان پرسـتي .
۹ - د جـګړې روحیـه تلقینـول.
۱۰- د نژادي توپـیر د نظریـې ملاتـړ .

په انګریـزي ژبـه کـتبې د سیاسـي علومـو یـو بـل تدریسـي کتـاب) (The gate way to political science لیکـي چـې لـه دوهمـې نړیوالـې جګړې نـه دمخـه پـه ایټالیـا کـتبې لـوړه او بیکـاري ډېره زیاتـه شـوې وه دغـه حـالت نارضایتـي، اعتصابونـه او افراطـي غورځنګونـه را پـیدا کـړل نـو پـه ۱۹۲۲ کـال کـتبې موسـیلیني او د ده د نظریـې پلویـانو د زړو کتـابونو دوړې پـاکې کـړې او یـوه لاتینـي کلمـه (Fascist)یـې ورځخـه را وایسـتله، د کلمـې مانـا "تـبر او سـیخان" وه د سـیخانو او تـبر بنـډل پـه پخوانـي روم کـتبې د قـوت او دسـپلین سـمبول وُ. هغـو کسـانو چـې د افراطیونـو لـه کیـن اړخ (کمونسـتانو) څخـه یـې ویـره درلـوده د افراطیونـو لـه دغـه بنې اړخ (فاشیسـتانو) سـره یـې د ملګرتیـا لاره غـوره کـړه. پنـګه والـو د همـدوی ملاتـړ کـاوه. پـه ایټالیـا کـتبې د فاشـیزم د را پیدا کـېدو پـه وخـت کـتبې چپیـان کمـزوري وو لـه بلـې خـوا پـه خلکـو کتبې بیسوادي دومـره زیاتـه وه چـې د دموکراسـي پـه قـدر نـه پوهـېدل چـې لـه دې لارې پـه خپلـه اراده سـره دواړه افراطـي طاقتونـه شـند کړای شـي.

نـو کـه دې تـه وکتـل شـي چـې فاشـیزم یـوه نړیوالـه نظریـه نـه وه یـوازې د ایټالیـي فاشیسـتي حکومـت د جـدي او فـوري مسـائلو څخـه

بلې خوا ته د ایټالیا د خلکو پام اړولو له پاره د یو تاکتیکي عمل په توګه را پیدا کړی وُ چې اساسي اصولو یې زمورږ له دیني ارشاداتو او ملي اخلاقو څخه ډېر زیات مغایرت درلود نو پر افغاني قبائلو د فاشیزم د ټاپو لګول زمورږ د ملي کلتور پر سپیځلې لمنه باندې د کرغېړنو داغونو لګولو غوندې یو نا روا کار بلل کیږي. خو که د افغانستان د مستبدو حکومتونو او مستبدو تنظیمونو روشو نه د فاشیزم له اساسي اصولو سره مقایسه کړو نو له بده مرغه د فاشیزم د بدنامه ساري ناروغۍ علایم زمورږ په سیاست کښې په لویه پیمانه را څرګند شوي دي چې په دې ناروغۍ ټول هغه پښتانه، تاجیکان ازبکان اخته شوي دي چې د خپل ځان او د خپلې ډلې یا قوم او قبیلې ګټې له نورو څخه لوړې بولي او د خپلو ناروا ګټو او د خپلې ناجایزې بقا له پاره یې د خلافت یا دموکراسۍ اصول تر پښو لاندې کړي دي. د خلکو ارادې یې په ډول ډول پټو او ښکاره زنځیرونو تړلې دي د دې له پاره چې په خپلو مربوطو عشیرو، قبیلو او قومونو ځانونه وساتي نویې هڅه کړې ده چې د خپلو مربوطه قومونو او نژادونو خلک په ځانونو را ټول کړي او تر ممکنه حده یې د دغو قومونو او قبیلو افراد په خپلو ناروا ګټو او وحشیانه اعمالو کښې له ځانونو سره شریکان کړي دي.

په دې اساس که نور محمد تره کۍ، حفیظ الله امین او ډاکټر نجیب د خپلو سیاسي مقاصدو له پاره فاشیستي اصول په کار اچولي دي نو ببرک کار مل او دوستم هم د همدغو اصولو په ذریعه خپل سیاسي قدرت او قهرمانتوب په خلکو باندې تحمیل کړی دی او کله چې ماتې خوړلیو کمونیستانو او ستمیانو د جمعیت او شورای نظار سره ائتلاف وکړ له بده مرغه د استاد رباني قوماندان احمد شاه مسعود او عبدالعلي مزاري په جهادي شخصیتونو او د دوی د مبارزې په ماهیتونو کښې یې د ۹۰ درجې بدلونونه راوستل ټولو خلکو د سر په سترګو لیدل چې د دوی پلویانو په ګډه سره په پښتنو

باندې سره ورځ راوستله بیا د تاجیکانو او هزاره ګانو تر منځ په همدې توګه د تاجیکو او ازبکانو ترمنځ ناوړې جګړې او پېښې تکرار شولې دېره عجیبه خبره ده، هغو جریدو چې د خپله انده یې د فاشیزم د طومار د ټولولو ادعاګاني منعکس کړې وې له بده مرغه مخونه یې د فاشیزم له علایمو څخه پاک ساتل شوي نه وو او نژادي او کلتوري تبعیض ته یې پراخ انعکاس ورکړی وُ.

د مثال په ډول د "ندای اسلام" جریدې چې په ۱٦ مخونو کښې ایستل شوې وه ٦۴ ستونه درلودل په دې جریده کښې پښتو ژبې ته یوازې د څلور ستونو په اندازه برخه ورکړل شوې وه نوره ټوله جریده په دري او ازبکي ژبو کښې چاپ شوې ده. د "ارمغان" جریدې پښتو ته تر دې هم په کم نظر کتلي دي، د دې جریدې لومړی ګڼه په ۸ مخونو کښې چاپ شوې ده په دې ګڼه کښې د پښتو ژبې برخه دېره لږه وه بس یوازې یوه وجیزه چې وایي "د انسان لورتیا په پوهنه او فکر کښې ده" او یو شعار چې وایی د "افغانستان ملي اسلامي جنبش د هیڅ یو ملیت پر ضد نه دی."

د ندای اسلام او ارمغان دې تبعیضي روش چې په شمالي ولایاتو کښې یې د پښتنو په کلتوري حقوقو سترګې پټې کړې وې په هیڅ وجه په هغو ولایاتو کښې د اوسېدونکو ورونو قومونو تاجیکو، ازبکو، هزاره ګانو او نورو اوسېدونکو د فکر او احساس نمایندګي نه کوله. ځکه چې متعصبین او تنګ نظره قوم پرستان له اولس څخه وایستل شي، نو عام اولس د یو لوی قوم د ژبې او کلتور سره دومره بې علاقګي نه ده ښودلې چې ښه مثال یې د درې کلنې ایمل تاجیکي کورنۍ ده چې په خپلو اجتماعي علایقو کښې د هېواد له دواړو ژبو څخه په مینه او اخلاص استفاده کوي، مورنۍ ژبه یې دري ده د کوټې نه پښتنو سره په پښتو خبرې کوي او له افغانانو سره په دواړو ژبو مفاهمه لري.

زه (لیکوال) د ۴۱- ۱۳۴۰ کلونو په موده کښې د فاریاب د ولایت د اطلاعاتو او کلتور د مدیریت مسوؤل او د "ستوري" د ورځپاڼې چلوونکی وم. زما مرستیال د میمنې د بنار یو اوسېدونکی ازبک بناغلی رضوانقل تمنا وُ چې بیا وروسته د لیکوالو او ژورنالیستانو د اتحادیې مرستیال ټاکل شوی وُ. زما او د ده روابط د ورورولی تر حده سپیځلي او خواږه وو ویاړم چې د هغه ځای له لیکوالو سره مې همدا ډول روابط درلودل. د فاریاب په ولایت کښې پښتانه، ازبکان، ترکمنان، تاجیکان ګډ وډ پراته وو یو د بله یې خیښی کړې وې او یو د بل په ژبو پوهېدل ځینو ازبکانو او تاجیکانو کله کله د بیګانګی د احساس د ورکولو له پاره له ما سره په پښتو خبرې کولې. ما په خپله یوازې د دري او پښتو ژبې او کلچر د ودې او پرمختیا د مسؤولیت احساس نه کاوه بلکې دا مې خپله ملي او وطني وظیفه ګڼله چې هلته ازبکې ژبې او کلچر ته هم خدمت وکړم.

یوه ورځ مې په همدې موضوع کښې د خپل مرستیال تمنا صاحب سره خبرې وکړې او ده ته مې وویل چې راځه په اخبار کښې ورو ورو ازبکي ژبې ته ځای ورکړو مثلاً کار د ازبکې متلونو د خپرولو څخه پیل کړو هغه راته وخندل وې ویل زه چې خبر یم تر دې دمخه هم دا هڅه شوې وه خو د مطبوعاتو مستقل ریاست اجازه ورنکړه د هغه وخت دغه ریاست د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته ارتقا کړی نه وه. دی خبرې زما په تودو آرزوګانو سړې اوبه واچولې ځکه ما هغه وخت ځینې ازبکي متلونه ټول کړي وو چې د یو شمیر پښتو او دري متلونو سره یې ورته والی درلود او زمونږ د لرغوني ملت د همفکرۍ نمایندګي یې کوله. بیا کله چې زه د ځینو مشورو له پاره کابل ته ولاړم په مرکز کښې مې له مربوطو کسانو سره په دې باره کښې خبرې وکړې هغوی راته وویل چې تر اوسه پورې د پښتو او دري مسأله سمه نه ده حل شوې او تاسې غواړئ چې یو بل جنجال را پیدا کړئ.

هغه وخت د فاریاب په اخبار کښې رسماً د پښتو ونډه تر ۲۵ فیصده زیاته نه وه په دې توګه دري ته په سلو کښې ۷۵ حق ورکړل شوی وُ حال دا چې د فاریاب په ولایت کښې د دري ژبو قومي تناسب دومره نه وُ ګویا د ازبکي او ترکمني ژبو برخه هم دري ژبې ته ورکړل شوې وه.

کله چې د لومړي ځل له پاره زما ستر ګې د "ندای اسلام" او "ارمغان" په جریدو ولګېدې او په هغو کښې مې په ازبکي ژبه لیکل شوي لوی لوی عناوین ولیدل وربانديې خوشحال شوم خو کله چې د پښتو په برخه کښې مې د دوی تبعیضي روش ته وکتل نو خدای شته چې ډېر وربانديې خواشینی شوم.

باید وویل شي چې د ندای اسلام او ارمغان جریدې هغه وخت راووتلې چې ماتې خوړلو پرچمیانو، شورای نظار، ملي اسلامي جنبش او حزب وحدت یو پراخ ائتلاف جوړ کړی وُ او د دغه ائتلاف یو مشترک هدف داهم وُ چې په افغانستان کښې هغه حکومت د تل له پاره پای ته ورسوي چې ظاهراً د پښتنو په نامه جوړ شوی وُ.

خو وروسته چې په ائتلاف کښې درزونه او خطرناک جنګونه پیښ شول نو په وفاداریو کښې تغییر راغی او ورسره ممکن په هدفونو کښې هم بدلون راغلی وي.

کله چې پخې دوستۍ په کلکو دښمنیو بدلیږي

د ژر دوست کېدو او بیا ژر دښمن کېدو جریان او ماجرا د حزب وحدت د مشر په یوه وینا کښې چې د هغه حزب نشراتي ارګان "طلوع وحدت" د ۱۳۷۱ کال د دلوی په میاشت کښې خپره کړې وه، پوره انعکاس موندلی دی. ده هغه وخت په خپله وینا کښې چې د کابل د چنداولو په یوه تکیه خانه کښې یې کړې وه ویلي وو:

" از ان روزیکه این کشور اسم افغانستان را بخود گرفته دو صد و پنجاه سال می شود و دولتی که تشکیل شده و حکومتی که درینجا در طول این دو صدو پنجاه سال بوده برای ما بسیار ناگوار بوده و ما بسیار فشار دیدیم و ذهنیت ما هم بر این بود که در راس حکومت قوم پشتون قرار داشته و بقیه را بعنوان فارسی زبان فشار داده اند و این ذهنیت برای ما و شما بوجود امده که پشتون بر سر ما ظلم کرده و درین مورد جای شک نیست که دوصدو پنجاه سال سر ما و شما حکومت کرده اند.."

مزاري په خپله دې دېره اوږده وینا کښې وایي چې مورږ بالاخره دې فیصلې ته ورسېدو، چې د ۲۵۰ کلونو تاریخ بدل کړو په دې لړ کښې مورږ مسعود ته یو هیات ږواستاوه او هغه ته مو څرګنده کړه چې تاسې هم یو مظلوم "ملت!" یاست او مورږ هم یو مظلوم "ملت!" رائځ جې لاسونه سره یو کړو. غونډه وشوه تشکیلات جوړ شول. مسعود د رئیس په توګه د حزب وحدت نه یو کس د هغه د مرستیال په توګه او دوستم د نظامي قواوو د عمومي قوماندان په توګه وټاکل شول. حزب وحدت په ځان ومنله چې درې څلور زره وسله وال کسان به د میدان بنار له لارې کابل ته رسوي او خپل یو زر وسله وال کسان به چاریکارو ته د مسعود د قواوو د تقویې له پاره استوي. خو کله چې د حزب وحدت قواوې له میدان بنار څخه راتېرې شوې مسعود یې په ارغندی کښې مخه ونیوله ځکه چې هغه نه غوښتل چې د حزب وحدت غړو ته ډېره وسله په لاس ورشي. نوره ماجرا مزاري په خپلو الفاظو کښې داسې بیان کړې ده:

"حرفی که بسیار جالب است که من معتقدم درینجا تاریخ ۲۵۰ ساله دارد عوض میشود، این مساله است که برادرهای که با ما و شما همسو بودند و ما هم با همین همسویی چهار ده سال یا اقلش از سال ٦٧ و ٦٨ (١٣٦٧و ١٣٦٨) که خدمت تان گفتیم، با انها راه رفتیم وقتیکه نیروهای فرقهء ۵۳ با نیروهای وزارت دفاع درگیر شد،

هیأتی از طرف آقای ربانی و مسعود پیش آقای حکمتیار رفتند و در آنجا گفتند که جنگ واقعي فعلاً پیش آمده اینجا منافقین یعنی شما (هزاره ها) و ملحدین یعنی نیروهای شمال بودند. بهر حال از آقای حکمتیار میخواهیم که بیا درین جنگ وارد شو این نامه را نورالله عماد به آقای حکمتیار نوشته و این نامه که حال در پیش ما است به همین عبارت که بشما میگویم می باشد. خوب در مقابل چه شد؟ اینجا است که میگویم چرا تاریخ عوض شده؟ آقای حکمتیار جواب میدهد که من وارد جنگ نمی شوم. میگویند شما باید بی طرف باشید! میگوید که همچو تعهدی هم ندارم. ولی بر خلاف آقای حکمتیار خودش پشت بی سیم آمد،با من صحبت کرد که تکلیف ما چیست؟ اجازه میدهید، ما به حمایت از شما درین جنگ وارد شویم.

د مزاري دا وینا که څه هم له احساساتو او جذباتو څخه ډک ده خو زمور د ارزیابی له پاره ډیر مهم مطالب لري هیڅوک په هزاره ګانو باندې د زیاتو ظلمونو او کړاوونو څخه سترګې نشي پټولای خو ورسره دا خبره هم شته چې د ظالمانو لاسونه چا نه دي نیولي د افغانستان په نورو قومونو: تاجیکو، پښتنو، ازبکانو، بلوڅانو نوروستانو او نورو قومونو او قبائلو هم ظلمونه شوي دي. البته د نوعیت او کیفیت له امله په بیلو بیلو قومونو شوي ظلمونه یو له بل څخه ځینې توپیرونه لري.

یو هېواد پال لیکوال بناغلی الحاج امان الله هوتک په خپله یوه تازه څېړنه کښې لیکي چې" په کندهار کښې د ایران د ډېر ظالم حاکم ګور ګین د اقتدار په زمانه کې، زمور هزاره ورونه د ګورګین د ظلم او زور له لاسه تر پوزې راغلي وو. دوی میرویس نیکه ته ورغلل او له هغه څخه یې وغوښتل چې د ایرانیانو د حکومت د زور او ظلم په ضد باید قیام او اقدام وکړو خو میرویس نیکه دوی ته د صبر او تحمل توصیه وکړه او دوی یې یوې مناسبې موقع ته منتظر

وساتل او کله چې وخت يې راغی نو هزاره ګانو د میرویس نیکه سره په ټینګه ملاوتړله تر دې چې د ایران د مهمو ښارونو په فتح کولو کښې يې د شاه محمود هوتک سره ډېره زياته ملاوتړله. زمونږ يو هزاره محقق کونښې کړی دی، چې میرویس نیکه میرواعظ وبولي او له هزاره میرانو سره يې په يو صف کښې راولي.

کېدای شي چې د میرویس نوم د "میرواعظ" مفغن وي، دا هم د منلو ور خبره ده چې میرویس نیکه د داسې يو محبوبیت خاوند وؤ چې پر پښتنو سربیره هزاره ګانو او نورو قومونو هغه خپل قوم او قبیلې ته ډېر نژدې باله. په میرویس نیکه د هر چا د خپلولې ادعا د سوسیولوژۍ په ژبه د هغه يو شان ته والی يا حل کېدنې "Assimilation" مهمه بیلګه ده چې له نن څخه تقریباً درې سوه کاله دمخه هم په افغاني ټولنه کښې د پوځوالی مرحلې ته رسېدلی وه که داسې نه وای نو د حسین علي یزداني د معیارونو له مخې په ایران کښې د ژېړ نژاده صفوي ترکانو او ډېرو سختو شیعه ګانو په مقابل کښې د هزاره ګانو جنګ او د هوتکو پښتنو ملاتړ شاید د نه منلو ور خبره وای.

مرحوم غبار هم لیکي چې په هزاره ګانو ورونړو دوه ډوله ظلم او زور مسلط وؤ چې يو خارجي او بل يې داخلي وؤ. په داخل کښې د دوی خپلو اربابانو پر دوی باندې زیات ظلمونه کول نو دوی د خپلو اربابانو د ظلم او د خارجي قواوو د ظلمونو آو تېرېو څخه د خلاصون له پاره د يو پیاوړي مرکزي دولت د جوړښت په کار کښې د احمد شاه بابا سره همکاري وکړه. د هرات ښار درویش خان هزاره د ده له پاره فتح کړ او احمد شاه بابا دی د هرات د والي په توګه مقرر کړ. حسین علي یزداني په خپل کتاب کښې د دغه ملي شخصیت باوقاره تصویرد ورته ملي شخصیتونو د تصویرونو په جمله کښې چاپ کړی دی، چې مونږ د ده دغه کار او زیار ته د قدر په سترګه ګورو.

د مزاري لـه نظـره اسـتاد ربـاني او قومـاندان مسـعود تـه د حکمتيـار منفي ځواب د تاريخ مخـه او موخـه بلـې خـوا تـه واړولـه ځکـه چـې يـو پښتـون تنظيمـي مشـر د يـو هـزاره تنظيمـي مشـر سـره خپـل ملاتـړ تـه چمتو شـو.

کـه د پښتنـو او هـزاره ګانـو تـر منـځ دا ډول همـآهنګي د تـاريخ د بدلېدو ډېر مـهم عـامل وبلـل شـي نـو بيـا پـه تـېرو ۲۵۰ کلونـو کـښې څو ځلـه تـاريخ خپلـه څيره او بـنه بدلـه کـړې ده. يعنـي پـه حـالاتو کـښې ډول ډول بدلونونـه راغلـي دي خـو د افغانسـتان د ورونو قومونـو ترمنځ يـو والی او ورتـه والی پـه خپـل حـالت کـښې پـاتی دی. بنه مثـال يې بيا هم د پښتنـو او هـزاره ګانـو تـر منـځ هغـه هـم آهنګي ده چـې د هوتکـو پـه دوره کـښې وځلـېده، د احمـد شـاه بابـا د ملـي واکمنـی پـه موده کښې تکرار شوه، د امـان الله خـان پـه مـوده کـښې يـې نـوي نـوي ابعاد پـېدا کـړل او د جـهاد پـه جريـان کـښې پښتنـو وردګو ځانونـه د بـلا پـه خوله کـښې ورکړل خـو د هـزاره ورونو پـه سـرونو يـې لاسـونه ونيـول.

يـو بـل د يـادونی وړ مطلـب دا دی چـې مـزاري پـه خپلـه دې وينـا کـښې د سـتالينې مکتـب د "مليتونـو" اصطـلاح پـرې ايـښې ده او نيـغ پـه نيغه يې د "ملتونو" اصطـلاح پـه کـار اچـولی ده يعنـې ده پـه خپـل پېغـام کښې مسعود ته څرګنده کـړې ده چـې تاسـې (تاجيکـان) هـم يـو محـروم ملـت ياسـت او مـوږ (هـزاره ګان) هـم يـو محـروم ملـت يـو نـو راځئ چې لاسونه سره يو کـړو او هغـه تـاريخ بـدل کـړو چـې دا هيـواد پکـښې د افغانسـتان پـه نـوم يـاد شـوی دی. پـه لومـړي نظـر دا ډول خـبرې يعنـي د افغانستان نـوم لـه منـځه وړل او پـه يـو ملـت کـښې د څو ملتونـو جـوړول بوګنوونکـی دي خـو دا ډول خـبرې د زيـات تشـويش وړ نـه دي ځکه چې لـه يـوې خـوا د اشـخاصو لـه خولـو څخـه دا ډول راوتلـې خبرې د قومونو د فکـر او احساس نمـاينده ګڼي نـه کـوي، لـه بلـې خـوا کومـې غوښتنـې او مطـالبې چـې دا ډول کسـان يـې لـرې د دوی لـه خوا په کار اچـول شـوی اصطلاحـات او الفـاظ يـې اصلـي مقـاصد نشـي

څرګندولای. اصلاً دوی د خپلو عقدو،عقیدو او نظریاتو او غوښتنو د څرګندولو له پاره ځینې اصطلاحات له چپې فرهنګ څخه په پور اخیستی دی. که نه نو د غوښتنو روحیه یې له پردیو اصطلاحاتو څخه ډېر زیات توپیر لري. له بنه مرغه له هغو جریدو ځخه چې افغاني مسایل یې په وچ زور د غربي دنیا په فکري قالبونو فاشیزم شئنونیزم او داسې نورو کښې اچولی دی، کله چې له اصلي او عمده مسائلو سره تماس نیسي نو وایي چې " له خلکو څخه د رهبرۍ تر مانې پورې یوازې یوه لاره شته ده دغه لار ملي وحدت دی..

همدارنګه د حزب وحدت نظریاتي ارګان چې د قومیت اصطلاح یې حتی د "ملت" په مفهوم په کار اچولې ده خپله یوه سر مقاله په دې مطلب پای ته رسوي:"زمورږ حزب په دې ټینګار کوي چې د هېواد د اوسني بحران د حل کولو له پاره خبرې اترې ډېره لنډه او مناسبه لار ده او غواړي چې د مفاهمې له لارې یوپراخ اسلامي دولت چې د یو موټي، آزاد او مستقل افغانستان د ټولې ټولنې له خوا انتخاب شوی وي، جوړ شي چې د هغه په چوکاټ کښې د افغانستان ټول سیاسي طاقتونه او قوتونه خپل حقوق تر لاسه کړي".

له دې څخه څرګندیږي چې د اصطلاحاتو په مانا ګانو کښې یو څه غلط فهمي شته خو دې ډول غلط فهمیو ته باید په سطحي نظر ونه کتل شي د همدغسې یو ضرورت له مخې په دې موضوع کښې یوه لنډه غوندې څېړنه په کار ده.

په دې څېړنه کښې د ټولنپوهنې او سیاسي علومو څخه د ضرورت په اندازه کار اخستل کیږي. همدارنګه دلته د سیاسي علومو داسې یوه ویشنه هم په نظر کښې نیول شوې ده، چې د سیاسي فلسفې، سیاسي علم (پولیټکل ساینس) او سیاستمداری ترمنځ پولې جوړوي. نو حقایق هغسې څیړل کیږي" څنګه چې دي"

او د "څنګه بـــايد وي" بيـــلا بيـــل نظريـــاتي معيارونـــه او د بيلـــو بيلـــو سياستمدارانو روشونه په نظـــر کـــښې نـــه دي نيـــول شـــوي.

مليت او ملت

د ټولنـدو اجتمـاعي علومـو لـه نظـــره مليـــت (Nationality) او ملـــت (Nation) يو له بل سره د نســبت لرلـو رابطـه لـري يعنـي کـه پـه خـارجي هيوادو کـــښې لـه مـــور څخـه پوښتنـه وشـي چـې ستاسـې مليـت څه شـی دی؟ نو سمدلاســه لنـډ ځواب خولـې تـه راځي وايـو چـې "افغـان" يعنـي مـــور پوښتونکـي تـه څرګنـدوو چـې مـــور افغـان ملـت تـه منسـوب يـــو. د ټولنپوهنې له نظره مليـت پـه حقيقـت کـښې يـو روحـي او طبيعـي ميـلان او احسـاس دی. يـو ټولنپوهـاند اې . ډي. زيمـرن ليکـې چـــې مليـــت د مذهـب پـه څېريـو ذهنـي او روحـي حـالت، يـــوه غريـــزه او د تفکـــر او ژوندانـه يـوه لاره ده. نـورو پوهـانو هـم د مليـت پـه بـاره کـښې پـه زړه پورې خبرې کړي دي چې ځينـې يـي دلتـه وړانـدې کيـږي: جـی. ايـچ راس وايي چې مليـت د زړونـو يـوه اتحاديـه ده چـې کـه يـو ځل جـوړه شي بيا نـه ماتيـږي.

د پروفيسـر هـول کومبـــي لـــه نظـــره مليـــت اساســـاً يـــو ثقـــافتي او فرهنګي مفهوم دی. دی وايي چـــې يـو مليـت بـل څه نـه دی يـو متحـد شـوی احسـاس دی. دا د ملګرتيـا ګډې علاقـه منـدۍ او لـه مشـترک کـور يعنـي هـيواد سـره د مينـې احسـاس دی. مليـت د ګډو خـاطرو مـــيراث دی کـه دا خـاطرې لـه کاميـابيو او ويـاړنو سـره اړه ولـري او کـه لـه بـد بختيـو سـره د مکلـور (Maclve) تعريـف دا دی: مليـت د يـوې ټولنـې يـو ګډ احسـاس دی، چـې تـاريخي عواملـو راپـيدا کـړی او روحـي عواملـــو تقويـه کـړی دی. دا يـو ډېر پـراخ او پيـاوړی احسـاس دی. کـوم خلـــک چـې دا احسـاس ولـري نـو دوی د خپـــل مشـــترک خـــاص او ځانګړي حکومت د جوړولو ميـلان لـري بـالاخره اوپـن هيمـر داسـې يـوه پريکـړه کـوي، چـې دا د مليـت شـعور دی، چـې ملـت جـوړوي. هنـس کوهـــن

(Hans Kohan) همدغسي نظريه په نورو الفاظو کښې تائيد وي او وايي چې دا د وينې د اشتراک جذبه او بلنه نه ده،بلکې د يوې مفکورې طاقت وی چې په معاصرو زمانو کښې يې مادړن ملتونه جوړ کړي دي.

نو د ټولنپوهنې له نظره يو ملت په حقيقت کښې هغه مليت دی چې خپله سياسي خپلواکي ګټي او ساتي يې. مليت تر ډېره حده يوه غير سياسي خو اجتماعي پديده ده. دا ملت دی چې سياسي خپلواکي او ملي حاکميت ورسره ترلی دی يا په بله ژبه يو مليت هغه وخت ملت بلل کيږي چې سياسي خپلواکي او ملي حاکميت ولري. ملي خپلواکي ده چې ملت له نورو ټولنيزو ګروپونو څخه را جلا کوي. ممکن ځينې نور ګروپونه هم مشترکه سيمه، ګډ ژوند او مشترک احساس ولري ، مګر د ملت جوړولو شرايط او تمايل به نه لري. هغه وخت چې دا ډول شرايط برابر شي نو دغه ډول اجتماعي ګروپونه مليتونه ګرځي او خپل خپل ملتونه جوړوي. هنس کوهن وايي چې په عام ډول هغه مهم برسېرن عامل چې ملت جوړوي دولت دی. دولت ولې state hood د ملت د جوړونې ډير غټ عنصر دی.

د سياست يو پوهاند لارډ برايس Lord Bryceملت او مليت داسې را پېژني:

" يو مليت هغه خلک دي، چې ځينو رشتو لکه ادبياتو، عقايدو، مفکورو، عرف او عادت، عنعناتو او دې ته ورته نورو مزو داسې يو له بل سره ترلي وي چې دوی خپل يو نه بېلېدونکی يو والی او له نورو هغو خلکو څخه چې دوی په خپله هم داسې يو والی احساسوي، بېلوالی احساس کړي. کله چې يو مليت لوړ سياسيي ارمانونه ولري نو دغه ارمانونه له مليت څخه ملت جوړوي. که د خلکو يو ګروپ په خپلو کښې د مليت احساس ولري. نو دغه احساس خلک دې ته رابولي چې ځانونه د يو دولت په شکل تنظيم

کړي. په دې اساس لاړې برايس د ملت مفهوم داسې شرح کوي چې له دولت سره يې په ډېره نژدې رابطه رنا اچوي او ليکي:

يو ملت په حقيقت کښې هغه مليت دی چې خپل ځان په يوه سياسي بڼه جوړ کړي. په دې صورت کښې ملت او دولت يو شی بريښي. خو دا دواړه يو له بل څخه يو څه توپير لري. البته دولت هم د ملت په څير يوه تنظيم شوې ټولنه ده چې حکومت يې د کار د آلې يا خدمتګار حيثيت لري. د دولت له پاره نفوس، جغرافيايي ساحه، حکومت او حاکميت ضروري شيان دي. کېدای شي يو دولت په يو بل ملت باندې هم حاکميت ولري خو که په کوم دولت کښې د يو والي عنصر موجود وي يعنې هغه د ملي وحدت په بنسټ جوړ شوی وي بيا نو استعماري نه، بلکې ملي دولت بلل کيږي.

ملي دولتونه د ملتونو په څير د يوې بشپړوونکې پروسې مولود دي.

لکه څنګه چې ملتونه د لويو امپراتوريو د رڼکېدو په نتيجه کښې جوړ شوی دی په هماغه ډول ملي دولتونه هم د دغو امپراتوريو د زوال په نتيجه کښې منځ ته راغلي دي.

د افغانستان د ملي دولت بنسټ هغه وخت کېښودل شو چې د شاوخوا امپراتوريو لاسونه ور لنډ کړل شول. دولتونو تر هغه وخته پورې چې هر يوه يې د ملي دولت مقام ترلاسه کړی يو تکاملي جريان بشپړ کړی دی. که څه هم د دغه جريان مرحلې په شرق او غرب کښې بېلې بېلې بڼې لري خو هره بڼه يې د تکامل د پروسې لازم خصوصيات څرګندولای شي او له پوهانو سره د عمومي قوانينو په موندلو کښې د يو ډول فارمول يا کليې په توګه مرسته کوي. دا مرحلې د سياسياتو د علم د پوهانو له خوا په لاندې ډول شمېرل شوی دی:

۱. قبيلي دولتونه

۲. شـرقي وزمـه امپراتـوری
۳. د یونـان ښاري دولتونـــه
۴. د روم امپراتـوري او نـورې غربـې وزمـه امپراتـــوری
۵. فیـودالي دولتونـــه
٦. معـاصر ملـي دولتونـه

اتلسمه پیړۍ د ملتونو او ملي دولتونو د جوړښت مبداء

پـه اتلسـمه پیـړۍ کـښې د سیاسـي انقلابونـو او لویـــو اجتمـاعي تحولاتـو طوفـان د ځمکـې غونـډه کـره پـه غـږ کـښې نیولـې وه. پـه دې پیړۍ کښې غربي دنیـا پـه خپلـو هغـو انقلابونـو ویـاړي چـې څو خپلواک ملتونه او ملـــي دولتونـه یـې پـه لاس ورکـړي دي.

له ښه مرغـه دغـه پیـړۍ د افغانـانو لـه پـاره هـم دومـره بخیلـه نـه وه. په دې موده کـښې مـیرویس نیکـه د ملـي خپلواکـۍ د ګټلـو سـره یـوځای ملـي حکومـت جـوړ کـړ او احمـد شـــاه بابـا هـم د ملـــي خپلواکۍ د بیا ګټلـو ترڅنګ د ټولـو افغانـانو پـه شـریکه اراده ملـي دولت جوړ کـړ.

دا دواړه دومـــره لویـــې تـــاریخي پیـــښې وې چـــې د ځمکـــې د کـرې د هغـه بـل اړخ لـه ځینـو لویـو ملتونـو سـره یـې زمـوږ ســیالي برابرولای شـــوای.

د ډیرې ویـاړنې خـبره خـو دا ده چـې زمـوږ پـــه هـــیواد کـــښې دې لویـو پیـښو د غربـي دنیـا لـه لویـو انقلابونـو او یـا غـټو تحولاتـــو څخـه د زمـاني پـه لحـاظ مشـرتوب درلـود. د مـــیرویس نیکـــه ملـــي حکومـت د فرانسـې لـه انقـلاب څخـــه تقریبـــاً ۸۰ کالـــه مخکـــیوالی درلـود. همدارنـګه د احمـد شـاه بابـا ملـــي دولـــت د فرانســـې لـــه

انقلاب څخه ۴۲ کاله او د امریکي له انقلاب څخه ۲۹ کاله مشرتوب درلود.

له بده مرغه دغه مهمه تاریخي دوره د ځینو کسانو او حتی سیاسي تنظیمونو له خوا لکه چې دمخه ورته اشاري شوې دي، بل ډول تعبیر شوې ده. البته په علمي څېړنو کښې د داسې مسائلو را پیدا کېدل دومره د تشویش وړ خبره نه ده، هغه څېړنه ډېره ښه بلله کیږي چې تر ممکنه حده د هر چا یا هر ګروپ پوښتنو ته ځوابونه وویلای شي. همدا سبب دی چې زیاتره څېړونکي له خپلې څېړنې څخه دمخه پوښتن لیکونه جوړوي. که په اوسنیو شرایطو کښې دغه کار ډېر مشکلات لري نو نسبتاً آسانه لاره یې دا ده چې له خپرو شویو موادو څخه د خلکو نظریات راټول کړل شي او د دوی پوښتنو ته ځوابونه ورکړل شي.

نو کومو کسانو چې دې مهمې آزادي بخښونکي دورې ته په بل نظر یا د بل په نظر کتلي دي د فاشیزم یا شئونیزم ټاپې یې ورباندې لګولې دي، دوی باید ملتفت کړو. مورږ د داسې یوې راتلونکې په انتظار کښې یو چې د زړونو پټې خبرې را برسېره شي او د نورو د تبلیغاتو تر تأثیر لاندې راغلو کسانو پوښتنو ته په سړه سینه ځوابونه وویل شي. له دغه املې هڅه کوو چې په غیر مستقیم ډول د دوی پوښتنو ته د خپل وس سره سم ځوابونه ورکړو.

د فاشیزم او شووئنیزم اصطلاحات له غرب څخه د زمانې نا موافقو بادونو راوړي دي او د میرویس نیکه د ملي حکومت او د احمد شاه بابا د دولت د جوړېدو څخه دوه سوه کاله وروسته یې زمورږ فرهنګ ته د تورو کرغېړنو داغونو په ښه لاره پیدا کړې ده. دلته اساسي پوښتنې دا دي چې آیا زمورږ تېر دوه نیم سوه کلن تاریخ د فاشیزم په تنګ قالب کښې چې په تېرو پانو کښې مو

یـو څه و پـېژانـده، راتـلای شـي او کـه نـه ؟ او آیـا زمـوږ د وروولـی پراخه غوږېدلې غیـږ چـې خصوصیـات بـه یـې لـږ څه وروسـته وښودل شـي، د شـلمې پیـړۍ د شـئونیزم پـه انـدازو برابـرېدلای شـي او کـه نه؟

دې پوښتنـو تـه ځوابونـه ویـل یـو ځل بیـا مقایسـوي میتـــود تـــه ضرورت را پیدا کـوي او مـوږ مجبوریـږو چـې خپـل حـالات لـه غربـي دنیا سـره چـې مـوږ تـه یـې عجیـب او غریـب سیاسـي اصطلاحـات را اسـتولي دي، مقایسـه کـړو. پـه امریکـا کـــښې د ۱۷۷٦ د جـــولای پـــه څلورمه نـــېټه د مسـتعمرو نمـایندګان سـره جـرګه شـول او د یـو نـوي امریکـایي ملـت د جوړونـې لومړنـی هـڅې یـې وکـړې. دوی جـارج واشـنګټن خپـل لـوی قومـاندان وټاکـه. ځینـو نمـاینده ګانـــو لـــه ده څخه وغوښتل چـــې پـه خپـل نامـه یـوه پـاچـاهي اعـلان کـړي. خـو جـارج واشـنګټن دوی تـه وویـل چـې مـوږ د انګلسـتان د پـــاچاهـــی څخه څه خیر لیدلی ؤ چې دلته هـــم پـاچـاهي اعـلان کـړو.

لکه چـــې پوهیـږو لـه ده څخـه تقریبـاً اویـا کلونـه د افغانـانو لـوی ملـي مشـر مـیرویس نیکـه دې تـه ورتـه یـو فکـر او نظـر درلـود خـو د جـارج واشـنګټن او مـیرویس نیکـه د ظـــهور شـــرایطو ســـره تـــوپـــیر درلـود.

هغه خلک چې په امریکـا کـښې یـې زیـاتره کالونـی جـوړې کـړې وې پـه ۱۷ او ۱۸ پیړیـــو کـــښې لـــه انګلســـتان څخـــه امریکـــا تـــه د مسـتعمرو جوړولـو پـه نیـت ورغلـي وو. پـه مقـابل کـښې یـې مـیرویس نیکـه پـه داسـي شـرایطو کـښې تبـارز کـاوه چـې افغانسـتان پـــه یـــو اســـتعماري مثلـــث کـــښې را بنکیـــل شـــوی او د فـــارس او هنـــد د امپراتوریـو ترمنـځ عمـلاً ویشـل شـوی ؤ. افغانـــان د خپلـــې تـــاریخي خـاورې اوسـېدونکي وو دوی د مـهاجرت یـا تـېرې پـه بـنه پـه نـــورو ملکونو حتـــی نـورو قـارو کـښې د مسـتعمرو جوړولـو اراده نـه درلـوده بلکې د خپل تـاریخي هـېواد خپلواکـي یـې غوښتلـه.

د امریکي هـري مستعمري تقریباً د یـو جـلا دولـت (State) حیثیـت درلـود. دا دولتونـه چـې د یـو فیدریشـن پـه شـکل را غونـډ شـول د متحـده اضلاعـو (United States) پـه نـوم یـې یـو فیـدرالي دولت جوړ کړ او ځان یې یو ملـت وبالـه. بلـې خـوا تـه افغـاني ټولنـه چـې لـه بلـې قـارې څخـه نـه وه وارده شـوې او پـه خپلـه تـاریخي سـیمه کـښې یـې د عـروج او زوال بېلـې بېلـې مرحلـې تـېرې کـړې وې او د پخوانـو وختونـو مـهاجر او مـهاجم قومونـه یـې پـه ځان کـښې حـل کـړي وو، د امریکـې لـه انقـلاب څخـه ۲۹ کالـه دمخـه د آسـیا پـه زړه کـښې داسـې لـوی سیاسـي او اجتمـاعي تحـولات راوسـتل کـه هغـه د امریکـې لـه انقـلاب سـره پـه یـوه تلـه کـښې واچول شي په هیڅ وجه بـه ورڅخـه کـم رانشـي.

د دې تحولاتـو لویـښت پـه خپلـه د امریکـې د جمـهور رئیـس یـو پخوانـي مرسـتیال سـپېرو اګنیـو چـې د ۱۳۴۸ لمریـز کـال پـه جـدی کـښې افغانسـتان تـه راغلـی وُ، د امریکـې د انقـلاب سـره پـه مقایسـه تـائید کـړ. ده پـه خپلـه یـوه وینـا کـښې وویـل چـې د ازادۍ او خپلواکۍ سـره مینـه د افغانـانو او امریکانیـانو یـو مـهم ګډ صفـت دی چـې افغانسـتان پـه دې بـاره کـښې یـو څه اوږد تـاریخ لـري. ده خپله دا خبره داسـې توضیـح کـړه:

جارج واشنګټن چې مـوږ یـې د خپـل هـېواد "بابـا" بولـو پنځلـس کلـن و، چـې لـوی احمـد شـاه بابـا د افغانسـتان دولـت پـه ۱۷۴۷ میـلادي کـال کـښې جـوړ کـړ. د دغـې وینـا ځینـې ټکـي د کـابل د اصـلاح ورځپـاڼې د ۱۳۴۸ لمریـز کـال د جـدي پـه ۱۹ نـېټه خپـاره کـړي وو.

د دغـو تحولاتـو پـه نتیجـه کـښې چـې پـه افغانسـتان کـښې کـوم دولت جـوړ شـو، البتـه د امریکـې د دولـت پـه څېر یـې فیـدرالي بـڼه نـه درلـوده ځکـه چـې د افغانسـتان اجتمـاعي جـوړښت د فدریشـن لـه پـاره مساعد نـه وُ او نـه اوس دی. البتـه احمـد شـاهي دولـت

ظاهراً يوه امپراتوري وه خو په يو ډول دموکراسي ولاړ فيدرالي دولت روحيه يې د نړۍ د دوو متصادمو ايډيالوژيو (ليبراليزم او سوسياليزم) د محققينو د پاملرنې وړ ګرځيدلې ده. په دې لړ کښې يو امريکا يې پروفيسر ډاکټر ايلي کراکوسکي (Dr. Elie Krakowski) ليکلي دي چې: افغانستان په تېرو ۲۵۰ کلونو کښې ډېر ځله د لويو امپراتوريو مرکز ګرځېدلی دی چې په ۱۷۴۷ کښې يې په عنعنوي بڼه د انتخاباتو له لارې د يو ډول قبيلوي کنفدريشن په ډول خپل سيستم ټاکلی دی. دغه پروفيسر چې د امريکې د متحده ايالاتو د دفاع ډيپارټمنټ د منطقوي دفتر مشر دی او تر دې دمخه يې د دفاعي چارو مشاورت په غاړه درلود او د بين المللي روابطو او د پخوانۍ شوروي اتحاد د خارجي سياست د پروفيسر په توګه يې کار کړی دی، عقيده لري چې افغانان د اسلامي وروروليۍ ډېر ټينګ علاقه مندان دي خو دوی دومره دموکرات او آزادي دوسته خلک دي چې په هيڅ نامه هم د نورو مذهبي او سياسي رياست او واکمنۍ ته غاړه نه ږدي.

يو شمېر نورو غربي څېړونکو چې د افغانستان د جهاد په لسيزه کښې يې د افغانستان په باب کتابونه ليکلي دي، دې ته ورته مطالب تکرار کړي دي. دې محققينو اصلاً د افغانانو د فطري ولسواکۍ روحيه په خپلو غربي راستي او چپي معيارونو سنجولې ده. خو حقيقت دا دی چې احمد شاه بابا په خپل دربار کښې د ټولو قومونو او قبائلو مشران ساتل، د مهمو مسائلو په باره کښې د بحث کولو له پاره يې د جرګې په شکل کښينول او وخت په وخت به يې له دوی سره سلاګانې کولې دا چې احمد شاه بابا د مرحوم پوهاند حبيبي په قول د خپل دربار ترڅنګ د سندھ امیران او د بلوڅو د کلات امیران بیل بیل ساتلي وو او افغاني دربار د دوی د قوت او امارت مرکز ګرځېدلی وُ، ده په خپلو دې ډول روشونو کښې هغه بنېګڼې

راتولې کړې وې چې نن سبا په فیدرالي سیستمونو او یا کنفدریشنونو کښې لیدلې کیږي. له همدغه املـه ځینو محققینو ته احمد شاهي دولت د یو ډول قبائلي کنفدریشن په بڼه په نظر ورغلی دی.

لکه چې دمخه یې هم یادونه شوې ده، د کولمبیا د پوهنتون له پاره چې د نړۍ کوم تاریخ The Culambia history of the) world) لیکل شوی دی، پکښې راغلي دي چې د امریکې د انقلاب په نتیجه کښې په هغه هېواد کښې داسې یو ملت جوړ شو چې د منشأ او خصلت له مخه یې د زړې دنیا له ملتونو سره فرق درلود. دلته د ملت جوړونی تاریخي عنصر په ډېر همت نفی شوی دی او د ځینو لیکوالو او څېړونکو یوې عجیبې نظریې ته زمینه برابره شوې ده او هغه دا ده چې ډېر بد بخت ملت هغه دی چې ډېر اوږد تاریخ لري ګویا امریکایي ملت چې ژر د ترقی بام ته وخیژول شو شایې د تاریخ په زړو رسیو نه وه ټړل شوې خو په مقابل کښې یې افغانانو د امریکا د ملت جوړوونکي انقلاب څخه ۲۹ کاله دمخه خپل تاریخي ملت بیا په نوې بڼه په داسې ډول ثبت کړ چې منشا او خصلت یې د دغه هېواد په لرغوني تاریخ او ډېر غني فرهنګ کښې ژورې جړې اوریښې لري. دغه ملت ټولې هغه مضبوطې رشتې ساتلې دي چې دا ملت یې د ګاونډیو هېوادو سره داسې مرتبط ساتلی دی چې افغانستان څو ځله د سیمې د هېوادونو د هیلو مرکز او کله کله هم له بده مرغه د لاس وهنې ډګر ګرځېدلی دی.

دا حقیقت هم په خپل ځای صحیح دی چې افغانستان د آسیا د څلور لاري حیثیت لرلی دی او دغه هېواد د خپل اوږد تاریخ په جریان کښې د ډول ، ډول اجتماعي حرکتونوا و تحریکونو مسیر ګرځېدلی دی چې د تاریخ په هره دوره کښې یې له مهاجمینو سره د قهرمانۍ ډکې مبارزې کړي خو مهاجرینو ته یې د مینې او وروولۍ په غیږ کښې ځای ورکړی دی. همدا سبب دی چې په افغاني ټولنه کښې مختلف قومونه یو له بل سره د غالۍ د نقش یا ډیزاین په شکل او بدل شوي دي. نو ځکه په افغانستان کښې ټولو اوسیدونکو قومونو زمور د لرغوني هېواد له تاریخي او جغرافیایي سرحدونو سره د معاصر افغانستان د سیاسي سرحدونو د برابرولو په کار کښې د احمد شاه بابا له پروګرام سره د زړه له کومي همکاري وکړه او یو قوم هم داسې خبره احساس نه کړه چې د دوی منشا یا د خلقیانو، پرچمیانو په ژبه د دوی " مخرجونه" په نورو ځایو کښې دي او سرنوشت یې له نورو سره ترلی دی.

د امپراتوریو زوال او د ملتونو جوړښت:

د دې لیکنې اصلي روحیه تاریخي څېړنه نه ده، دا چې افغانستان ډېرځله د لویو امپراتوریو مرکز ګرځېدلی دی او د تمدنونو د تلاقۍ، تفاطع او تشعشع لقب یې ګټلی دی، د افغانستان په تاریخي قدامت او عظمت رڼا اچوي خو زمور د روانې څېړنې اصلي موضوع نه ده. دلته د نظر د فوکس کولو ټکی د یو شمېر څېړونکو دغه نظریه ده چې د افغانستان ملت په معاصره بڼه د احمد شاه ابدالي د پاچاهۍ په ضمن کښې چې فیدریشن یا

کنفډریشن تــه ورتــه نظـام يـې درلـود تبـارز کـړی دی. د سیاسـي علومـو څیړونکـي چـې د يـو ملـت معـاصره بـڼه تثبیتـوي نـو د يـو لــړ عمومــي قوانینو له مخــې خپلـه نظریـه قـایموي. يـو يـې دا دی چـې د نـړۍ ټول معاصر دولتونه يا ملتونــه د لویـو امپراتوریـو د زوال پـه نتیجـه کـښې جـوړ شـوي دي. د افغانسـتان معـاصر دولـت د نـادر شـاه افشـار د امپراتــوری له ړنګېدوڅخه وروسـته جـوړ کـړل شـو. پـه دې اسـاس هیڅوک دا ادعـا نشـي کـولای چـې د افغانسـتان معـاصر دولـت يـوازې احمـد شـاه بابــا جـوړ کـړی دی بلکـه حقیقـت دا دی چـې د ملـت جوړونـې يـو طبیعـي میلان چې د افغانستان پــه خلکـو کـښې پـه شـدید ډول موجـود وُ لـه يـو ۲۵ کلن زلمي څخــه لـوی ملـي او بـین المللـي شـخصیت جـوړ کـړ. پـه خپلـه ځوان احمـد خـان هـم داسـې يـو شـخصیت وُ چــې پــه نظــر او عمل کـښې يـې د افغانسـتان د ملـت اراده تمثیلـولای شـوای.

احمد شـاهي دولـت بـالقوه پـه عادلانـه سیسـتم متکـي و خـو بـالفعل يـوه پـاچـاهي وه، د مرحـوم غبـار پــه قــول ده د مــیرویس نیکــه لاره تعقیبوله مګر د هغه وخت شــرایطو نـه ایجابولـه چـې د مـیرویس نیکـه پـه ځیر يـو اولسـي حکومـت جـوړ کـړی شـي. يـوازې دلتـه پــه افغانســتان کښې نه بلکـې د ځمکـې د کـرې پـه بـل مـخ یعنـې فرانسـه کـښې هـم د جمهوریت د پایښت له پـاره شـرایط د هیلـې سـره سـم برابـر نـه وو ځکـه خـو هلتـه هـم د جمــهوریت پروســې ډېرې هســکې او ټیــټې مرحلــې تېرې کـړې تر دې چـې د فرانسـې قـانون جوړوونکـي يـې لـه هغـه وختـه تر اوســه پـورې د دوو امپراتوریـو ځلـورو پـاچـاهیو او پنځو جمـهوریتونو لـه پـاره د قوانینـو لیکلـو تـه کښینـولي دي، چـې دغـه کـار د امریکــایي مجلې نیــوز ویـک پـه قـول فرانسـویان د اساسـي قوانینـو د جوړولـو هـنر منــدان ګرځولي دي.

د افغانانو نا لیکل شوی اساسي قانون

مـو ږ د یـو شـمېر نـامتو څېړونکـو او تیوریسـنا نـو لـه نظـره فطرتـاً یـو ډموکراتیک اولس یو. یوازې مـوږ نـه بلکـې یـو بـل هـېواد چـې لـه نـورو څخـه دمخـه د دوه ډولـه (سیاسـي او صنعتـي) انقلابونـو ویـاړنې د ځان حق بولي دا ادعـا کـولای شـي چـې په پـاچـاهي نظـام کـښې یـې هـم بې لـه دې چـې اساسـي قـانون ولـري د دموکراسـي پیـش قدمـي کـړې ده او لـه څو پېړیـو راهیسـې یـې دموکراسـي چلولـې ده، دا هـېواد انګلسـتان دی.

د انګریزانـو لـه پـاره د ویـاړ خـبره دا وه چـې دوی لـه یـوې اوږدې کورنۍ جګړې نه وروسته یوه داسـې پـاچـاهي جـوړه کـړه چـې د پـاچـا واکمنـي یې په چوکـاټ کـښې راوسـتله. دغـه بدلـون دوی خپـل پرتمـین انقـلاب (Glorious Revolution) وبالـه چـې په ۱٦۸۸ کـښې وشـو د دغـه وخت یـو انګریـز تیوریسـن لـوک (Locke) چـې د "اجتمـاعي قـرار داد" د مشهورې نظریـې پـه شـرح کولـو کـښې کومـه ونـډه لـري هغـه د همدغـه انقلاب له سـتاینې څخـه را پـیدا شـوې ده.

زمـوږ افغانـانو پـه تـاریخ او فرهنګ کـښې هـم ډېر داسـې شـواهد شـته، چـې د پوهـې او نظـر خـاوندان ورځخـه د خپلـې ټولنـې د دموکراتیک ارزښتونو په تثبیـت کـښې ورباندې اسـتناد کـولای شـي.

مرحـوم غبـار لیکـي چـې احمـد شـاه بابـا پـه تخـت نـه کښیناسـته د خلکو پـه مقـابل کـښې متواضـع وٴ، پـه تشـریفاتو کـښې یـې د سـر کـوزول منع کړې وو. ده تاج نه پـه سـرکاوه، دسـتار یـې تـاړه، چپنـه یـې اغوسـته او مـوزې یـې پـه پـښو کولـې، لـه خلکـو سـره بـه یـې پـه خـلاص تنـدي خبرې کولې، د قضایـاوو پـه حـل او فصـل کـښې بـه یـې انصـاف چـلاوه، ده پـه خپـل ټول ژونـد کـښې لـه تجمـل او عیاشـــی څخـــه ډډه کولـــه،

حریص انسان نه وٴ. ده په هیڅ یـَو جنګ کـښې مـاتې نـه وه خوړلـې خـو د خلکو په مقـابل کـښې ډېر متواضـع او نـرم سړی وٴ، احمـد شـاه بابـا د خپلې کورنۍ افرادو ته اجـازه نـه ورکولـه چـې د دولـت پـه چـارو کـښې مداخلـه وکـړي همـدا سـبب دی چـې د تیمـور شـاه نـه پرتـه (چـې پـه دولتي چارو کښې تـر روزنـې لانـدې وٴ) د احمـد شـاه بابـا نـور اتـه زامـن چا نه پیژنـدل.

مرحوم غبار دا هـم لیکـي چـې د افغانسـتان پـه ځینـو سـیمو کـښې د ملوک الطوایفۍ ډېر سخت نظـام موجـود وٴ، پـه تـېره بیـا د هـزاره قـوم د اوسـېدو پـه سـیمه کـښې اربابـان دومـره مقتـدر وو چـې پـه خپلـو خپلـو رعایـاوو یـې نـا محـدود اختیـارات درلـودل احمـد شـاه بابـا خلـک د مطلق العنانـه اربابـانو د ظلـم لـه منګولـو څخـه آزاد کـړل. کلـه چـې ده خپل حرکتونـه او فعالیتونـه شـروع کـړل پـه هیـڅ ځای کـښې لـه موانعـو سره مخامخ نشو. د خیبر له تـاریخي درې څخـه یـو پـاچـا هـم د وینـو لـه تویـېدو څخـه پرتـه نـه دی تـېر شـوی خـو احمـد شـاه بابـا تـه پـه دې تاریخي دره کـښې لـه مینـې او اخـلاص څخـه ډک هرکلـی وویـل شـو او خلک حاضر شول چې د ده د ملاتـړ لـه پـاره عسـکر ورکـړي د هـرات پـه ښار کښې درویش علي خان هـزاره د احمـد شـاه پـه ملاتـړ قیـام وکـړ. پـه فاریـاب، جوزجـان، بلـخ، خلـم، بدخشـان او تخـار کـښې ازبکـو خانـانو چې نـه یـې غوښتـل د بخـارا د جنیـدي کورنـۍ د پـاچاهـانو تـر اغـیزې لانـدې وي، د محلـي حاکمـانو پـه تـوګه مـالیې ټولولـې کلـه چـې د احمد شـاه بابـا صدراعظـم شـاه ولي خـان پـه دوره ورغـی، دغـو خانـانو د مرکـزي دولـت سـره خپـل پیوسـتون اعـلان کـړ. پـه دې تـوګه د افغانسـتان د هـرې سـیمې خلـک پـه احمـد شـاهي دولـت راټول شـول او یو موټی پیاوړی ملت یـې جـوړ کـړ.

د افغانستان خلک بیلا بیلو امپراتوریو او ارباب رعیتي نظامونو دپر زیات ځپلي وو دوی مجبور شوي وو، چې د هند او فارس امپراتورانو او هم خپلو اربابانو ته دول دول مالیې، سورساتونه او محصولات ورکړي نو دوی اراده درلوده چې په خپله یو پیاوړی مرکزي حکومت جوړ کړي چې د خپلو اربابانو د ظلمونو او د نورو له تېریو څخه خوندي وساتل شي. دا پاکه ملي اراده کامیابه شوه او د یو ملي دولت د جوړېدو په ضمن کښې د افغانستان ملت په نوې او نسبتاً مترقي بڼه تبارز وکړ. دا ؤ د احمد شاهي دولت ملي خصوصیت او انقلابي روحیه.

افغانستان او محروسه اسلامي دولتونه

اوس به راشو د احمد شاهي دولت په بین المللي حیثیت به هم یو څه رڼا واچوو څو وپوهیږو چې د افغان ملت د اسلامي وروروليۍ پر غوړېدلې لمن د شوونیزم لکول شوې ټاپه له هغې سره د چا خبره میچ کوي او که نه؟

د هند د نیمې قارې یو لوی اسلامي او نامتو مفسرشاه ولي الله صاحب (رح) چې د پاکستان لویو څیړونکو هغه مجتهد ورسره سوسیالوجیست هم بللی دی، احمد شاه بابا ته په خپل یو لیک کښې ولیکل:

" له تا څخه پرته بل داسې پاچا نشته چې د اسلام دښمنانو ته ماتې ورکړي نو ځکه په تاسې باندې فرض عین دي چې هندوستان ته راشئ او د مرهټیانو طاقت ختم کړئ او مسلمانان د کافرانو له منګولو څخه آزاد کړئ. که چېرې د کفر غلبه همداسې قایمه وي نو

له مسلمانانو څخه به د اسلام تعليمات بالکل هېر شي او لږه زمانه به هم نه وي تېره شوې چې له مسلمانانو څخه به داسې ملت جوړ شي چې له کافرانو څخه به يې فرق نه کيږي. ز ه حضرت محمد (ص) خپل شفيع ګڼم او له تاسې څخه د الله (ج) په نوم غوښتنه کوم چې دې طرف ته توجه وکړئ او له دښمنانو سره جنګ وکړئ! خو د نادر شاه په شان کارونه مه کوئ! هغه په ډيلي حمله وکړه مسلمانان يې هم ذرې، ذرې کړل او مرهټيان بچ پاتې شول. همدا سبب دی چې د ډيلي د سلطنت څخه د ماشومانو لوبه جوړه شوې ده. د دې خبرې پوره پاملرنه په کار ده چې د مسلمانانو مال لوټ نه شي او نه د دوی د ژوند او عزت سره لوبې وشي..."

پروفيسر براون د پاني پت د جنګ په باره کښې چې احمد شاه بابا پکښې فاتح شو، ليکي:" د دنيا يو جنګ هم د نتيجې په اعتبار سره د پاني پت د جنګ څخه موثر نه و. که چېرې مرهټيان په دې جنګ کښې کامياب شوي واى، نو د مسلمانانو حکومت به د تل له پاره ختم شوى واى.

همدارنګه په ۱۷٦۲ م کال کښې په منځنۍ اسيا کښې د ميشتو قزاقانو او د خوقند حکمرانانو له احمد شاه بابا څخه وغوښتل چې له ده سره د امپراتور "چينګ لينګ" د حملو په مقابل کښې ملګرتيا وکړي. احمد شاه بابا دا بلنه ومنله د دوی په جهاد کښې يې برخه واخسته او هغه جهاد يې کامياب کړ. د بيرته راستنېدو په وخت کښې يې يوازې مبارکه خرقه چې اوس د کندهار د بنار وقار او زينت ګرځېدلې ده ، ورسره راوړه.

سره د دې چې ده ته په هند او خوقند کښې لويې فتحې په نصيب شوې خو وې نه غوښتل چې په هندوستان او بخارا کښې خپل حکومتونه جوړ کړي. له بلې خوا ده نه غوښتل چې د خپل

ملـي قـوت مرکـز يعنـي افغانسـتان پـربږدي او د پخوانيـو افغـاني پـاچاهـانو پـه څير ځانونـه پـه نـورو ملکونـو کـښې مصـروف کـړي او بيـا همالتـه اسـتهلاک شـي. همدارنـګه ده نـه غوښتـل چـې د جـهاد فـي سبيل الله له پـاره خپـل خالصانـه خدمتونـو تـه دنيـوي او مـادي رنګونـه ورکـړي. ده کـه مـادي شـته منـی له ځان سـره رانـه وړي خـو د هندوسـتان خلکـو تـه يـې ډېر لـوی معنـوي ارزښتونـه پـه سـوغات کـښې ورکـړل چـې علامـه اقبـال هغـه د ده " د زړه او لاس ګوهـر ښندنـه" بللـې ده.

دا هغـه شـيان وو چـې ننـي عادلانـه سيسـتمونه وربـاندې حسـاب کوی مثـلا د انسـانيت ضـد ټول هغـه روشـونه يـې پـای تـه ورسـول چـې پـه هندوسـتان کـښې د انسـانانو د انسـانيت د سـپکاوي لـه پـاره رواج شـوي وو.

تـر ده دمخـه مالکـانو دا اختيـار درلـود چـې هغـوی خپـل غلامـان ووژلای شـي. يـا بـه سـردارانو کـولای شـوای چـې د پـزې، لاسـونو او پښو پريکولـو سـزاګانې ورکـړي. ده دا ټول شـيان منـع کـړل.

زمـوږ يـو نـامتو څيړونکـی او ديپلومـات مرحـوم عبدالحکيـم طبيبـي په خپـل يـو انګريـزي کتـاب (Afghanistan a nation in love with freedom) کـښې ليکلـي دي چـې احمـد شـاه بابـا پـه هندوسـتان کـښې هم په دربار کښې د سر ټيټولـو سـپک رسـم پـای تـه ورسـاوه او حکـم يـې وکړ چـې د انسـان لـه خـوا د انسـان د درنـښت او عـزت لـه پـازه يـوازې سلام اچول کافي دي. احمد شـاه بابـا پـه خپلـه خپـل ځان امپراتـور نـه بالـه بلکـې د شهنشـاهی لقـب د هندوسـتان خلکـو ورکـړی وُ. ده د شـرق او غرب له امپراتورانو څخـه نـور فرقونـه هـم لـرل. يـو يـې دا وُ چـې ده تـه سـلطنت پـه ارثـي ډول نـه وُ انتقـال شـوی بلکـې دی د افغـاني

ولسواکی له روحیې سره سم د جرګې لـه خـوا د پـاچـا پـه تـوګه انتخـاب شـوی وٴ.

د دې لـه پـاره چـې وښودل شـي چـې مـورِ پـه دې څېړنـه کـښې تـر حد زیات د ملـي احسـاس تـر اغـېزې لانـدې راغلـی نـه یـو، بـې مـورده به نه وي چـې د افغانـانو او احمـد شـاه بابـا پـه بـاره کـښې د یـو داسـې چا نظر هم منعکس کړو چـې پـه افغانسـتان کـښې یـې د نظریـاتو پلویـانو د فاشـیزم او شـوونیزم غونـدې اصطلاحـاتو څخـه د زړونـو او دمـاغونو ماینونه جـور کـړي دي. دا سـړی د کـارل مـارکس نـژدې ملـګری انګلـز دی. دی لیکـي چـې"افغانـان دېر زړور، پیـاوړي او آزادي دوسـته خلک دي. دومـره لویـي لـري کـه د دوی د وینـو پـور وړي دښمنـان یـې هـم میلمانـه شـي د دې ډول دښمنـو میلمنـو سـر او مـال پـه امـن کـښې وي او د نورو د حملو لـه خطـر څخـه هـم ساتل کیـږي. احمـد شـاه لـه کندهار څخـه تـر ډیلـي پـورې ملکونـه تـر فرمـان لانـدې لـرل خـو د ده روش سوله یـیز و"

علامه اقبـال چـې د مارکسـیزم سـره مخـالف و، خـو پـه سـیالۍ کـښې ورځخه وړاندې تللې مفکـوره لـري، عقیـده او احسـاس یـې لـه مـورِ سـره شریک دی، احمد شاه بابا "مـرد ابـدالي" بـولي او داسـې یـې سـتایي:

از دل و دست کهرریزی که داشت
سلـطنت ها بردو بی پروا گذاشت

د علامـه لـه نظـره دی یـوازې پـه دې ابـدالي نـه وٴ چـې د افغانـانو یوې مشـهورې قبیلـې تـه منسـوب وٴ، بلکـې د فکـري او اخلاقـي عظمـت او روحـاني مـنزلت لـه مخـې هـم "مـرد ابـدالي" یعنـي خـدای (ج) تـه نژدې سـړی وٴ.

د احمد شاه بابا د شخصیت او کارنامو په باره کښې ډېر نور مهم او په زړه پورې حقایق شته مورِ په ضمني توګه یوازې هغو حقایقو ته څه اشاره درلودې چې تر بحث لاندې موضوع سره یې ډېر زیات ارتباط درلود. دلته اصلي مطلب دا دی: کوم تکاملی جریان چې په نوره نړۍ کښې یې بناري دولتونه یا قبیلوي دولتونه په امپراتوریو کښې ادغام کړل . د امپراتوریو د شنل کېدو نه وروسته فیوډالي دولتونه جوړ شول او بالاخره هغه وخت چې د خلکو ملي اراده د دولتونو د ملا تیر وګرځېده نو دولتونو ملي او ولسواکه بڼه غوره کړه چې ننني مادرن دولتونه ورځخه جوړ شول. په همدغه ځای کښې د دولت او ملت ترمنځ د تشخیص کرښه ورو ورو له منځه لاړه او دا دواړه ماهیتونه د یوې سکې دوه مخونه وګرځېدل. دې ته ورته یوې پروسې له افغانانو سره مرسته وکړه چې د ۱۸ پیړۍ په جریان کښې د افغانستان د ملي دولت پیاوړی بنسټ کښېږدي ورسره دغه لرغونی ملت په خپله معاصره بڼه د افغان په نوم ځان بنکاره کړي او د ملتونو په کتار کښې خپل لوړ مقام ترلاسه کړي.

ژبنی تنوع

په افغانستان کښې هم د ډېرو نورو هېوادو په څیر ډول ډول ژبې شته چې دغه لرغوني هېواد ته یې په زړه پورې کلتوري غنا بخښلې ده. ژبپوهانو تر اوسه پورې په افغانستان کښې د ۳۰- ۳۵ په شاوخوا کښې د ژبو او مختلفولهجو موجودیت ښودلی دی. یوازې زمونږ د هېواد په یو ولایت بدخشان کښې په دري او پښتو ژبو سربېره نه (۹) نورې ژبې شمېرل شوې دي چې هغه منجي، واخي، سریکي، سنګلیچي، زیبا کي، اشکاشمي، شغني او روشناني او قرغیزي ژبې دي.

د افغانستان زیاتره ژبې آریایي دي چې لویې او ډېرې مشهورې ژبې پکښې پښتو او دري دي. مرحوم پوهاند حبیبي لیکي چې په بغلان کښې له یوې تاریخي کتیبې څخه چې په ۱۶۰ م کښې لیکل شوې ده داسې څرګندیږي چې د کوشانیانو په عصر کښې په تخارستان کښې لرغوني ژبه رواج وه چې هغې ته د دري ژبې مور ویل کېدای شي، د دې ژبې اصواتو او کلماتو له پښتو ژبې سره ډېر ورته والی درلود له دې څخه څرګندیږي چې دري او پښتو ژبو په دې هېواد کښې له ډېرو اوږدو زمانو راهیسې یو د بل په څنګ کښې ژوند کړی دی. تر دوی دمخه مرحوم احمد علي کهزاد هم د پښتو

او دري ژبو د تاريخي خوروليِ په باره کښې په زړه پوري تحقيقات کړي وو.

زمورِ بل نامتو مورخ مرحوم غبار ليکلي دي چې:

" زبان دری اصلاً در مناطق دو طرفه رود جيحون بميان آمده. اينکه منشا زبان دری را بعضی ها پهلوی ساسانی گفته اند يک اشتباه است زيرا از قرن هفتم که زبان دری در افغانستان موجود بود در ايران زبان پهلوی ساسانی زبان آنکشور بود (ص ۹۴ افغانستان در مسير تاريخ).

د مرحوم غبار د ليکنې له مخې صفاريانو دري ژبه چې هغه وخت يوه محلي ژبه وه او عربي پکښې پياوړی نفوذ درلود د خپلې پاچاهيِ رسمي ژبه وګرځوله، دغه عنعنه ساماني در بار ته ورپسې د غزني دربار ته چې له سامانيانو سره يې خپښيِ درلودې انتقال شوه.

هغه وخت چې دري ژبه لوړه دربار ته (له دې امله چې هغې د وخت له يوې بلې رسمي ژبې يعني عربي سره ځان ډېر نژدې کړی وُ) خيژول کېده نوپښتو ژبه په خپل ولس کښې د افهام او تفهيم وسيله او د پښتنو د غوره حماسي ادبياتو پالونکې او ساتونکې وه.

مرحوم سيد قاسم رشتيا د پښتو چاپي آثارو نړيوال سيمينار ته په خپله ليکل شوې مقاله کښې د خير اللغات (۱۹۰۳م چاپ) د مولف قاضي خيرالله نوښاري په حواله ليکي چې سلطان محمود غزنوي دري ژبې ته د زياتې توجه لرلو تر څنګ پښتو ژبه له نظره نه وه اچولې او خپل وزير احمد بن حسن ميوندي ته يې حکم کړی وُ چې د پښتو ژبې له پاره د دربار د پوهانو په مرسته الفبې جوړې کړي. چې دغه کار قاضي سيف الله په لنډه موده کښې وکړ او دا هغه الفبې دي چې په يو څه بدلون سره تر اوسه پورې رواج لري.

په دې توګه څرګندیږي چې سلطان محمود غزنوي د پښتو ژبې ودې ته هم توجه درلوده.

د دغه کار عمده وجوهات ممکن دوه شیان وي یو دا چې د سلطان توریالی مټ تر زیاتې اندازې پښتنو پیاوړی کړی و. (پښتانه د تاریخ په رڼا کې) لیکي چې پښتنو د سومنات په فتح کولو کښې چې کومه برخه لرله د سلطان محمود غزنوي خپلې قاموليې هغومره برخه نه لرله. یو شاعر له سلطان سره د هغه وخت د پښتنو تینګه ملګرتیا، له غزا سره د دوی پخه مینه او د دوی ننګ او غیرت تاریخ ته داسې سپارلي دي:

ترکو نامردو داسې ودنګل له نام و ننګه
یو زه پښتون وم چې ولاړوم د سلطان تر څنګه

تاریخ پوهان د دغه بیت د تاریخي قدامت په باره کښې شکلري ممکن له معاصرو شاعرانو څخه کوم یوه له سلطان سره په غزاګانو کښې د پښتنو د ډېرې سترې وندې اخستنې د تمثیلولو له پاره ویلی وي او د "پښتانه د تاریخ په رڼا کې" مولف هم په خپل تاریخ کښې د پښتنو د هغه وخت د تاریخ د یوې څېرې ښودلو له امله هغه ته په خپل کتاب کښې ځای ورکړی وي.

له پښتو ژبو سره د سلطان محمود غزنوي علاقه مندي ممکن دا هم وي، چې ده دسر په سترګو لیدل چې د ده د امپراتوری په قلمرو کښې پښتانه ډیرو وتر دې چې د پښتنو نفوذ او موجودیت د نن غوندې د امپراتوری تر مرکز د یوې کړۍ غوندې را تاو شوی و دغه حقیقت د پوهاند حبیب الله ترڅې هغه څېړنه په پیاوړي توګه تائید وي چې په همدې نژدې وختو کښې د وفا په جریده او بیا د ازاد افغانستان په مجله کښې روانه وه.

پښتو او د افغانستان د تجزيې توره دوره

د تاريخي افغانستان دوه نيم سوه کلنې تجزيې چې احمد شاه بابا ته يې ورسوله په حقيقت کښې د پښتو کور هم ړنګ کړی وُ. په دې تاريخي خاوره کښې بې شمېره زياتو لاس وهنو د مملکت آريايي او افغاني خصوصياتو ته ډېره زياته صدمه ور رسوله. په همدغه توره دوره کښې له هرې خوا څخه له پښتنو او پښتو سره دښمني زياته وه. ډېر کوښښ کېده چې پښتو ژبه له مذهبي تقدس څخه لیرې وساتل شي تر دې چې هڅه کېده هغه د دوزخ ژبه وبلل شي.

دې غير علمي نظريې د مغلو او پښتنو ترمنځ د شخړو او جنګونو په يوه سخته مرحله کښې حتی آخوند درويزه هم چې د هغه وخت د ملي مجاهد پير روښان سره ډېر سخت مخالف وُ وپاراوه او حقيقت ويلو ته يې راوباله ده په خپل يو کتاب کښې ليکلي دي:

" خدای په هره ژبه بوله عربي وي که فارسي وي، که هندي وي که افغاني وي. په هغه ژبه يې بوله چې دې زړه وي. دا اقوال د امامانو اوس اکثر عالم دا وايي چې قرآن په عربي دی. په ناحق فرض واجب پښتو کوينه. دوی په دا وينا لغزيږي نه پوهيږي دغه خوی د جاهلانو ...."

خو کله چې دغه توره استعماري دوره پای ته ورسېده او د پښتو پټ ساتل شوي جواهر رابنکاره شول، نو جوته شوه چې په پښتو ژبه کښې هم د خدای په مينه کښې ډېرې خوږې سندرې او کلاسيک اشعار ويل شوي دي.

د افغانستان تاريخ ته يوه لنډه کتنه رابنيي چې هر هغه څوک يا هر هغه حکومت چې د "ملي او مترقي" القاب ورسره بنايي د ملي

ژبې پښتو خوا ته پاملرنه کړې ده اما دري ژبه يې هم له نظره نه ده اچولې د مثال په توګه مېرويس نيکه، احمد شاه بابا، سيد جمال الدين افغاني، امير شير علي خان، اما ن الله خان او په وروستيو وختو کښې ظاهر شاه او داود خان د پښتو ژبې په احيا او ترويج کښې لږ او ډېرې هڅې کړې دي. خو د دغو هڅو په مقابل کښې يې د دري ژبې پله هم درنه ساتلې ده. که څه هم دې ډول حکومتونو ياذواتو د پښتو د پرمختيا له پاره خپلې يو څه هڅې کړې دي خو هغه ډېرې موثرې نه وې. زمور يو وتلی تاريخ څېړونکی پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په خپله يوه څېړنه کښې د دغو نيمګړو يا بې اغېزې هڅو په عواملو داسې رڼا اچوي :

" په اتلسمې او نولسمې پېړۍ کښې د پښتو سير د پښتنو په دربو سترو ولسونو يعنې درانيو، غلزيو او بردرانيو کښې يو شان نه وٴ. په همدغه ډول د پښتو سير د پښتنو په همسايه خلکو کښې او هم په غير پښتو ويونکو ولسونو کښې فرق لاړه" پوهاند کاکړ هغه عوامل څېړي چې د پښتنو په حکومت کښې د رسمي او دفتري ژبې په توګه يې د دري پله درنه کړې ده، او هغه دا دي:

۱ له هرات سره تماس:

هرات په ثقافتي او ژبنې لحاظ زمور د دري ژبې يوه ډېره با نفوذه سيمه ده. مخصوصاً د منځنيو پېړيو څخه را په دې خوا چې پښتانه ورڅخه غرونو ته ولېږدېدل.

په هرات کښې د دري کېدو هيله دومره قوي وه، څه وخت چې هلته د اوولسمې او اتلسمې پېړۍ په او اخرو او په سر کښې درانيان واکمن شول دري په دوی هم سخت اثر وکړ نورو قومونو هم چې هلته د تاريخ په بهير کښې ميشته شول ورو، ورو يې خپلې ژبې هېرې کړې او دري ويونکي شول خو داسې بايد فکر ونشي

چې د هرات په سيمه کښې افغاني احساس کمزورى وٴ. په دې سيمه کښې د نسب، تاريخ او احساس په لحاظ افغاني روحيه ښه قوي ده او دغه احساس مخصوصاً د خارجي يرغلونو په وخت کښې په دې قوت سره ښوول شوى دى.

۲ -ملي استحکام :

د افغانستان واکمنې کورنۍ د دې له پاره چې د هېواد اداري او دولتي او ملي استحکام ته پوره تحقق ورکړى، دري يې د نورو وسيلو په ترڅ کښې د بيوروکراسۍ وسيله وګرځوله او د دولتي ارګانو له لارې يې د هغې په خپرولو کښې کوښښونه وکړل.

۳ - دکاروبش:

پښتنو په آزادېدو سره د نورو ملکونو د نيولو، د وطن نه د دفاع کولو او د واکمنو د پياوړي کولو په منظور ستر رولونه د ځان کړل، په داسې حال کښې چې دوى د مخه د نورو واکمنو اجيران کېدل په اتلسمې او نولسمې پيړۍ کښې جنرالان (سرداران) حاکمان او زمينداران شول. د بزګرۍ، کسب و کار ، کتابت او حتى سوداګرۍ کارونه دوى په زياته اندازه نورو ته پرېښودل. د کار دغه وېش د کندهار په سيمه کښې مخصوصاً واضح وٴ. هغه وخت چې درانيان د نادر افشار او احمد شاه درانې په وخت کښې وروسته له هغه چې د ګرګين خان له لاسه فرار شوي وو، په کندهار کښې بيا ميشته شول. د دغې سيمې دوه دريمه برخې مځکې په قومي اساس په دوى باندې وويشلې شولې او په هغه لومړي سر کښې غير درانې قومونو د دوى بزګري کوله. يو فرانسوي سياح ليکي چې " همدا چې يو افغان له خپل مافوق څخه دکو مې مځکې امتياز تر لاسه کړي، هغه له څو غويونو سره فارسي وان ته سپاري هغه يې ورته کري او ريبي"

فارسيوانانو د درانيو او زميندارانو د مستخدمينو په حيث د دوی د عوايدو او جاګير داريو د حساب او کتاب وظيفه په غاړه لرله. ځکه چې پښتنو حساب او کتاب او ميرزايي ته مخه نه کوله .

دفترونو ته د پښتو لاره

سره د دې ټولو خبرو د پښتو ژبې پراختيا او پرمختيا ته د امير شير علي خان په اصلاحاتو کښې ځای ورکړل شوی ؤ ځينې تاريخونه ليکي چې د پښتو د پرمختګ موضوع هم په هغو سپارښتنو کښې شامله ده، چې سيدجمال الدين افغان امير شير علي خان ته سپارلي وو. د امير شير علي خان په دوره کښې د ځينو حکومتي مقاماتو رتبې په پښتو واړول شوې همدارنګه عسکري قوماندې هم له انګريزي څخه په پښتو کښې ترجمه شولې. د امير عبدالرحمن په وخت کښې دربار ته لږ څه ننوتلې پښتو بېرته وايستل شوه يوازې عسکري قوماندې په پښتو کښې پاتې شولې. که څه هم د امير عبدالرحمن خان اختناقي سياستونو په افغانستان کښې د پښتو د ودې په مخکې څه خنډونه واچول خو د پښتو د پرمختګ ډينامیزم نور نو دې ډول بنديزونو نشوای درولی. لکه چې هغه وخت د پښتو ژبې وده په لره پښتونخوا کښې ډېره ګړندی شوه. د مثال په ډول د امير عبدالرحمن خان د سلطنت په موده کښې (۱۸۸۰- ۱۹۰۱) هلته له (۵۴) څخه زيات کتابونه چاپ شوي دي، چې د (۲۰) کلونو په موده کښې د دومره کتابونو چاپېدل هلته د هغه وخت يو ګړندی فرهنګي پرمختګ ښيي.

د امير عبدالرحمن خان د سياسي اختناق يوه بله نتيجه دا وه چې پښتنو د خپلو هغو ملي قهرمانانو د ستاينې له پاره چې امير ورسره سخته دښمنې لرله او په شهادت يې رسولی وو، زياتې اولسي سندرې وويلې. دې سندرو اولسي ادب يوې داسې مرحلې ته

ورساوه، چې نامتو فرانسوي څېړونکي دار مستتر پښتو چاربېتو ته د يوې ورځپانې په نظر وکتل.

د امير حبيب الله خان د سلطنت په موده کښې هم پښتو له نظره اچول شوې وه. لکه چې مرحوم غبار ليکلي دې د امير حبيب الله خان د سلطنت د پوهنې اداري د هغه وخت په بنوونځيو کښې پښتو او انګريزي ژبې اختياري ګرځولې وې يعنې شاګردانو ته ويل کېدل چې خوښه ستاسې ده، پښتو زده کوئ که انګريزي؟

وګورئ! پښتو په خپل کور کښې هغه هم ظاهرا د پښتنو په پاچاهي کښې د انګريزي غوندې يوې ليرې او ډيرې پردې ژبې سره په يوه تله کښې تلل کېده.

د دې دورې تاريخ چې روښانه څيره يې د سراج الاخبار جريده ده، څرګندوي چې د امير حبيب الله خان د ډېر محافظه کار سلطنت په بطن کښې هم مترقي نظرياتو او مترقي فرهنګ وده کوله، چې په دې وده کښې پښتو ته هم څه نا څه برخه رسېدلې وه. د دغه وخت مهمه خبره دا وه چې د وخت روښانفکرانو د پښتو سره د زړه له کومې مينه لرله او هغه يې د افغانستان ملي ژبه بلله.

زمور د دري ژبې يو تکړه ليکوال، محقق او ديپلومات دکتور روان فرهادي په خپله يوه تحقيقي مقاله کښې ليکي:

"مجمل نظريات محمود طرزی و همکارانش يعنی نظريات سراج الاخبار در باره زبان پشتو چنين است:

۱ پشتو و دری زبانهای قاطبه مردمان افغانستان بوده مال خاص هيچ قومی نيستند تائيد اين دو زبان جزء ملت خواهی (ناسيو نالیزم) همه مردمان افغانستان ميباشد.

۲ تدريس زبان پشتو بر علاوه زبان دری در همه افغانستان لازم است.

دکتـور روان فرهـادي پـه خپلـه همدغـه مقالـه کـې، چـې د پښتـــو د چاپې اثـارو سـیمینار تـه یـې لیکلـې وه، د محمـود طـرزي د لیکنـو څخـه داسې یـــو نقـل قـول هـم لـرې " زبـان ملـي (۱) افغـانی خـود را تقدیـس نمـائید و دوســت داریـد و در آموختـن ان بسیار کوشـــش کنیـــد! زبـــان رسـمی و سیاسـی فارسـی خـود را نـیز بســیار دوســت داشــته بخوبـــی تحصیل کنیـد!"

د پښتو ژبې او برتانوي استعمار ترمنځ یو تاریخي تکر

د ســراج الاخبــار د لیکوالــو دغــه ښه تلوســه او د پښتــو ژبـــې د پرمختیـا پروسـه هغـه وخـت پـه دولتـي سـطحه د یـو څه مـودې لـه پـاره وځنډول شوه چـــې پـه سـراج الاخبـار کـښې د مولـوي صـالح محمـد یـو نظـم خپـور شـو دغـه نظـم چـې د ملـي ازادی غوښتنـې غورځنـګ یـــې لمساوه پــه هنـد کـښې د انګلسـتان اسـتعماري حکومـت لـه غـم او غصـې څخه ولړزاوه. په نتیجـه کـښې یـې ټولـه پښتـو ژبـه د انګریزانـو د شـکایت له املــه جزایـي او لـه سـراج الاخبـار څخـه وایسـتل شـوه. پـه دې تـوګه دا ژبه چې د هغه وخت پـه معـارف کـښې یـې د خپـل اهمیـت لـه مخـې

---

[۱] پـه دوو تـپرو پیړیـو کـښې د پښتـو چـاپـي اثـارو سـیمینار د مرحـوم داود خـان د جمـهوریت پـه او اخـرو کـښې جـوړ شـوی و خـو د مقـالاتو مجموعـه یـې د ثـور د کودتا نه وروسته پـه کتـابي بـڼه چـاپ شـوه. پـه ځینـو مقـالو کـښې د دې لـه پـاره ګوتـې وهلـې شـوي دي، چـې ملـي مفـاهیمو تـه هـم د مارکسـیزم، لیننـیزم او سـټالیینیزم پیوندونـه ولګوي. نـو هغـوی د محمـود طـرزي د " زبـان ملـي افغـاني" عبـارت د "زبـان ملیتـی افغـانی" پـه بـڼه اړولـی دی، مـا پـه خپلـه د دکتـور روان فرهـادي د مقـالي اصلـي متـن لوسـتی و، ځکـه چـې هغـه وخـت د سـیمینار ترتیبـات او د هغـو د مقـالو سـاتنه او چـاپ تـه برابـرول د پښتـو د پرمختیـا او پراختیـا د اداري د مشـر پـه تـوګه زمـا رسـمي دنـده وه.(لیکـوال).

مناسب مقام نه درلود له مطبوعاتو څخه هم وشړل شوه. خو کله چې په افغانستان کښې د پښتو د پرمختګ د ډینا میزم په مقابل کښې یو لړ میکانیکي خنډونه را پیدا شول نو همدغې روانې چینې په لره پښتونخوا کښې د وتلو له پاره خپله لاره تر پخوا زیاته پراخه کړله. په پښتو کښې یو زیات شمېر نوي کتابونه چاپ شول، خو له بده مرغه په دې کتابونو کښې ضروري اجتماعي او دیني موضوعات ډېر کم وو. د ښاپیرانو او دیوانو قصې پکښې زیاتې راغلې وې ښایي د انګریزانو د حکومت تر سیوري لاندې قصدا داسې یوه هڅه روانه وه چې د شلمې پیړۍ په شروع کښې پښتنو ته د دوی په خپله ژبه کښې داسې تخدیري مواد تغذیه کړي چې دوی د هڅو او خوځېدنو په دې پیړۍ کښې د غفلت په خوب ویده پاتې شي. سره د دې هم د قوم ویښو عناصرو نه غوښتل چې دا حالت د تل له پاره پاتې شي د دوی د کوښښونو په نتیجه کښې "پښتون" مجلې په ۱۹۲۸ کښې خپلې خپرونې پیل کړې. دا مجله لومړی په راولپنډۍ بیا په امرتسر او ورپسې په پیښور کښې چاپېدله.

له پښتو سره د ټولو افغانانو مینه

پښتو د یوې ژوندۍ او پر مخ تلونکې ژبې په توګه په حکومتي او رسمي هڅو دومره متکي نه وه څومره یې چې په خپل اولس کښې پالل شوې ده. دې ژبې تل په خپل ملت کښې خپلې ژورې جړې او ریښې تاندې ساتلې دي. زه چې د ملت کلمه یادوم نو مقصد مې یوازې پښتانه، نه دي بلکې نور هغه قومونه هم دي چې په افغانستان کښې یو د بل ترڅنګ پراته دي او د یوه کور د ورونو په څېر ګډ ژوند کوي او په مجموع کښې یې یو ملت جوړ کړی دی.

کـه خپلـه مطالعـه لـه لـــورړو حکومتـــي او رســـمي مقـــامونو څخـــه د ټولنې تل ته ور کوزه کـــړو نـــو د افغانســتان ټولـو نـورو قومونـو لـه پښتنـو سره په تېره له هغو کـــډوالو او کـوچیـانو سـره چـې لـه پښتـو نـه پرتـه پـه نورو ژبو نه پوهـېږي لـه پېړیـو پېړیـو راهیسـې پـه پښتـو ژبـه خـبرې کـړې دي. ما په خپلـــه ددري ژبـو پـه خپـل منځي خـبرو اتـرو کـښې د ډېر ځلـه داسـې کسـان لیـدلي دي چـې "کفتـه اوغـان" یـــې ویلـــي دي او خپلـــه خبره یـــې پـه پښـتـو متـل ټینګه کـړې ده. پـه همـدې ډول یـې د پښتـو ډېـر زیـات لغتونـه پـه خپلـه ژبـه کـښې جـذب کـړي دي. پښتـو هـم لـه دري، ترکـي(ازبکـي او ترکمنـي) پشـه یی، بلـوڅي او نـورو ژبـــو څخـــه یـو زیـات شـمېر لغتونـه اخیسـتي دي. د "وولـــس" ویـاړلې کلمـــه د ډېرو افغاني ژبـو ترمینځ شـریکه ده.

مرحـوم سـید قاسـم رشـتیا او ښاغلـی عبدالـرزاق زهـیرد هغـو پښتـــو لغاتو اوړده لیســتونه خپـاره کـړي دي چـې پـه دري ژبـه کـښې یـې ځای نیولی دی. د زهـیر صـاحب لیسـت تـر لاسـه نشـو خـو د مرحـوم رشـتیا د لیست له مخـــې د (۱۳۰) پـه شـاوخوا کـښې پښتـو لغـات دري ژبـې جـذب کـړي دي. دا لیســت مرحـوم رشـتیا پـه ۱۳۱۸ کـال کـښې د کـابل مجلـې پـه (۱۰۴) ګڼه کـښې خپـور کـړی دی چـې بیـا یـې پـه دوهـم ځل هـم د یو سیمینار له لارې د پوې مقـالې پـه تـرڅ کـښې خپـور کـړی ورسـره یـې دا هم ویلي دي چـې پـه دې لیسـت کـي هغـه وضـع شـوي اصطلاحـات شامل نه دي چې د یـــوې ملـي ټرمینـا لوجـی پـه بـڼه منـل شـوي دي او شمېر یـــې ډېر زیـات دی.

مرحوم رشتیا دغه لیست پښتـــو ژبـې تـه د خپلـو نـورو مـهمو خدمتونـو په ترڅ کښې هغه وخـــت خپـور کـړی و چـې پـه افغانسـتان کـښې د ملـي ژبې د ودې او ترقی هیلـې د هـز چـا سـره پیـاوړې شـوې وې.

هغه وخت د اریـایي مفـاخرو د خپلولـو لـه پـاره مـورِ او هـم ایرانیـانو لویـي لویـي دعواګانـي لرلـي، پـه ایــران کــښې د المــاني ناســیونالیزم مکتب له پـاره پـه پراخـه پیمانـه تبلیغـات کـړل، د دې تبلیغـاتو لـه پـاره د "ایـران باسـتان" پـه نامـه یـوه جریـده خپـرېده، دی جــرېدې چــې د المـان پـه مـالي او تخنیکـي مرسـته چـاپېدلــه د افغانســتان تــاریخي او فرهنـګي میراثونـه هـم د ایـران بلـل. پــه مقــابل کــښې یــې افغانــانو غوښتل چــې د دوی پـه مقـابل کـښې خپـل ملـي موجودیـت او تـاریخي حقیقـت تشـبیت کـړي لـه همدغـه املـه پښتـو تـه توجــه د پخوانــو څو حکومتونـو پـه نسـبت ډېره زیاتــه شــوه او رســمي مــامورین د شــاهي فرمان لــه لارې مکلـف وبلـل شـول چـې دغـه ملـي ژبـه زده کـړي. مـیر محمد صدیق فرهنـګ پـه خپـل کتـاب د" افغانسـتان در پنـج قـرن اخـیر" کښې د دغه فرمــان ځینـي برخـي پـه لانـدې ډول را اخیسـتې دي:

" ج. ع. ج .ا.ا نشان عــم محـترم سـردار شـاه ولی خـان غـازی وکیـل صدراعظـم!

مسـلم اسـت کـه مسـئله زبـان در وحـدت ملیـه و حفـظ اداب و شـعایر یـک ملـت اثـرات معتنابــهی داشــته و توجــه بــاین مطلــب از جملــه ضروریـات حیاتیـه یـک مملکـت بـه شـمار مــی رود. چــون در مملکــت عزیز ما از طرفی زبـان فارسـی مـورد احتیـاج بـوده و از جـانب دیـگر بـه علـت اینکـه‌قسـمت بـزرگ‌ملـت مـا بـه لسـان افغـانی متکلـم و مـامورین علی الاکثر بـه سـبب ندانسـتن زبـان پشـتو دچـار مشـکل مـی شـود،لهـذا بـرای رفـع زیـان ایـن نقیصـه و تسـهیل معــاملات رســمی و اداری اراده فرمـوده ایم همچنـان کـه زبــان فارســی در داخــل افغانســتان زبــان تدریـس و کتـابت اسـت در ترویـج و احیـای لسـان افغــانی هــم ســعی بعمـل امـده و از همـه اول مـامورین دولـت ایـن زبـان ملــی را بیا موزنـد..

شما به وزارت ها و نایب الحکومتی ها امر بدهید که مامورین لشکری و کشوری مربوط خود را مکلف نمایند که در مدت سه سال لسان افغاني را آموخته و در محاوره و کتابت مورد استفاده قرار بدهند..."

د فرمان له دغو اقتباس شویو برخو څخه څرګندیږي چې فرمان یقینا په یوه ډېره ملي روحیه لیکل شوی دی یعني د ملي افغاني ژبې زده کول یو ملي مکلفیت ګرځول شوی دی خو د فارسي ژبې تدریس او اداري اهمیت نفی شوی نه دی. مګر د مرحوم فرهنګ توجیه بل ډول ده ګویا له پښتو ژبې سره د مرحوم محمد ګل خان مومند د ډېرې پخې مینې له امله او د فاشیستې مزاجه کسانو تر تاثیر لاندې راتلو له امله د وخت پاچا ظاهر شاه د افغاني ژبې د ترویج او احیا له پاره فرمان صادر کړ. په دې باره کښې په خپله د فرهنګ صاحب په کار اچول شوي الفاظ او کلمات دا دي:

" محمد هاشم خان در مرحله اول با این اقدامات (محمد ګل خان) نظر مساعد نداشت اما پس از انکه در سال ۱۹۳۲ هیتلر رهبر حزب ناسیونال سوسیالیت المان زمام قدرت را در دست ګرفت و به تبلیغ نظریهٔ برتری نژادی پرداخت یک عده از شخصیت های دولتی افغانستان از جمله محمد داود خان و محمد نعیم خان برادر زاده ګان محمد هاشم خان و عبدالمجید خان رئیس بانک ملی را در باره تعمیم زبان پشتو و طرد سائر زبانها از خود نموده پس از انکه انرا با اب و تاب هتلري جلا و صیقل دادند بعنوان سیاست جدید فرهنګی در محل تطبیق ګذاشتند این وقتی بود که در سطح بین المللی المان نازی باوج قدرت رسیده و دور نمای پیروزی نهایی و حتمی ان عناصر زور ګو فاشیست مزاج در همه جای بسوی خود جلب می کرد. در افغانستان قدم اول این راه توسط

فرمانی برداشته شد که در شماره ۱۲ حوت سال ۱۳۱۵ مرادف با ۳ مارس ۱۹۳۷میلادی راجع به زبان پشتو در جریدهٔ اصلاح نشر شد.

سړی چې د فرهنګ صاحب دا لیکنه لولي، فکر کوي چې د کوم محقق نه بلکه د یو مبلغ لیکنه لولي. ټولو ته څرګنده ده چې د محمد داود خان او محمد نعیم خان مورنۍ ژبه دري وه نو دوی د خپلې مورنۍ ژبې دردولو قصد نه درلود. محمد ګل خان مومند هم په خپله د دري ژبې ډېر ښه لیکوال و د پښتو سیند په نامه مشهور قاموس یې په دري ژبه لیکلی دی. یعنې پښتو لغات یې په دري باندې شرح کړي دي.

د پروفیسر ډاکټر ګل جان ورور د یوې تازه څېړنې له مخې، شمالي ولایاتو ته د پښتنو لېږدونه لکه چې فرهنګ صاحب فکر کړی دی، د اعلیحضرت محمد نادر شاه شهید یا مرحوم محمد ګل خان مومند ابتکار نه دی بلکې نادر شاه افشار له افغاني حکومتونو څخه دمخه دغه کار کړی دی. نادر افشار خپلو پوځیانو ته د خدمت د معاوضې په توګه د افغانستان په شمالي ولایاتو کښې مځکې ورکولې. پروفیسر ورور د دغه تاریخي حقیقت په لیکنه کښې د الفنسټن په لیکنه چې ډاکټر محمد حسن کاکړ ترجمه کړی ده، استناد کړی دی. البته د نادر افشار پوځ یوازې له پښتنو څخه جوړ شوی نه و، بلکې یوه زیاته برخه یې ازبکان او ترکمنان هم وو. چې په دې حساب زیاتره ازبکانو او ترکمنانو ته هم هماغه وخت د افغانستان په شمالي ولایاتو کښې ځمکې ورکړل شوې دي. په وروستیو وختونو کښې هم د حکومتونو روش هم دا و ، چې خپلو متقاعدو پوځیانو او مامورینو ته یې ځمکې ورکولی همدا سبب دی چې هر قوم ته منسوب لوی بیروکراتان لوی خانان وګرځېدل. البته هغه بزګران هم چې ځمکې یې نه لرلې شمال ته لېږدول شوي

دي او د دوی په بشري طاقت شاړې ځمکې ابادې شوې دي. دا لیږدونې په داسې شرایطو کښې شوې دي چې: " اګر مرګ میخواهي به کندز برو" مثل یې د خلکو په خولو کښې اچولی و.

حکومتونو د خپلې پالیسۍ له مخه د شمال خلک هم د افغانستان جنوب لویدیځ ته لیږدولي دي. ما په خپله د جنوبي پښتونخوا د سرانانو د مهاجرو په کمپ کښې د داسې سپین ږیرو ازبکانو سره خبرې کړې دي چې په خپل ژوند کښې دوه ځله مهاجر شوي دي یو ځل د شورویانو او کمونستانو د ظلم او زور په سبب له بخارا څخه را مهاجر شوي دي چې د افغانستان شاهي دولت هغوی ته د نورو بې ځمکو ازبکانو په جمله کښې د هیلمند په پروژه کښې ځمکې ورکړي دي او یو ځل بیا د شورویانو او په افغانستان کښې د هغوی د ګوډاګیانو د مظالمو په وجه پاکستان ته را مهاجر شوي وو.

د فرهنګ صاحب په دې خبره کښې چې " نواده های پشتون راحتی از خارج سرحدات افغانستان به تعداد زیاد به شمال هندوکش کوچ داده و با دادن زمین و دیګر امتیازات اسکان می کرد.."

ځینې حقایق وینم. هو! بیلو بیلو حکومتونو د اسلامي او افغاني روحیې له مخه خپلو مهاجرو ورونو ته په تېره بیا د پښتونخوا خلکو ته چې انګریزانو له مور څخه د استعمار په چاړه پریکړی دی مځکې ورکړې دي. خو هغه لکه چې فرهنګ صاحب فکر کړی دی دومره زیاتې نه دي. بله خبره دا ده چې دوی له سرحداتو څخه د باندې خلک نه دي، افغانانو چې د ډیورند کرښه نه وه تائید کړی دا خلک یې د شرقي افغانستان اوسیدونکي بلل.

په هر حال ما د دې ډول مهاجرو له يوې کورنۍ سره نژدې اړيکې درلودې،دا کورنۍ نامتو مجاهد (متين خان) ته منسوبه وه، چې له انګريزانو سره يې په ميړانه جهاد کاوه کله چې انګريزانو هغه محاصره کړ په ويړ کښې يې ډېر خلک ورسره شريک وو چې د (متين يې کلابنډ کړ...) مشهوره اولسي سندره ورباندې جوړه شوې ده. د ده کورنۍ د مصيبت په سختو شرايطو کښې افغانستان ته مهاجرت وکړ او د وخت حکومت ورته په کندز کښې مځکې ورکړې. دا کورنۍ د روسانو او کمونستانو د ناکړدو په سبب پاکستان ته را مهاجره شوه. ښاغلي خليل الله متين د همدغې کورنۍ يو فرد وٴ، چې د کوټې په ښار کښې يې يو اخبار چلاوه.

د پښتونخوا دا ډول مهاجرين يوازې شمالي ولايتو ته نه دي استول شوي په خپله زمورږ په سيمه (د وردګو په سيمه) يو زيات شمېر دا ډول خلک اچول شوي دي چې څو درې او څو کلي ورباندې ډک شوي دي. له امير عبدالرحمن خان سره د مخالفت کولو له امله د فرار شويو خلکو مځکې هم دوی ته ورکړې شوي دي.

مورږ وينو چې په ننۍ دنيا کښې هغو هېوادونو چې مهاجرين يې منلي دي د څه مودې تېرېدونه وروسته هغوی د هغه هېواد اصلي اتباع ګرځولی دی که څه هم هر چېرې بومي خلکو ته د تماس په لومړنيو مرحلو کښې پردي يه نظر ورغلي دي خو بيا يې د ملي وروړولی په توده غيږ کښې نيولي دي (د دې کتاب د تولنيزو څېړنو په برخه کښې په دې موضوع په مفصله توګه بحث شوی دی) مورږ افغانانو هم د دې پېړۍ په لومړيو لسيزو کښې د دوو سوپر طاقتونو (انګريز او روس) څخه ربړېدليو خلکو يعني د هند او بخارا مجاهدينو ته د وروړولی غيږه خلاصه کړه. په نتيجه کښې په يو وخت کښې له شمال او جنوب څخه په ګڼ شمېر مهاجرين راغلل

که څه هم د دوی اکثریت ببرته خپلو هېوادو ته ستانه شول خو یو زیات شمېر یې دلته له مورِ سره پاتې شول.

دېره جالبه خبره دا وه چې په همدې وختونو کښې یعنې د ۱۹۹۹م کال د جون په اوایلو کښې د قزاقانو یوه ډله چې د څه د پاسه اویا کلونو په موده کښې په افغانستان کښې اوسیدلې وه بیرته قزاقستان ته ستنه شوه. د دې ډلې یو غړي چې په افغانستان کښې زېږیدلی او لوی شوی وُ، بي بي سي ته په یوه مرکه کښې وویل:" په دې خوشحاله یم چې قزاقستان خپلواک شوی دی خو په دې خواشینی یم چې له افغانستان څخه وځم خدای (ج) دې دغه هېواد ته سوله راولي چې زه ورته بیا راشم".

نو کوم خلک چې له پښتونخوا څخه افغانستان ته په مهاجرت راغلي دي په حقوقو او امتیازاتو کښې زمورِ د هغو ورونو سره برا بر دي چې له شمالي ګاونډیو هېوادو څخه راغلي دي خو فرهنګ صاحب دې ډول مهاجرتونو او لېږدونو ته چې تر اوسه پورې په ټوله دنیا کښې ډېر زیات انساني ارزښت ورکول کیږي په بل نظر کتلي دي.

د پښتو د تدریس نیمګړتیاوې

دلته تر بحث لاندې موضوع د ژبې په باره کښې وه خو څرنګه چې د فرهنګ صاحب د قلم څوکه د ژبې څخه د مځکو موضوع ته بنویېدلی وه نو زه هم له اصلي موضوع څخه بلې خوا ته اوښتی وم اوس راځو بېرته اصلي موضوع ته.

فرهنګ صاحب د پښتو د تدریس نواقصو ته د ګوتې نیولو تر څنګ یوې مهمې موضوع ته اشاره کوي او لیکي:

" د ر پایان مدت سه ساله طرح کنندګان برنامه حتی خود شان و اعضای حکومت و کابینهٔ شان موفق نشدند زبان پشتو را فرا ګیرند تا چه رسد به مامورینیکه سیاست برتري خواهی قومی و لسانی دولت ضدیت شان را در برابر آن تحریک کرده و تلاش می ورزیدند تا آنرا از طریق مقاومت منفی ناکام سازند".

دا خبره چې د حکومت (دولت) او کابینې غړي موفق نشول چې پښتو زده کړي د فرهنګ صاحب یوه بله ادعا ردوي چې وایي مهم مهم کارونه پښتنو ته سپارل کېدل. که فرهنګ صاحب هغه کسان پښتانه بولي چې نیکه او غور نیکه یې چېرې پښتانه تېر شوي وو بیا نو د دکتور حسن شرق په قول د فرهنګ صاحب یو فکري ملګری ببرک کارمل دا ډول خلک د پښتنو له قومولې څخه ایستلي او د تاجیکو په قومیت یې ورګډ کړي دي. په خپله د فرهنګ صاحب د ورور مرحوم رشتیا یو مستعار تخلص "سیدال یوسفزی" و د "سیدال" نه د ده مقصد دا وُ چې دی د پلار له خوا سید او د "یوسفزی" څخه د ده مقصد دا وُ چې دی د مور له خوا یوسفزی وُ. په خپله هغه مرحوم د پوهاند حسن کاکړ د یوې انتقادي مقالې په ځواب کښې همدا ډول یوه تشریح ورکړې وه.

د پښتنو ډېر ستر محرومیت دا وُ چې له دربار څخه دوی او د دوی ژبه لیرې ساتل شوې وه، کوم پښتون چې د کلمې په واقعي مفهوم پښتون بلل کیږي په مشکل سره دربار ته رسیدلی دی. محمد ګل خان مومند چې خلکو ورباندې خبرې جوړې کړې وې له هماغسې نادرو وزیرانو څخه وُ چې هم په قوم پښتون وُ او هم په ژبه. ما د وزیر صاحب په باره کښې داسې یوه خبره هم اوریدلې وه

چې د هغه مرحوم مورنۍ ژبه هم دري وه خو له پښتو سره د ده مينې ده ته پښتو هم ور زده کړه.

په هغه وخت کښې چې د پښتو د پرمختيا په باره کښې په دري ژبه ليکل شوی فرمان صادرېده يقيناً په دربار کښې د داسې يو پښتون موجوديت نه وُ، چې په فرمان کښې د راغلي يوازينۍ يوې پښتو کليمې ناسم شکل يې سم کړ ی واى. مثلا فرمان د "ج. ع. ج. ا. ا نشان" په القابو پيل کيږي. دا توري د "جناب عاليقدر جلالتمآب المر اعلى نشان" د لقبونو مخففات دي. د القابو په دې لړ کښې يوازې يوه کلمه (المر) پښتو ده، چې هغه هم په درباري لټيريچر کښې په غلطه بڼه مشهوره شوي وه. د دې کلمې اصلي شکل "لمر " دى چې د آفتاب مانا لري خو څرنګه چې ځينې دري ژبې هغه کلمې چې په دربدلي توري (حرف ساکن) پيل کيږي سمې نشي تلفظ کولى نو د لمر نه "المر" او له ستوري څخه "استورى" جوړوي. نو لوړ دولتي نښان يعنې "لمر اعلى نشان" په غلطه بڼه د "المر اعى نشان" باندې مروج شوى او يوې غټې غلطۍ د لوړې سطحې په رسمي القابو کښې ځاى نيولى دى.

په دې توګه د فرهنګ صاحب د " سياست برترى خواهى قومى و لسانى دولت" عبارت هغه مفهوم نه لري چې ده يې تصور کړى دى بلکې لکه چې په عمل کښې ثابته شوې ده له دغسې سياست څخه تر ډېره حده د پښتنو په ضد استفاده شوې ده.

د پښتو د پرمختګ په مقابل کښې منفي مقاومت

د فرهنګ صاحب دا خبره حقيقت لري چې د پښتو د پرمختګ په مقابل کښې منفي مقاومت را پيدا شو، که نه نو د دغه فرمان د

صادرېدو څخه تقريباً ٦٠ کلونه دمخه د پښتونخوا د بنو په سيمه کښې يو انګريز افسر چې د مځکو د اصلاحاتو دنده يې په غاړه لرله، د خپل کار د پرمختګ له پاره يې پنجابيان تشويق کړل چې پښتو زده کړي څو په پښتني سيمو کښې خپله دنده په ښه توګه سر ته ورسولی شي. دغه سړی اس. اس تاربرن S.S Thorburn نومېده. ده خپلې دا ډول تجربې په هغه کتاب کښې ليکلې دي چې په ١٨٧٦ کال کښې يې د " بنو يا زمورِ افغاني سرحد" په نامه ليکلی او په لندن کښې خپور کړی دی، ده ليکلي دي:

" د کار له پاره عريضې يوه په بله پسې راتلې هر چا د خپل ځان ورتيا ښودله. چا به ويل زه تر ټولو ښه سروي کوونکی يم بل به ويل چې زه ډېر ښه ليکونکی يم، چا به د خپل ليک او خط د ښه والي صفتونه کول. دا خلک د پنجاب له هرې سيمې څخه بنو او ډېره اسمعيل خان ته راغلي وو. دوی په پښتو نه پوهېدل خو دوی د تحفو او مکافاتو له لارې د پښتو زده کړې ته تشويقېدل. د حيرانتيا ور وه چې دوی پښتو زده کړه.."

په افغانستان کښې خو پردی حکومت نه وُ جوړ شوی ځينو خو هغه ټول ټال د پښتنو حکومت باله. که څه هم د ملي ژبې پښتو زده کول د هر افغان ملي مکلفيت ګڼل کېده ورسره پښتو زده کړه تر دې حده تشويقېدله چې بری ليک يې يو څه امتيازي معاش هم درلود. له بلې خوا لکه چې د فرمان د متن څخه څرګنديږي چې د پښتو ژبې زده کړې د دري د ردولو يا د فرهنګ صاحب په ژبه د طرد کولو مانا هم نه لرله بيا ولې د پښتو د زده کړې په مقابل کښې منفي مقاومت موجود وُ.

د دې پوښتنې ځواب هم په يو لړ داخلي او خارجي عواملو پورې اړه لري . د داخلي عواملو په لړ کښې ځينې غلط فهمی،

علمي نيمګړتياوې او يو لړ بيړني ګامونه اخستل د يادونې وړ دي او په خارجي عواملو کښې زمور او ايرانيانو ترمنځ د سيالیو دېره توده مسابقه په خاصه توګه د پاملرنې وړ موضوع وه او ده.

له پښتو ژبې سره پاريدلې مينه او تلوسه ولې ژرسړه شوه

پخوا له هغه چې د پښتو ژبې په مقابل کښې د تعصباتو د راپېدا کېدو په باره کښې بحث وکړو د هغې زمانې په روحيه او ځيره باندې هم بايد يو څه رڼا واچوو چې د کابل مجلې د ۱۴- ۱۳۱۸ کلونو په کليکسيونونو کښې يې پراخ انعکاس موندلی دی. د مثال په توګه د کابل مجلې ته په دري ژبه د يو افغان محصل ليک چې له المان څخه يې را استولی د هغه وخت د ځوانانو د ملي احساساتو دېره ښه نمايندګي کوي. دغه ځوان په دې خبره دېر خواشينی شوی و چې هغه د يو الماني سره زمور په ملي ژبه پښتو کښې خبري نشوای کولای. دی د هغه الماني په مقابل کښې ځکه شرمېدلی و، چې هغه له ده سره په پښتو کښې خبرې کولې خو دغه افغان زلمی و نشوای کولای چې په خپله ملي ژبه کښې له يو الماني سره خبرې وکړي. نو دغه ځوان افغان د يو ليک په ذريعه له خپلو ټولو هېواد والو څخه غوښتي وو، چې د ملي ژبې پښتو په زده کړه کښې د زړه له اخلاصه کوښښونه وکړئ.

د دغه ليک په څير دېرو نورو ليکنو او مقالو د پښتو د پرمختګ سره د دري ژبو او نورو افغاني اقوامو دېره توده مينه او تلوسه څرګندوله، خو له بده مرغه د وخت ځينو حکومتي او علمي (!)

ټولنـو بېړنيـو او افراطـي اقداماتو نـه يـوازې دا چـې دا تـوده تلوسـه سړه کړه بلکې د پښتو په مقـابل کـښې يـې زړونـه هـم سـاړه کـړل. د دې اقداماتو پـه لـړ کـښې يويـې دا هـم وُ چـې پـه نـاڅاپـي تـوګه يـې د پوهنې تعليمـي نصـاب پـه پښتـو و ګرځاوه چـې دغـه کـار هـم ښوونکـواو هم شاګردانو تـه زيـات مشـکلات پيـښ کـړل. پـه دي بـاره کـښې زمـوږ د ټولو دري ژبـو او نـورو قومونـو د افـرادو هغـه ګيلـې او شـکايتونه معقـول ښکـاري چـې د تعصـب رنګ نـه لـري. پـه بېړنـي توګه د پوهنـې پـه تعليمي نصاب کښې پښتـو تـه د ډېرې زيـاتې برخـې ورکولـو حتـى پښتنـو شـاګردانو تـه هـم مشـکلات پـيښ کـړي ووئ کـه هغـه وخـت پښتـو پـوره معياري شـوې نـه وه.

بـل اقـدام چـې تعصبـات يـې را وپـارول پـه پښتـو ټولنـه بـاندې د انجمـن ادبـي اړول وو. د پښتـو ټولنـې جـوړښت يقيناً يـوه ضـروري خبره وه ليکـن د يـو ادبـي انجمـن لـه منځه وړل سـم کـار نـه وُ کـه څه هم حکومت د انجمن تـاريخ پـه جوړولـو سـره د دغـه کـار تلافـي وکـړه مګر د انجمن د له منځه وړلـو داغ يـې پـه زړونـو بـاندې کـښښود.

د عجولانه اقداماتو پـه لـړ کـښې د کـابل مجلـې ټول پښتـو کـول هـم داسې يو کار وُ چې د پښتـو ژبـې لـه پـاره د خدمـت کولـو نـه زيـات يـې د هغـې پـه نسـبت تعصبـات ولمسـول. کـه څه هـم د يـوې بلـې مجلـې (آريانا) په تاسيسولو سـره د دغـه کـار تلافـي وشـوه. خـو غـوره دا وه چـې د پښتو د پرمختيـا لـه پـاره کومـه بلـه مجلـه وقـف شـوې واى او د کـابل مجله چې د نـوم لـه مخـه د کـابل د اوسـېدونکو د فرهنګ هنـداره بلـل کـېداى شـواى بـايد پـه خپـل حـال پـرې نښودل شـوې واى يعنـې بـايد په دواړو ژبو يـې خپرونـې کـولاى.

د پښتـو کورسـونو مسـألې هـم يـو څه جنجالونـه را پـيدا کـړي وو، پـه ربنتيـا چـې د دې کورسـونو نتيجـه دومـره اغـېزه ناکـه نـه وه هماغـه

وخت چې دې کورسونو دوام درلود په خپله پښتنو پوهانو هم د هغو په تدریسي روشونو انتقاد درلود. دوی په دې خبره ټینګار کاوه چې د پوهنې له لارې دې د پښتو ښوونې سیستم داسې موثر وګرځول شي چې د ۱۲ ټولګي نه وروسته هر شاګرد په روانه پښتو باندې خبرې او لیکنې وکړي له بده مرغه دې خوا ته پاملرنه ونشوه. کله چې مرحوم محمد ګل خان مومند د لویې جرګې مشر وټاکل شو په حکومت یې انتقاد وکړ، چې که د هېواد د پوهنې وزیر په پښتو نه پوهیږي نو یو شاګرد به پښتو ته په کوم نظر وګوري.

په افغانستان او ایران کښې دنګه یا سوچه پښتو یا د "فارسي ناب" له پاره د ځینو افراطي نشنلیستانو کوښښونو په افغانستان کښې د دواړو خویندو ژبو پښتو او دري ترمینځ د بېلتون فاصلې ورځ په ورځ زیاتولې ورسره یې د پښتو د زده کړې او تعمیمولو په لار کښې یو لړ مشکلات را پېدا کول.

په امانیه دوره کښې د یو کتاب په پای کښې لیکل شوي دي چې " په ټاپن ځي کښې د لوی پوهنې وزرتون ټاپه سو" څو چې سړی نښه ورته ځیر نشي څوک په دغه جمله په آسانۍ نه پوهیږي. دغه جمله په حقیقت کښې د " در مطبع وزارت جلیلیه معارف طبع شد" ده. له دې څخه څرګندیږي چې د امانیه دورې "مرکه د پښتو" یا د پښتو مرکې په مطبوعاتو کښې د سوچه پښتو څخه د جوړ شوي نثر رواجولو هڅه کوله خوپه دې هڅه کښې د پښتو پوښتنې هم ورڅخه ماتې شوې دي.

البته په پښتو کښې د خارجي کلماتو په مقابل کښې د ساده او آسانه پښتو کلماتو او اصطلاحاتو رواجول یو ضروري او ګټور کار دی. مثلاً د امیر شیر علي خان په زمانه کښې عسکري قوماندې او اصطلاحات له انګریزي څخه په پښتو واړول شول زیاتره قوماندو او

عسکري رتبوته په پښتو کښې داسې خوندور او آسانه کلمات او عبارتونه وټاکل شول چې ځینې یې لا تّراوسه د خلکو په خولو کښې ناست دي. د دې ډول اصطلاحاتو وضع کولو او رواجولو د ظاهر شاه د سلطنت تر دورې پورې دوام وکړ له دې کبله چې مناسب پښتو الفاظ په مناسبه طریقه په کار اچول شوي دي له دې ډول نومونو او اصطلاحاتو څخه د افغانستان ملي ترمینالوژي جوړه شوه چې د افغانستان د هر قوم افرادو په خپله خوښه او رغبت هغه ومنله او په کار یې واچوله. لکه چې د جهاد په موده کښې د افغانستان په هره برخه کښې د حکومتي پوځیانو نوم او نښان له منځه وړل شوی وٴ. خو د " څوک راغلې ! دریځ" غوندې عسکري قوماندو د افغانستان په هره برخه کښې دوام درلود په همدې ډول د مجاهدینو هر تنظیم خپلو تکړه قوماندانانو ته د رتبو او درجو ټاکلو په ترڅ کښې له همدې ترمینالوژۍ څخه کار اخیستی دی.

که له رسمي خبرو تېر شو او د اولس له منځه خبرې وکړو نو ګورو ډېرو داسې کسانو چې په خته او ژبه پښتانه نه دي بې له دې چې تر کوم عسکري یا ملکي فشار لاندې راغلي وي، په خپلو زامنو او لونو یې پښتو نومونه ایښې دي لکه چې زمری، زمریالی، ننګیالی، زلمی، ګلمکی، زرکه، زرلښته، هیلی نومونه د دري ژبو په سیمو کښې ډېر عام شوي دي. پښتنو هم په خپلو بچیانو د دري ژبې نومونه ایښې دي. مور ډېر پښتانه سپین ږیري، ځوانان او ماشومان وینو چې نومونه یې شیر خان، شیرېندل، دستګیر، شیرین ګله، ګلدسته ... دي.

د نامتو ملي اتل او شاعر خوشحال خان خټک نوم هم د دري او پښتو ترمینځ شریک دی، یوازې نوم یې نه بلکې شاعري یې هم په پښتو او دري ژبو وېشل شوې ده. خوشحال خان خټک یوازینی

پښتون شاعر نه دی چې په دري ژبه يې هم شعرونه ويلي دي بلکې اشرف خان هجري او ځينو نورو ډېرو کلاسيکو او معاصرو شاعرانو په دري ژبه کښې خوندور شعرونه ويلي او دري ديوانونه ترې راپاتې دي. ممکن ځيني خلک ووايي چې دري په شرق کښې يوه لويه بين المللي او فرهنګي او علمي ژبه وه او ده، نو پر ايرانيانو، افغانانو علاوه بخارايانو، ترکانو، هندوستانيانو، کشميريانو او د ځينو نورو قومونو عالمانو او شاعرانو هم د دري ژبې لمنه له قيمتي آثارو څخه ډکه کړې ده.

خبره خو همداسې ده، ليکن د دې ساحې په هېوادو کښې ترکي، ازبکي، ترکمني ، اردو او نورو ژبو د دري ژبې رسمي مقام ونيو خو پښتنو دې ژبې ته د داسې يوې وطني ژبې په سترګه کتلي دي لکه څنګه يې چې خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته د ملي ژبې په نظر کتلي دي.

حقيقت همدا دی چې د افغانستان ملت ته دا دواړه ژبې د دې هيواد د نورو ژبو په څير سکنی دي، ځکه چې د دواړو ژبو مور شريکه ده کور يې شريک دی. که مور د خپل هېواد د خلکو ورځنيو خبرو ته ځير شو پوهېږو، چې د افغانستان ټولو ژبو يوې لې بلې څخه کلمات اخيستي دي. د مثال په توګه د " وولس، اولس" کلمه د پښتنو، ازبکانو او تاجيکو او نورو ترمينځ شريکه ده همدغه سبب دی چې د محلي حکومت د پخوانۍ نوم په ځای د "اولسوالۍ" نوم په ټول افغانستان کښې منښت او درنښت لري.

لکه چې دمخه وليکل شول مرحوم سيد قاسم رشتيا او نباغلی عبدالرزاق زهير د هغو پښتنو لغاتو او کلماتو اوږده ليستونه خپاره کړي دي چې دري ژبې ته ورغلي دي.

په همدې توګه پښتو ژبې د خپلې ډېرې سکنې خور دري ژبې څخه ډېر زيات کلمات اخيستي دي. ډېر داسې لغتونه شته چې ريشه يې شريکه ده او په لږ لفظي يالهجوي تغيير سره يې په پښتو او دري ژبو کښې د جلا، جلا لغتونو بڼه نيولې ده مثلاً د دري "روز" په پښتو کښې د " روځ" يا "ورځ" په اشکالو او د دري "شب" په پښتو کښې د"شپه" په بڼه راغلی ده.

له دوو عامو ژبو څخه د يوې ژبې د جوړېدو پروسه

کله چې پښتو ژبې ورو ورو د دري ژبې ترڅنګ د علمي پرمختګ مرحلې يوه په بله پسې تېرولې او په رسمي او دفتري چارو کښې يې په تدريج سره برخه اخيستله نو د دواړو ژبو ترمينځ د لغاتو د تبادلې جريان ډېر ګړندی شو هغه وخت يو شمېر ټولنپوهانو او ژبپوهانو فکر کاوه که د دواړو ژبو ترمينځ د ورکړې او راکړې لورينه دوام وکړي نو د ملي ژبې د منښت د لارې څخه به ټول خندونه لېرې شي. په دې ډول چې ملي ژبې به نورو ژبو ته د منې وړ ترمينالوژي ورکړې وي او په مقابل کښې به ملي ژبې د غوره اجتماعي روابطو په جريان کښې په خپله لمن کښې د نورو ژبو الفاظ هم راټول کړي وي. خو لکه چې دمخه په تفصيل سره وليکل شول د پښتو د پرمختګ بېرنۍ ميکانيزم د دې ژبې د ودې د طبيعي ډاينامېزم په مقابل کښې ډول ډول خندونه را پيدا کړل.

د مرحوم غبار د ليکنې له مخه د علمي او دفتري ژبې په توګه د دري د لمنې پراخېدو لوی علت دا وو چې هغې خپلې لمنه د عربي ژبې له ضروري لغاتو او اصطلاحاتو څخه ډکه کړې وه. په دې توګه

يې د يوې مهمې علمي او رسمي ژبې يعني عربي ډېر ميراثونه خپل کړي وو. زمور پـه زمانه کښې اردو ژبې لـه مـهمې تجربې څخه استفاده وکړه او لـه دې لارې يې ځان ډېر غني او پياوړی کړ.

پخوا به کلـه چې د اردو ژبې پـه بـاره کښې بحث کېده نـو د دې ژبې په بـاره کښې دا خـبره مشهوره شـوې وه چې دا پـه هنـد کښې د مغلـو د وخـت د اردو يعنـي پـوځ ژبـه وه ځکـه خـو اوس د اردو پـه نامـه بللـه کيږي. د مغلـو پـه پـوځ کښې د مختلفـو ټولنـو او قومونـو افـراد را ټول شـوي وو. پـه همـدې سـبب دې ژبـې د مختلفـو ژبـو لغتونـه خوندي کـړي او خپـل مـال يـې ګرځولي دي. مـا د اردو قـاموس (فـيروز اللغـات) د (۲۴۲-۲۷۲) مخونـو (۷۲۰) هغـه لغتونـه، اصطلاحـات او محـاورې وشـمېرلې چـې د (ج) تـوري يـې پـه سـر کښې راځي. لـه دې جملې څخـه يـوازې د (۷) لغتونـو پـه مـخ کښې د (اُر) يعنـي اردو نخښه لـګول شـوې وه. پـه دې تـوګه څرګنـده شـوه چـې اردو ژبـه پـه سـلو کښې (۹۹) لـه نـورو ژبـو لکـه هنـدي ، سنسـکريټ، فارسـي، پښتـو، پنجـابي، ترکـي او انګريـزي څخـه جـوړه شـوې ده، پـه دې ژبـه کـښې يـوازې پـه سـلو کښې يـو لغـت چـې اردو ګڼل شـوی دی، پـه اشـتقاقي لحـاظ اردو تـه منسـوب کـېدای شـي خـو ريشـه يـې د اردو ژبـې سـره تړون نه لـري.

مثلاً د فـيروز اللغـات اردو قـاموس " جـاپـاني" کلمـه چـې لـه جـاپـان سـره نسـبت لـري اردو بللـې ده. پـه همـدې ډول "ججـی" کلمـه يـې چـې د انګريـزي د (جـج- قـاضي) سـره اړه لـري، اردو بللـې ده. د "جعلي" کلمـه يـې چـې د نقلـي او تقلبـي مانـا لـري د "جعليـا، پـه شـکل اردو ګڼلـې ده. پـه دې ډکشـنری کښې جنـت تـه د تـک مسـتحق انسـان (جنتـی) هـم د اردو لفـظ بلـل شـوی دی. پـه همـدې ډول د ليونـي ليارە د "جنون" له لفـظ څخـه د "جنونـی" کلمـه جـوړه شـوې ده او هغـه

بيا اردو بلل شوې ده. د هندي ژبې د "جهوټ - دروغ" له لغت څخه د "جهوټو- ظاهر داري" لفظ جوړ شوی او بيا اردو بلل شوی دی. د عربي د "جيب" د لغت د جيم فتحه يا زور په کسره يا زبر بدل شوی د فارسي "جيب" ورڅخه جوړ شوی بيا د صفت په بڼه "جيبي" ګرځول شوی او بيا اردو ګڼل شوی دی.

پاکستان په خپل اساسي قانون کښې همدغه له دېرو ژبو څخه جوړه شوې ژبه ملي بللې ده. دا څنګه يوه ملي ژبه ده" په خپله پاکستاني محققين وايي چې د پاکستان ملي ژبه اردو په پاکستان کښې د هيڅ کوم بومي (Native) قوم ژبه نه ده بلکې دا د هندوستان څخه د راغلو مهاجرينو ژبه ده. دغه خبره د علامه اقبال د اوپن يونيورستي د انګريزي درسي کتاب په (۱۸) يونټ کي هم راغلې ده. دا د پاکستان دېره مهمه سياسي هوښياري ده چې يوه مهاجره ژبه يې خپله ملي ژبه ګرځولې ده ځکه که دوی د بومي ژبو (پنجابي، پښتو، سرائيکی، سندی او بلوچي) څخه کومه يوه ملي ژبه اعلان کړې واى نو د دغه فيدرالي دولت په مانې کښې به لا سخت درزونه را پيدا شوي واى. د نړۍ په نقشه کښې د نوي راڅرګند شوي دغه (۵۰) کلن دولت تاريخ هم د همدغسې يوې سياسي هوښياری په رڼا کښې ليکل شوی دی. دوی د اسلام لوی فاتحين لکه محمد بن قاسم، سلطان محمود غزنوي، شهاب الدين غوري، احمد شاه ابدالي چې هندوستان يې فتح کړی دی د خپل ملي تاريخ لوی لوی اتلان بللي دي او په دې توګه يې د سيمې په لويو تاريخي ويارنو کښې ځان د دېرې لويې برخې خاوند ګرځولی دی. کله چې د لرغوني آريانا او اوسني افغانستان د څلورو ميا شتو له پاره تاکل شوی جمهور رئيس استاد برهان الدين رباني پاکستان

ته خپل رسمي مسافرت وکړ نو (۵۰) کلن پاکستان يې خپل "برادر بزرګ" وبالـه.

نن که په پاکستان کښې څوک ووايي چې اردو زمورِ ملي ژبه نه شي کېدلای سمدلاسه ورته ويل کېدای شي، چې ولې نه؟ په دې ژبه کښې د پاکستان څه چې د شرق او غرب د ټولو مهمو ژبو ژوندي کلمات راټول شوي دي نو ځکه دا ژبه په بريالۍ توګه د عامې رابطې يوه ژبه ګرځېدلې ده.

اردو ژبه همدا اوس هم د دوو لويو ژبو انګرېزي او هندي د فشارونو په مرکزي نقطه کښې راغلې ده خو دې ژبې د دواړو رقيبو ژبو په مقابل کښې خپلې پولې نرۍ او نرمې کړې دي د چا خبره "د دوستۍ سرحدونه يې ورځخه جوړ کړي دي" کله چې له متبارزو پاکستاني سياسي، علمي، فرهنګي او هنري شخصيتونو سره په تلويزون کښې مرکې کيږي دېر ځله داسې پيښيږي چې حتی له مکملو انګريزي جملو څخه په خپلو خبرو کښې کار اخلي او کله کله داسې هم پيښيږي چې په دې خبرو اترو کښې د انګريزي پله دېره درنيږي. هندي ژبې هم د انګريزي په مقابل کښې همدغسې يو حالت غوره کړی دی. په خپله د هندي او اردو ژبې ترمينځ رابطه دومره نژدې شوی ده چې اوس دا دواړه ژبې په حقيقت کښې د يوې ژبې دوې لهجې ګڼل کېدای شي او که د اردو فيروز اللغات قاموس ته وکتل شي نو هندي به د اردو مور يا مشره خور وبلله شي.

اردو ژبې د پرديو د خپلولو د دېرې مهمې پروسې پالیسی په برکت اوس دېره پراختيا موندلې ده. پاکستانيان ادعا کوي چې اردو اوس د نړۍ دوهمه مهمه لويه ژبه ده، چې دېر خلک وربانديې پوهيږي رښتيا خبره دا ده که د چا اردو ژبه زده وي نو په عربي اماراتو کښې به له هيڅ ډول مشکلاتو سره مخامخ نشي، په اروپايي ممالکو کښې هم د پاکستانيانو لويې ټولنې جوړې شوې او د اردو ادب د ودې او ترقۍ له پاره يې انجمنونه جوړ کړي دي.

اما زمور د هڅو يوه لويه نيمګړتيا دا ده چې د خويندو ژبو د پردي کولو له پاره مو د لغاتو او کلماتو د تصفيې کولو غلبيلونه جوړ کړي دي. همدا اوس يو شمېر پښتانه ليکوال هڅه کوي چې له پښتو څخه د عربي او دري ژبو کلمات وباسي که چېرې د عربي او دري ژبو د ځينو سختو لغتونو په ځای مروج پښتو لغت په کار واچول شي دا ژبې ته يو خدمت کول دي، خو که چېرې په پښتو کښې د عربي او دري لغاتو په ځای جوړ شويو لغاتو ځايولو هڅه روانه وي نو په هغه صورت کښې نه يوازې دا چې پښتو د خپلو خويندو ژبو څخه پردی کوي بلکې د خپلو ويونکو له فهم او ادراک څخه يې هم ليرې کوي. په مقابل کښې يې زمور د دريْ ژبې ليکوالان هم شته چې د ايرانيانو په تقليد په دري ژبه کښې د خيل پښتو الفاظ د "عقاقير هندي" په نامه وباسي او په اصطلاح خپله "دری ناب" له ملي ژبې پښتو څخه پردی کوي.

مور ته د افغانستان ټولې ژبې مهمې دي په تېره بيا پښتو او دري دواړه د ټولنيزې رابطې او مفاهمې دوې مهمې ژبې دي د دواړو ژبو ښېګڼو او ښکلاوو زمور د ملي کلتور رنګ او خوند لا زيات کړی دی. د پښتو ژبې مشهورو هنرمندانو: ناشناس، رخشاني، قمر ګل، منګل او نغمې او نورو په دري ژبه ډېرې ښکلې سندرې ويلې دي چې زمور دري ژبې ورونه يې په ويار يادوي.

په همدې توګه زمور دري ژبو تکړه سندرغاړو سراهنک، خيال، پروين، ژيلا، احمد ولي او نورو ډېرو کسانو د زړه په مينه په پښتو کښې سندرې ويلې دي چې پښتو موسيقي ته يې خاص محبوبيت بخښلی دی.

پر دې برسېره زمور ځينو ازبکو، ترکمنو، تاجيکو او نورستاني هېوادوالو د خپلې مينې او علاقې له مخې پښتو داسې زده کړې ده

چې په صحیح تلفظ او لیکنه کښې که له ځینو پښتنو لیکوالو څخه مخکې نه وي نو وروسته خو ورځخه نه دي.

زه په خپله د ازبک عبدالحکیم شرعی جوزجانی او دستگیر پنجشیري له نظریاتو سره مخالف وم او یم خو په دې حقیقت ستړګې نشم پټولای چې دوی دواړو له پښتنو سره په ډېره روانه پښتو ژبه خبرې کولې. ما یوه ورځ پنجشیری ولید چې د یو ملي شخصیت عبدالله خان اچکزي د یادونې په غونډه کښې چې د ملي شخصیتونو له خوا جوړه شوې وه، د خپل ګوند پیغام په پښتو کښې ولوست او دا هغه وخت وو چې د اساسي قانون په لسیزه کښې سیاسي ګوندونو ورو ورو خپل موجودیت څرګندوه او هغو کسانو هم ځانونه ملي عناصر بلل چې بیا د مارکسیستانو په توګه یې له ملت پالو عناصرو سره نه پخلا کېدونکې دښمني را واخیستله.

یو دوه ژبی ملت

د بناغلي میر محمد صدیق فرهنګ د کتاب "افغانستان در پنج قرن اخیر" د مدافعینو څخه یو تن پرخاش احمدی په دې خبره ډېر ځوربدلی دی چې د ظاهر شاه د دموکراسی د دورې په اساسي قانون کښې پښتو هم د دري په څیر د رسمي ژبې حیثیت موندلی دی. دغه لیکوال چې ځان یې د مستعار نوم تر شا پټ کړی دی، لیکلي دي:

" اما سرانجام (قدرتمندان حاکم) باین امر تن در دادند که گویشهای پشتو و دری هر دو رسمی اعلان کردند و افغانستان رسماً دو زبانه شود. به کار بردن" دری" به "جای" "فارسی" و ترویج آن

اولـين بـه جـاى ايـن دومـين دقيقاً يـک حرکـت حسـاب شـده سياسـي بود."

دغـه مرمـوز ليکـوال چـې ايـران مشـربي يـې د ده لـه خپلـې ليکنـې څخـه څرګنديـږي د کـوم ايرانـي دايـرة المعـارف Encyclopaedis) (Iranic لـه (٥٦٤) مخ څخـه يـو مطلـب را اخلـي او ليکـي:

" البته هستند کسـانی کـه تـا هنـوز خوشـباورانه و سـاده انگارانـه فکـر ميکننـد کـه منظـور از زنـده سـاختن اصطـلاح کـهن دری نشـان دادن اين بـود کـه افغـانی هـا وطـن خـود را مـهد ايـن زبـان تلقـی مـی کنـد باين سبب از کلمه يا زبـان فـارس جـداً اجتنـاب ميکننـد."

د افغانسـتان هغـه اساسـي قـانون چـې افغانسـتان يـې د پرخـاش پـه قول دوه ژبی وګرځاوه پـه داسـې وخـت کـښې مينځ تـه راغـی چـې پـه افغانسـتان کـښې ناسـيوناليزم او سوسـياليزم يـو د بـل پـه مقـابل کـښې نـوي- نـوي سـنګرونه جـوړول او د دې دواړو نظريـاتو پلويـانو هـڅه کوله چې پـه دربـار کـښې پـايګاوې ولـري. دا وخـت افغـاني ناسـيوناليزم هم تـر سـختو ګوزارونـو لانـدې وو. بـايد وويـل شـي افغـاني ناسـيوناليزم پـه فکـري لحـاظ د ايرانيـانو پـه څير د ناسـيوناليزم پـه آلمـانی مکتـب ترلی نه وُ او نه لـه فرانسـوي مکتـب څخـه متـأثر شـوی دی، بلکـې خپـل اصلـي الهـام يـې د علامـه سـيد جمـالدين افغـاني لـه ملـي او اسـلامي نظريـاتو څخـه اخسـتی دی. د مرحـوم غبـار پـه قـول د اسـلامي امـت دغه لوی مفکـر پـه افغانسـتان کـي د يـو مـوتي او پيـاوړي ملـت غوښتنـه لرلـه او د نـورو اسـلامي او شـرقي هيوادونـو لـه پـاره يـې د هغـوی د شـرايطو سـره سـم د مبـارزې جـلا جـلا شـعارونه تجويـز کـړي وو. (وګورئ- افغانسـتان در مسـير تـاريخ ٥٩٣مـخ).

د يو شمېر نـورو منـابعو لـه مخـې علامـه د ملـي ژبـې پښتـو تعميـم تـه په اهميت قايل وُ او امير شـير علـي خـان تـه يـې چـې د اصلاحـاتو کـوم

پروګرام سپارلی وُ په هغه کښې د پښتو تعمیمولو خوا ته هم د امیر پاملرنه راګرځول شوې وه.

د افغاني ناسیونالیزم د ودې او پرمختیا په هره مرحله کښې ملي ژبې پښتو ته نسبتاً یو څه توجه شوې ده خو د رسمي او علمي ژبې په توګه د دري ژبې د مقام د ساتنې سپارښتنه هم شوې ده.

خو کله چې افغانستان د نوې دموکراسۍ پرڅو ته داخلېده ملي ضدو نظریاتو تر مخه خپلې اډې پیاوړې کړې وې. د اساسي قانون په مقدمه کښې د "به منظور تطبیق دموکراسی سیاسی، اقتصادی و اجتماعی" عبارت د پرچمیانو د رژیم په خپرونو کښې خپل خاص ارزښت ساتلی وُ یعنې د دوی رژیم شاهي رژیم او اساسي قانون ردولو خو دغه یوه خبره یې ډېره خوښه وه ځکه چې "اقتصادي او اجتماعي دموکراسي" د مارکسیزم دوه سمبولیک اصطلاحات وو چې په دغه اساسي قانون کې یې ځای نیولی وُ. البته په عام مفهوم سره د غه دوه اصطلاحات د اساسي قانون یوه بنه محتوی څرګندوي خو د خاص نظر له مخه مارکسیستانو خپل خاص هدفونه د دغو اصطلاحاتو تر شا پټ ساتلي وو.

په هغه وخت کښې چې د افغانستان له پاره دغه اساسي قانون لیکل کېده د ژبي په مسأله کښې دوه ډوله نظریات موجود وو:

۱. یوه نظریه دا وه، چې د یو هېواد ټولې ژبې ملي دي خو یوه یې پکښې رسمي ده.

۲. بله نظریه دا وه، چې د یو هېواد ټولې ژبې رسمي دی خو یوه یې پکښې ملي ده.

کمونستان په ټېره د ستالینیستي مکتب پیروان د لومړی نظریې پلوي کوي، ځکه چې د دوی له نظره په یو هېواد کښې میشته مختلف قومونه جلا جلا ملیتونه بلل کیږي چې هر ملیت خپله ملي

ژبه لري په همدې اساس د يو هېواد ټولې ژبې ملي دي خو د اکثريت ژبه يکښې رسمي ده.

د افغانستان د ۱۳۴۳ (۱۹٦۴) په اساسي قانون کښې د ژبو په برخه کښې ظاهرا له دوارو نظريو څخه کار اخستل شوی دی.

د دې قانون په دريمه ماده کښې د افغانستان له ژبو څخه پښتو او دري رسمي ژبې بلل شوې دي، خو د ملي ژبې موضوع يکښې شاته اچول شوې ده د دې قانون په ۳۵ ماده کښې ويل شوي دي چې "دولت موظف است پروگرام موثری برای انکشاف و تقويه زبان ملی پشتو وضع و تطبيق کند"

د هغو حاکمو قدرتمندانو له جملې څخه چې د پرخاش احمدي په خيال افغانستان يې رسما دوه ژبی کړی دی يو يې هم په خپله بناغلي مير محمد صديق فرهنګ دی چې د ۱۳۴۳ د اساسي قانون د تسويد د کوميټې غړی و او دی هغه څوک دی چې د دکتور حسن شرق په قول يې له دربار سره د ببرک کارمل غوندې چپيانو د رابطې وظيفه په غاړه اخستې وه نو په اساسي قانون کښې د چپي نظرياتو له پاره د پايکاوو په جوړولو کښې د ابتکاراتو خاوند هم بلل کېدای شي. په دې کوميته کښې د فرهنګ صاحب ورور مرحوم سيد قاسم رشتيا هم شامل و. په عمومي توګه لکه چې بناغلی صباح الدين کشککي په خپل کتاب (دهه قانون اساسی) کښې ليکلي دي: "د تسويد کوميته له ۸ کسانو څخه جوړه شوې وه چې له دې جملې څخه سم نيمايي يې سيدان او ميران دي (لکه سيد شمس الدين مجروح، سيد قاسم رشتيا، مير محمد صديق فرهنګ او مير نجم الدين انصاري) د اته کسيزې کوميټې د غړو له جملې څخه يوازې سيد شمس الدين مجروح او محمد موسی شفيق د پښتو ژبې له ليکوالو او پوهانو څخه دي. په دې کوميته کښې

بناغلـی عبدالصمـد حـامد هـم پښتـون بلـل کـــېده خـــو حميـــد الله (د سـلطنتي دربـار د وزيـر علـي محمـد خـــان زوی) پـــه ښکـــاره ډول يـــو تـاجيک وُ.

د کوميـتې د غـړو شـمير پـه خپلـه ښيـــي چـــې د اساســـي قـــانون د تسويد په کوميټه کښې د هغو کســـانو شـمېر زيـات وُ، چـې ممکـن لـه ملـي مقام څخـه د پښتـو دغورځولـو او يـا لـرې کولـو هـڅه يـې کولـه. بناغلـي فرهنـګ چـې وروسـته پـه خپـل کتـاب (افغانسـتان در پنـج قـرن اخـير) کـښې د ملـي ژبـې پښتـو پـه مقـابل کـښې کـوم دريځ ونيـوه، پـــه خپلـــه څرګنـدوي چـې پـه کوميـته کـښې يـوي چپـي جنـاح هـېواد رسـماً دوه ژبـــی ګرځولی دی.

پـه حقيقـت کـښې افغانسـتان دوه ژبـی هـېواد نـــه دی، بلکـــې يـــو داسې هـــېواد دی چـې د ۳۰ ژبـو ويونکـي لـري دا تولـې ژبـې د هـېواد رسمي ژبي او د يـو نسـکو د سـپارښتنې لـه مخـې د هـرې ژبـې ويـو نکـو ته بـايد د همـدوی پـه خپلـه ژبـه کـښې د تعليـم ورکولـو امکانـات برابـر شـي.

د پرنسـيپ لـه مخـې لـه دغـو ۳۰ ژبـو څخـه د اکـثريت ژبـه د ملـــي ژبې حيثيت لري چې لـه بـده مرغـه دغـه اصـل پـه اساسـي قـانون کـښې شاته اچـول شـوی وُ.

ملي ستم که کلتوري ستم

پـه وروسـتيو وختـو کـښې ځينـو کسـانو پـه عجيبـــه تـــوګه د "پښتـــون اپارتـايد" اصطـلاح جـوړه کـــړې ده چـــې دا اصطـــلاح پـــه افغانســـتان کښې د ملـي ستم پـــه ځير مـورد او واقعيـت نـه لـري، يعنـي دوی غوښتـي دي چې ووايـــي پـه افغانسـتان کـښې پښتنـو د اپارتـايد پاليســي چلولـې ده. که سياســـي قاموسـونه ولـټوو نـو دا نظريـه يـوازې پـه جنوبـي افريقـا کښې په ظالمانه توګه تطبيـق شـوې وه. پـه هـېواد کـښې د سـپين پوسـتو

اقلیت د تـور پوسـتو اکـثریت پـه ضـد د تـوپـیر ظالمانـه سیاسـت چـلاوه. کـه پـه وچ زور وغـواړو چـې د افغانـانو لیکـه او لاره د دې اصطـلاح پـــه تنګ قـالب کـښې واچـوو نـو د معکـوس مفـهوم اخیسـتلو امکانـات یـــې زیـات محسـوس دي.

ټول خبر دي چـــې د ملـي سـتم نظریـه پـه مارکسیسـتي ډلـو کـښې را پیدا شوه. دې نظریې په خاصـــه تـوګه د بدخشـان پـه ولایـت کـښې چـې د تاجیکسـتان د پخوانـي شـوروي جمـهوریت سـره یـي پولـــې شـریکې دي وده وکـړه. دغـه ولایـت د افغانسـتان د هغـو مـهمو ولایتونـــو څخـــه دی چـــې د افغانســتان د ډېرو تـاریخي ژبـــو د پیدایـــښت او پـــالنې ویاړنې لـــري. منجـي، واخـي، سـریکي، سـنګلیچي، زیبـاکي، اشکاشـمي، شـغني او روشـناني هغـه ژبـې دي چـــې دغـــه تـاریخي ولایـــت د دري ژبـــې ترڅنـګ روزلـــې او پـــاللې دي . د ژبپوهنـــې د یـــوې مقایســوي څېړنـې لـه مخـې د پښتـــو ژبـــې ډېر کلمـــات او اصـــوات د بدخشـــان د محلي ژبو سره یـو شـان والی لـري. مرحـوم حبیـب نوابـي چـې د ځینـو شمالي ولایاتو ورځپـــانې یـې چلولـې دي او د بدخشـان پـه بـاره کـښې د ښې مطـالعې خـاوند وُ ماتـه یـــوه ورځ وویـــل چـــې د بدخشـــان ځینـــې خلک په خپله محلـي ژبـه کـښې وطـن تـه "هیـواد" وایـي او دا هماغـه د خوند او درنښت نـــه ډکـه کلمـه ده چـې پـه ملـي ژبـه کـښې د وطـن لـه پاره استعمالیږي. خـــو داســې معلومیـږي چـې دا ټولـې ژبـې د دري ژبـې او ادب د ځلانـده شـمعې لانـدې پـه تیـاره کـښې پـتې شـوې او ممکـــن اوس ورکې شـــوې وي. کلـه چـې څوک خپلـه تـر پـښو لانـدې ځمکـه نـه ویني او لـیري نخـښې د نظـر پـه غشـي ولي نـو بیـا د تحقیـق نـه مخکـې قضـاوت کـوي او دا هغـه شـی دی، چـې د ورکـړل شـویو تعریفونـــو لـــه مخې تعصب بلـــل کیـږي.

کومو کسانو چې په افغانستان کښې د ستم ملي مفکورې ته آب و تاب ورکړی دی هغوی په یو ډول کلتوري ستم سترګې پټې کړې دي او "ژبنی اپارتاید" ته یې پام نه دی کړی. په ځینو خپرونو کښې د سلطان علي کشتمند د خولې څخه داسې یوه اخیستل شوې خبره لیکل شوې ده چې په هغې کښې یې پښتانه " اکثریت بې فرهنګ" بللي دي. په جنوبي افریقا کښې د سپین پوستو اقلیت د تور پوستو اکثریت ته همداسې خبرې جوړې کړې وې. فرق یې یوازې دومره دی چې هلته یو قومي لړۍ مسلط وُ او دلته یو درباري قشر مسلط وُ.

که حقیقت ته وګورو د بدخشان د خلکو ممتاز قشر تل په هغه حاکمه دستګاه کښې د پیاوړې برخې خاوند وُ چې د طاهر بدخشي په ګومان یې ملي ستم چلاوه. مثلاً په امانیه دوره کښې محمد ولي بدخشی د دولت ډبر قوي مټ وُ تر دې چې د صدارت عظمی د څوکۍ له پاره په نظر کښې نیول شوی وُ او د اعلیحضرت امان الله خان د نړیوال اوږده سفر پر وخت د ده وکیل او جانشین وُ. د ظاهر شاه د سلطنت په موده کښې علي محمد خان د دربار وزیر هم بدخشی وُ. د دربار وزیر په اصطلاح تل د ښي مټ له وزیرانو څخه وي او معمولاً هغه څوک وي چې د پاچا د مرګ او ژوند مساله تر ډېره حده ورسره ارتباط لري. همدغه مدبر او محترم شخصیت د مرحوم محمد داوُد د صدارت عظمی په موده کښې د صدارت لومړی مرستیال وُ.

لکه چې دمخه یې یادونه وشوه د ده زوی حمیدالله د هغو محترمو او باوري کسانو څخه وُ، چې د ۱۳۴۳د اساسي قانون په کومیټه کښې د غړیتوب چانس ورکړل شوی وُ.

په دې توګه د افغانستان حاکم قشر که د افغانستان پر قومونو کوم ستم چلولی وي نو په دغه ستم کښې د بدخشانیانو ممتاز قشر هم پیاوړی لاس درلود.

د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کښې چې د ملوک الطوایفۍ د دورې د ختمولو او د پیاوړي مرکزي حکومت د جوړولو په پلمه یې د افغانستان د ټولو قومونو د سر په سړیو چپه میچنې ګرځولې، د هغو سیمو ممتازو کسانو زیاته ونډه درلوده چې په وروستیو وختو کښې د ملي ستم ناري او شعارونه پکښې ورکړل شول. امیر عبدالرحمن خان د بدخشانیانو زوم وُ. امیر حبیب الله خان د ده د واخانۍ بدخشۍ بنځې ګلریز څخه زېږېدلی وُ. کله چې حبیب الله خان برتانوي هند ته په سفر لاړ نو یوې انګریزې خپرونې (Westminster gazeti) (۱) د ده مفصله سوانح لیکلې وه او په هغې کښې یې څرګنده کړې وه چې د امیر عبدالرحمن خان د محمد زۍ بنځې بي بي حلیمې زوی سردار محمد عمر خان وُ چې مور یې د نسب په سلسله کښې د امیر دوست محمد خان له نمسیانو څخه وه. خو د پاچاهۍ چانس د ګلریزی زوی حبیب الله خان تر لاسه کړ.

د ده په دوره کښې په پښتنو کښې د کلتوري ستم اندازه دومره زیاته وه چې ملي ژبه پښتو هغه وخت د پوهنې په نصاب کښې د انګریزي ژبې په څیر اختیاري وه یعنې څومره چې انګریزي پردۍ بلل کېده، هغومره پښتو پردۍ او غیر ضروري وه دا څکه چې د دربار رنګینیو او شخصي خپلویو د ده احساس هم له پښتنو څخه پردۍ کړی وُ. بله خبره دا ده چې پاچاهانو تل د یو معمول په

---

۱ د هغه وخت د انګریزي اخبارونو د کتینګو یو کلیکسیون د کوټې د بنار د یو پخواني بناروال سردار محمد ایوب خان وردګ د انتیکو آثارو په شخصي موزیم کښې خوندي دی.

توګه د خپلې حکمرانۍ د بقا لـه پـاره يـو قـوم لـه بـل قـوم سـره اچـولی دی. د مثـال پـه تـوګه امـير عبدالرحمـن خـــان د افغـــان او انګليـــس د دوهم جنګ قهرمان غـازي محمـد جـان خـان مـزار شـريف تـه د تـګ پـه لاره کـښې د ازبکـانو پـه لاس پـه شـهادت ورسـاوه. پـه همـــدې دول ده خپل ځينې نور هغـه مظـالم چـې پـه نـورو قومونـو يـې کـول د پښتنـو پـه لاس سـرته رســولي دي.

بـــبرک کـــارمل او نجيـــب زمـــور د زمـــاني دوه نـــور همداســـې ستمکاران وو چـې يـو قـوم يـې پـه بـل قـوم بـاندې ځپلـو. دا بـل ځوک نه و نجيب و چـې د پښتنـو د ځپلـو او شـرمولو لـه پـاره يـې د يـو عـادي ازبک دوستم څخه سـتر قـهرمان جـور کـړ.

دا لـه شـکه وتلـې خـبره ده چـې د افغانسـتان د هـــرې زمـــاني پـــه حاکمـه دسـتګاه کـښې د افغانسـتان د ټولـو اقوامـو افـراد شـــامل وو او د دولـت بيروکراسـي تـر دېره حـده د درې ژبـو پـه لاس کـښې وه نـو هـــر اسـتبدادي حکومـت چـې د افغانسـتان پـه ټولـو خلکـو کـــوم اســـتبداد چلولی دی هغـه داسـې سـتم نـه دی لکـه چـې سـتميانو فکـر کـړی دی يا نورو په دوی کښې داســې فکـر تلقـين کـړ دی خـو هغـه کلتـوري سـتم چې په پښتنـــو تحميـل شـوی دی دېر زيـات محسـوس دی.

ژبنې تعصبات او خارجي لاس وهنې

لکـه چـې د مخـه يادونـه وشـوه د ۱۳۴۳ پـه اساسـي قـانون کـښې د افغانسـتان دوې ژبـې رسـمي وګرځول شـوې ملـي ژبـه شـانه ووښـتل شوه خـو دومـره وشـول چـې د دري ژبـې ترڅنګ پـه رسـمي ځوکـۍ د کښېناسـتلو جـوګه وبلـل شـوه. يـو وخـت چـې د همدغـه اساسـي قـانون له خوا د برابر شوېو امکانـاتو پـه برکـت انتخـابي ولسـي جـرګه د هېواد

په مسائلو باندې د بحث کولو له پاره کښېنوله شوه له رسمياتو څخه د پښتو ژبې د غورځولو له پاره په اولسي جرګه کښې داسې تاوده بحثونه وشول چې د اساسي قانون له چوکاټ څخه وتلي ګڼل کېدل.

دا بحثونه هغه وخت تاوده شول چې په اولسي جرګه کښې د مامورينو په قانون باندې بحث روان وُ.

يو شمېر وکيلانو غوښتل چې د مامورينو په قانون کښې دغه مطلب زيات کړل شي چې د دولت يو مامور بايد د افغانستان په دواړو رسمي ژبو وپوهيږي. دغه معقول او قانوني وړانديز د يو شمير نورو وکيلانو حساسيت وپارولو. هغوی چې په يو ډول کلتوري ستم اعتقاد درلود يا يو ډول فرهنګي اپارتايد يې غوښت، دا نه خوښوله چې پښتو ژبه په عملي ډول هم يوه رسمي ژبه شي. دې کسانو تصور کړی وُ چې پښتو ژبه په افغانستان کښې د اکثريت ژبه نه ده، دوی دا ادعا په داسې وخت کښې کوله چې د ملګرو ملتونو موسسې په تېره يوې بيطرفې علمي موسې يونسکو دا حقيقيت منلی وُ چې پښتانه په افغانستان کښې ٦٢% اکثريت لري بناغلي صباح الدين کشککي په خپل کتاب " دهۀ قانون اساسی" کښې ليکلي دې چې د اولسي جرګې هغو غړو چې د پښتو په ضد يې دريځ نيولی وُ، ادعا کوله چې پښتنو تل نور قومونه استثمار کړي دي سره د دې چې د دوی کلتور منفور دی د هېواد د رهبری په کدر کښې يې لوړ مقام نيولی دی.

هغه څوک چې په بې مورده توګه چپې اصطلاحات لکه (ملي ستم، پښتون اپارتايد او ..) په کار اچوي که لږ څه انصاف ولري د يو اکثريت کلتور "منفور" بلل به ملي ستم، کلتوري ستم او کلتوري اپارتايد ونه بولي؟ په همهغو وختو کښې چې يو شمېر کسانو په پوره

بې پروايې سره د پښتنو کلتور منفور باله يونسکو د افغانستان له حکومت څخه وغوښتل چې د يونسکو په لګښت سره "پښتونولی" په پراخه ټوګه تر څېړنې لاندې ونيسي څو يو مهم بشري ميراث ژوندی پاتې شي. همدغه پښتونولي ده چې د نړۍ د دوو متخاصمو نظرياتو ليبرالیزم او سوسياليزم پلويان يې يوازې په يوه نقطه کښې متفق کړي دي او هغه دا ده چې د پښتنو ټولنه په فطري ډول يوه ډموکراتيکه ټولنه ده. (د تفصيل له پاره زما دوه کتابونه: په افغانستان کښې د عنعنوي جرګو نن او پرون او افغانستان د لويې لوبې پخوانی او اوسنی ستيج د مطالعې وړ دي).

په ربښتيا د نړۍ د شرق او غرب له پاره د داسې يوې ټولنې کلتور په زړه پورې دی چې رسمي قاضي او پوليس ونه لري خو عدالت او امنيت پکښې په نبه ټوګه موجود وي او قضايا د جرګې له لارې په ۲۵ ساعتو کښې حل او فصل شي. يوازې پښتانه نه بلکې په پوره يقين سره د افغانستان نور اوسيدونکي قومونه چې اوس په هر لحاظ افغانان بلل کيږي په همدې ډول سپيڅلي کلتوري خصوصيات لري. نو د هيڅ کوم هزاره، تاجيک، ازبک، ترکمن ، بلوڅ، نورستاني او... سپيڅلی انفرادي او اجتماعي وجدان اجازه نه ورکوي چې د يو قوم داسې کلتور چې د يونسکو په سويه علمي مؤسسې ورسره مينه ولري "منفور" وبولي نو له دې څخه څرګندیږي چې د "منفور" ناشولته کلمه نورو د رانيول شويو وکيلانو په خوله کښې ور اچولې وه.

بناغلي کشککي که څه هم له زيات ژورنالستيک احتياط څخه کار اخلي بيا هم په خپل کتاب کښې د مداخلې لاسونه نه پټوي او ليکي:

" شواهدی موجود بود که درین واقعه رو سهادست داشتند چنانچه یکی از جلسات کسانیکه درین منازعه دخیل بودند در پغمان در منزل یک تاجر معروف کابل، سراج الدین پسر نظام بای، مهاجر ازبک دا یرگردیده بود. سراج الدین تجارت خوبی بین افغانستان و اتحاد شوروی داشت و نقش او در دایر ساختن چنین مجلس این اتهامات را تقویه بخشید که روسها از موضوع به نفع خود شان بهره برداری میکردند. در غیر آن دلیلی وجود نداشت که چنین مجلس در منزل او دایر شود. او صاحب کدام سویه علمي و ادبي نبوده از فعالیتهای سیاسی و اجتماعی کشور دور افتاده بود.."

بناغلي کشککي دا هم لیکلي دي:" در جملهء اشخاصیکه درین منازعه دست داشت یکی هم ضیاء حیدري مدیر جریدهٔ افکار نو بود. حیدری که باری در زمان ریاست جمهوری محمد داؤد در قاچاق مواد مخدره گیر آمده و محبوس گردیده. بعداً در زمان حمله کمونستان بر افغانستان توسط اتحاد شوروی بحیث مدیر قلم مخصوص اداره استخبارات ملکی خاد کار میکرد..."

د ژبې د مسألې علمي حل

له نبه مرغه مورږ په افغانستان کښې داسې علمي او فرهنګي شخصیتونه لرو چې د افغانستان قومي او ژبنی تنوع ته په یو لوړ علمي نظر ګوري د افغانستان ټولې ژبې خپلې ژبې او له ګاونډیانو هېوادو سره د غوره اجتماعي روابطو د پرې نې او موثرې ذریعې بولي په تېره بیا پښتو او دري ژبې د خاصو قومونو ژبې نه بلکې د

تولو افغانانو شریکې ژبې بولي. دوی که څه هم خپلې مورنۍ ژبې وربانديې زياتې کرانې دي د نورو افغاني يا د افغانستان د نورو ژبو سره هم د زړه مينه لري. کله چې علمي مجلسونه يا سيمينارونه جوړيږي د ژبو د توپير او اختلاف مسأله دوی ته د يو کلتوري تنوع نه پرته چې يوه خاصه بڼکلا لري، نور څه ارزښت نه لري.

زما بڼه په ياد دي چې د داؤد خان د جمهوريت په موده کښې هغه وخت چې د جمهوريٰت د اساسي قانون د تسويد بيا تصويب پروسه روانه وه، د ژبې مسئاله يوه علمي مجلس ته چې د دواړو ژبو د لويو پوهانو او نامتو استادانو څخه جوړ شوی ، وړاندې شوه. د دغه مجلس علمي بحثونه هر سهار په اتو بجو شروع کېدل او د شپې تر اتو بجو اوږدېدل دي مباحثو څلور ورځې دوام وکړ.

زمورږ دوه تنه پوهان پروفيسر امين رسول او دکتور روان فرهادي چې د جهاد په موده کښې د بيطرفه ليکنو له املې د بڼه شهرت خاوندان دي د دې غونډو برخه وال وو دوی دواړه هم د دې حقيقت ژوندي شاهدان دي چې په علمي او دموکراتيکو غونډو کښې د ژبې پر مسأله بحثونه هغه تريخوالی نه لري چې په سياسي حلقو يا اخبارونو کښې کله کله انعکاس مومي.

په دې علمي مباحثو کښې د ژبو په باره کښې د سوسياليستي کمپ د هېوادو دا نظر چې د يو هېواد تولې ژبې ملي دي يوه پکښې رسمي ده او همدارنګه د غربي دنيا دا نظريه چې د هېواد تولې ژبې رسمي دي يوه پکښې ملي ده تر غور لاندې ونيولې شوې. دې دواړو نظريو د اکثريت ژبه رسمي يا ملي بلله. په غونډه کښې تولو پوهانو د نظر په اتفاق سره پښتو د افغانستان د اکثريت خلکو ژبه بلله. په دې باره کښې چې کومه يوه توده مشاجره مينځ ته راغله هغه د پښتو ژبو او دري ژبو ترمينځ نه وه بلکې د دوو پښتنو

ترمنیځ وه. د علمي شخړې یوې خوا ته مرحوم پوهاند حبیبي او بلې خوا ته یې یو ځوان لیکوال جنید شریف راغلی و. جنید شریف له هغو کسانو څخه و چې په رسمي توګه یې د ملي لارښود او د جمهوریت د موسس داود خان د وینا وو تفسیرولو صلاحیت درلود، ویل کېدل چې دی د پرچمیانو اړخ ته یو منسوب ځوان و. ده ویل د افغانستان د جمهوري نظام د پالیسی له مخې اکثریت د ژبې او قوم په اساس نه بلکې د اقتصادي او اجتماعي طبقه بندی له مخې پېژندل کیږي نو د ملي لارښود په وینا وو کښې چې د اکثریت خبرې راځي، مقصد یې ژبنی اکثریت نه بلکې د خواریکښانو لویه طبقه ده چې د ټولنې مطلق اکثریت ورځخه جوړ ځوی دی. پوهاند حبیبي چې د دې غونډې مشر وو وویل چې مورږ ته کومه اقتصادي مساله د بحث کولو له پاره نه ده را استول شوې بلکې دولت له مورږ څخه غواړي چې د ژبې په مساله کښې غور وکړو نو زمورږ په دې غونډه کښې ژبنی اکثریت د بحث موضوع ده.

نامتو دیپلومات او د دري ژبې وتلي لیکوال دکتور روان فرهادي دې علمي غونډو ته یوه جامعه طرحه چې بیا د مجلس د مصوبې غټه برخه ورځخه جوړه شوه، وړاندې کړه ، ده وویل چې په افغانستان کښې یوازې پښتو او دري ژبې د ودې او انکشاف مستحقې نه دي بلکې د افغانستان هره ژبه په افغانانو حق لري چې د ممکناتو سره سم ورته خدمت وکړي او باید د کوچنیانو له پاره د دې زمینه برابره شي چې خپلې لومړنی زده کړې په خپلو مورنیو ژبو کښې وکړي، البته پښتو او دري ژبې چې د عمومي رابطې دوې مهمې ژبې دي د زیاتې پاملرنې وړ دي.

سره د دې هم د هېواد ملي ژبه باید یوه وي ځکه چې په یوه هېوا کښې د دوو ژبو ملي کول خاصې اجتماعي او اقتصادي

ستونځي را پيدا کـوي. ده وويـل لـه دې کبلـه چـې پښتـو ژبـه د اکـثريت ژبـه ده بـايد هغـه د ملـي او رسـمي ژبـې پـه تـوګه انکشـاف وکړي. د ده نظريـه دا وه چـې پښتـو بـايد پـه تـاريخي تـوګه د دفـتر ژبـه هـم وګرځي او داسـې ترتيبـات دې ونيـول شـي چـې د هـېواد دا ووه کلن انکشافي پلان تـر پايـه پښتـو ژبـه يـوه مکملـه رسـمي او دفـتري ژبـه هـم ګرځول شـوې وي.

د دري ژبـي پـه برخـه کـښې د ده نظريـه دا وه چـې پـه يـوه معـين تناسـب سـره دې پـه فرهنـګي او نشـراتي ساحو کـښې د هغـې ونـډه زياتـه کړلـه شـي يعنـې هغـې تـه دې پـه نشـراتي، فرهنـګي او علمـي ساحو کښې (۴۰٪) برخـه ورکړلـه شـي.

علمي مجلس چې دولت تـه د ژبـې پـه بـاره کـي سـپارښتنه وکـړه پـه هغـې کـښې د دکتـور روان فرهـادي لـه نظريـاتو څخـه زياتـه اسـتفاده شـوې وه. دې غونـډې وښودلـه چـې ژبنـي او مذهبـي مسـائل چـې څومره په علمي غونډو کښې پـه اسـانۍ سـره حـل کـېدای شـي هغـه پـه پارلمانونو کـښې هغسـې نشـي حـل کـېدای . مـوږ پـه افغانسـتان کـښې د سولې د داسې حـالاتو پـه انتظـار کـښې يـو چـې د خپلـو ملـي مسـائلو او د اسـلامي دنيـا د مسـائلو د حـل کولـو لـه پـاره پـه دوسـتانه او عالمانـه فضـا کـښې علمـي غونـډې او نړيـوال سـيمينارونه جـوړ کـړای شـو او خـدای پـاک دې همداسـې ورځې راولي.

د ژبې د مسالې دموکراتيک حل؟

په افغانسـتان کـښې د ګوندونـو د سياسـي فعـاليتونو د پيـل کـېدو پـه مرحله کښې هر ګوند خلکـو تـه وعـده ورکولـه چـې د ژبـې مسـاله بـه پـه دموکراتيکه توګه حـل کيـږي. لکـه څنـګه چـې پـه خپلـه د دموکراتيـک

د اصطلاح له پاره هر کوند د خپلو خاصو انګېرنو له مخې معنی ګاني تراشلې د ژبې دموکراتیک حل هم جلا جلا روشونه لرل. لکه چې دمخه هم یادونې شوې دي د خلق ، پرچم ګوندونو "د ژبو او ملیتونو" په برخه کښې د ستالیني مکتب له وضعه شویو اصولو څخه کار اخیست، د دې اصولو له مخې د افغانستان تولنه یو ملت نه بلکې د بیلو بیلو ملیتونو مجموعه بلله کیږي. د هر ملیت صورت دلته مخرج یې د هېواد د اوسنیو سیاسي سرحدونو څخه د باندې دی. په افغانستان کښې د هر اوسېدونکي ملیت ژبه ملي ده او هرې ژبې ته به د هغوی د ویونکو د شمېر په تناسب خدمت کیږي. د دې ژبو له جملې څخه به یوه ژبه رسمي وي چې زده کړه به یې تولو ته لازمي وي.

د افغانستان په بیلو بیلو ژبو کښې روسي خپرونو د خلق د ګوند د غړیو ترمینځ بیل بیل پندارونه را پیدا کړي وو، یو پندار دا و چې د افغانستان د خلکو اکثریت پښتانه دي. دوی فطرتا دموکراتیک خلک دي. په دوی کښې شیخ ملی (رح) لومړنی سړی و چې د مخکو د اصلاحاتو پروګرام یې د "ویش او وار" په سیستم تطبیق کړ. د دوی ملي ژبه یوه ژوندۍ او ډینامیکه ژبه ده چې د روسي ژبې په څیر ډینامیزم لري په لنده موده کښې یې څان د نورو ژبو سره په سیالۍ کښې برابر کړی دی. د دې ژبې فني نثر اوس ډېره وده کړې ده چې هر ډول علمي، ادبي او اجتماعي مسائل په خپله لمن کښې ځایولی شي. دغه پندار هم ډېر پښتانه د خلق په ګوند ورتول کړل. بل پندار دا و چې پښتانه په افغانستان کښې دننه یو استعماري ځواک دی چې نور ملیتونه په شدیده توګه استثماروی او په شمالي افغانستان کښې یې ډېرې مخکې لاندې کړې دي.

همدغه انګيرنې طاهر بدخشي او د ډ نور ملګري د خلق د ګوند څخه بيل کړل او د " ستم ملي" په نامه يې يو بل ګروپ جوړ کړ.

تر دې انشعاب وروسته کله چې د خلق ګوند قدرت تر لاسه کړ نو د ګوند لومړي سړي نور محمد تره کي خپلې ويناوې په پښتو کولې او دوهم سړي ببرک کارمل به په دري ژبه په شد او مد خبرې کولې، دريم سړی يې حفيظ الله امين و چې د بناغلي رهنورد په قول "ذولسانين" و، نجيب هم د ده په خير دوه ژبی و. د تره کي له خبرو څخه داسې څرګندېدله چې ده د کارمل په خبر د نطاقی تمرين نه و کړی، د عامو خلکو په‌لهجه به يې خبرې کولې ظاهرا د ده پلويانو دا خبره تبليغوله چې د دوی مشر د وولس په ژبه خبرې کوي خو نورو داسې انګېر له چې دی د خپلې نطاقی کمزورې د پښتو په عاميانه‌لهجه کښې پتوي. د ژبې مسالې ورو ورو د خلق په ګوند کي د درز کرښه را پيدا کوله بالاخره په ګوند کښې دوهم انشعاب د پرچم ګوند وزيږاوه.

د ثور د کودتا په وخت کښې د يو عاجل ضرورت په توګه د ګوند دواړه ټوټې د ماتې شوې پيالې د ټوټو په خير سره ونښلول شوې او کمزورې پتې ورباندې ولګول شول خو په ګوند کښې دننه د قدرت د جګړو له پاره دغه پتې يو بل پسې سست کړل.

کله چې ببرک کارمل افغانستان ته راوستل شو او قدرت په لاس ورکړل شو نو روسانو د پتو (قطعه بازی) په لوبه کښې د توس پته پر مخې واچوله او د غلام پته يې راپورته کړله. دا په سياست کښې د تغيير راوستلو يوه شروع وه. اوس نو د دوی له پاره دا خبره زړه بنکاري چې پښتانه د افغانستان اکثريت او فطرتا دموکراټيک خلک وبولي.

امیر عبدالرحمن پخه خبره کړې وه چې روسان د فیل عادت لري خپله یوه پښه پخه لګوي او بیا بل ګام وړاندې اخلي. کله چې دوی وپوهېدل خپله پښه په ټول افغانستان کښې پخه نشي لګولی نو یې کوښښ وکړ چې په شمالي افغانستان کښې ځان ته د پښې اینبودلو ځای پیدا کړي نو اوس یې د قومي اقلیتونو په تېره د دري ژبو د خوشحاله کولو له پاره په اقلیت باندې د اکثریت د بدلولو کوښښونه پیل کړل.

د دغه کار له پاره یې له یوې خوا ببرک کارمل او د ده ملګرو ته د نویو ابتکاراتو او فعالیتونو پلان په مخ کښې کیښود او له بلې خوا یې دا هڅې په کار واچولې چې د احمد شاه مسعود زړه ترلاسه کړي.

د هغو سرپټو رازونو څخه چې اوس اوس رسوا کیږي یو یې دا دی چې یوه ورځ د کارمل په مخکې د ژبې د مسالې د دموکراتیک حل (!) په باره کښې بحث روان و، پښتانه خلقیان د لومړي ځل له پاره په دې حقیقت وپوهېدل چې د ژبې د مسالې د دموکراتیک حل په دوکان کښې پښتو ژبه په سپکو کانو باندې تللې کیږي او ټولې هغه خبرې باد وړې دي چې د خلق ګوند ته د پښتنو د جذب کولو په وخت کښې کېدلې. یو پښتون کمونیست په یو کتاب کښې چې په روسي ژبه د افغانستان دموکراتیک جمهوریت تر عنوان لاندې لیکل شوي ، استناد وکړ چې پښتانه اکثریت دي په دغه کتاب کښې پښتانه د (٦٥٪) په شاوخوا کښې ښودل شوي وو.

ببرک کارمل دغه کتاب ورځخه واخیست او خپل نژدې ملګري ته یې ورکړ چې مصادره یې کړي ورسره یې حکم وکړ چې د دغه کتاب مطالعه منع ده. ده دا هدایت هم صادر کړ چې که د کوم

ګوندي غړي سره دا کتاب ولیدل شو هغه د ډز ـد څخه ایستل کیږي.

په دې باره کښې چې د کارمل اداړې د روسانو د یوې بلې په کار اچول شوې ستراتیژۍ له مخې په افغانستان کښې په اقلیت باندې د پښتنو د اکثریت د اړولو له پاره هر اړخیز اقدامات پیل کړي وو مختلفو افغاني او خارجي لیکوالو مستندې خپرونې کړې دي. په دې جمله کښې د دکتور حسن شرق کتاب "کرباس پوشهای برهنه پا" په خاصه توګه د پاملرنې وړ دی ځکه چې دی حاکمې دستګاه ته ډېر نژدې حتی په هغې کښې یو شامل سړی و. په راډیو یي تلویژنې خپرونو کښې د پښتو په مقابل کښې تبعیضي روش ډېر محسوس وو د حاکمې دستګاه یو وزیر په ځغرده او زړ وره توګه دا خبره کولی شوای چې پښتانه بې فرهنګه اکثریت دي.

پروفیسر ډاکټر ګل جان ورور وردګ په خپل کتاب " د افغانستان په شمالي ولایاتو کښې د پښتنو استوګنځي" کښې لیکي چې د پښتو څېړنو بین المللي مرکز ده ته دا دنده سپارلې وه چې د افغانستان په شمالي ولایاتو کښې د پښتنو کلي، کورونه او کېږدی وشمېري. ده په ځینو ولایاتو کښې دغه کار وکړ عجیبه دا ده چې په داسې ولایاتو او ولسوالیو کښې یې د پښتنو ګڼ کلي ثبت کړي دي چې تر دې دمخه حکومتی دفترونو ورباندې خوله پته نیولې وه او په "چوته انداز" ډول هغه کلي دري ژبې بلل شوي وو. د پښتو څېړنو مرکز یوازې د پښتنو کلي او کورونه نه شمېرل بلکې ورسره یې د تاجیکانو، ازبکانو، ترکمنانو، هزاره ګانو، قزاقانو..... کلي او کورونه هم شمېرل. دا یوه عنعنوي سر شمېر نه وه، چې خلکو ورځخه خپل حقایق نه پټول، په افغانستان کښې په عنعنوي توګه د کلیو او کورونو د شمیرنې څخه داسې احصائوي حقایق تر لاسه

کېدای شي چې سړی باور وربانديې کولای شي په دې دول سر شمېر نه کښې اټکلي شيان هم حقيقت ته نژدې وي. د مثال په توګه که ځينې خلک ونه غواړي چې د خپلو ښځو شمير او د هغوی مدني حالت وښيي په دې صورت کښې کېدای شي چې په اټکلي توګه د نارينه وو د شمېر په تناسب د ښځو شمير هم اټکل شي چې دا ډول تخمين يقين ته نژدې دی. يونسکو چې په يقيني توګه په افغانستان کښې د قومونو او ژبو فيصدي معلومه کړې ده له دې ډول روشونو څخه زياته استفاده کړې ده د مثال په ډول لکه چې پروفيسر ډاکټر ګل جان ورور ليکلي دي له ۱۳۳۴ لمريز کال څخه ځينو دولتي موسساتو لکه د کورنيو چارو وزارت د ملاريا د مجادلې رياست، د کرنې او اوبو لګولو وزارت د خپلو دندو او خپلو انکشافي اهدافو ته د رسيدو له پاره د کليو ليستونه جوړ کړل او د کارتو ګرافي موسسې د نقشې پر مخ د کليو نومونه وليکل. په ۱۳۴۹ لمريز کال د پلان وزارت د نفوسو معلومولو له پاره له همدې طريقې څخه کار واخيست، ټولو ته څرګنده ده چې د انکشافي پروژو له پاره د نفوسو د معلومولو په کار کښې د ملګرو ملتو له مرستو او د دې موسسې د ماهرانو څخه کار اخستل شوی دی. نو د ملګرو ملتو د موسسې له خوا د قومونو او ژبو فيصدي د اشخاصو د ذهني جمع او تفريق په نسبت زياته د باور وړ ده.

پروفيسر ډاکټر ګل جان ورور ورډګ ليکي".. کله چې روسان او د روسانو پلويان د دغو تاريخي اسنادو له ثبتولو څخه خبر شول. د جمهوري رياست او د هغه د مرستيال په کچه يې يوې او بلې خوا ته ليکلي او ګرنې (شفاهي) امرونه وکړل چې دا احصائيوي څېړنه چې مطلب يې د شمالي ولاياتو د پښتنو څېړنه وه بنده کړې. د همدغه امر او بنديز په اساس د مرکزي احصائيې رياست چې د

ځينو احصائوي جغرافيايي او نورو معلوماتو سرچينه ده خپلو اړوندو ځانګو ته امر ورکړ چې اړوند معلومات زما له واک ځخه وباسي. همدا ډول د پښتو ځيړنو په نړيوال مرکز زور واچول شو چې د پښتنو په برخه کښې ځيړنه په تيره بيا د شمالي ولايتو د پښتنو ځيړنه ودروي نو ځکه ماته د قومونو او قبايلو وزارت او د کورنيو چارو وزارت د افغانستان شمالي او شمال لويديځو ولايتونو ته د ورتګ اجازه او سپارښت ليک رانکړ. په دې سربيره يې پورتنۍ ځيړنه زما له واک ځخه وايستله او په ځای يې نوې پروژه د پښتو انګريزي خود اموز په نامه را وسپارله"

د پروفيسر ډاکټر ورور دا ځيړنه چې بشپړ کېدو ته نه وه پريښودل شوې په همدې نيمګړي حالت کښې هم دا ښيي چې په شمال کښې پښتانه دومره زيات دي چې د خلقيانو، پرچميانو په اصطلاح په شمال کښې يې هم يو مليت جوړ کړی دی. که د شمال پښتانه کوچيان ورسره وشمېرل شي نو په شمال کښې هم پښتانه يو لوی مليت جوړوي. له دي کبله چې په دوو حکومتونو او په دوو برخو (شمالي او جنوبي) د افغانستان د ويشلو طرح تر لاس لاندې وه او په نظر کښې وو چې دري ژبه د شمالي افغانستان رسمي او ملي ژبه وګرځول شي. نو د هر هغه حقيقت پټول مصلحت وبلل شول چې په افغانستان کښې د پښتنو اکثريت او په شمالي ولايتو کښې د دوی ډېرښت تائيد وي.

اسلامي انقلاب او ژبني تعصبات

کله چې استاد رباني د جهادي تنظيمونو له خوا د يوې څلور میاشتنۍ دورې له پاره د افغانستان د اسلامي دولت د مشر په څوکۍ کښېنول شو. ورسره سم د پښتو د له منځه وړلو اقدامات پيل شول. د کوټې په ښار کښې د افغانستان د قونسلګرۍ لوحې چې پخوا په پښتو کښې ليکل شوې وې د ځينو کلماتو له بدلولو سره يو ځای په دري واړول شوې. د کوټې د ښار د اوسېدونکو اکثريت په پښتو ژبه خبرې کوي د دغه ښار زياتره دکاندارانو خپلې لوحې په پښتو ژبه ليکلې دي. کله چې د افغانستان د اسلامي دولت د قونسلګرۍ لوحې په دري ژبه وګرځول شوې او پښتو يې له لوحو څخه وغورځوله د کوټې له اوسېدونکو سره پوښتنې پېدا شوې.

بيا کله چې د رباني د حکومت يو هيئت پاکستان ته مسافرت وکړ، د پاکستان د هغه وخت له جمهور رئيس فاروق لغاري سره د کتنې په وخت کښې لغاري د افغاني هيئت سره د افغانستان په ملي او رسمي ژبه خبرې پيل کړې خو افغاني (!) هيئت معذرت وغوښت او له لغاري څخه يې هيله وکړه چې په انګريزي ژبه ورسره خبرې وکړي. ورځپاڼو وليکل چې افغاني هيئت د ګودې ماتې انګريزي ژبې په ويلو سره خپل ځان نور هم وشرماوه. دننه په افغانستان کښې هم له دفترونو څخه پښتو لوحې ښکته کړل شوې او په ځای يې دري لوحې ولګول شوې. په دري ژبه د لوحو ليکل په هيڅ وجه هم د اعتراض وړ خبر نه ده خو له لوحو څخه د پښتو لېرې کول په هر لحاظ د غندلو وړ اقدام وو. د افغانستان د دموکراسۍ د

دوري اساسي قانون پښتو او دري دواړه د افغانستان رسمي ژبې اعلان کړې وې. د توپير او تبعيض د لرې کولو له پاره به مناسب کار دا و چې لوحې په دواړو ژبو ليکل شوې واى. مورِ د مهاجرت په موده کښې د سر په سترګو ليدل چې په پاکستان کښې زياتره لوحې په دواړو رسمي ژبو اردو او انګريزي کښې ليکل کېدلې خو له بده مرغه په افغانستان کښې له دغسې يو ملي بصيرت څخه کار وانه خستل شو او د تعصباتو د ودې له پاره زمينې زياتې کړلې شوې.

د افغانستان د علومو د اکاډيمۍ ځينو کارکوونکو د اخبارونو په سويه دا خبره رسوا کړه چې د رباني اداري دپر زيات پښتو کتابونه د لازم غور او دقت نه دمخه د "کفري اثارو" په توګه ټول کړل او وې سوځول.

پخوا له هغه چې استاد رباني ته د افغانستان د جمهور رئيس او مسعود ته د دفاع د وزارت څوکۍ وسپارلې شي دغو دواړو جهادي شخصيتونو ښه ملي وجاهت درلود، دوى د پښتنو په زړونو کښې هم ځاى درلود، زياتره پښتنو فکر کاوه، چې د هېواد واکمني د انتخاباتو تر وخته پورې رباني يا مسعو ته وسپارله شي زمورِ د دري ژبو ورونو ګيلې به له مينځه لاړې شي. استاد رباني د دغه کار له پاره په دې لحاظ هم يو مناسب سړى بلل کېده چې ده د هېواد په دواړو رسمي ژبو خبرې او ويناوې کولاى شواى. دوى داسې ګڼله چې استاد رباني به د افغانستان له پاره داسې يو جمهور رئيس وي لکه چې غلام اسحاق خان د پاکستان له پاره يو جمهور رئيس و. غلام اسحاق خان يو داسې پښتون و چې مورنۍ ژبه يې پښتو وه د اردو تلفظ يې هم د نورو پښتنو تلفظ ته ورته و مګر د پاکستان د ټول ملت سره يې وفاداري درلوده. ده د پاکستان په دواړو ژبو ويناوې کولې خو اردو ته يې د پاکستان د ملي ژبې په توګه په لوړ نظر

کتل. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر سرتاج عزیز هم داسې یو څوک دی چې د ځینو نورو مهمو سیاسي شخصیتونو په څیر له بي بي سي سره په خپله مورنۍ ژبه پښتو ډېرې ښې خبرې کوي خو د خپل هېواد له رسمي ژبو اردو او انګریزي سره تعصب نه لري او له اردو سره چې د پاکستان ملي ژبه بلل شوې ده توده مینه لري.

پښتنو په استاد رباني داسې یو مقام د زړه له کومې لوراوه چې د ده د هیلې سره سم د "ملي وحدت" مرکز ګرځول شوی وای او له ظاهر شاه سره په سیالۍ کښې برابر راغلی وای. همدارنګه پښتنو هیله لرله چې احمد شاه مسعود د احمد شاه بابا په کرښه روان شي او زمور په زمانه کښې د هغه د کریکټر واقعي ممثل وګرځي یعنې د افغانستان د ټولو قومونو زړونه ترلاسه کړي او د افغانستان په بیا جوړښت، درنښت او لویښت کښې د احمد شاهي نقش خاوند شي خو له بده مرغه د دوی ستمې ملګرو او خارجي دوستانو په دوی دغسې ملي مقاموناو ونه لورول بلکې په لمنو باندې یې د تعصب کرغیړن داغونه ورولګول.

مذهبي اختلافات

فکر کوم چې د یو افغان هندو ډاکټر د ژوندانه پېښې مور ته په افغانستان کښې د مذهبي ګروپونو ترمینځ د نښه چال چلند په باره کښې ځینې نښه مثالونه را کوي. دغه ډاکټر رینګاتھ اشنا نومېږي چې یو طبي ډاکټر او د کندهار اوسیدونکی دی. ما (لیکوال) او ده د درې څلور کلونو په موده کښې په یوه خارجي خیریه موسسه کښې په ګډه سره کار کاوه. په دې موده کښې له ده سره زما خبرو اترو ماته د افغاني هندوانو د ملي افغاني احساساتو په باره کښې ډېر څه راکړل. تر ټولو مهمه موضوع دا وه چې افغاني هندوانو له مجاهدینو سره د زړه له اخلاصه کومکونه کول.

ډاکټر رینګاتھ آشنا هم له هغو افغاني هندوانو څخه ؤ چې خپل فکري او مالي کومکونه يې له مجاهدينو څخه نه وو سپمولي له همدغه امله ده هم د نورو مجاهدينو په څير د کمونستي رژيم په زندان کښې ډېر زيات کړاوونه ليدلي وو. دی هم د نورو افغانانو په څير د مهاجرت ژوند ته مجبور شوی ؤ. ده د کوټې ښار د کندهار نه وروسته خپل دوهم ښار باله. زړه يې نه غوښتل چې هند يا بلې خوا ته لاړ شي. د کوټې په ښار کښې د ده کور غلو هم وواهه. سره د دې هم د ده زړه ورځخه تور نشو او دا پېښه يې هم د افغانانو يو مشترک غم باله.

د ده افغاني احساسات ډېر تاوده وو يوه ورځ يې په موسسه کښې د يو خارجي کارکوونکي سره په دې باره کښې شخړه درلوده چې دوی د محرومو افغاني مهاجرينو په نامه مرستې را ټولوي او په راټولو شويو پيسو خپلې ميلې چرچې کوي او له افغانانو سره موثرې مرستې نه کوي. د دوی ترمينځ دا شخړه دومره جدي شوه چې له موسسې څخه د ډاکټر ريګناتھ آشنا د ايستلو سبب وګرځېده. له موسسې څخه خو وايستل شو مګر په کوټه کښې يې خپلې پښې ټينګې کړې. خپل شخصي کلينيک يې پرانيست او له دې لارې يې افغانانو ته د آسانه او ارزانه تداوی شرايط برابر کړل. ډېره موده وروسته چا راته وويل چې هغه هندوستان ته تللی دی.

د موضوع تر ټولو جالب اړخ دا دی چې دغه آزاد خيال افغان هندو ډاکټر د چا خبره په آزاده او سيکولر هندي ټولنه کښې ځای نشو او د لويې دموکراسۍ هغه ټولنه يې د ځان له پاره د سرخلاصي زندان په توګه وګڼله اوس اوس خبر شوی يم چې دی دخپلو هېواد والو د خدمت له پاره بېرته کندهار ته تللی دی. ممکن د ډيرې په موضوع کښې څو ځله د طالبانو د سختو پوښتنو سره مخامخ شوی وي او ښايي ده په يوه خبره ځان ورځخه خلاص

کړی وي او هغه به د ده دا خبره وي چې "زه هندو یم نور نو څه کار راسره لرئ؟"

یو هندو کولای شي په جرأت سره د طالبانو یا نورو مذهبي کسانو د وړاندې ووایي چې دی هندو دی. په افغانستان کښې هیڅوک د خپل مذهب په معرفي کولو کښې له سخت عکس العمل سره نه مخامخ کیږي. له همدې څخه څرګندیږي چې په افغانستان کښې ديني او مذهبي اختلافونه شته خو داسې مذهبي تعصبات چې په شاوخوا هېوادو کښې محسوس وو او دي په افغانستان کښې هغسې نه دي احساس شوي. هندوان له مشرکانو او بت پرستانو څخه شمېرل کیږي نو ځکه د ديني عقیدې له مخې د دوی او مسلمانانو ترمینځ دېر لوی واټن شته خو په اجتماعي روابطو کښې دا واټن دېر نری شوی او په ملي علایقو کښې له مینځه تللی دی.

مور د دې کتاب د تولنیزې څېړنې په برخه کښې د یو لړ واقعاتو او شواهدو له مخې څرګنده کړې وه چې تعصبات په تجارتي معاملاتو یا د راکړې ورکړې په کاروبار اغېزه کوي. په ځینو هېوادو کښې داسې خلک کم نه وو او لا شته چې د بلې ژبې د ویونکي یا د بل مذهب لرونکي له د کان څخه سودا نه کوي. په ځینو هیوادونو کښې داسې اعلانونه هم په دېوالونو باندې ځوړند شوي دي چې فلاني فابریکه د فلاني مذهب د پلویانو له خوا چلیږي نو څوک باید د هغې تولیدات یا پیداوار ونه پیري. حتی په دې باره کښې په عبادت ځایونو کښې هم موعظې، یا توصیې شوې دي. مګر په افغانستان کښې د پیرودلو او پلورلو په کاروبار کښې چا د چا دین، مذهب او ژبه په نظر کښې نه ده نیولې بلکې هر چا کوښښ کاوه چې د صادق او منصف دکاندار سره معامله ولري. له دې حقایقو څخه معلومیږي چې په افغانستان کښې ديني او مذهبي اختلافات (الحمد لله) د تعصباتو سختې مرحلې ته نه دي رسیدلي.

د افغانستان د خلکو مطلق اکثریت له مسلمانانو څخه جوړ شوی دی. د اسلام دوې لویې فرقې سنیان او شیعه ګان په افغانستان کښې یوه د بلې تر څنګ ژوند کوي. هرې فرقې د خپلې خاصې فقهې له پاره تبلیغات کړي او دفاع یې ورڅخه کړې ده خو د خدای په فضل او مهربانی د دوی ترمینځ مذهبي اختلافات د تعصباتو داسې مرحلې ته نه وو لوړ شوي چې یو د بل وجود ونشي زغملای. که مورږ خپله پاک زړې تولنه له ګاونډیو هېوادونو سره مقایسه کړونو په خپل حالت به شکر وباسو. مرحوم غبار د افغانستان در مسیر تاریخ په ۲۸۷ مخ کښې لیکي:

" در آغاز قرن شانزدهم در کشور ایران دولت جدیدی بمیان آمد که در راس آن یک خاندان صوفی و روحانی قرار داشت. این دولت تا نصف اول قرن هجده هم عمر نمود و موسس آن در سال ۱۵۰۲ اسمعیل صفوی بود این شخص مذهب امامیه را در ایران رسمی ساخت و فرمان داد تا در قلمرو او خطبه بنام ائمه اثنا عشر خوانده شود و اقامت نماز و روزه و عبادات اسلامی بطریقه مذهب امامیه بعمل آید. بعلاوه امر کرد که مخالفین این مذهب اعم از سنی و خوارج (با ضرب غازیان) (!) سپاه بر انداخته شود. این حکم شاه اسمعیل آتش نفاقهای مذهبی را که از قرنها ریشه ګرفته بود مشتعل تر ساخت و مردم بسیاری از پیروان طریقه تسنن و خوارج ایران مجبور بفرار ګردیدند. در جنګهایی که از عهد سلطان سلیم عثمانی به بعد با ایران واقع شد بیشتر جنبه تعصبات مذهبی را داشت و بعد ها دول استعماری اروپا در آسیای وسطی ازین اختلافات مذهبی دول سنی مذهب وشیعه مذهب استفاده های بسیاری نمودند...

مرحوم غبار دا هم ليکلي دي چې صفويانو پر افغانستان د خپلو تېريو په موده کښې له زياتو مذهبي تعصباتو او ډول ډول مظالمو څه مخ نه دی ګرځولی.

تر کومه ځايه چې د افغانستان په اوسيدونکو سنيانو او شيعه ګانو پورې اړه لري د دوی ترمينځ د نورو په لمسون يا د يو لږ غلط فهميو په وجه شخړې او جنګونه شوي دي خو له داسې تعصب څخه کار نه دی اخستل شوی چې يوه مذهبي فرقه پر بله باندې خپل مذهب تحميل کړي يعني مذهبي آزادي تر زياتې اندازې تأمين شوی وه.

د افغانستان د تاريخ ډېر په زړه پورې يو فصل د هغو مبارزو سره اړه لري چې افغاني سنيانو او شيعه ګانو په ګډه سره د تېري کوونکو ايرانيانو په مقابل کښې کړې دي. په خاصه توګه دا حقيقت ډېر جالب دی چې زمور هزاره ورونو د پښتنو هوتکو تر څنګ د هغو ايرانيانو په مقابل کښې په ميړانه سره جګړې وکړې چې په ژبنې او مذهبي لحاظ ورسره نژدې بلل کېدل. چې په دې باره کښې د دې کتاب په مخکينيو پانو کښې يو څه مفصل بحث شوی دی.

مداخله کوونکو او استعماري طاقتونو تل هڅه کړې ده چې د خپلو شومو مقاصدو له پاره په افغانستان کښې مذهبي جګړې تحريک کړي خو د خدای په فضل دوی دلته دومره زيات نه دي بريالي شوي د دې حقيقت اوسنی ثبوت په هزاره جات کښې د ايرانيانو د مداخلو په مقابل کښې د هغې سيمې د هېواد پالو اوسېدونکو هزاره ګانو ميړنی مقاومت دی. په دې باره کښې هم په دې کتاب کښې تر دې دمخه کافي بحث شوی دی.

سره د دې چې په وولس کښې د مداخله کوونکو په مقابل کښې سخت مقاومتونه موجود وو خو هغو تنظيمونو چې د هېواد نه د باندې جوړ شوي وو د افغانستان نظرياتي او جغرافيايي پولې د

نورو په مقابل کښې ډېرې نرۍ کړې وې د جهاد په جريان کښې د ځينو تنظيمونو د مشرانو له خولو څخه داسې خبرې هم وتلې دي چې : "مورږ وسلو ته ضرورت لرو که هغه حتی زمورږ دښمنان يعنې شورويان هم راکوي د اخستلو له پاره يې.لاسونه ور ورځندې کوو" هر څوک پوهيږي چې د جهاد په وختونو دوهم بلکې په ډېرو مواردو کښې لومړی غټ ضرورت پيسو را پيدا کاوه نو د ځينو مشرانو او قوماندانانو لاسونه د پيسو خوا ته ورځندې کېدل. دا خبره مهمه نه ده چې ورکوونکي لاسونه د چا وو او د څه له پاره دا پيسې ورکولې کېدلې. مورږ د دې ډول سياسي سخاوتونو بدې نتيجې په خپلو ټولو پريشانه او خورږمنو حواسو درک کړې دي.

مرسته ورکوونکو لاسونو په افغانستان کښې نوې سيالۍ او رقابتونه را پيدا کړل چې له بده مرغه د افغاني ټولنې د عادت خلاف يې ډېر سخت مذهبي تعصبات وپارول.

يو غربي ليکوال ستيفن فوی (Stephan Foye) په خپله يوه ليکنه "Reporton the Ussr" کښې چې لنډيز يې " افغانستان در مطبوعات جهان " د ۱۳٦۸ کال په ميزان کښې خپور کړی دی، ليکلي دي چې د افغانستان ټه باره کښې د ايران او شوروي اتحاد سياستونه په يوه ټکي کښې سره يو شوي وو او هغه دا وُ چې د دواړو هېوادونو حکومتونو نه غوښتل چې د سني اکثريت بنسټ پالې ډلې قدرت ته ورسيږي دواړه حکومتونه په افغانستان کښې داسې پراخ بنسټه حکومت غواړي چې د سني اکثريت بنسټ پاله ګروپونه پکښې قدرت ونه لري.

همدغسې يو هدف په ايران کښې د "حزب وحدت اسلامي افغانستان " د نماينده ګۍ د مشر حجة الاسلام والمسلمين محمد فياض په هغه مرکه کښې په پوره صراحت موجود دی چې د مجاهد ولس له جريدې سره يې کړې وه. د ا مرکه د هغې جريدې

د ۱۳۷۰ کال د سلواغې او کب په ګڼه کښې خپره شوې ده. محمد فیاض په دې مرکه کښې ویلي وو:

چې که مجاهدین عربستان او پاکستان ته اجازه ورکوي چې د پکتیا او کونړونو له لارې د مرستو ډکې لاری راتېرې کړي. نو مور هم اجازه ورکوو چې د ایران د مرستو لاسونه راوغځیږي.

د افغانستان یو سابقه لرونکي استاد او لیکوال ښاغلي غلام علي آئین مجاهد وولس ته په خپله یوه استول شوی مقاله کښې همدغسې یو مطلب لیکلی وُ:

" توسعه ایدیالوژي افراطی آیت الله خمینی بسوی عراق و خلیج فارس ناکام شد آنها شاید زمینه را در افغانستان مساعد ترمی دید و در حالیکه نارضایت های مردم ایران از بابت خرابی وضع اقتصادی و اجتماعی نمایان بوده است. از جانب دیگر ایران نمی خواهد نظامی در افغانستان روی کار آید که شکل و رنگ خود را از وهابیت گرفته باشد. دخالت ایران تا اندازه معتنا بهی به دخالت عربستان ربط دارد و آنطور یکه خواجه شیراز گفته بود:

سخن درست بگویم نمیتوانم دید
که می خورند حریفان و من نظاره کنم

په همدې دول د سیاسي "مئ خورانو" ترمینځ سرګرمیو، بدمستیو، سیالیو او رقابتونو د افغانانو د سر په کاسو کښې کینې وایشولي او تعصبات يې په خوښ راوستل نتیجه يې په سرونو کښې د میخونو وهل او یو بل ته د بې شرمیو اړول و. کوم قبیح کارونه چې هغو بې شرمه او بې مسؤلیته کسانو وکړل د افغانستان د ټولو خلکو په شریک ملي کلتور او په خاص دول د هر قوم په سپیڅلیو عنعنانو د جنایت ډبر کړغیړن داغونه ولګول.

لـه دې کبلـه چـې دا اورونـه د پردیـو پـه مرسـتو بـل شـوي وو او د کینـې دا کـتوی هـم د پردیـو پـه اشـارو پـه ځونبن راوسـتل شـوې وې د هغـو اثـرات هـم د ځونبن د ختمـېدو سـره سـم تـر ډېره حـده لـه مینـځه لاړل او تریخوالي یـې د افغـاني ټولنـې اعماقوتـه سـرایت ونـه کـړ ځکـه چې دا پـه قومـي لحـاظ متنوعـه تـاریخي ټولنـه چـې د زیـاترو پوهـانو د تحلیـل لـه مخـې د اجتمـاعي تکـامل پـه پروسـه کـښې د یـو مـوټي نـه ببلدونکـی ملـت د جـوړښت مرحلـې تـه رسـیدلې ده، د دې ډول فرمایشي او تحمیلـي کرکـو او تعصبـاتو د منلـو لـه پـاره مسـاعده نـه وه او نـه ده .

کـه پـه افغانسـتان کـښې د ایـران او سـعودي عربسـتان همدارنـګه د شـاوخوا د نـورو هـېوادو ترمینـځ سیاسـي او اقتصـادي رقابتونـه نـه وای د تسنن او تشـیع ترمینـځ اختلافـات اساسـاً دومـره حـاد نـه وو چـې زمـوږ پـه ګران هـېواد کـښې یـې دومـره نـاوړې پـېښې مینـځ تـه راوړې وای. د افغانسـتان د شـیعه ګانـو یـو بـل مذهبـي مشـر آیـت الله شـیخ آصـف محسـني د دې خونړیـو پیـښو څخـه دمخـه پـه خپـل عالمانـه تحلیـل کښې دا موضـوع ښکـاره کـړې وه چـې پـه اصولـو کـښې د شـیعه اوسـني ترمینـځ اختلافـات نشـته مګر پـه فروعـو کـښې چـې د دوی ترمینـځ کـوم اختلافات شته هغـه دومـره نـه دي چـې سـنیان او شـیعه ګان یـو د بـل د وینو له پاره تـږي کـړي.

ده د افغانسـتان د ثقـافتی شـوری پـه لومړنـي سـیمینار کـښې چـې د مقـالو مجموعـه یـې د ۱۳۶۹ کـال پـه سـنبله کـښې خپـره شـوه پـه خپلـه جامعه وینا کښې څرګنـده کـړه چـې:

" هـر کسـیکه بخـدا و پیـامبر او اقـرار نمـاید و از ضروریـات دیـن اسـلام و موضوعـات مـورد اتفـاق مسـلمانان انکـار نکنـد او در مذهـب شـیعه مسـلمان اسـت ولـو کـه مـانند شـیعه امامیـه بـه امـامت امامـان دوازده ګانه متعقد هم نباشـد زیـرا اعتقـاد بـه امـامت شـرط تشـیع اسـت،

نه شرط مسلمانی. عین همین نظریکه شیعه به سنیان دارند مذهب سنیان نیز همان نظر را به اهل تشیع دارند. امامت در نظر اهل سنت از جمله فروع است که مخالف در ان تکفیر نمی شود. واقعیت این است که شیعه خلافت خلفای سه ګانه، ابوبکر صدیق، عمر و عثمان رضی الله عنهم را انکار ندارند و اساسا قابل انکار نیست. بعد از وفات پیامبر صلی الله علیه وسلم باین سه تن بیعت کردند و زمانی حکومت بدست انان بود و این موضوع از قطعیات تاریخ است و اګر شیعه و سنی بدور از احساسات تامل کنند، هر دو درین مورد همنظر اند ..."

حقیقت هم دا دی چې سنیان د شیعه عالمانو له نظره کافران نه دي په همدې دول سني علما هم په شیعه ګانو باندې د کفر فتوی نه صادروي خو کله چې د پرستیژ یا سیاست سیالۍ شروع کیږي نو په رنو سترګو کښې یو پر بل دول دول تورونه ټکول کیږي. دښمنانو دپر ځله هڅه کړې ده چې د افغانستان د خلکو ترمینځ د مذهب یا قومیت په نومونو د کرکې دیوالونه ودروي خو له دې کبله چې د افغانستان ټول اقوام او د هر مذهب پیروان د زړونو سپیځلتیا لري، پردیو تبلیغاتو ورباندې دومره ژوره اغیزه نه ده کړې. البته د تودو جګړو په جریان کښې ځینې انتقامي ناوړه پېښې تکرار شوې او د جګړو په جریان کښې د داسې پېښو احتمال زیات موجود وي، سره د دې هم په افغانستان کښې د جګړو په حالاتو کښې هغسې ناوړه حوادث پېښ نشول چې په ځینو نورو هېوادو کښې یې په انسانیت باندې د شرم خولې راوستلې.

له بده مرغه راډیوګانو دپر ځله داسې خبرونه خپاره کړل چې د ځینو ښارونو په جوماتونو کښې د لمانځه په ولاړو جمعو باندې کلاشینکوفونه وچلېدل.

د جهاد د پيل کېدو په کلونو کښې زمونږ د سيمې يو مولوي صاحب لکيا وو د عاشورې د ورځې د لمانځنې په ترڅ کښې يې د امام حسين (رض) د شهادت په فلسفه رنا واچوله او ويې ويل: د امامانو پاک ارواح زمونږ په سپيڅلې او جهاد پالونکې خاوره نظر لري او هيله لري چې د اسلام راتلونکي تکړه مجاهدين او مجتهدين به له دې خاورې څخه سرونه راپورته کوي. ده دا خبره هم وکړه چې د هند د لوی علمي او روحاني شخصيت شاه ولي الله صاحب پيشکويي دا ده چې وروستنی مهدی به په افغانستان کښې را پيدا کيږي.

له هغه وروسته ما (ليکوال) ته خپلو مطالعاتو دا خبره جوته کړه چې شاه ولي الله صاحب د اسلامي علومو د پوهاندی ترڅنګ د اجتماعي علومو يو متبحر عالم هم و ځکه خو د پاکستان علمي مراکز ده ته د تولنپوهاند (جامعه شناس) په نظر کوري. ده چې د هند د تاريخ په دېرو بدو شرايطو کښې له احمد شاه بابا څخه د هند د مسلمانانو د نجات له پاره مرسته غوښتله. نو د يو تولنپوهاند په توګه د افغانانو تاريخي کردارونه د ده په مخکې پراته وو. شير شاه سوري لومړنی سړی وُ چې په هند کښې يې مواصلاتي نظام جوړ کړ او د تمدن د پرمختګ او ترقی بهيرونه يې د سرکونو او رباطونو په جوړولو سره کړندي کړل او ورسره يې د اجتماعي عدالت يو مثال قايم کړ. خو د عياشی له پاره يې مجللې مانۍ جوړې نه کړلې. شاه جهان د خپلې محبوبې له پاره د تاج محل مانۍ جوړه کړه خو په کندهار کښې د احمد شاه بابا د مور زيارت د يو ملنګ د زيارت په څير دېر ساده دی. په همدې دول د ميرويس نيکه او احمد شاه بابا مقبرې هم د دوی د تاريخي لويښتونو په تناسب مجللې نه دي.

يـو زيـات شـمير مورخـين ليکـي چـې د شـير شـاه سـوري او احمـد شاه بابا او داسـې نـورو افغـاني مشـرانو ژونـد سـاده او زړونـه او دماغونـه يې د کينو او فاسدو انګيرنـو څخـه پـاک وو پـه خپلـه د احمـد شـاه بابـا د خولـې خـبره ده چـې " ښه هغـه دي چـې يـې د زړه ښيـنبه صفـا وي" دوی د تجمـل او عياشـۍ څخـه ځانونـه سـاتلي وو او د اسـتکبار نظريـه يې عمـلاً رد کـړې او غندلـې وه.

د اسلامي دنيـا د امـامت لـه پـاره پـه همداسـې جـامعوکـنبې شـرايط برابريـدلای شـي چـې "ابـدالي" شـخصيتونه يعنـي د خـدای دوسـتان پکـنبې را پيـدا کيـږي او ډيريـږي. لـه همدغـه املـه علامـه اقبـال هـم د خپل ژور تفکر او عميق اجتمـاعي تحليـل لـه مخـې پيـش بينـي کـړې ده چـې د افغانـانو " شـجاعت، صداقـت" پـه دوی کـنبې د اسـلامي امـامت صلاحيتونـه پيـاوړي کـړي دي چـې دوی بـايد دا درس ډير ښه زده کړي. نو کـه افغـاني ټولنـه خپـل کـار او فکـر تـه آزاده پريـښودل شـي او د دې تـاريخي ملـت ارادې د سـتراتيژيکي لومـو څخـه آزادې وسـاتلې شـي.پـه دې ټولنـه کـنبې بـه بيـا د سـيد جمـال الديـن افغـان پـه خير شـخصيتونه را پيـدا شـي چـې هـره اسـلامي ټولنـه بـه لـه هغـه سـره د خپلولی رشتې تـړي او هـر څوک بـه يـې خپـل ګڼي څوک بـه يـې سـنيان ګڼي او څوک بـه يـې شـيعه ګان بـولي عـرب او عجـم بـه يـې پـه ګډه پـه نامه فخر کـوي .

کـه يـو ځل پـه افغانسـتان کـنبې علمـي او فرهنـګي مرکزونـه جـوړ شـول هغـه بـه د علمـي خپړنـو او بـين المللـي سـيمينارونو لـه لارې دا دومره زياتې شوي مذهبـي فرقـې او فقـهې د ايمـان او عقيـدې پـه مـزې باندې وپيي او نړۍ والـو تـه بـه يقيناً يـو غـوره اجتمـاعي، اقتصـادي او سياسـي نظـام پـه لاس ورکـړی هغـه بـه د علامـه اقبـال د هيلـې سـره سمه د اسلام پـه کـرښه روانـه ټولنپالـه ولسـواکي وي.

مأخذونه

۱. افغانستان در پنج قرن اخیر، اثر میر محمد صدیق فرهنگ
۲. آریانا، اثر مرحوم احمد علی کهزاد، منتشره سال ۱۳۲۰ شمسی
۳. افغانستان در مسیر تاریخ، اثر مرحوم میر غلام محمد غبار، منتشره ۱۳۷۰ شمسی
۴. احمد شاه بابا ، اثر میر غلام محمد غبار ، منتشره ۱۳۲۲ شمسی
۵. تاریخ افغانستان بعد از اسلام نوشته پوهاند عبدالحی حبیبي
٦. تاریخ مختصر افغانستان // // //
۷. افغانان از مونت استوارت الفنستون، ترجمه محمد آصف فکرت
۸. بنو یا زمورِ افغاني سرحد، د اس، اس تاربرن د اثر پښتو ترجمه
۹. افغانستان څنګه تباه شو؟ لیکوال جنرال رحمت الله صافی
۱۰. پژوهشی در تاریخ هزاره ها ، د حسین علي یزدانی "حاج کاظم"
۱۱. ژب و یشنه او طوفان ، د مرحوم کوثر غوریا خیل د فیلولوژی دوه کتابونه
۱۲. پښتو چاپي آثار (د یو نړیوال سیمینار د مقالو مجموعه) د پښتو د پراختیا او پرمختیا د اداري خپرونه.

۱۳. شماره (۷۵۰) مجلـه سـپید و سـیاه ایرانـی منتشـره سـال ۱۳۴٦.
۱۴. حقـایق و تحلیـل و قـایع سیاسـی افغانسـتان از سـقوط سلطنت تا ظهور طالبـان، اثـر عبدالحمیـد مبـارز منتشـره سـال ۱۳۷٦
۱۵. فرهنگ، علوم سیاسـي از غـلام رضـا علـي علـی بابـایی، تـهران سـال. ۱۳٦۲
۱٦. د کـابل مجلـې د ۱۳۱۴- ۱۳۱۸ کلونـو کلیکسـیونونه.
۱۷. کلیکسـیون جریـده ایـران باسـتان کـه در زمـان قـدرت هیتلـر نشر و بخش مـی ګردیـد.
۱۸. برتـانوی هندوسـتان تـه د امـیر حبیـب الله خـان د مسـافرت د وخـت د انګریـزي جرایـدو د خپرونـو او تبصـرو کتینګونـه چـې د کـوټې د بنار پخوانـي بناروال سـردار محمـد ایـوب خـان وردګ د خپلو انتیکو اثارو پـه مجموعـه کـښې ساتلي دي.
۱۹. افغانسـتان ګذرګاه کشـور ګشـایان، مولـف: جـارج ارنـي مترجمـان: پوهـاند دکتـور سـید محمـد یوسـف علمـي و پوهـاند حبیب الرحمن هالـه. سـبا کتابخانـه حمـل ۱۳۷۰ هـ ش
۲۰. افغانسـتان خاتمـه دهنـده تسـلط دهشـتناک شـوروی نویسـنده بـروس ریچاردسـن مـارچ ۱۹۹٦ مـترجم دکتـور سـید خلیـل الله هـا شـمیان.
۲۱. افغانسـتان د لویـې لوبـې سـټیج د لیکـوال یـو بـل اثـر د ازاد افغانسـتان د لیکوالـو ټولنـه ۱۳۷٦ ش.
۲۲. دهـه قـانون اساسـی ، مولـف صبـاح الدیـن کشـککی، ناشـر: شورای ثقـافتی جـهاد افغانسـتان سـال ۱۳٦۵ ش.
۲۳. د افغانسـتان پـه شـمالي ولایـاتو کـي د پښتنـو اسـتوګنځی، مولـف: پروفیسـر ډاکـټر ګل جـان ورور وردګ خپرووونکـی پښتـو اکیـډیمي پیښور یونیورسـټي. د چـاپ کـال ۱۹۹۷م.
۲۴. اردو و سیاسـت، اثـر جـنرال عظیمـي

۲۵. فـر ډای افغانسـتان (مجموعـه مقـالات سـیمینار) منتشـره شـورای ثقـافتی ۱۳٦۹

۲٦. د خپلواکـی لمـر څرک (د هوتکـو د دورې پـه بـاره کـښې د امان الله خان هوتـک یـوه څیړنـه) د ۱۹۸۹م کـال چـاپ

۲۷. د اصـلاح ورځپـانه د ۱۳۴۸ لمریـز کـال د جـدی د ۱۹ نیـټې ګڼه.

۲۸. د مجـاهد وولـس د جریـدې بیلـې بیلـې ګڼې.

۲۹. د وفا جریـدې بیلـې بیلـې ګڼې.

۳۰. د سـپیدی مجلـه دوهمـه دوره_ دریمـه ګڼه ۱۳٦۹ لمریـز کـال

۳۱. نـدای اسـلام، نشـریه شـورای عـالی جنبـش ملـی- اسـلامی افغانسـتان، شـماره اول سـال دوم ۲۵ حمـل ۱۳۷۲.

۳۲. ارمغـان نشـریه فرهنـګي، سیاسـی اجتمـاعی شـورای عـالی جنبـش ملـی- اسـلامي افغانسـتان شـماره اول سـرطان ۱۳۷۲ منتشـره شهر میمنـه، فاریـاب.

۳۳. طلـوع وحـدت ارګان نشـراتی حـزب وحـدت اسـلامی افغانسـتان شـماره ۲۲۵، سـال دوم، دلـو ۱۳۷۱ ش.

34. Afghanistan the great game. Edited by Roshanne Klass N.Y 10010 1978.

35. The struggle for Afghanistan. Nancy peabdy Newell and Richard s. Newell, Cornell University press London 1981.

36. Afghanistan a nation in love with freedom by DR. Abdul Hakim Tabibi Library of congress catalog No 85060902 USA / 1985

37. The gate way to political science by T.S Nola and Wishand Dass for B.A in India and Pakistan.

38. Sociology Rodney stark university of Washington second edition 1987.

39. *A simple study of Sociology by sachdeva and gapta (Based on the latest syllabus of University) Urdu Bazaar Lahore.*

40. *The social science: concepts and Values by CSI: center for the study of Instruction. California USA*

41. *Psychology an instrodaction by Charles G Morris University of Michingan 1976.*

42. *The art of the constitution: an Interview with Robert Badinteter francecs of Justice from 1981 to 1986 news week April/ 1990*

43. *Long walk to freedom: the autbiography of Nelson Mandela- published in Great Britain in 1994 by Little, Brown and Company.*

یادونه:

د څینو منابعو په برابرولو کښې راسره انجینر محمد ربنې اماج مرسته کړې ده له دغه املـه ورتـه کـور ودانـی وایم (وجدي)

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989



ددې اثر لیکوال

خپروونکې د پښتنې فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه - جرمني

ACSC
Flat # 226, Gulhaji Plaza,
Arbab Road, Peshawar
G.P.O. Box # 630, Peshawar, Pak.
Tel: (091) 841749

M. Asef Wardak
Bendhütter Str 3
41066 Mönchengladbach-Neuwerk
Germany
Tel: 021 61/ 650 650